# توره او سیاست

**د اموي اسلام او نبوي اسلام مبارزه**

(السیف و السیاسه فی الاسلام، الصراع بین الاسلام النبوی و الاسلام الاموی)

**صالح الوردانی المصری**

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب مشخصات:

د کتاب نوم: توره او سیاست

لیکوال: صالح الورداني

د چاپ کال:

د چاپ وار:

شمېر:

## د ليکوال خبرې

څو کاله وړاندې مې دا کتاب د تاريخ د حرکت د نوې کتنې لپاره په ((صفين)) ونوماوه. د کتاب له کښلو چې نيت د حضرت علي او حضرت جناب امير معاويه ترمنځ د شخړې په اړه څېړنه او په اسلامي ټولنه کې يې غبرگون و، خو په تاريخي پېښو کې له ځيرنې، را څرگنده شوه، چې د ((صفين)) پېښه له تېرو سترو پېښو زېږېدلې؛ نو ځکه شاته ستون شوم، چې د حضرت عثمان (رض) په اړه څېړنه وکړم.

د حضرت عثمان (رض) په باب وييني اړ کړم، چې د حضرت عمر (رض) په اړه څېړنه وکړم او د حضرت عمر (رض) په هکله څېړنې اړ کړم، چې د حضرت ابوبکر صديق (رض) په باب غور وکړم، تر دې چې د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله د ژوند د حالاتو څېړنې ته ورسېدم او پردې باور شوم، چې کړ لېچ د نبي کريم صلی الله عليه و آله د ژوند له روستيو وختونو پيل شو او د((صفين)) جرړه له همدې ځايه

ده او چې جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وفات شو، سیاست د توري په مرسته ټبریزه لیکه واکمنه کړه، هغه لیکه چې حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) یې بنسټ کېښود او اموي لیکه ترې راوټوکېده.

نو صفین د ټبریز یا قبیلوي اسلام د بهیر پای و، چې د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله تر وفات روسته واکمن شوی و، نو د رسول اکرم د ژوند د روستیو حالاتو پېژندنه؛ یعنې د صفین پېژندنه.

د نبي کریم صلی الله علیه و آله تر وفات روسته دوه لیکې را ښکاره شوې:

۱- هغه لیکه، چې د ټبر یا قبیلې خوا یې ونیوه او د بني ساعده و له څېرگي را وټوکېده.

۲- هغه لیکه، چې د اهل بیتو خوا یې ونیوه او له حضرت علي سره همژمنې شوه.

لومړی لیکه: یعنې د ((ټبریز یا قبیلوي اسلام)) لیکه.

دویمه لیکه: یعنې د ((محمدي اسلام)) لیکه.

د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله د مرګونې ناروغۍ پر مهال، د دواړو لیکو ترمنځ شخړې زور واخیست او که څه هم ټبریز یا قبیلوي اسلام بر لاس شو، خو همېش محمدي اسلام د مبارزې په ډګر کې و.

کله یې په توره، کله یې په سیاست او کله یې په دواړو مبارزه کوله. د دې کتاب نیت دادی، چې د اسلام تاریخ له سره وپېژندل او بیا ولیکل شي، څکه سیاسي رنګ یې اخیستی او شخصیتونه یې پر نصوصو او متونو بر لاس شوي او ټبریزې شخړې پر اسلامي ارزښتونو لا سبري دي.

مسلمانانو د تاریخ بهیر د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله د وفات له ورځې تر ننه د سپېڅلتیا په لید تر غور لاندې نیولی، بې له دې چې څه ګوتنیونه او بیا کتنه په کې وي. د دې کتنې سرچینه، له مسلمانانو راتاو سلفي ځنځیرونه دي، چې څوك نه پرېږدي د تاریخ حرکت په «بشپړتیا یې لید» او له هغو "سپڅلتیا وو" لرې ووینې، چې ټاکلي وګړي

یې په شپول کې نیولي دي او په دې وینه کې موخه مو دا نه ده، چې یو شمېر هغه شخصیتونه چې د مسلمانانو د درناوي وړ دي خوگانې پکې ولټوو او خدای مه کړه سپکاوی یې وکړو؛ بلکې موخه مو داده، چې « متون » پر « رجالو » غوره او اوچت وبولو او بیا وگړي د متونو په سیوري کې وتلو.

نیت مو د یوه داسې قانون اېښودل دي، چې د تاریخ په بیا لوستنه کې مو لاسنیوی وکړي، داسې بیا لوستنه، چې د نصوصو له لارې حقایق تر لاسه کړو، نه د رجالو او وگړو له لارې.

د تاریخي حقایقو په هکله بحث، باید رښتونې نښې نښانې ولري او څه چې دلته لولو، بېشکه په ورځېني ژوند کې مو رېښې لري او په ټولیز ډول د مسلمانانو واقعیت او اسلامي اندنه رانغاړي.

هغوی چې د اسلامي بلنې چارې پر مخ وړي او له تبلیغاتو سره یې مخه وي، باید پوه شي چې د تاریخ د حرکت پېژندنه د اسلام پوهنې لازمي سریزه ده او د تېرو پېژندنه د اوسني وخت د پېژندنې سریزه ده.

او په دې توګه دا کتاب له تېرو تر ننه یوه کتنه وه او هیلمن یم چې د تېرو له ځنځیرونو د مسلمانانو د عقلونو ازادۍ ته یو ګام وي.

صالح الورداني

قاهره – ۱۹۹۶ ز، جنوري

## لومړی تم ځای

## د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وفات

... او « فتنه » دغسې راښکاره شوه، حال دا چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله پر مرګونې ناروغۍ و.

## د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وفات

د نبي مکرم صلی الله علیه و آله ناروغي په زور کې وه او مهاجرینو او انصارو چې له نبي کریم صلی الله علیه و آله روسته پړاو ته ځانونه چمتو کول، فتنې پکې را ولاړې شوې. اسلام چې د مکې تر سوبې روسته د قریشو مشران ځپلي وو، له لرې یې نبوي کورنۍ او د پیغمبر رنځوري څارله.

مهاجرینو په مدینه کې، په " حجة الوداع" کې د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله د وصیت په سیوري کې د خلافت مساله او پر رسول الله د روستیو نازل شویو آیتونو په باب په خپلو کې خبرې اترې کولې او (د نبي کریم تر وفات روسته) برنامې یې ارزولې او خپله ونډه یې په ګوته کوله. انصارو هم وضع څارله او ډارېدل چې هسې نه د نبي کریم صلی الله علیه و آله له وفات روسته خپل استراتیژیک وضعیت له لاسه ورکړي.

منافقین هم فرصت ته سترګې پر لار وو، چې پټ پراو څنډې ته کړي او ځان له نوي پړاو سره جوړ جاړي ته چمتو کړي.

د مؤمنانو یوه کوچنی ډله، چې له نبي کریم صلی الله علیه و آله را تاوه وه، د دین د راتلونکې په فکر وه او هم هغو غبرګونونو ته پر تمه وه، چې شونې ده د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله تر وفات روسته، په مدینې او له مدینې بهر را ولاړ شي.

د سرور کاینات صلی الله علیه و آله د ناروغۍ پر مهال، د مدینې د وضعیت د روایاتو له څېړنې څرګندېږي، چې پیغمبر د بېلا بېلو ډلو تر دباو لاندې و، چې ځانګړي خیالونه یې درلودل او په حقیقت کې دې دباوونو په خلافت او حکومت پورې تړاو درلود او بېشکه که سرور کاینات صلی الله علیه و آله په دې هکله څوك په نښه او ټاکلی نه وای، نو شخړې ته به اړتیا نه وای نو باید صبر وکړو، چې خدای خپل تقدیر پلي کړي او که سرور کاینات صلی الله علیه و آله له رنځورۍ روغ نشو، نو خلك به د حضرت د ځایناستي لپاره له خپلو یو تن وټاکي. خو

روایات مو دغسې پایلو ته نه را کاږي، بلکې روایات ټینګار کوي، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله همېش د دین د راتلونکی او د امت د چار په فکر کې و او تل یې خلکو ته لار ښووله، چې بې لارې او بد مرغه نشي، خو په دې ترخ کې ځینې ډلې وې، چې دا چارې یې د خپلو ګټو مخالف بللې؛ نو ځکه یې، هڅې کولې چې د سرور کاینات صلی الله علیه و آله نظر عملي نشي.

او سرور کاینات صلی الله علیه و آله هم له خپل امت سره د خدای پامانۍ پر مهال پوهېده چې امت یې دننني او بهرني خطرونه ګواښي او مخنیوي ته یې باید نقشې وکاږي. باید له ایران او روم سره مقابلې ته ګامونه پورته کړي او همداراز په دننه کې له یهودو او منافقانو سره د مبارزې لپاره ګامونه واخلي، نو ځکه یې د بهر لپاره، د اسامه (رض) لښکر تلو ته چمتو کړ او دننی اوضاع ته یې د وداع خطبه او د وصیت کښل په پام کې ونیول.

## د وداع خطبه:

ایا دا امکان لري، چې یو پیغمبر له خپل امت سره وداع کوي او روسته بل پیغمبر هم ترې نه وي، نو خپل امت ته کومه برنامه پرېښږدي؟

د دې پوښتنې ځواب ته، د سیرت په کتابونو کې د راغلې وداع خطبې په مضمون کې څه نا څه غور کوو:

کوم قرآني متون چې په « حجة الوداع » پورې اړوند دي، خدای یې په اړه وایي:

(مائده- ٦٧:)َیا أَیُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَیْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ) ډېر مفسرین او فقها وایي، چې د دې آیت شریف شان نزول په «حجة الوداع» کې و او دا د پیغمبر د راتلونکې رسالت په باب ورته راغلی یو فرمان دی، چې خپل امت ته یې ووایي.

صحیح بخاري له ام المؤمنین عایشې (رض) روایتوي: «هغه به درته دورغ ویلي وي، چې څه پر پیغمبر نازل شوي، څه یې ترې پټ کړي

وي» او خدای وایي: )یا أَیُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَیْكَ مِن رَّبِّكَ) [1]

پوښتنه ده، چې ولې حضرت عایشې (رض) دغسې خبره کړې ده؟ شك نشته چې یو دلیل و، چې دغسې خبرې کولو ته یې اړ کړې وه.

په نظر راځي، چې د آیت شریف په باب ډېر مطالب ویل شوي دي، خو هرومره یو مهم مطلب شته، چې په اړه یې دا آیت نازل شوی او روا نه ده، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله تورن کړو، چې د خدای له نازل کړای شویو یې څه پټول.

په هر حال دا پټول یوازې د منافقانو، خېل پالو او ځانته ګټه غواړیو پر ګټه و، نو کوم څیزونه هغوی اړ باسي، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله تکذیب او په پټولو یې تورن کړي، حال دا چې پوهېږي، چې قرآن پر سرور کاینات صلی الله علیه و آله نازلېږي او رسوا کړي یې دي او نیتونه یې را برسېروي، نو ځکه سرور کاینات صلی الله علیه و آله څه نه پټول او چې څه پرې نازلېدل خلکو ته یې رسول، خو پټول له بل

---

[1] - صحیح صحیح بخاري ،٦،٦٦ مخ

لوري را منځ ته شو، بېشکه د قرآن څرګند آيات پېټولای نشو، خو د سرور کاينات صلی الله عليه و آله خبرې پېټولای شو او په نظر رسي، چې څه ليوالتيا وه، چې د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله د ځايناستی په باب، له وصيت سره يې د دې په تړاوباور ولرو او که په رښتيا د عايشې (رض) خبره په دې پېښې پورې تړاو مومي، نو سمه ده او سرور کاينات صلی الله عليه و آله هرو مرو ښکاره کوله او هم د عايشې (رض) يوبل روايت تاويلوي، چې د علي په اړه د سرور کاينات صلی الله عليه و آله له سپارښتنې منکره ده.

« څه وخت يې د هغه په هکله وصيت وکړ؟ د سرور کاينات صلی الله عليه و آله سر زما په لمن کې و او هډو پام مې نه و، چې له نړۍ تللی دی، نو چا يې په اړه وصيت وکړ؟» [1]

او که د آيت روستۍ نيمايي )وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ) ته ځير شو، نو پوهېږو چې امت ته په کې خورا

[1] - صحيح صحيح بخاري ٤: ٣، کتاب الوصايا- صحيح مسلم ٣: ١٢٧٥، ١٩ ګڼه حديث، کتاب الوصيه.

مهم امر شته، چې لازم دي پېغمبر ته ډاډ ورکړای شي، چې د منافقانو، تېر پالو او... غبرگونونه زيان ورسولای نه شي او دا مطلب له)) واللّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ)) څخه پوهېدای شو.

پر سرور کاينات صلی الله عليه و آله کلونه کلونه، ډېر احکام د آيتونو له لارې نازلېدل، چې بايد خلکو ته يې رسول، خو ولې دا روستی حکم په دې پورې اړونديږي، چې خدای به يې د خلکو له ځورونې خوندي کړي.

همدغسې خدای جل جلالهُ وايي: مائده-۳: ﴿اَلْيَوْمَ اَ كْـمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلاَمَ دِيْنًا)

دا آيت هم په «حجة الوداع» کې نازل شوی، لکه چې اهل سنت له ابوسعيد خدري (رض) څخه روايتوي، چې سرور کاينات صلی الله عليه و آله خلك د «خم عذير» پر ورځ حضرت علی کرم الله وجهه ته متوجه کړل او امر يې وکړ، چې ونو لاندې پاك او چمتو کړئ، نو ودرېد او علي يې راوغوښت، له لاسه ونيو او اوچت يې کړ، تر دې چې خلکو

د پېغمبر او علي د تخرگونو سپين ولېدل او خلك لا خپاره شوي نه وو، چې دا آيت نازل شو.... بيا پېغمبر وويل: د چا چې زه سرور او مولا يم، نو تر ما روسته علي يې سرور دی. خدايه دوستان يې دوست وگڼه او دښمنان يې دښمن وبوله او د ملاتړو يې ملاتړ شه او هغه خوار کړه، چې علي خوار کړي.[1]

صحيح بخاري په يوه روايت کې وايي، چې نبي كريم صلى الله عليه و آله د يوې وينا په ترڅ کې وويل: نه پوهېږئ چې نن څه ورځ ده؟ وويل شول: خدای او رسول يې ښه پوهېږي. ويې ويل: آيا نن د قربانۍ ورځ نه ده؟ و مو ويل: هو، رسول الله. ويې ويل: دا کوم ځای دی؟ آيا يوحرام ښار نه دی؟ و مو ويل: هو، رسول الله. ويې ويل: په رښتيا، د نن ورځې د حرمت په څېر، وينه، شتمني، نواميس او بدنونه مو يو پر بل حرام دي. آيا پيغام مې در ورسېد؟ و مو ويل: هو، ويې ويل: خدايه شاهد وسه، نو هر حاضر دې غايب خبر کړي، ځکه ډېر شوي، چې

[1] - خوارزمي، مناقب، ۱۳۵ مخ، ۱۵۲ گڼه حديث. حمويني، فرائد المسطين ۱: ۷۱ مخ، ۳۹ گڼه حديث

تبلیغ ورته شوی، تر تبلیغي خورا پوه وي. هسې نه چې تر ما روسته بیا کافران شئ او دیو بل ښتونه پرې کړئ.[1]

او د صحیح بخاري (۹: ٦٣مخ) په بل روایت کې راغلي: هسې نه چې تر ما روسته مرتدان شئ او د یو بل ښتونه پرې کړئ.

جریر وایي: جناب رسول الله صلی الله علیه و آله په « حجة الوداع » کې راته وویل:

خلك چوپ کړه. بیا یې وویل هسې نه چې تر ما روسته بیا کافران شئ او د یوبل ښتونه پرې کړئ.[2]

مسلم (صحیح، ۲: ۸۸٦ مخ، ٤٧ ګڼه حدیث) روایتوي، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله وویل: خلکو! خبرې ته مې غوږ ونیسئ. ښایي چې زه مو نور دلته ونه وینم. خلکو! پر تاسې د یو بل وینې او مالونه د نن په څېر حرام دي او هم ټولې جاهلي چارې او د جاهلیت

[1] - صحیح بخاري : ۹: ٦٣ مخ. ۲: ۲۱۵-۲۱٦مخونه.

[2] - صحیح بخاري : ۹: ٦٣ – ٦٤ مخونه.

وینې مې تر پښو لاندې دي، لومړی وینه چې تر پښو لاندې کوم د ربیعة بن حارث وینه ده او لومړی سود او ربا چې تر پښو لاندې کوم د عباس بن عبدالمطلب سود دی.

خلکو! شیطان له دې نهیلی شوی، چې ستاسې په هېواد کې ونمانځل شي، خو یوازې په هغو کړنو یې بسیاینه کړې، چې تاسې یې واړه بولئ، نو د خپل دین په اړه ترې ځانونه بچوئ.

خلکو! په حقیقت کې میاشتې کمول او زیاتول په کفر کې افراط دی، چې کفار پرې، خورا بې لارې کېږي، یو کال یې حلالې بولي او بل کال یې حرامې، چې د خدای حرام لتاړ او حلال یې حرام کړي او په واقع کې وخت په هماغه بڼه ستون شو، چې یوه ورځ خدای اسمانونه او ځمکه پیدا کړل. کال دولس میاشتې لري، چې څلور یې حرامې دي، چې په دې څلورو کې درې یې پرله پسې دي، ذوالقعده، ذوالحجه، محرم او رجب چې د جمادي الثاني او شعبان ترمنځ ده.

د ښځو په باب، الهي تقوا هېره نه کړئ )تېری پرې ونه کړئ) ځکه د

خدای په اجازه مو نیولي او د خدای په نامه مو، نکاح ورسره کړې ده. په واقع کې تاسې یو پر بل حق لرئ، پر هغوی مو حق دادی، چې څوك په سملاستو کې درسره شریك نه کړي، نو که دغسې بد چار یې وکړ، نو په کوتك یې ووهئ، خو نه دومره سخت، او هغوی هم پر تاسې حق لري، چې په انصاف خواړه ورکړئ او جامې ور واغوندئ.

نو خلکو! په خبره مې ځان پوه کړئ، چې څه لازم و، درته مې وویل، او په رښتیا په تاسې کې مې دوه څیزونه پرېښوول، که منګولې پرې ښخې کړئ، بیخي به بې لارې نشئ: د خدای کتاب او د رسول یې سنت

خلکو! که څه هم حبشی مریی دربانديې واکمن و، خو چې د خدای په کتاب درسره چلېږي، نو (خبره) یې واورئ او اطاعت یې وکړئ.

خلکو! خبرې ته مې غوږ ونیسئ او پرې پوه شئ. باید پوه شئ چې هر مسلمان د بل مسلمان رور دی او شتمني یې هله ورته حلاله ده، چې په خپله خوښه یې ورکړي وي، نو پر ځانونو ظلم مه کوئ.

خدایه! آیا ومې ویل؟ او تاسې مې پوښتئ، نو څه به ووایئ؟!![1]

ابن سعد (طبقات، ۳: ۳۷۷ مخ) روایتوي چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله وویل: د خپلو مریانو! د خپلو مریانو! په هکله مو پام وسه، چې څه خورئ، پرې یې وخورئ او چې څه اغوندئ، پرې یې واغوندئ او که داسې گناه (او چار) یې وکړ چې مو نه خوښېده، نو د خدای بندگان وپلورئ او ربړوئ یې مه.

ابن اسحاق هم په خپل سیرت کې دا روایت راوړی دی.

د سننو کتابونو روایت کړی، چې جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وویل: ژر مې پالونکی خپلې لورې ته بولي او زه یې (بلنه) منم. په تاسې کې دوه گرانبیه څیزونه پرېږدم: د خدای کتاب او ځوځات مې اهل بیت مې، او سکه چې څیرك او خبیر خدای خبر کړی یم، چې دوی تر هغې یو له بله نه جلا کېږي، چې په (کوثر) حوض کې راته راشي، نو ووینئ

---

[1] - صحیح مسلم ۲: ۸۸٦ مخ، ۱٤۷ گڼه حدیث.

چې تر ما روسته ځرنګه ورسره چلېږئ.[1]

او به بل روايت کې وايي: په تاسې کې مې د خدای کتاب او خپل عترت (ځوځات) پرېښی، دوی تر هغې يو له بله نه جلاکېږي، چې په حوض کې راته راشي. چې منګولې پرې ولګوئ، نو تر ما روسته به بيخي بې لارې نشئ، نو ووينئ چې تر ما روسته له دې دواړو سره ځرنګه چلېږئ.[2]

او هم وايي: خلکو! ښايي ژر د خپل پالونکي استازی راته راشي او بلنه يې ومنم، نو په تاسې کې دوه ګرانبيه څيزونه پرېږدم. لومړی د خدای کتاب، چې هدايت او رڼا پکې ده، نو يې ومومئ او منګولې پرې ښخې کړئ. بيا يې خلك د کتاب الله لاروی ته وهڅول او ويې وويل: دويم اهل بيت مې. د خدای لپاره چې اهل بيت مې هېر نه کړئ، د خدای

---

[1] - صحيح مسلم، ٤ | ١٨٧٣ مخ، ٣٦ ګڼه حديث باب: فضائل الامام علي. طبراني، اوسط ٤| ٢٦٢، ٣٤٦٣ ګڼه حديث. سيوطي جمع الجوامع ١: ٣٠٧ مخ. ترمذي، مناقب آل البيت ٥: ٦٦٢ مخ، ٣٧٦٨ ګڼه حديث. هيثمي، مجمع الزوايد ١٩ ١٦٣ مخ

[2] - حاکم، مستدرك، ٣| ١٠٩ مخ. تر مذي ٥: ٦٦٣ مخ، ٣٧٨٨ ګڼه حديث. امام احمد حنبل، مسند ٣: ١٧ مخ

لپاره چې اهل بیت مې هېر نه کړئ، د خدای لپاره چې اهل بیت مې هېر نه کړئ.[1]

او په یو روایت کې راغلي، چې حضرت علي په «رحبه» نومې ځای کې وویل: چې چا په «خم غدیر» کې د سرور کاینات صلی الله علیه و آله خبره اورېدلې وي را پاڅې شي، نو د سعید په خوا کې شپږ تنه او د زید په خوا کې هم شپږ تنه را پاڅېدل او شاهدي ورکړه، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله د خم غدیر پر ورځ د علي په هکله وویل: «آیا رسول الله تر مؤمنانو وړ نه دی؟ وویل شول: هو. ویې ویل: خدایه، د چا چې مولا یم، نو علي یې مولا دی. خدایه، دوستان یې دوستان وګڼه او دښمنان یې دښمن»[2]

حضرت برأ بن عازب (رض) وایي: په حجة الوداع کې له سرور کاینات صلی الله علیه و آله سره وو، چې په لار کې ودرېد او د جماعت لمانځه

---

[1] - صحیح مسلم، ۱۸۷۳\۱٤ مخ، ۳٦ ګڼه حدیث، باب: فضائل امام علي او هم سنن نسایي او دارمي

[2] - امام احمد حنبل، مسند، ۸٤\۱۱ مخ

امر يې وکړ. نو حضرت علي يې له لاسه ونيو او ويې ويل: ايا زه پر مؤمنانو تر ځانونو يې وړ نه يم؟ وويل شول: هو. ويې ويل: ايا زه له هر مؤمنه تر ځان يې وړ نه يم؟ وويل شول: هو. ويې وويل: نو دا (علي) د هغه سرور دی، چې زه يې مولا او سرور يم، خدايه دوستان يې دوستان او دښمنان يې دښمن وګڼه.[1]

ابن تيميه د اهل سنتو په اړه وايي: د پيغمبر اهل بيت ښه ګڼي او خپل پالندويان يې ګرځوي او د خم غدير پر ورځ د پيغمبر سپارښت ته يې پام دي، چې يې وويل: د خدای لپاره چې اهل بيت مې هېر نه کړئ.[2]

## د رواياتو څېړنه:

د تېرو رواياتو له څېړنې پايله اخلو:

د صحيح بخاري روايت د راتلونکی په باب څو مطالبه پرانزي:

---

[1] - احمد، مسند ٤: ٢٨١ مخ. ابن ماجه سنن ١: ٤٣ مخ ١١٦١ ګڼه حديث.

[2] - شرح العقيده الواسطيه، ٢٤٤- ٢٤٥ مخونه.

۱- د مسلمانانو د وينې ساتنه.

۲- لومړی مطلب ته نه ژمنتيا.

۳- د رسول الله صلی الله عليه و آله گواهي.

پوښتنه را ولاړيږي، چې ولې جناب رسول الله صلی الله عليه و آله له امت سره د وداع په خطبه کې د مسلمانانو پر وينې او ارتداد ټينګار کوي او نه يوازې پر ويلو يې ټينګار لري، بلکې شاهدان اخلي، تر دې چې د خدای پر وړاندې د امت د خيرخوا په توګه، خپل برائت جوت کړي؟

د سرور کاينات صلی الله عليه و آله دا ټينګار يوې ډلې اصحابو ته څرګنده اشاره ده، چې کړنې يې انسان هوښياروي او ښايې دا يوازېنۍ نښه وي، چې د رسالت د راتلونکې او د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله تر وفات روسته د امت د اوضاع په باب يې د صحيح بخاري روايت جوتوي او ښکه چې د حضرت ابوبکر (رض) خلافت، د مسلمانانو ترمنځ د وسلوالې نښتې يو نيغ لامل و، چې تورې پای ته ورساوه او د زکات د نه ورکوونکيو په نوم پای ته ورسېد.

صحيح بخاري د وداع خطبې يوه برخه راوړې او پاتې يې د خپل عادت له مخې په جلا جلا بابونو کې ويشلې ده، لکه په سود پورې اړوند برخه يې په «ربا» باب کې راوړې او په ښځو پورې اړوند برخه يې د ښځو په ځانګړي باب کې راوړې ده او... په دې توګه يې د خطبې ټوليز مفهوم له منځه وړی دی.

خو د مسلم روايت پوره دی، چې ځرګندې نښې لري:

۱- د مسلمانانو د وينې ساتنه.

۲- له جاهليته ځان ساتنه.

۳- له سوده ډډه کول.

٤- د ښځو درناوی.

۵- پر کتاب او سنتو منګولې لګول.

٦- د واکمنو اطاعت.

۷- د مسلمانانو د حقوقو ساتنه.

۸- ابلاغ او ګواهي.

د عقل له مخې د منلو وړ او مطلوبه ده، چې سرور کاينات صلی الله عليه و آله خپل امت ته وصيت کوي، چې د يو بل د وينې درناوي وکړئ، جاهلي عادات يې وغندل، د ښځو درناوی وکړئ، د يو بل حقوق وساتئ او له ربا ډډه وکړئ، خو دا د نه منلو وړ دي، چې حضرت پر کتاب، سنتو او له واکمنو پر اطاعت ټينگار وکړي! وړ وه، چې حضرت يوازې پر قرآن منګولې لګول په پام کې ونيسي، دا ځکه چې تر هغې ورځې خو سنت را ټول شوي نه وو او د تشريع د يوې سرچينې په توګه مشهور شوي نه وو او ان قرآن هم (د اهل سنتو د رواياتو له مخې) تر هغې ورځې راټول شوی نه و او له يوه ډېر لږ شمېر اصحابو سره و؛ نو ځکه داسې ښکاري چې د «سنتو» ور زياتونه د رواياتو جوړونه وي، لکه چې صحيح مسلم يو بل روايت راوړي، چې يوازې د قرآن نوم پکې راغلی او د سنتو نوم په کې راغلی نه دی.

او له واکمنو اطاعت خو په ډاګه ده، چې د سياست له نوښتنو - اختراعاتو او جوړونو ځنې دی، چې د جناب رسول الله صلی الله عليه و

آله تر وفات روسته واكمنو ته لار پرانزي او نه يوازې دا حديث، چې په دې مضمون يې په لس گونو احاديث جوړ كړي، چې امت د واكمنو اطاعت ته اړ كړي كه څه هم دا واكمن د خلكو ناموسونه څيرې كړي. [1]

او څه چې صحيح بخاري ، مسلم او نورو روايت كړي د وداع خطبې په لومړۍ برخې پورې تړاو مومي خو بله برخه يې تر دې خورا مهمه ده. سرور كاينات صلى الله عليه و آله مدينې ته نژدې په خم غدير كې وينا وكړه، چې دا برخه صحيح بخاري روايت كړې نه ده، خو مسلم او نورو راويانو روايت كړې ده.

او د دې موضوع پر سر د سني او شيعه تر منځ اختلاف دى. اهل سنت د خطبې د اړخونو او موخو په اړه شكمن دي، خو شيعه يې د حضرت علي په سپارښتنه كې د سرور كاينات صلى الله عليه و آله څرگنده

[1] - صحيح بخاري ٦٠: ٤ مخ. صحيح مسلم ٣: ١٤٧٥ او ١٤٧٦ مخونه او نور حديثي كتابونه، چې له لس گونو احاديث ډك دي، چې د واكمنو اطاعت واجب بولي، كه څه هم خلك په كوړو وهي، شتمني لوټوي او نه ښايې چې پر ضد يې پاڅون وشي او پا څونكى د اعدام وړ دى او د اسلام له دينه وتلى دى. همدا راز زما د «عقائد السنة او عقائد الثيعة» د كتاب د امامت باب ولولئ

لارښوونه ګڼي او ټینګار لري، چې پیغمبر د حکومت، امامت او نورو دیني چارو په باب سپارښتنې کړي، چې که امت ترې لاروي وکړي، تر وفات روسته یې نه بې لارې کیږي.

سرور کاینات صلی الله علیه و آله په حجة الوداع کې له کتاب الله او اهل بیتو یې، له لاروۍ سپارښتنه کوي او دې مسئلې ته یې بل دلیل دادی، چې پیغمبرصلی الله علیه و آله، حضرت علي له لاسه نیسي او اعلانوي چې دا یې مرستندوی و او هغه ته دعا کوي، چې له علي سره یې مینه وي او دښمن ته یې ښېرا کوي، چې دا په خپله مسئله ښه ډاګیزوي.

او ښایي همدې د حضرت علي دښمنان اړ کړل، چې څه یې په دې اړه له سرور کاینات صلی الله علیه و آله اوریدلي وو، تر منکر شي، ځکه تر هغې ورځې ټبرپالۍ لا ټینګې جرړې درلودې، لکه چې منافقین هم، چې د رسول الله صلی الله علیه و آله په مدني ټولنه کې څرګنده ډله وه، تر وفات روسته یې ښه راښکاره شوه.

او په نظر رسي چې د حضرت علي او ملگرو پر ضد يې د ټبر پالو او منافقانو ترمنځ يو ټړون وجود درلود، چې د حضرت علي د ډلې پرماتې پای ته ورسېد.

په يوه روايت کې راغلي: حضرت علي د خلکو له لاسه جناب رسول الله صلی الله عليه و آله ته شکايت وکړ. بيا سرور کاينات صلی الله عليه و آله په يوې وينا کې خلکو ته وويل: خلکو! له علي بيخي گيله مه کوئ، ځکه دا د خدای لپاره او د خدای په لار کې سخت دريځه دی.[1]

بالطبع خلك دلته د اصحابو هماغه ډله ده، چې په حضرت علي پورې يې دروغ وتړل او د پيغمبر پر وړاندې يې د مرتبې او په اسلام کې يې د هغه د اوچت مقام په اړه رخه او کينه وکړه او سرور کاينات صلی الله عليه و آله دا مسئله په دې له منځه يووړه، چې د حضرت علي د دښمنانو او هغوی پر وړاندې يې يو حکم وکړ، چې په ظاهره له حضرت علي سره جوړ او پسي شايې يې دښمنان وو، تر دې چې په خپله

---

[1] - امام احمد، مسند ۸٦|۳ مخ.

حضرت علي وايي: امي سرور كاينات صلی الله عليه و آله را سره ژمنه وكړه، چې يوازې د مؤمن به ښه ايسې او يوازې منافق دښمني درسره كوي.[1]

په يوه روايت كې راغلي، چې په نبوي زمانه كې مو منافقين په دوو نښو پېژندل: يو د شپې په لمانځه او بل له حضرت علي سره په دښمنۍ! دا ډول روايات ښيي، چې د حضرت علي دښمنه ډله د سرور كاينات صلی الله عليه و آله پر ژوندونې وه، لكه چې ملاتړې ډله يې هم له هماغې زمانې رامنځ ته شوې ده.

ابن تيميه، چې د اهل بيتو د لارويانو او د اموي ليكې د مخالفينو دښمن و، منښته -اعتراف يې كړې، چې پيغمبر په خم غدير كې د دې جملې « د خدای لپاره چې اهل بيت مې له ياده ونه باسئ » په ويلو د اهل بيتو په باب سپارښتنه كړې ده، خو د حضرت علي په هكله يې د پيغمبر پاتې

[1] - ابن ماجه سنن ١: ٤٢ مخ، ١١٤ گڼه حديث. باب فضائل اصحاب رسول الله. ترمذي، سنن ٥، ٦٣٥ مخ، ٣٧١٧ گڼه حديث.

خبره ویلې نه ده!

بالطبع ابن تیمیه هغه څه نه ویني او نه پرېږي ځان پوهوي، چې عقلمن ځان پرې د پیغمبرصلی الله علیه و آله له خبرې پوهوي. ابن تیمیه نه پوهېږي، چې دا خلافت ته د اهل بیتو پر حقانیت او لاروی لپاره یې دلیل دی.

د اسامه لښکر:

د سنتو او تاریخ په کتابونو کې د اسامه د لښکر په هکله ډېر روایات راغلي دي، خو هغه راز نه را برسېروي، چې ولې سرور کاینات صلی الله علیه و آله له ښاره د باندې د لښکر په لېږلو ټینګار درلود او هغه هم په داسې یو موقعیت کې، چې ټول د نبي کریم صلی الله علیه و آله وفات ته سترګې پرلار وو.

نبي مکرم صلی الله علیه و آله په مرګوني ناروغۍ کې پرله پورې ویل: د اسامه له لښکر سره یو ځای شئ، د اسامه له لښکر سره یوځای شئ. [1]

---

[1] - ابن سعد، طبقات ۲: ۲۴۸-۲۴۹ مخونه.

د دې چار پرکولو د سرور کاينات صلی الله علیه و آله ډېر ټينګار څو حقيقته راڅرګندوي:

لومړی: ځينې ځواکونه د دې لښکر د خوځېدو خنډېږي.

دويم: د دې لښکر خوځېدل، د اسلام په پر مختګ کې خورا اهميت لري.

درېيم: سرور کاينات صلی الله علیه و آله يې له مدينې څخه دباندې ايستو کې بېړه کوله.

څلورم: په دې کې څه حکمت و، چې تنکی ځوان يې د لښکر بولندوی کړ، چې پوخمنګي اصحاب کرام هم په کې وو؟

صحيح بخاري وايي: چې نبي مکرم صلی الله علیه و آله اسامه بولندوی کړ، خبرې ورپسې وشوې. سرور کاينات صلی الله علیه و آله وويل: وامې ورېدل، چې خبرې مو ورپسې کړي، حال دا چې دا راته غوره تن دی.

ولې خلکو د اسامه په ټاکنې نيوکه کوله؟ په اړه يې څه ويل؟

دې روایت، دا پوښتنې راته ځواب کړي نه دي؛ خو بل روایت په دې اړه ډېره توضیح کړې ده.

حضرت ابن عمر (رض) وايي: سرور کاینات صلی الله علیه و آله د اسامة بن زید په مشرۍ یو لښکر ولېږه. خلکو په دې ټاکنې ملنډې وکړې، بیا جناب رسول الله صلی الله علیه و آله پاڅېد او ویې ویل: تاسې یې پر بولندوینې ملنډې وکړې، لکه چې تر دې له مخه مو، پر پلار یې ملنډې کړې وې. پر خدای قسم دا بولندوینې ته وړ او خورا راته ګران دی.[1]

یو بل روایت پر حضرت اسامه ملنډې او د ده د قومندانۍ نه منل په ډاګه بیانوي او دا هماغه دریځ دی، چې د موته په غزا کې یې د ده د پلار په اړه درلود.

پوښتنه داده، چې ایا د اسامه پر قومندانۍ ملنډې وهل، په حقیقت کې د سرور کاینات صلی الله علیه و آله پر فرمان ملنډې وهل ګڼل کېږي نه؟

---

[1] - صحیح صحیح بخاري ٤: ١٩ مخ، باب بعث اسامه.

او ایا دا درېځ یوازې په اسامه (رض) پورې تړاو مومي یا یې د لېږلو په موخې پورې؟ دا مساله لکه چې ښکاري، له یوې شخصي مسالې اوچته ده او تر حضرت اسامه او قومندانۍ یې خورا مهمه پېښه ده. کوم روایات چې د اهل سنتو په کتابونو په تېره صحیحینو کې شته او د اصحابو په دریځونو او سرغړونو پورې یې تړاو مومي یا پوره معنا نه لري یا د وګړیو نومونه اخستل شوي نه دي او یا دا چې دا پېښه پوره کښل شوې نه ده.

او د دې هڅو موخه داده، چې پر حقیقت پرده واچوي، چې د ځینو ټاکلیو وګړیو په باب شبهې راښکاره نه شي، چې د مسلمانانو له نظره ولوېږي او دا مساله له پیله تر پایه د راوي په امین والي پورې اړه لري.

عایشه ام المؤمنین رضی الله عنها وایي: سرور کاینات صلی الله علیه و آله د ناروغۍ په حال کې له بسترې پاڅېد او پر عباس او یوبل تن یې ډډه وهلې وه او هغه تن چې عایشې (رض) یې نوم اخستی نه دی علي

و.[1]

حضرت ابوهریره (رض) وايي: د سرور کاينات صلی الله علیه و آله د احاديثو دوه لوښي مې ډك کړي دي، يو لوښی مې خپور کړی دی، خوکه بل خپور کړم، ښټ مې پرې کيږي.[2]

ابن عباس (رض) وايي: د پنجشنبې ورځ وه، چې د سرور کاينات صلی الله علیه و آله ناورغي زياته شوه، ويې ويل: چې يو کاغذ راوړئ، چې يو څه پرې درته وليکم، چې تر ما روسته بې لاري نشئ، ځينې يو له بل سره ونښتل، حال دا چې د سرور کاينات صلی الله علیه و آله پر وړاندې نښته ښه نه ده، وويل شول: څه پرې شوي، چې پرتې (هذيان) وايي؟ او په دې توګه يې د هغه مبارک خبرې ته څه اهميت ور نه کړ، نو سرور کاينات صلی الله علیه و آله وويل: پرې مې ږدئ. په رښتيا په کوم حال او موقعيت کې چې يم، تر هغه غوره دی چې تاسې مې وربولئ (پرې

[1] - صحيح بخاري ٤: ١٣-١٤ مخونه. باب: مرض النبي و وفاته. ابن سعد، طبقات، ٢: ٢٣٢ مخ.

[2] - صحيح بخاري ١: ٤١ مخ، کتاب العلم.

یادوئ) بیا یې د درېیو څیزونو سپارښتنه ورته وکړه: مشرکان له جزیرة العربه وباسئ، راغلیو پلاویو ته چې ما څنګه ډالۍ ورکولې، تاسې یې هم ورکړئ، درېیم مطلب یې ونه وایه، یا یې ووایه او ما هېر کړی دی!.

صحیح بخاري د هغه چا په اړه څه ویلي نه دي، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله په پرتو ویلو تورنوي، ځکه د دې خبرې موخه داده چې پېغمبر حواس له لاسه ورکړی، لېونی دی او پرتې وایي.

صحیح بخاري د پېغمبر له درېیمې لارښوونې هم نوم نه اخلي. ایا په رښتیا ابن عباس (رض) څه ویلي نه دي یا په خپله چوپ شوی دی؟ دا روایت شکمن دی.

معلومه نه ده، ابن عباس درېیمه خبره کړې نه ده یا راوي هېره کړې ده، لکه چې هغه یې یاد کړی نه دی، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله یې د ناروغۍ پر مهال په پرتو ویلو تورن کړ، چې هغه حضرت عمر بن خطاب (رض) و. دا ډول شکونه د اسامه لښکر په اړوند روایت کې هم لیدل کېږي، ځکه صحیح بخاري یوازې په روایت کې وایي: سرور

کاینات صلی الله علیه و آله اسامه لښکر مشر کړ او خلکو یې په اړه خبرې وکړې یا په بل ځای کې وایي: خلکو د اسامه په لښکر مشرۍ ملنډې ووهلې.

خو صحیح بخاري د هغو کسانو په اړه هېڅ ویلي نه دي، چې پر اسامه یې ملنډې وهلي دي. دا چار له دې سره مساوي دی، چې د اصحابو د اختلاف په اړه څه خبره رامنځ ته نشي او له محرماتو یې وشمېري او لکه چې عقیدتي کتابونه وایي، دا معنا د عقیدې یو اصل دی. [1]

په دواړو موضوګانو کې واقعي نیت په اصحابو پورې اړوند، د تاریخي پېښنو پټول دي، چې ځینې څېرې د مسلمانانو له نظره شکمنې او بې اعتماده پرې نه شي او په پایله کې، د اهل سنتو د لیکې او د واکمنو د لیکې پر ضد پاڅون ونه کړي، چې په دې هکله به بحث وکړو.

لکه چې ګرد سره پوهېږي، ستر اصحاب او له دې ځنې حضرات ابوبکر

---

[1] - شرح العقیدة الطحاویه، ٤٦٨ مخ. شرح العقیده الواسطیه ٢٣٦ مخ. العواصم من القواصم _ او زما کتاب عقائد السنة و عقائد الشیعه، باب (الرجال).

او عمر (رض) د حضرت اسامه (رض) په لښکر کې وو، خوحضرت علي، پېغمبر له ځان سره پرېښی و.

نو دادی چې د دې پېښې نوې نښې را ښکاره کېږي. سرور کاینات صلی الله علیه و آله څه نیت درلود، چې د اسامه په څیر ځوان پر حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض) او سترو اصحابو قومندان کړي او ټینګار یې درلود، چې ژر تر ژره دې له مدینې ووځي. حال دا چې په خپله مرګونی ناروغ و او شونې وه، چې هر شېبه له نړۍ سترګې پټې کړي او په څنګ کې یې یو صحابي هم نه وي. دا چار لامل شو، چې په اصحابو کې شك پیدا شي او د کمکي اسامه په پلمه له ښاره په وتو کې ځند وکړي او ښایي د سرور کاینات صلی الله علیه و آله دا خبره [چې په امارت کې یې خو ګانې لټوئ چې د هغه د پلار په امارت کې مو هم ټکې کولې] دې ته اشاره وي، چې نیت مو مخالفت دی که نه پلار یې زید خو څه کم عمری نه و!

نو ځکه خلکو په زړونو کې څه بل پټ کړي وو او په هسې پلمو یې

هڅه کوله، چې له ښاره ونه ووځي، خو ولې خلکو غوښتل چې په ښار کې پاتې شي؟

د دې پوښتنې ځواب په هغه روایت کې دی، چې مخکې مو راووړ، د پنجشنبې د ورځې روایت، هغه مهال چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله وغوښتل چې خلکو ته یو لیك وکښي، چې په ګټنه یې تر ده روسته بې لارې نه شي.

د دې غوښتنې په اورېدو، په خلکو کې شور ځوك جوړ شو، ځینو خو پر سرور کاینات صلی الله علیه و آله ملنډې ووهلې، چې لیك کښلو ته یې فرصت پای ته ورسي.

دا پېښه هغو خلکو ته ور له مخې شوه چې په ظاهر کې یې مشري له حضرت عمر (رض) سره وه او لکه چې را روسته به یې څرګنده کړو، پیغمبر هغه څه پېټ کړل چې تر ځان روسته زمانې پورې یې اړه درلوده.

دې شك له هغه ځایه زور اخسته، چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله په «تبوك» غزا کې د حضرت علي پر وړاندې دا دریځ بیا ځلي کړ او

د اصحابو پر وړاندې يې داسې خبرې وکړې، چې شکمن يې کړل.

صحيح بخاري وايي: سرور کاينات صلی الله عليه و آله، حضرت علي په ښار کې ځايناستی کړ او په خپله تبوك ته وخوځېد. حضرت علي وويل: ايا ما په ښځو او کوچنيانو کې پرېږدې؟ سرور کاينات صلی الله عليه و آله وويل: ايا ښه دې نه ايسي چې مقام دې راته داسې وي لکه موسی ته د هارون مقام، خو په دې توپير چې تر ما روسته پېغمبر نشته. [1]

ښايي اصحابو ته دا خبره هله ورياده شوي وي، چې سرور کاينات صلی الله عليه و آله ورته له ښاره له بهر وتو امر وکړ او پوه شوي وو، چې مساله پراخ اړخونه لري او يوازې له ښاره په دباندې تگ کې نه را ايسارېږي په تيره دا چې ويې ليدل سرور کاينات صلی الله عليه و آله، حضرت علي له ځان سره ساتلی او يوازې له ښاره د دوی په وتلو ټينگار کوي.

په واقع کې، حضرت اسامه په قومندانۍ استول، د غوراوي مهمه پېښه را

[1] - صحيح بخاري – ۳/٦مخ، باب: غزوه تبوك.

مخې ته کوي، ځينې اصحاب پر ځينو غوره ګڼل او حضرت عمر (رض) او حضرت ابوبکر (رض) پر اصحابو، بلکې پر ټول امت غوره ګڼل. که په رښتيا سرور کاينات صلی الله عليه و آله دې دواړو ته پر نورو اصحابو غوراوی ورکاوه؛ نو ولی يې حضرت اسامه د دوی قومندان کړ او حضرت علي يې په ښار کې پرېښود؟

بلخوا، که پيغمبر لکه چې څنګه وايي، تر ځان روسته د حضرت ابوبکر (رض) خلافت ته اشاره کړې، نو ولې په خپلې مرګونې ناروغۍ کې امر ورته کوي چې د حضرت اسامه له لښکر سره شه؟

(يادونه: دا لومړی ځل نه دی، چې پيغمبر د حضرت عمر او حضرت ابوبکر (رض) پر وړاندې دغسې دريغ نيسي، مخکې يې د « ذات السلاسل» په غزا کې حضرت عمرو بن عاص پرې بولندوی کړی و. ) [1]

ابن حجر وايي: د نبي مکرم صلی الله عليه و آله له وفاته دوه ورځې

---

[1] - صحيح صحيح بخاري ٥: ٤ او ٢٠٩ مخونه، باب: مناقب ابوبکر او د روايت شرح په فتح الباري ٧: ١٧ مخ کې ولولئ.

مخکې د اسامه (رض) لښکر چمتو شوی و او سرور کاينات صلی الله عليه و آله له خلکو غوښتني و، چې د صفرې مياشتې تر پايه د روم جګړې ته ولاړ شي. سرور کاينات صلی الله عليه و آله اسامه (رض) را وغوښت او ويې ويل: د خپل پلار وژنځي ته روان شه، ته مې لښکر مشر کړی يې، نو خلك پر خپلو اسونو سپاره شول، بيا يې بيرغ ورکړ او د اسامه په لښکر کې يې د مهاجرينو او انصارو مشران لکه حضرت ابوبکر، حضرت عمر، حضرت ابوعبيده، حضرت سعد، حضرت سعيد، حضرت قتاده بن النعمان او حضرت سلمه بن اسلم (رض) شامل کړل.

بيا د سرور کاينات صلی الله عليه و آله ناروغي سخته شوه، ويې ويل: ډېر ژر د اسامه لښکر ولېږئ، ځينو اصحابو نيوکه وکړه، چې يو يې حضرت عياش بن ابی بيعه مخزومي-(رض) و، چې حضرت ابوبکر (رض) تر خپل خلافت روسته قوماندان کړ.[1]

ابن تيميه د اسامه (رض) په لښکر کې د حضرت ابوبکر (رض) او

[1] - فتح الباري، ۸/ ۱۲٤ مخ.

حضرت عمر (رض) له مجبورولو منکر دی... ابن حجر يې د ډېر شمېر روایاتو په راوړو خبره ردوي.[1]

دلته بله پوښتنه مطرح کېږي، ولې ابن تیمیه هڅه کوي، چې د اسامه (رض) په لښکر کې د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) له شتو نه منکر شي؟ ایا داسې نه ده، چې په لښکر کې يې شتون له پېغمبره اطاعت ګڼل کېږي او بېشکه د شرافت لامل يې دی؟

ولې ابن تیمیه هڅه کوي، چې له دواړو، له پېغمبره د اطاعت او د خدای په لار کې د جګړې وياړ لرې کړي؟

د ابن تیمیه دا دریځ د علامه حلي د رد لپاره و، چې د هغې زمانې د شیعه وو له مشهورو عالمانو څخه و؛ خو په دې کې پاتې راغی چې په صحیح مسلم کې د ثقلینو د حدیث په اړه شکمني پیدا کړي.[2]

دلته یوه بله مساله د پام وړ ده او هغه دا چې حضرت ابوبکر (رض) د

---

[1] - فتح الباري، ۸: ۱۲٤ مخ.

[2] - منهاج السنة (۱: ۵۰۱ مخ). دا کتاب د حلي د منهاج الکرامه پر ضد لیکل شوی، چې په کښې د اهل بیتو ولایت جوت شوی دی.

سرور کاینات صلی الله علیه و آله تر وفات روسته لښکر چمتو کړ او روم ته یې ولیږه. ابن حجر وایي: چې حضرت ابوبکر (رض) خلیفه شو، اسامه (رض) یې تلو ته چمتو کړ او ترې یې وغوښتل چې حضرت عمر (رض) ته په مدینه کې د پاتې کېدو اجازه ورکړي، نو اجازه یې ورکړه. ځیر شئ. [1]

### د ناروغۍ او مړینې ترمنځ:

صحیح بخاري له ابن عباس (رض) څخه روایتوي: د پنجشنبې ورځ، څه د پنجشنبې ورځ؟

د سرور کاینات صلی الله علیه و آله ناروغي سخته شوه، ویې ویل: یو کاغذ راوړئ، چې یو څه درته ولیکم، چې تر ما روسته بې لارې نشئ. د پیغمبر په شاوخوا کې ناست، یو له بل سره ونښتل، حال دا چې د سرور کاینات صلی الله علیه و آله په مخکې نښته روا نه ده. وویل شول: څه

---

[1] - فتح الباري: ۱۲٤|۸ مخ.

پرې شوي چې پرتې وايي: له سرور کاينات صلی الله عليه و آله يې وغوښتل چې مطلب ورته څرګند کړي، نو د سرور کاينات صلی الله عليه و آله خبرو ته يې غوږ کېښود. بيا رسول الله وويل: پرې مې ږدئ. په رښتيا په کوم موقعيت کې چې يم، تر هغه غوره دی، چې تاسې مې وربولئ او دوی ته يې د درېيو څيزونو سپارښتنه وکړه:

«مشرکان له جزيرة العربه وباسئ، لېږونکيو څواکونو ته هاغسې بدله ورکړئ، لکه چې زه يې ورکوم. درېيم څيز يې يا ونه وايه يا ما هېر کړی دی»!

بل روايت کې راغلي: سرور کاينات صلی الله عليه و آله په خونه کې و، څو تنه هم هلته وو. سرور کاينات صلی الله عليه و آله وويل: راشئ چې يو څه درته وليکم، چې تر ما روسته بې لارې نشئ. ځينو وويل: پر پيغمبر درد غلبه کړې. تاسې قرآن لرئ. قرآن راته بس دی. په منځ کې يې اختلاف او نښته رامخې ته شوه، ځينو وويل: پيغمبر ته يو کاغذ راوړئ، چې خپل وصيت وليکي او ځينو ورسره مخالفت وکړ، تر دې

چې اختلاف يې زور واخست، نو ځکه پېغمبر ورته وويل: پاڅئ.

ابن عباس وايي: مصيبت، خورا ستر مصيبت همدا و، چې د خپلو اختلافاتو او شور ځوګ له امله يې پېغمبر پرېنښود، چې هغه ليك ورته وکښي.[1]

له ابن عباس (رض) څخه په بل روايت کې راغلي: چې د پېغمبر ناروغي سخته شوه ويې ويل: يو کاغذ راوړئ، چې يو ليك درته وليکم، چې تر ما روسته بې لارې نشئ. حضرت عمر وويل: په واقع کې پر پېغمبر ناروغي بر لاس شوې، د خداى کتاب راته بس دى. په خلکو کې اختلاف او شور وځوك را منځ ته شو. پېغمبر وويل: له دې ځايه ولاړ شئ چې زما په مخکې شخړه ښه نه ده.

ابن عباس هم و ووت او ويې ويل: په رښتيا مصيبت، ستر مصيبت همدا

---

[1] - صحيح بخاري ، کتاب العلم ١: ٣٩ مخ او کتاب المرضى ٦: ١٢ مخ. صحيح مسلم، کتاب الوصيه ٣: ١٢٥٩ مخ، ٢٢ ګڼه حديث. احمد مسند ١: ٣٢٥ مخ.

دی، چې د هغه څه د ليکلو خنډ شول، چې پيغمبر ورته ليکل.[1]

قرطبي او نور وايي: «کاغذ راوړئ» يو امر دی او پر مامور واجب دي، چې د امر په منلو کې هڅه وکړي، خو حضرت عمر (رض) او ورسره ډله يې پر دې عقيده وو، چې دا کار لازم او واجب نه دی، بلکې يوازې ښې و منعې ته د لارښوونې لپاره دې. له همدې امله يې د امر له منلو ډډه وکړه، چې پيغمبر يو داسې کار ته اړ کړي، چې په هغه حالت کې ورته سخت و او د خدای دوه خبرې يې يادولې: (مَّا فَرَّطْنَا فِي الكِتَابِ مِن شَيْءٍ)[2] (تِبْيَانًا لِّكُلِّ شَيْءٍ)[3]

خطابي وايي: د حضرت عمر (رض) مخالفت د دې لپاره و، که نبي مکرم صلی الله عليه و آله په ډاگه يو مطلب ويلی وای، نو عالمانو ته څه فضيلت نه و او اجتهاد نه پکارېده.

ابن الجوزي وايي: حضرت عمر (رض) له دې ډارېده، دا چې پيغمبر د

---

[1] - صحيح صحيح بخاري ، ٧: ١٥٦ مخ. صحيح مسلم، ٣. ١٢٥٩، ٢٢ گڼه حديث.

[2] - د انعام سورت، ايت، ٣٨.

[3] - د نحل سورت، ايت، ٨٩.

ليکلو پرمهال ناروغ و، منافقانو ته د نيوکې لپاره پلمه په لاس ورتله.

ابن حجر د ابن عباس پردې خبرې [« مصيبت، پوره مصيبت دا و، چې رسول الله صلى الله عليه و آله يې د خپل ليك، ليکلو ته پرېنښود»] لمنليك کښلی: مطلب هاغسې نه دی، چې له ظاهره يې معلومېږي، بلکې ابن عباس د دغسې روايت په څرگندولو کې داخبره په خوله راوړه او ابن تيميه د رافضي ((حلي)) په رد کې همدا ټکی ياد کړی دی او دا چې لازم دي، دا حديث په غير ظاهر ومنو، دا ځکه چې د حديث راوي (عبيدالله بن عباس) يو تابعي دی او د راويانو له دويمې پوړۍ دی، چې پر پېښې شاهد نه و، ځکه د رسول اکرم له وفات روسته نړۍ ته راغلی او تر ډېرې مودې روسته يې له ابن عباس څخه دا روايت اورېدلی دی.[1]

عايشه ام المؤمنين روايتوي، چې رسول اکرم د مرگونې ناروغۍ پرمهال وويل: خدای دې يهود او نصارا لعنت کړي، چې د خپلو پېغمبرانو

---

[1] - فتح الباري ۱: ۱٦۹ مخ، په هر حال د ابن حجر دا خبره د اهل سنتو د رواياتو په طريقو او لارو کې شکونه را منځ ته کوي.

قبرونه يې جوماتونه کړل. [1]

روايت شوی چې عايشې (رض) ته وويل شو: حضرت علي د پيغمبر وصي و. عايشې بي بي وويل: هغه څه وخت پيغمبر خپل وصي کړ، حال دا چې بالښت يې زما پر سينه و (يا يې ويلي، چې زما تر ځنګ و) نو امر يې وکړ چې يو لګن ورته راوړي، او لا څه وخت تېر نه و، چې زما په غېږ کې يې سا ورکړه. نو څه وخت يې د علي سپارښتنه کړې وه؟! [2]

له حضرت عايشې (رض) څخه روايت شوی، چې رسول الله صلی الله عليه و آله به د ناروغۍ پر مهال معوذ تين « قل اعوذ برب الناس او قل اعوذ برب الفلق» لوستل او پر ځان يې چوفول او لاس يې د درد پر ځای موښود او پر مرګونې ناروغۍ چې اخته شو، نو تل مې معوذ تين لوستل او پرې چوف کول مې او د پيغمبر لاس مې د هغه پر مخ موښود... او

[1] - صحيح صحيح بخاري ، ٦: ١٣و ١٤ مخونه. صحيح مسلم ١: ٣٧٦ مخ، ٢٠ او ٢١ ګڼې احاديث.

[2] - صحيح صحيح بخاري ، ٤: ٣ مخ. مسلم، ٣: ١٢٧٥ مخ، ١٩ ګڼه حديث.

حضرت ته يې خپلو مېرمنو اجازه ورکړې وه، چې د عمر روستی ورځې دې له عايشې (رض) سره وسېږي ځکه پوهېدې چې له عايشې (رض) سره يې مينه وه او ډېر ورسره ارامېږي.[1]

د عايشې (رض) په کور کې د سرور کاينات صلی الله عليه و آله ناروغي سخته شوه ويل يې: اوه کوزې تازه اوبه راباندې واچوئ، چې له خلکو سره خبرې وکړای شم، بيا نو په داسې حال کې له کوره را ووت چې سر يې تړلی و او خلکو پرې اوبه اچولې وې (او جومات ته ورغی) او پر منبر يې وويل: خلکو! که مې ځان ته دوست نيوای، نو په رښيتا چې ابوبکر مې خپل صميمي دوست نيوه او دا روري، د اسلام روري ده. په جومات کې بې د ابوبکر له کوټې بله کوټه مه پرېږدئ، زه تر تاسې مخکې ځم، خو درباندې به ګواه وسم او پرخدای (په قيامت کې) همدا اوس خپل حوض وينم. د ځمکې د خزانو ټولې کونجيانې راکړ شوي دي او په رښتيا نه ډارېږم، چې تر ما روسته به مشرکان شئ،

[1] - صحيح صحيح بخاري ، المغازي باب مرض النبي و وفاته ٦: ١٣ مخ.

خو په دنیوي چارو کې درباندې ډاربېږم، چې هسې نه یو له بل سره په کې سیالي وکړئ. [1]

له عایشې (رض) څخه روایت شوی چې، رسول اکرم د ناروغۍ پر مهال راته وویل: پلار دې ابوبکر راته را وغواړه. یو مطلب لیکم چې څوك تر ما روسته ځانته د کوم څیز هیله ونه کړي او څوك ونه وایي، چې تر نورو غوره یم. بې له ابوبکره، نه خدای څوك مني او نه مؤمنان!!![2]

د پیغمبر ناروغي چې خورا سخته شوه او دباندې تلای نشو، نو امر یې وکړ چې ابوبکر (رض) دې خلکو ته جماعت ورکړي. عایشې (رض) وویل: رسول الله صلی الله علیه و آله ابوبکر یو نرم زړی (رقیق القلب) دی که ستا پر ځای پرلمانځه ودرېږي، نو ټول خلك به یې غږ وانه وري. حضرت جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وویل: تاسې د یوسف

---

[1] - صحیح بخاري ، ١٤١٤ مخ، کتاب المغازي، باب مرض النبي او کتاب فضایل الصحابه، باب فضل ابي بکر. صحیح مسلم، ٤: ١٧٩٥ مخ، ٣٠ گنه حدیث.

[2] - صحیح مسلم، ١٨٥٧١٤ مخ ١١ گنه حدیث کتاب فضایل الصحابه باب: فضل ابوبکر. صحیح صحیح بخاري ٩: ١٠٠ مخ، کتاب الاحکام – باب الاستخلاف.

دوستان یاست! امر وکړئ چې ابوبکر (رض) خلکو ته جماعت ورکړي.
[1]

له عایشې (رض) څخه روایت شوی چې، وایي! سرمې خوږېږي! پېغمبر وویل: په داسې حال کې چې زه ژوندی یم او تاته بښنه غواړم او دعا درته کوم! عایشې بي بي وویل: پر ما افسوس! پر خدای قسم، خیال مې کاوه، چې ته مې مړینې ته منتظر یې! پېغمبر وویل: بلکې وایم وای پر سر مې! نیت مې وکړ، چې په ابوبکر پسې دې ولېږم، چې خپل وصي يې کړم چې د هیلمنو د هیلو او د خلکو د خبرو مخه ونیسم.[2]

که د نبي مکرم صلی الله علیه و آله د ناروغۍ او وفات په اړه روایات وڅېړو، نو شونې ده، چې د پېغمبر د وصیت په اړه پېچلي ټکي راته څرګند کړي، لکه چې اهل سنتو د ابن عباس (رض) د روایت (چې خلکو ته یو مطلب ولیکي، چې تر وفات روسته يې بې لارې نشي) پر

[1] - صحیح مسلم ۳۱۳۱۱ مخ، ۹۵ ګڼه حدیث، کتاب الصلاة، باب استخلاف الامام اذاغرض له عذر.

[2] - صحیح بخاري ۹: ۱۰۰ مخ کتاب الاحکام.

وړاندې کوم سیاست خپل کړی نو دا یې شرعي ښوولی دی او د حضرت عمر (رض) په مشرۍ د هغو اصحابو له اسلام او عقل سره په ټکر کې پرکړنو یې برغولی ایښی دی او د دې مخونو او برغولیو ایښودنې موخه داده، چې د دې حدیث د هغو مفسرینو مخه ډب کړي، چې د ځینو اصحابو دا کړنه تر پوښتنې او نیوکې لاندې نیسي که څه خورا ساده گوتنیونه وي، تر دې چې د خلکو له نظره یې انځور ټکنی نشي، که څه هم په دې هڅه عقلونه په زولنو تړل کیږي او بندیانیږي، ځکه اهل سنتو ته عقل څه اهمیت نه لري او که په رښتیا یې ورته درلود، نو دا دومره جعلي قوانین به یې نه جوړ ولای، چې خلك له دې منع کړي چې د اصحابو په اختلافاتو کې به خبرې نه کوئ او رسول کریم صلی الله علیه و آله ته په تړاو روایاتو په تېره د واکمنو د اطاعت په برخه کې به څېړنه نه کوئ، حال دا چې بې له څه شکه دا احادیث له قرآن سره په ټکر کې دي، که څه هم د اهل سنتو له نظره صحیح دي!![1]

---

[1] - زما کتاب، العقل المسلم او دا لعواصم من القواصم کتاب.

ابن حجر روايتوي، چې د ابن عباس په حديث کې له کښو موخه د خليفه ټاکنه وه.[1]

قاطي عياض وايي: حضرت عمر (رض) چې د «هجر» کلمه کاروله معنٌی يې ناسزا گويي ده. وايي: «هجر الرجل» پرتې ويل وي او د «اهجر» مانا ناسزاگويي ده.[2]

که دا د «هجر» مانا وي، نو ايا صحابي ته روا ده، چې دا خپل پيغمبر ته وکاروي؟

ابن حجر وايي: سرور کاينات صلی الله عليه و آله ته داسې يو څيز ناشونی دی، ځکه هغه په روغتيا او ناروغۍ کې پاکلمنی دی خدای وايي: (وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوى: او سکه چې هغه د ځاني غوښتنو له مخې خبرې نه کوي)[3]

ايا حضرت عمر (رض) نه پوهېده، چې پيغمبر پاکلمنی دی؟!

---

[1] - فتح الباري، ۸: ۱۰۸ مخ.

[2] -تېره سرجينه.

[3] - سورت نجم، آيت: ۳.

کاشکې اهل سنتو د ځينو اصحابو د دريځونو د مخونې لپاره قرآن ته مخه کړې واى لکه ابن حجر چې د رسول الله صلى الله عليه و آله په باب، د حضرت عمر (رض) دريځ ته مخونه ورکړه او که قرآن ته يې مخه کړې واى، نو بېشکه تل يې د سياست مخه ډب کوله، ځکه سياست د اصحابو دريځونه په ښه توګه کاروي او د سقيفې له پېښو د حضرت عمر (رض) او حضرت عثمان (رض) له دريځونو يې د واکمن او تر واك لاندې تر منځ د اړيکو قوانين رامنځ ته کړل. (په راتلونيکو څپرکيو کې به پردې موضوع رڼا واچوو).

خو په هر حال، له آيته د ابن حجر استدلال، ډېر ناڅاپي او تصادفي دى؛ ځکه د نورو اهل سنتو په لاروى يې د اصحابو کړنې د سياست له مخې او دا چې هغوى ټول عادلين او مجتهدين دي تاويل کړې.[1]

حق دادى، چې د حضرت عمر (رض) دريځ يو ستر مصيبت و، چې د اسلام بهير يې کوږ کړ او امت يې د واکمنو، فقهاوو او ځانپالو پر

---

[1] - العواصم ۵۵ مخ او د اهل سنتو د ګروهو کتابونه، چې د اصحابو عدالت يې د خپلې عقيدې برخه کړې دى.

وړاندې سر گردان کړ او دا کړنه یې د ښه نیت او ښه والي نښه نه ده، لکه چې مخوونکي فقهاوو ورته مخونه ورکوي، بلکې دا دریځ یې له سیاسته شمېرل کېږي او عقل دا نه مني چې د حضرت عمر (رض) دغسې چلن یو خیر خوا چلن وي.

١. د سرور کاینات صلی الله علیه و آله په مخالفت کې به څه خیر غوښتنه وي؟ او که حضرت عمر (رض) مجتهد وبولو، ایا د رسول الله صلی الله علیه و آله د امر په وړاندې د اجتهاد حق لري؟ او د حضرت عمر (رض) دا خبره: «د خدای کتاب راته بس دی» دا یوه غرضي خبره ده، ځکه هغه خو بیخي د کتاب الله حافظ او ساتندوی نه و او پر احکامو یې نه پوهېده، که څه د احادیثو جوړوونکیو او مخوونکیو فقهاوو د فقیه او مجتهد په نوم نومولی دی او پر قرآن د نه پوهېدو یې دا دلیل بس دی، چې د رسول الله صلی الله علیه و آله تر وفات روسته یې ادعا وکړه چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله بیخي مړ شوی نه دی او هغوی یې و گواښل چې ویل یې پیغمبر وفات شوی دی او دا دریځ

يې يو دليل دی چې د پيغمبر په ونډې او رسالت نه پوهېږي. په زړه پورې خو داده چې دا يوازې او يوازې خپله د حضرت عمر (رض) دريځ و، تر دې چې حضرت ابوبکر (رض) راورسېد او د آل عمران ١٤٤ آيت (وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ) يې ورته ولوست او حضرت عمر (رض) ورته په ځواب کې وويل: لکه چې لومړی ځل دی چې دغسې آيت اورم![1]

د حضرت عمر (رض) او ملگرو يې دا دريځ ښيي، چې يو شمېر اصحاب د پيغمبر د وصيت کښلو مخالف وو؟ دا ځکه چې وصيت يې پر گټه نه و، ځکه دا بيخي معقوله نه ده، چې يو امت د خپل پيغمبر له وصيت ليکلو سره مخالفت وکړي، چې په مرگوني حال وي او پوهېږي هم، چې پيغمبر يې روستی پيغمبر دی او بېشکه چې په دې حال کې به د دغسې يو وصيت ليکل په څو ځلې خورا برخليك سازی وي.

---

[1] - د دې کتاب درېيم څپرکی ولولئ.

اوس دا پوښتنه کېږي: ولې پېغمبر ومنله چې وصيت ونه ليکي او ټول له ځانه وشړي؟ ايا ښه نه وه، چې پېغمبر پرخپله ليکنه ټينګار وکړي، ځکه د اسلام او مسلمينو په برخليك پورې اړه لري؟

د وصيت کښلو مخالفه ډله، ډاډمنه وه، چې د پېغمبر او وصيت ترمنځ يې واټن اچولای نشي او بېشکه رسول الله (چې د پالونکي ملاتړ ورسره دی) له خپلې دندې او وصيت کولو منع کولای نشي، ځکه وصيت يې د پيغام يوه برخه ده او دا پيغام يې د فعاليتونو اصل دی، چې له امله يې په پېغمبرۍ رالېږل شوی دی، خو د پېغمبر د وصيت کښلو او په خوله وصيت کولو تر منځ توپير شته، که پېغمبر ليکلي وای تر قيامت ورځې پورې به د مخالفينو پروړاندې يو حجت و او اړونه يې تقريباً ناشونې وه، خو که شفاهي وي، اړونې او مخونې ته يې مخه پرانستې ده، ځکه د خبرې اړونه د ليکلو تر اړونې خورا اسانه ده او دا د حضرت عمر (رض) د ډلې نيت و، چې د وصيت د ليکلو مخه ونيسي نه دا چې د په خپله وصيت مخه ونيسي او دغسې هم وشو.

**د ام المؤمنین عایشې رضی الله عنها ونډه:**

وینو چې د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله د احتضار د مهال ډېری روایات (که ونه وایو چې ټول یې) د عایشې بي بي له خولې روایت شوی دي، چې دا رنګارنګ پوښتنې را ولاړوي.

ولې یوازې عایشه بي بي دا روایات راویتوي، نه د پیغمبر نورې مېرمنې؟

او دې پوښتنې ته ځواب موږ د عایشې بي بي په اړوند د دوو حقایقو څېړنې ته اړباسي:

۱- د عایشې (رض) فضایل او جناب رسول الله صلی الله علیه و آله ته یې مقام.

۲- د حضرت علي پر وړاندې د عایشې بي بي دریځ.

صحیح بخاري ، مسلم او نورو چې د عایشې (رض) فضایل روایت کړي، ټول یې د عایشې بي بي له خولې روایت کړي، یعنې هغه په خپله د ځان په اړه فضایل روایتوي لکه ابوهریره (رض) چې په خپله خپل

فضایل روایتوي، چې دا مطلب له عقلي پلوه رد دی، ځکه د فضایلو لازمه دا ده، چې د نورو له خولې وي، نه دا چې په خپله انسان ځانته فضایل راوتوړي، لکه چې د حضرت علي په فضایلو کې وینو، چې ډېری اصحابو یې فضایل روایت کړي نه په خپله حضرت علي.

که له دې تېر شو او په ځیر د عایشې (رض) فضایل وڅېړو، نو دې پایلې ته به ورسو، چې دا احادیث یې فضلیت ته کومه اشاره نه لري، بلکې اپوټه یې دي. لکه د خدیجې (رض) او د پېغمبراکرم د نورو مېرمنو په اړه یې د کینې روایات تر کره کتنې لاندې نیسو.

مسلم له عایشې (رض) روایتوي: یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه و آله خدیجه یاده کړه، نو حسد یا رخه مې وکړه او ومې ویل: څه شوي چې د قریشو یوه بوډۍ دومره ډېره یادوې، چې وریځي یې سرې وې، هغه خو مړه ده او خدای تر هغې غوره درکړې! تر دې ځایه د مسلم روایت پای ته رسي، خو په بل روایت کې یې پېغمبر ځواب وایي: نه، پر خدای قسم خدای تر هغې غوره راکړې نه ده.

همداراز عایشه بي بي روایتوي: د پیغمبر له یوې مېرمنې سره مې هومره حسد یا رخه نه وه لکه له خدیجې سره، ځکه پیغمبر ډېره یادوله که څه هم ما لیدلې نه وه. [۱]

دا خپله پر عایشې بي بي پوره رد او د خدیجې بي بي په غوراوي یو دلیل دی او عایشې (رض) د پیغمبر رسالت ته څه خدمت کړی دی او څه ځان تېرېدنه یې درلورده چې تر خدیجې غوره وي؟ بېشکه یوازې دومره کار یې کړی چې د اموي لیکي په چوپړ کې یې ډېر ګڼ شمېر جوړ شوي احادیث روایت کړي او پر اهل بیتو یې بر لاسي کړل!

اوس د هغه روایت په هکله د مخوونکیو فقهاوو خبرې واورئ: نووي د صحیح مسلم شارح وایي: ښځو ته رخه او کینه څه ګناه نه شمېرل کېږي ځکه طبیعت یې همداسې دی!! نو ځکه رسول الله صلی الله علیه و آله عایشه بي بي منع نه کړه!!! [۲]

[۱] - صحیح مسلم، ٤\ ۱۸۸۹ مخ، ۷٦ ګڼه حدیث، کتاب فضایل الصحابه – باب فضایل خدیجه.

[۲] - د صحیح مسلم شرح ۱۵: ۲۰۲ مخ د عایشې د فضایلو باب.

قاضي وايي: په نظر مې چې د عايشې (رض) دا جسارت د کوچني والي له امله و او ښايي چې هغه مهال به لا بالغه شوې هم نه وه!![1]

نو که اهل سنت، د سرور کاينات صلی الله عليه و آله پر وړاندې د عايشې (رض) جسارتونه د هغې د کوچنيوالي له امله بولي، نورو دريځونو ته يې ځرنگه مخونه ورکوي؟ او ايا کوچنيتوب ددې لاملېږي چې له سرور کاينات صلی الله عليه و آله سره دغسې بې ادبه وچلېږي؟!

او بل روايت ته يې ځير شئ چې وايي: چې څه وخت به عايشه (رض) له پيغمبره خوشحاله وه، نو د هغه پر نوم به يې قسم خوړ او چې ترې به خپه کېده، نو د ابراهيم پر نوم يې قسم خوړ، يعنې که له پيغمبره خپه کېده، نوم يې پرخولې نه راووړ.[2]

ايا دا چلن د پيغمبر له مېرمنې سره ښايي؟!

ايا کړای شي چې له جناب رسول الله صلی الله عليه و آله نه خپه وي؟!

---

[1] - تېره سرچينه.

[2] - مسلم: ١٨٩٠|٤ مخ، ٨ گڼه حديث.

چې څوك له جناب رسول الله صلى الله عليه و آله نه خپه وي، د اهل سنتو په فقه کې يې څه حکم دی؟!

له يوې مېرمن سره هم دغسې چلن نه ښايي، خو دا چې ناپوهه ماشومه وي، چې د رسول الله په څنګ کې لوبې کوي! يا لکه چې روايات وايي د پېغمبر په مخکې يې له نجونو سره لوبې کولې.

يادونه:

صحيح مسلم( ٤ / ١٨٩٠ مخ، ٨١ ګڼه حديث) له عايشې بي بي روايتوي: د پېغمبر په کور کې مې له نجونو سره لوبې کولې، ملګرې مې راتلې او له پېغمبره پټېدې او پېغمبر يې په کتو خوشحالېده.

ايا پېغمبر دومره وخت درلود، چې په کوچنيتوب کې د عايشې (رض) پر ساتنه او ورسره پر لوبو بوخت شي؟ ايا عايشې (رض) ته يې شوق تردې حده تېر شوی و، چې په کوچنيتوب کې يې واده کولو ته اړ کړي؟

د ابن سعد په طبقاتو (٨ / ٥٨ مخ) کې يو مطلب راغلی، چې ګتنه ترې

کېږي، چې عایشه (رض) له سرور کاینات صلی الله علیه و آله سره د واده پر مهال کونډه وه.

ابن سعد روایتوي: سرور کاینات صلی الله علیه و آله، پر عایشې (رض) مارکه وکړه، حضرت ابوبکر (رض) وویل: یا رسول الله صلی الله علیه و آله ! هغه خو مې مطعم بن جبیر ته واده کړې صبر وکړه، چې بېرته یې ترې واخلم او بیا یې ترې وغوښته، مېړه یې طلاق ورکړ او بیا یې له پیغمبر سره واده وکړ. )

مسلم (صحیح ٤ / ١٨٩١ – ١٨٩٢ مخونه، ٨٣ ګڼه حدیث) له عایشې (رض) روایتوي: « د پیغمبر مېرمنو، فاطمه بي بي په پیغمبر پسې ولېږله، چې تر څنګ مې ملاست و. فاطمې، پیغمبر ته وویل: له مېرمنو سره دې پر عدالت وچلېږه (عایشې (رض) ته پر نورو غوراوی مه ورکوه) پیغمبر وویل: ایا نه غواړې چې کوم څیز مې خوښېږي ستا هم خوښ شي؟ فاطمې وویل: هو. پیغمبر وویل: نو له عایشې (رض) سره مینه لره. تر دې روسته د پیغمبر مېرمنو د جحش لور پیغمبر ته ولېږله، چې ترې

وغواړي، له دوی سره دې پر عدالت چلېږي او عایشه دې پرې غوره نه بولي، روسته يې د عایشې (رض) پر ضد خبرې وکړې او توهين يې کړه. پیغمبر هم چوپ و. ناڅاپه عایشه (رض) پر زینب ورننوته او روایت د عایشې له خولې وايي: ما يې هم په توندی ځواب ورکړ او لاس مې ترې وانخست، تر دې چې پرې بر لاسې شوم»

چې په ځير دا روايت وڅېړل شي، نو وينو چې پيغمبر يې څومره سپك کړی او داسې يو څوك يې ښوولی، چې له ښځو او د دوی ستونزو سره بوخت او زړه يې ور پورې تړلی دی او د حضرت ابوبکر (رض) لور ترې دومره زړه وړی چې کوټه يې نه پرېږدي او ورسره له کېناستو يې ستړی کېږي نه.

څنگه له سرور کاينات صلی الله عليه و آله غوښتل شوي چې پر عدالت وچلېږه، حال دا چې په خپله په خلکو کې د عدالت چلولو ته راليږل شوی دی؟

که سرور کاينات صلی الله عليه و آله په خپلو مېرمنو کې له عدالت

چلولو ببوسې وي او عايشه (رض) يې تر نورو ډېره ځانته را نژدې کړې وه، نو بايد چې په خلکو کې له عدالت چلولو ښه ببوسی وي.

د پیغمبر په مخ کې، د دوو تنو مېرمنو شخړه یې او بې اعتنايي يې، تر دې چې په موسکا زينب (رض) ته وايي: هغه خو د ابوبکر (رض) لور ده! د حضرتصلی الله علیه و آله پر سستی يو دليل دی او پر دې يې ټينگار دی چې عايشه بي بي تر نورو ړومبۍ وگڼي او پر نورو مېرمنو تېری وکړي. ايا په رسول الله صلی الله عليه و آله پورې دغسې کړنې تپلای شو؟ لويه خدايه! موږ مه نيسه، خو څه وکړو چې د اهل سنتو روايات دغسې دي.

د عايشې (رض) له خولې په بل روايت کې و وينئ، چې پیغمبر ورسره دومره بوخت دی، چې ان د نورو مېرمنو شپې هم نيسي.

روايت وايي: چې کله به پیغمبر د خپلو مېرمنو احوال پوښتنه، نن مې نوبت چېرې دی؟ سبا چېرې يم؟ (د عايشې د ورځې اوږدېدو لپاره). [1]

[1] - صحيح مسلم ١٨٩٣\٤ مخ، ٨٤ گڼه حديث باب: فضايل عايشه. صحيح صحيح بخاري ٣٧\٥ مخ، باب فضايل

دا روایت خو پېغمبر یو عاشق انځور وي، چې په خوله کې یې یوازې د عایشې (رض) نوم اخستی او په زړه کې یې بې له دې بل څوك نه ځایېږي. له نورو مېرمنو سره یې سړه او بې ارزښته مینه ده او یوازې له عایشې (رض) سره اغېزمنه او ارزښتمنه مینه لري: نو مسلمان له پېغمبره پر دغسې یو انځور څنګه راضي کېدای شي؟

دا روایت لکه چې په خپله عایشه (رض) ټینګار کوي، د پېغمبر له وفاته څو ساعته وړاندې و، یعنې عمر یې له شپېتو اوختی و او عایشه (رض) یوازې اتلس کلنه وه! ایا معقوله ده چې یو بوډا تردې بریده په مېرمنو پورې تړلی وي؟

عایشه (رض) د روایت په دوام کې وایي: زما د نوبت پر ورځ، په غېږ کې مې له نړۍ ولاړ!!...

[د ژباړن یادونه: په دې پسې محترم لیکوال د عایشې (رض) له خولې ډېر روایات له صحیح صحیح بخاري او صحیح مسلم څخه د عایشې

---

عایشه.

(رض) د فضایلو له بابه روایتوي، چې دومره بدرنګه او ناروا دي، چې د
خدای خورا ستر مخلوق او غوره انسان ته په کې سپکاوی شوی، چې
ان موږ یې له راوړو تېرېږو، دا خو لاڅه چې ویې څېړو!]
څومره دا دروغجن روایات د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله
شخصیت سپکوي او ټیټ یې بولي (خدای ته پناه وړو) تر دې چې د
ژوند په روستیو شېبو کې د عایشې (رض) په غېږ کې سا ورکوي!!

په هر حال، د عایشې (رض) د روایاتو له څېړنې دې پایلې ته رسو، چې
دا روایات نه یوازې دا چې د هغې هیڅ فضلیت نه را ښیي، بلکې ډېره
یې رسوا کړې او بلخوا پیغمبر یې تر یوه عادي انسانه هم ټیټ ګڼلی
(خدای ته پناه وړو) او موږ ته څرګندېږي، چې د دغسې روایاتو له
روایتونو موخه د عایشې بي بي سترول نه، بلکې غواړي چې هغه لیکه
واکمنه کړي.

د دغسې روایاتو جوړونه، یو څرګند دلیل دی، چې د رسول اکرم په نظر
کې عایشې (رض) یو لږ زاند شخصیت درلود او پیغمبر ترې بیخي

خوښ او راضي نه و او که په رښتيا سرور کاينات صلی الله عليه و آله ترې خوښ وای، نو د دغسې رواياتو جوړونې ته څه اړتيا نه وه او ولې عايشې (رض) نور پرېښوول چې فضايل يې روايت کړي او مناقب يې وشمېري!

په هر حال لکه چې څرگنده ده يا دا چې عايشې (رض) دغسې روايات جوړ کړي او يا يې له خولې جوړ کړای شوي دي.

اوس د حضرت خديجې (رض) په فضايلو کې غور کوو. له حضرت علي روايت شوی: د خدای له استازي مې واورېدل: خورا غوره مېرمنې «مريم » د عمران لور او «خديجه» د خويلد لور ده.[1]

حضرت ابوهريره (رض) روايتوي، چې يوه ورځ پېغمبر ته جبرييل (عليه السلام) راغی او ويې ويل: يا رسول الله! دا خديجه ده، چې درځي نو د هغې د پالونکي او زما له لوري پرې درود او سلامووايه او په جنت کې ديوه داسې کور زېری ورکړه، چې نه پکې شور ځوك او نه په کې ستړيا

[1] - صحيح مسلم ٤|١٨٨٦ مخ، ٦٩ گڼه حديث. د ام المؤمنين خديجې فضايل او د فاطمې فضايل.

شته.[1]

عایشه (رض) وایي: جناب رسول الله صلی الله علیه و آله خدیجې ته په جنت کې دیو کور زېرې ورکړ.[2]

او همداراز وایي: چې رسول الله صلی الله علیه و آله به پسه حلالوه، نو ویل یې: څه برخه یې د خدیجې ملګرو ته ولېږئ، نو یوه ورځ مې حضرت غوسه کړ او ومې ویل: بیا هم خدیجه! حضرت وویل: مینه یې راته تزریق او پیچکاری شوې ده.[3]

هن! دا د خدیجې (رض) فضایل دي، چې د نورو او ان په خپله عایشې (رض) له خولې روایت شوي او راښیي چې تر عایشې (رض) غوره او افضله ده.

هن! دا د خدای استازی دی، چې خدیجې ته په جنت کې د یوه کور زېری ورکوي، نه عایشې (رض) ته!

---

[1] - صحیح مسلم ٤/ ١٨٨٧ مخ، ٧١ ګڼه حدیث.

[2] - صحیح مسلم ٤/ ١٨٨٨، ٧٣ ګڼه حدیث.

[3] - صحیح مسلم ٤/ ١٨٨٨ مخ، ٧٥ ګڼه حدیث.

هن! دا رسول الله صلی الله علیه و آله دی چې ان د خدیجې (رض) تر وفات روسته ورته وفاداره پاتې‌ږي او پر دوستانو او خپلوانو یې لوریږي، تردې چې عایشه (رض) پرې غوسه کېږي!

هن! دا رسول الله صلی الله علیه و آله دی، چې وایي د خدیجې مینه ورته تزریق شوې ده.

هن! دا جبرییل امین دی، چې د پاك خدای له لورې، پر خدیجې درود او سلام لېږي او دا له عایشې (رض) سره د سرور کاینات صلی الله علیه و آله تر واده وړاندې و. که د خدیجې (رض) په باب راغلي روایات له هغو روایاتو سره پرتله کړو، چې عایشې (رض) د خپل ځان په هکله روایت کړي، نو دې پایلې ته رسوو، چې د خدیجې (رض) فضایل حقیقت لري، خو د عایشې (رض) فضایل جوړ کړای شوي دي او همداراز راته څرګندېږي چې خدیجې (رض) پیغمبر ته ستر مقام درلود، خو عایشې (رض) نه!

ام المؤمنین عایشه (رض) لکه چې د اهل سنتو له روایاتو معلومېږي،

کوچنی نجلۍ وه، چې د نبي کریم صلی الله علیه و آله د وفات پر مهال یې له اتلسو کلونو عمر ډېر نه و، نو دا څنگه شونې ده، چې په دې عمر کې د دومره ورتېل شوې پوهې او علم وارثه وي، حال دا چې د اهل سنتو د روایاتو له مخې خپل عمر یې له جناب رسول الله صلی الله علیه و آله سره په شك، کینه او عشق کې تېر کړی دی؟

او څنگه شونې ده، چې پېغمبر یوه مېرمن په دې عمر کې د خپلو اسماني علومو امینه کړي؟ ایا دا چار د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله له دې خبرې سره په ټکر کې نه دی چې وایي: «هېڅکله به هغه ملت ونه ژغورل شي، چې یوه ښځه پرې واکمني وکړي»[1]

ویل شوي چې عایشې (رض) له نبي کریم صلی الله علیه و آله څخه څلوېښت زره احادیث روایت کړي دي! نو څنگه یې له جناب رسول الله صلی الله علیه و آله سره په دې لنډه موده کې دا دومره احادیث زده کړي؟! لکه چې عایشې (رض) هم د حضرت ابوهریره (رض) په څېر په

[1] -صحیح صحیح بخاري ١٠١٤ مخ- کتاب المغازي- باب کتاب النبي الی کسری و قیصر.

لنډه موده کې د رسول اکرم له خولې دا دومره ډېر روايات روايت کړي، چې له اصله خو په دې دومره موده کې دا دومره روايات نه روايتېږي!

مطلب له حضرت عايشې او حضرت ابوهريره (رض) اوچت دی. دا يوه ليکه ده، چې غواړي پر امت واکمني وکړي. او دا مطلب هله څرگندېږي چې د حضرت علي په هکله د عايشې (رض) دريځ وڅېړو او «افك» پېښې جرړې راوباسو، تردې چې حضرت علي، رسول الله ته وويل: «رسول الله! ښځې خو ډېرې دي، له بلې سره واده وکړه»!

هو! عايشه (رض) د رسول الله صلی الله عليه و آله تر وفات روسته له خپل پلار سره ودرېده او په ډاگه يې له حضرت علي او د ده له ملگرو سره دښمني اعلان کړه او همداراز له فاطمې (رض) سره، چې د خپل ميراث په هکله يې د عايشې (رض) له پلار سره لانجه درلوده او بېشکه چې حضرت علي د اهل بيتو د ليکې بېلگه و، چې د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله له وفات روسته، د خلافت له امله يې د ټبر پالو او منافقينو سره اختلاف او شخړه درلوده او وينو چې عايشه (رض) د

حضرت علي له مقابل لورې سره وه، چې دا يې له حضرت علي سره د دښمنی دريځ دی.

عايشې (رض) د حضرت عثمان (رض) تر وژنې روسته له حضرت علي سره خپله دښمني په ډاګه کړه او د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) په وختونو کې يې د دښمنۍ د نه ښکاره کولو لامل دا و، چې په هغې زمانې کې د حضرت علي ليکه پټه پاتې وه.

په هر حال، د امويانو تر تسلط او د اموي ليکې تر واکمنۍ او د صفين له پيښې روسته د حضرت علي (رض) پر وړاندې د عايشې (رض) له دريځونو، د هغې ليکې په پلوی ګټنه وکړای شوه، لکه چې د پيغمبر د مېرمنې په توګه يې، شخصيت د اموي ليکې د مشروعيت لپاره وکارېده او په دې توګه يې له خولې ډېر روايات جوړ کړای شول، لکه چې تر دې روسته د حضرت ابوهريره او حضرت عبدالله بن عمر (رض) شخصيتونه هم د اموي ليکې پرګټه وکارېدل.[1]

[1] - په تاريخي او دسننو په کتابونو کې د ابن عمر و ابوهرير ه (رض) ژوند ليکونه او د حالاتو شرح ولولئ.

له تېرو پایله دا: د رسول اکرم د احتضار پر مهال، د احادیثو په روایتولو کې، د عایشې (رض) ځانګړنه له وړاندې اټکل شوې وه او موخه دا وه، چې تر رحلت له مخه، د امت د بې لاریتوب د مخنیوي لپاره د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله وصیت او لارښوونې وځپي او په هر حال عایشه (رض) ټولې هغه ځانګړنې لري، چې د اهل بیتو له لیکې سره په مقابل کې د اموي لیکې ملاتړ وکړي. او دا ځانګړنې په دې کې را لنډېږي:

- ❖ له جناب رسول الله صلی الله علیه و آله سره یې نږدېوالی.
- ❖ له حضرت علي سره یې دښمني.
- ❖ د لومړي خلیفه لور.
- ❖ د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله له مېرمنو سره یې دریځ.
- ❖ ځواني.

او د پیغمبر په مېرمنو کې یوازې عایشه (رض) دغسې ځانګړنې لري او په واقع کې د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله پر ژوندونې یې

دريځونو او چلن دغسې يوې ونډې او نقش ته نوماندہ کړې وہ.

يادونه: په دې باب په تفسيري کتابونو کې د احزاب اوتحريم سورتونه ولولئ. صحيح بخاري (٤: ١٠٠ مخ) روايتوي، چې سرور کاينات صلى الله عليه و آله د عايشې (رض) کور ته اشاره وکړه او ويې وويل: فتنه له دې ځايه راپاځيږي او دا خبره يې درې ځل وويله، له هغه ځايه د شيطان لښکر راوځي. په صحيح مسلم (٤: ٢٢٢٩ مخ، ٤٨ ګڼه حديث) کې په ګڼ شمېر رواياتو کې راغلي چې سرور کاينات صلى الله عليه و آله عايشې بي بي ته وويل: باخبر! چې هسې نه د «حواب» سپي درپسې وغپي. «حواب» د بصرې پر لار يوه ځاه وه، چې عايشه (رض) ترې له حضرت علي سره د جګړې لپاره تېره شوه (ابن حجر هيشمي الصواعق المحرقه).

له دې ښکاريږي چې عايشې (رض) روايات په تېره د نبي مکرم صلى الله عليه و آله په وفات پورې اړوند روايات، موږ د هغه حقيقت لورې ته نه بيايي چې په اړه يې بحث کوو او موږ د اهل بيتو د ليکې پټولو ته

راکاږي، هماغه لیکه چې د امویانو او خلفاوو پر خلاف ده او د نبي کریم صلی الله علیه و آله پر وصیت ټینګار کوي او موږ دې ته راکاږي چې د نبي کریم د وفات په اړه بې له عایشې (رض) د نورو په روایاتو پسې شو.

روایت شوی: د پیغمبر (رض) ناروغي چې سخته شوې وه، نو تر رحلت څو د قیقې وړاندې عباس (رض) یې کور ته ورغی. حضرت علي وویل: څه غواړې؟ عباس (رض) وویل: له پیغمبر غواړم چې خپل ځانیاستی وټاکي. حضرت علي وویل: دا کار مه کوه. عباس وویل: ولې؟ حضرت علي وویل: ډاریږم چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله مخالفت وکړي او که موږ وغوښتل پر خلکو واکمني وکړو، ووایي: ایا سرور کاینات صلی الله علیه و آله د خلیفه له ټاکنې ډډه ونه کړه؟ [1]

حضرت علي وپوښتل شو! ایا پیغمبر کوم څیز درته ځانګړی کړی دی؟ ویې ویل: پیغمبر په کومه ځانګړنه راته قایل نه و او یوازې یو څیز یې را

[1] - ابن سعد، طبقات ۲: ۲٤٦ مخ.

وباښه، چې همدا اوس مې د تورې په تیکه کې دی، بیا یې یو کاغذ راوکښه چې پکې کښل شوي و: « خدای دې پر هغه لعنت ووایي، چې بې د خدای لپاره حلاله وکړي، خدای دې پر هغه لعنت ووایي چې د ځمکې منار غلا کړي، خدای دې پر هغه لعنت ووایي، چې خپل پلار وکنځي او خدای دې پر هغه لعنت ووایي چې یو بدعتگر ته پناه ورکړي!!»[1]

او په بل روایت کې راغلي: سرور کاینات صلی الله علیه و آله تر نورو خلکو جلا کوم بل څیز راته پرېښی نه دی، خو هماغه څیز چې زما د توري په تیکې کې دی.

ویې ویل: هلته خلك هماغسې وو، چې کاغذ یې را وکېښ، چې په کې کښل شوي وو: پر هغه دې د خدای د پرښتو او ټولو خلکو لعنت وي، چې بدعت رادبره کړي یا بدعتگر ته پناه ورکړي. کوږوالی یې نه منل کېږي او هم کښل شوي چې ابراهیم، مکه د امن ځای او ما مدینه د

---

[1] - صحیح مسلم ۳\ ۱۵٦۷ مخ، ٤٥ گڼه حدیث، کتاب اصناحي باب ۸. امام احمد حنبل مسند ۱\ ۱۱۸ مخ.

حرام ځای کړه... او ویې ویل: چې په هغه لیکنه کې راغلي: مؤمنین (په حقوقو کې) یو له بل سره مساوي دي او د نورو پرخلاف ټول یو لاس دي.

هن! هېڅ کله دې، د یو تن کافر لپاره یوتن مسلمان و نه وژل شي او نه ښايي چې کوم چارواکی دې د چارواکۍ پر مهال ووژل شي. [1]

او په نورو روایاتو کې پوښتنه په نورو بڼو راغلې ده لکه: «خبر شوي یو چې پېغمبر کومه پټه خبره درته کړې» یا «پېغمبر کوم راز درته بر سېره کړی دی»[2]

صحیح بخاري په بل روایت کې وايي: «حضرت علي وپوښتل شو، چې پېغمبر ورته څه پرېښي، ویې ویل: د خدای کتاب او دا لیکنه یې راته پرېښې ده. وویل شول: څه په کې کښل شوي دي؟ ویې ویل: عقل او څه چې د بندي ازادۍ ته ورکوي، او بل دا چې نه باید کوم مسلمان د

[1] - امام احمد حنبل ۱: ۱۱۹ مخ.

[2] - صحیح مسلم ۱۳\ ۱۵٦۷ مخ، ٤٤ ګڼه حدیث، کتاب الاضاحی.

کافر لپاره ووژل شي... »[1]

حضرت عبدالله بن ابی اوفي وپوښتل شو: پېغمبر د کوم څيز سپارښتنه وکړه؟ ويې ويل: د هيڅ څيز هم نه. وويل شول: نو څنگه يې خلکو ته وصيت وکښه او خلکو ته امر وکړ چې عملي يې کړي. يې ويل: يوازې د خدای پر کتاب يې سپارښتنه وکړه.[2]

روايت شوی چې پېغمبر ته درېيو تنو غسل ورکړ: حضرت علي، حضرت فضل بن عباس او اسامه بن زيد (رض). حضرت علي، پېغمبر ته غسل ورکاوه او دوو نورو پر کفن کړ.[3]

او روايت شوی چې رسول الله د حضرت علي په غېږ کې ساه ورکړه.[4]

ابن عباس (رض) روايتوي: پر خدای قسم سرور کاينات صلی الله عليه و آله په داسې حال کې له نړی ولاړ چې د علي پر سينه يې ډډه وهلې

---

[1] - صحيح صحيح بخاري ١\٣٨ مخ، کتاب العلم، کتاب فضايل القرآن، ٦ ٢٣٤ مخ.

[2] - صحيح صحيح بخاري ، ١٦\١٨ المغازي، باب ٨٣.

[3] - ابن سعد، طبقات ٢\٢٧٧ مخ.

[4] - د پورته سرچينې ٢٦٣ مخ.

وه، علي او رور مې فضل غسل ورکړ. (تېره سرچینه)

او هم وايي: سرور کاینات صلی الله علیه و آله د ناروغۍ پر مهال ویل: رور مې را وغواړئ، نو حضرت علي یې ورته راوست، بیا یې وویل: را نژدې شه. حضرت علي وايي: پېغمبر راباندې ډډه وهله او پر همدې حال یې خبرې راسره کولې، داسې چې د مبارکې خولې لاړې یې راباندې لوېدې. (تېره سرچینه)

له دې روایاتو څرگندېږي، چې ځینې یې د عایشې (رض) له روایاتو سره په ټکر کې دي او ځینې یې نوي دلایل راښیي، چې د عایشې (رض) روایاتو اشاره ورته کړې نه ده.

هغه روایات چې د عایشې (رض) له روایاتو سره په ټکر کې دي، هغه روایات دي چې پېغمبر د حضرت علي په غېږ کې سا ورکړه اوغسل یې ورکړ او لېدل کېږي چې دا روایات صحیح صحیح بخاري او صحیح مسلم روایت کړي نه دي، بلکې ابن سعد په خپلو طبقاتو، امام احمد او طیالسي په خپلو مسانېدو او نورو کې روایت کړي دي، خو د عایشې

(رض) روايات، صحيح بخاري او مسلم راوړي دي.

له دې چاره يې موخه دا ده، چې مسلمانان د عايشې (رض) د نظرياتو منلو ته اړ کړي او په بله مانا د امويانو د ليکې منل او د اهل بيتو په ليکه کې شکمني پيدا کول، ځکه مسلمانان پر صحيح بخاري او مسلم اعتماد کوي او احاديث يې صحيح بولي او امت پرې يوه خوله دی!

په حقيقت کې پر نورو کتابونو د صحيح صحيح بخاري او صحيح مسلم ړومبي ګڼل، په لومړی درجه کې يوه سياسي قضيه ده او په شرع پورې هيڅ تړاو نه لري. دا دواړه کتابونه د اموي ليکې او نورو واکمنو په جوپړ کې دي او د اهل بيتو له ليکې سره سخته دښمني کوي. البته تر مسلم نه د صحيح بخاري دريځ ډېر کينه کښ دی او همداراز تر نورو روايانو د مسلم کينه کښ دريځ خورا سخت دی.[1]

او دا مساله چې ټول اهل سنت د دې دوو کتابونو په صحيح والي يو

[1] - فقه الهزيمه فصل السنه او تا ملات فی العحيصين د بيروت چاپ.

خوله دي، نودا هم يو شکمن تکی دی.[1]

البته په دې مانا نه ده، چې په صحيح بخاري او مسلم کې به صحيح روايات نه وي، ځکه لکه چې مخکې مې ويلې، صحيح احاديث چې په سر کې يې د «خم غدير» حديث دی، روايت کړی چې دا حديث، احمد، نسايي، ترمذي او نورو هم په خپلو کتابونو کې راوړی دی.

دلته مناسبه ده، چې د رواياتو او آثارو، فقها او کارپوهان وبلل شي، چې هغه صحيح احاديث په يوه کتاب کې راټول کړي، چې په صحيح بخاري او مسلم کې يا د اهل بيتو له لارې اماميه شيعه وو ته رسېدلي دي. په دې شرط چې دا احاديث له قرآن سره وسنجوي او کوم يې چې له قرآن سره په ټکر کې وي، مستثنی کړي او دا چار د اسلامي يوالي لپاره ړومبی گام دی.

بېرته رواياتو ته ستنېږو، چې اصلي موخه مو ده. دا روايات کومې پوښتنې چې خلك يې (د پېغمبر د وصيت په اړه او په حضرت علي

---

[1] - اضواء علي السنة المحمديه ۲۹۹-۳۱٦ مخونه د قاهرې چاپ او دوه مخکېنی مراجع.

پورې یې ورځانګړی کوي) یو له پوښتې، مور ته راښکاره کوي، چې یو وصیت خو و چې ځینو وګړیو یې په پټولو کې هڅه کوله او د حضرت علي له خولې داسې روایات جوړوي، چې د دې وصیت له شتو نه منکرېږي.

معقوله نه ده، چې له پېغمبره د حضرت علي میراث چې خلك یې پر ډېرې پوهې ګواهي ورکوي او پېغمبر یې په اړه ویلي و:

۱- زه د علم ښار او علي یې ور دی.

۲- یا زه د حکمت کور او علي یې ور دی.

یوازې د بندي د ازاېدو، د کافر لپاره د مسلمان د نه وژل کېدو او د قصاص د احکامو په څېر څیزونه وي!

(یادونه: د لومړی حدیث په باب وګورئ: ابن المغازلي شافعي، مناقب ۸۰-۸۵ مخونه. بغداد تاریخ ۳٤۸\٤ او ۳۷۷\۲ مخ. دویم حدیث په باب وګورئ: تر مذي ٦۳۷\٥ مخ، ۳۷۲۳ ګڼه حدیث.)

حال دا چې ابن حجر (فتح الباري ۷: ۸٤ مخ د عایشې بي بي د فضایلو

شرح) د عایشې (رض) په باب وایي: له پېغمبره یې ډېر روایات روایت کړي او ډېر وګړیو روایت ترې کړی، تردې چې د شرعي احکام څلورمه یې له عایشې (رض) روایت کړي دي!!

او معقوله نه ده، چې لکه ابوهریره (رض) او ابن عمر (رض) له نبي مکرم صلی الله علیه و آله څخه دومره پوهه او حکمت په میراث وړې وي، چې له حضرت علي سره د پرتلنې وړ نه وي.[1]

دا مساله عقلمن شکمنوي. د سرور کاینات صلی الله علیه و آله په خوځښت پسې تلل او له حضرت علي سره اړیکه په بېړه موږ ته راښکاره کوي، چې له حضرت علي سره د دښمنۍ له کبله عایشه بي بي، حضرت ابن عمر او حضرت ابوهریره (رض) غټ ښوول شوي، چې دا سل په سلو کې یوه مساله ده، چې امویانو را دبره کړې ده.

د امویانو په لیکه کې له څېرنې (چې روسته د اهل سنتو د لیکې په بڼه را

[1] - اضواء علی السنة ۲۱۹ مخ، هدی الساری پر صحیح صحیح بخاري د ابن حجر د شرح سریزه. پـه دې دوو کتـابونو کې یو شمېر نه شته، چې عایشې بي بي ۲۴۲ روایتونه، ابوهریره (رض) ٤٤٦ روایتونه او ابـن عمـر (رض) ۲۷۰ روایتونـه کړي دي، حال دا چې امام علي ۲۹ روایتونه او حضرت فاطمه الزهرا یوازې یو روایت لري.

مخې ته شوه) څرګندېږي، چې دا ليکه پر همدې درېيو شخصيتونو ولاړه ده.

۱. همدغسې معقوله نه ده، چې پيغمبرصلی الله عليه و آله به خپل امت بې وصيته پرېښی وي، ځکه په دې چار به يې له قرآن سره مخالفت کړی وي او د روستي پيغمبر په توګه به يې خپله دنده عملي کړي نه وي. خدای د بقرې سورت په ۱۸ آيت کې وايي: (صُمٌّ بُكْمٌ عُمْيٌ فَهُمْ لاَ يَرْجِعُونَ ايا پيغمبر ته روا ده، چې له هغه آيت سره مخالفت وکړي، چې د وصيت امر ورته کوي؟

که مؤمنانو ته د شتمنۍ او دنيوي څيزونو په باب وصيت کول فرض وي، نو د اسلام او مسلمانانو راتلونکې ته به فرض نه وي؟

صحيح بخاري په (٤: ۲ مخ، کتاب الوصايا) کې روايتوي چې سرور کاينات صلی الله عليه و آله ويلي: له مسلمان سره چې شتمني وي نو روا ورته نه ده، چې له دوه شپو، ډېرې پرې تېرې شي او وصيت ونه ليکي او ورسره نه وي.

ایا دا شونې ده، چې د پیغمبر وینا له کړو وړو سره یې اړخ ونه لګوي؟ په خپله د یو څیز سپارښتنه وکړي، خو ویې ونه کړي؟

موږ اوس د چا خبره ومنو؟ د قرآن او سرور کاینات صلی الله علیه و آله یا هغوی چې له اصحابو او دیني عالمانو سره د وصیت له شتونه منکرېږي؟

چې څوك د پیغمبر په نهضت پسې ځي، نو مومي چې سرور کاینات صلی الله علیه و آله په هر مناسب ځای کې وصیت کاوه، په غزاګانو، شخصي اړیکو او د مړینې پرمهال چې پیغمبر د «تبوك» غزا ته تله، نو وصیت یې وکړ، چې د حضرت علي به اطاعت کوئ.

د مړینې پر مهال یې سپارښتنه وکړه چې حضرت ابوبکر (رض) دې خلکو ته جماعت ورکړي، دا چې په جوماتونو کې د قبر پر جوړوونکیو د لعنت ویلو سپارښتنه کوي، چې په حجة الوداع کې د ښځو سپارښتنه کوي... او چې تر خپل وفات له مخه انصارو ته سپارښتنه کوي....

پیغمبر پر خپل ژوندون د دې چارو سپارښتنه وکړه، ایا دا دلیل کېږي نه

چې پېغمبر به خپل وصيت په پام کې نيولی و؟!

چې سرور کاينات صلی الله عليه و آله غزا ته تله، نو حضرت علي يې په مدينه کې خپل ځايناستی کړ، حال دا چې پوهېده، له غزا به راستون شي، نو ايا دا وړ ده چې له نړۍ ځي، خو ځان ته به ځايناستی نه ټاکي؟!

په واقع کې مخوونکي فقها په دې دريځونو او کړنو کې ور ډوب شوي او هڅه کوي، چې د وصيت نښې پټې کړي او موخې يې په دې بې بنسټه مخوونو او پايلو (چې له عقل او د پېغمبر له څرګندو ويناوو سره اړخ نه لګوي) واړوي، چې په دې توګه هغه ليکه وساتي، چې له تېرو په ميراث کې ورته پاتې ده او سل په سلو کې يې د خپلې عقېدې برخه بولي.

## دويم فصل

### سقيفه

د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله تر وفات روسته، د سقيفې پېر پر

مسلمانانو د ټبريزي يا قبيلوي ليکې د مشرتوب زمانه ګڼل کېږي. دې ليکې خپل مشروعيت له «شورا» تر لاسه کړ.

کوم پلټونکی چې ځان د سقيفې پر پېښه پوهوي، ورته معلومېږي، چې په آر کې دا مساله له شورا سره هيڅ اړيکه نه لري، بلکې د هغه ښرګندې ليکې پر وړاندې يو انقلاب ته ورته ده، چې پېغمبر کښلې وه.

حضرت جناب امير معاويه چې له حضرت علي سره د مخالفت بيرغ اوچت کړ؛ نو مخالفت يې پر ثابتو ستنو ولاړ نه و، چې د حضرت علي پر وړاندې يې د مخالفت وړ وبولي، بلکې مخالفت يې د هماغې ټبريزي يا قبيلوي ليکې پر بنسټ و، چې د سقيفې په پېر کې تثبيت شوی و او د حضرت علي تر وخته يې دوام وموند.

**د تاريخ خبره:**

شهاب الدين نويري د سقيفې د پېښې په هکله ليکي:

چې جناب رسول الله صلی الله عليه و آله له نړۍ ولاړ، انصار د بني

ساعده و په څپرگي (سقیفه) کې راټول شول او ویې ویل: تر جناب رسول الله صلی الله علیه و آله روسته، خلافت حضرت سعد بن عباده (رض) ته ور پرېږدو. او بیا حضرت سعد(رض) د ناروغی په حال کې ورغی. تر راټولېدو روسته، حضرت سعد خپل پلار یا یې د یو تره زوی ته وویل: ټولو یارانو ته مې خپله خبره رسولای نشم، نو ته یې واوره او ټولو ته یې په لوړ غږ ووایه. بیا همدغسې وشو. حضرت سعد (رض) د پالونکي تر ستاینې روسته وویل: «انصارو! تاسې په دین کې تر نورو وړاندې قدم ایښی او په اسلام کې داسې ځانگړنه لرئ، چې یو عربي ټبر یې نه لري»

په واقع کې محمد صلی الله علیه و آله څوکاله په خپل قوم کې، خلك د پالونکي نمانځنې او له بوتانو ځنې ډډې کولو ته راوبلل، خو ډېرو لږو پرې ایمان راووړ. پر خدای قسم سرور کاینات صلی الله علیه و آله یې له خپلې بلنې منع کولای نشو او نه یې د ده دین له منځه وړای شو، تر دې چې هغه دا ځانگړنه تاسې ته در ولوروله او عزت یې درکړ او د

اسلام نعمت یې تاسې ته ځانګړی کړ او پر خدای او استازي یې ایمان درکې تزریق کړ او له خپلو دښمنانو سره یې جهاد درپرېښود؛ نو تاسې یې د دښمنانو سخت دښمنان وئ، تر دې چې (هرومرو) ټولو عربانو الهي چار ته غاړه کېښوده او په ذلت او خوارۍ تسلیم شول او خدای ځمکه د خپل استازي په واك کې کړه او ستاسې په تورو یې د عربانو سرونه ورته ښکته کړل او دادی اوس خدای وباله او له تاسې راضي او تاسې ته هېلمن و او خلافت یوازې تاسې ته دی نه نورو ته.

ټولو ورته وویل: خبره دې سمه ده او نظر دې صحیح دی او خبره مو درته داده، چې دا چار (خلافت) یوازې تاته پرېږدو، ځکه یو ښه سړی یې اود مؤمنینو ګټې په پام کې نیسې[1].

او د دې لپاره چې له مهاجرینو سره شخړه پیدا نه شي، ځینو انصارو وړاندیز وکړ، چې په حکومت کې یې شریك کړئ او ویې ویل: یو امیر دې له انصارو او یو دې له مهاجرینو وټاکل شي. حضرت سعد بن عباده

---

[1] نویري، نهایة الارب فی فنون الادب: ۱۹ / ۲۹ – ۳۰ مخونه.

(رض) ویل: دا لومړی سستوب دی [1].

دا د انصارو نظر و، خو د مهاجرینو نظر د حضرت عمر (رض) [چې د انصارو پر وړاندې يې د مهاجرینو د حرکت مشري کوله] د حرکت له څېړنې روسته څرګندېدای شي.

نویري وايي: چې حضرت عمر (رض) د سرور کاینات صلی الله علیه و آله له وفاته خبر شو، حضرت ابوبکر (رض) ته ورغی، نو بوخت يې ولید [2].

او ورته يې وویل: چې یو خطر ناك چار په مخ کې دی او باید حاضر شې. حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض) ته ورغی. حضرت عمر (رض) ورته وویل: خبر نه يې چې انصار د بني ساعده و په څپرګي کې راټول شوي او غواړي چې حضرت سعد بن عباده (رض) خلیفه کړي؟ او غوره يې هغه دی چې وايي: یو امیر دې له موږه او یو دې له

---

[1] فتح الباري فی شرح ال صحیح بخاري : ۲۳۱۷ مخ. طبري تاریخ ۱۳ ۲۱۹ مخ.

[2] په تاریخ کې کښل شوي نه دی، چې حضرت ابوبکر (رض) په خپل کور کې پر کوم کار بوخت و، حال دا چې حضرت علي خو هغه مهال د پیغمبر په کفن او ښخولو لګیا و.

هغوی وي!

نو دواړه په بېړه څېرګي ته ور روان شول او په لار کې یې پو شمېر مهاجرین له ځان سر کړل. په هر حال ترمنځ یې اختلاف شو، چې څېرګي ته ور شي یا مطلب په خپلو کې پای ته ورسوي. حضرت عمر (رض) وویل: پر خدای قسم باید هلته ورشو.

حضرت ابوبکر (رض) راټول شویو ته وینا وکړه. عربان خلافت یوازې قریشو ته پېژني! یو انصار وویل: قریشو! یو تن دې له موږه امیر وي او یو له تاسې. شور و ځوك زور واخست، ناڅاپه حضرت عمر (رض)، حضرت ابوبکر (رض) ته وویل: لاس دې راکړه چې بیعت درسره وکړو. حضرت ابوبکر (رض) لاس ورووړاندې کړ، نو حضرت عمر (رض) او نورو مهاجرینو بیعت ورسره وکړ. انصارو هم بیعت وکړ، بیا یې پر حضرت سعد (رض) جت جوړ کړ، تر دې چې ځینو وویل: حضرت سعد (رض) ووژل شو! حضرت عمر (رض) وویل: خدای، حضرت سعد (رض) وواژه! پر خدای قسم چې بیعت ته مو له حضرت ابوبکر

(رض) پیاوړی ونه لید. وډار شو هسې نه چې خلك خپاره واره شي او بیعت ونشي، نو تر موږ روسته بیعت وشو، نو ځکه یا باید داسې وشي، چې له هغه سره بیعت وشي، چې ټول پرې خوښ وي یا مخالفت وکړو او ماتې پېښه شې[1]!

داسې روایات هم راغلي، چې حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض) او انصارو د یو بل پر وړاندې خبرې کړي. لکه حضرت ابوبکر (رض) وایي: قریش له رسول اکرم روسته تر ټولو خلکو خلافت ته وړ دي او په دې چار کې یوازې ظالمان ورسره لانجه کوي!! موږ امیران یو او تاسې وزیران! په هر کار کې به سلا مشوره درسره کوو[2].

له انصارو حضرت حباب بن منذر (رض) د مهاجرینو په مقابله کې وویل: انصارو! یو موټی شئ او پوه شئ چې خلك (مهاجرین) ستاسې تر سیوري لاندې دي. نه باید چې څوك د مخالفت جرائت درسره

---

[1] ابن کثیر، البدایه و النهایه: ٥\٢٤٦ مخ.

[2] دینوري، الامامه والسیاسه: ١\١٤-١٥ مخونه. طبري تاریخ: ٣\٢٢٠ مخ. ابن اثیر، الکامل فی التاریخ: ٢\ ٣٢٩ مخ.

ولري، تاسې عزتمن او شتمن ياست، تجربې مو تر ګوتو کړي او شمېر مو ډېر دی. خلك درنه مرسته غواړي او تاسې خپله پناه بولي او اوس غواړي چې پوه شي تاسې څه کار کوئ، نو اختلاف مه لرئ، چې درناوی مو پرځای وي او نظر مو واکمن، که خوښه او موافقه يې ونه کړه؛ نو منو چې يو امير دې له موږه او يو دې له هغوی وي[1].

حضرت عمر (رض) په تونده ورته وويل: نه! داسې نه کېږي، چې دوه تنه واکمنه به وي. پر خدای قسم، عربان نه مني چې حکومت در وسپاري، حال دا چې پېغمبر يې له بلې ډلې دی او ښېشکه دا مني چې واك هغه ته وسپاري، چې پېغمبر له هغوی دی او په واقع کې، موږ په دې باب څرګند دليل لرو. څوك دی چې نه مني محمد صلی الله عليه و آله له موږ څخه دی او بايد امارت (هم) له موږه وي او په واقع کې موږ د محمد ياران او خپلوان يو او که څوك بې له دې بل څه غواړي، نو باطل غواړي، يا ګناهکار دی او يا فتنه راولاړوي او د وينې توييدل

---

[1] الکامل فی التاريخ: ۲|۳۲۹ مخ. طبري تاريخ: ۳|۲۲۰ مخ. الامامه والسياسه: ۱|۱۵ مخ.

غواړي؟!

حضرت حباب بن منذر (رض) په سخته د حضرت عمر (رض) خبرې رد کړې او ویې ویل: انصارو! د دې سړي او ملګرو یې، خبرې نالیدلې وبولئ او پرېنږدئ چې د خلافت برخه مو له لاسه ووځي، نو که یې ونه منله، له ښاره یې وشړئ او په خپله د چارو واګې په لاس کې ونیسئ، پر خدای قسم تاسې دې چار ته تر هغوی خورا وړ یاست، ځکه بې دینه ستاسې په تورو دینوال شول.

حضرت عمر (رض) وویل: خدای دې وژني!

حضرت حباب (رض) وویل: بلکې تا وژني[1]!

له مهاجرینو، حضرت ابوعبیده (رض) وویل: انصارو! تاسې ړومبي کسان وئ، چې ایمان مو راووړ او مرسته مو وکړه، نو داسې مه وسئ، چې په دین کې لومړي بدعتګر او اړوونکي یاست[2].

[1] الامامه والسیاسه: ۱۵|۱ مخ. طبري تاریخ: ۲۲۰|۳ مخ. الکال فی التاریخ ۳۲۹|۲ مخ.

[2] الامامه والسیاسه: ۱۵|۱ مخ. طبري تاریخ: ۲۲۰|۳ مخ. الکال فی التاریخ ۳۳۰|۲ مخ.

له انصارو حضرت بشير بن سعد (رض) له خپلو ملګرو وغوښتل چې د خدای لپاره، له دې چاره لاس واخلئ او قريشو ته يې پرېږدئ.

حضرت ابوبکر (رض) وويل: دا حضرت عمر (رض) دی او دا حضرت ابوعبيده (رض)، چې هر يو مو خوښ وي، بيعت ورسره کړای شئ[1].

حضرت عمر (رض) او يارانو يې، حضرت ابوبکر (رض) بيعت ته ونوماوه، خو له امله يې په انصارو کې لانجه وشوه، خو د اوس ټبر، د حضرت سعد بن عباده (رض) په مشرۍ، د خزرج له ټبر سره د سيالۍ له مخې راوګرځېدې شو او له حضرت ابوبکر (رض) سره يې بيعت وکړ.

د اسلم ټبر چې د حضرت ابوبکر (رض) پلويان وو، مدينې ته راغلل او د ښار پر ټولو لارو او کوڅو او دروازو مسلط شول او قدرت يې په لاس کې ونيو.

حضرت عمر(رض) په خوشحالۍ وويل: اوس چې د اسلم ټبر وينم په

---

[1] الامامه والسياسه ۱\۳٦ مخ ۳\۲۲۱. طبري تاريخ

بریا مې یقین راغی[1].

روایت شوی، چې خلکو له حضرت ابوبکر (رض) سره د بیعت لپاره له هرې لورې را وځغاستل او نژدې و چې حضرت سعد بن عباده (رض) لتاړ کړي. د حضرت سعد (رض) ځینو یارانو وویل: پام چې حضرت سعد (رض) تر پښولاندې نه کړئ! حضرت عمر (رض) وویل: ویې وژنئ! ویې وژنئ! خدای دې یې ووژني! بیا حضرت سعد ته راغی او پر سر یې ودرېد او ویې ویل: غوښتل مې چې په لغتو دې ووهم او هډوکي دې مات کړم! حضرت قیس بن سعد (رض)، حضرت عمر (رض) له ږیرې ونیو او ویې ویل:.... پر خدای چې له خپل نظره به تېر نه شم[2].

ابن عبدالبر روایت کړی: حضرت سعد بن عباده (رض) او یوې ډلې خزرجیانو او یوې ډلې قریشو له حضرت ابوبکر (رض) سره له بیعته

---

[1] – مسعودی، مروج الذهب. الامامه والسیاسه. یعقوبي تاریخ. طبري تاریخ ۳۲۲\۳مخ

[2] طبري تاریخ: ۳\ ۲۲۲ مخ.

سرغړونه کړې وه، بیا بې له سعده ټولو بیعت وکړ[1].

حضرت عمر (رض) تل، حضرت ابوبکر (رض) هڅاوه، چې حضرت سعد (رض) بیعت کولو ته اړ کړي ورته وویل شو: تر وژنې بیعت نه کوي او تر هغې نه وژل کېږي، چې ټوله اولاده، کورنۍ او یو شمېر ټبر یې ورسره وژل شوي نه وي، نو یې خوشې کړ[2].

**د حضرت علي دریځ:**

دا د انصارو او ځینو مهاجرینو (قریشو) د نظریاتو څېړنه وه، خو له سقیفې (څپرګي) د باندې یو شمېر قریش وو، چې تر حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض) او لارویانو یې ډېر برخه درلوده. دوی شرعي، ولسي او تاریخي پانګه درلوده او په قریشو کې له ښه نفوذه برخمن وو. دوی بني هاشم وو، چې مشري یې د پېغمبر اهل بیتو کوله

---

[1] الاستیعاب: ۳\ ۹۷۳.

[2] مروج الذهب، طبري تاریخ: ۲۲۲\۳ مخ. الکامل فی التاریخ ۳۳۱\۲ مخ. الامامه والسیاسه: ۱۷\۱ مخ.

او پر هغه مهال د پېغمبر پر غسل، کفن او ښخولو بوخت وو، حال دا نور په سقيفه کې په لانجه کې را ښکيل وو!

په نهج البلاغې کې راغلي چې حضرت علي د سقيفې د خبرو په اړه وپوښتل، ورته وويل شو، چې قريشو وويل: چې په خپله دوی د پېغمبرو نه ده (يعنې د پېغمبر نسبي خپلوان دي). حضرت علي وويل: په ونه استدلال کوي او مېوه يې ځنډې ته کوي[1].

تاريخي کتابونه د حضرت علي په مشرۍ د بني هاشمو او د حضرت عمر بن خطاب په مشرۍ د قريشو ترمنځ د لانجې روايات راوړي دي. لومړۍ لانجه د فاطمې بي بي او حضرت ابوبکر (رض) ترمنځ راغله چې فاطمې بي بي په فدك کې د خپل پلار رسول الله صلی الله عليه و آله ميراث وغوښته او حضرت ابوبکر (رض) يې د هغه روايت په استناد غوښتنه رد کړه، چې په خپله يې روايت کړی و. حضرت ابوبکر (رض) وويل: له رسول الله صلی الله عليه و آله مې واورېدل: موږ پېغمبران څه

[1] نهج البلاغه، ٦٧ خطبه، د نهج البلاغې شرح: ٣١٦ مخ.

میراث نه پرېږدو، چې څه پاتېږي، صدقه ده[1] !!

مشهوره ده، چې فاطمې بي بي (رض) له حضرت ابوبکر (رض) سره لانجه وکړه او په غوسه ترې راووته او چې وفات شوه، حضرت علي د شپې شپې له خلکو پټه ښخه کړه او د نبي کریم صلی الله علیه و آله تر وفات شپږ میاشتې روسته له نړۍ ولاړه[2].

حضرت عمر (رض) حضرت ابوبکر (رض) د حضرت سعد (رض) پر ضد هڅاوه، دغسې یې د حضرت علي (رض) پر ضد هم هڅاوه، چې

---

[1] صحیح مسلم: ۱۳۷۸|۳ – ۱۳۸۳ مخونه: کتاب الجهاد والسیر. صحیح صحیح بخاري.

[2] فتح الباري: ۷: ۳۹۷ مخ. له حضرت ابوبکر (رض) سره د فاطمې بي بي د لانجې شرح دابن کثیر په البدایه والنهایه (۲۸۵|۵ – ۲۹۰ مخونه) او تاریخي کتابونه ولولئ.

د فاطمې د میراث نه ورکولو موخه د اهل بیتو د کمزوري کولو لپاره اقتصادي کلابندي وه، دا چې د حضرت ابوبکر دا دریځ له تېر پالنې او سیاسته راولاړ شوی و، دلیل یې دادی، چې د عمر بن عبدالعزیز (رح) د خلافت پرمهال فدک اهل بیتو ته ورستون کړای شو او معلومېږي چې د حضرت ابوبکر (رض) دا دریځ د قرآن له څرګند نص سره مخالفت دی:

وَوَرِثَ سُلَيْمَانُ دَاوُودَ...

يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ...

بیعت ترې واخلي، ځکه د حضرت علي (رض) دریځ یې د خپل ټبر پالي حکومت (چې په خپله یې مضبوط کړی و او ځان یې چمتو کاو، چې واګي تر لاسه کړي) تثبیت ته خطر ګڼه.

په واقع کې حضرت علي یوازې نه و، بلکې بني هاشم او له انصارو او مهاجرینو د ټولنې یو ډېر شمېر فعال وګړي (لکه حضرت عباس، حضرت عمارياسر، حضرت ابوذر غفاري، حضرت سلمان فارسي، حضرت بلال بن رباح، حضرت مقداد، حضرت جابر بن عبدالله انصاري، حضرت ابن عباس او... (رض) ) ورسره وو.

د روایاتو له مخې حضرت عمر (رض) د فاطمې بي بي د کور سوځولو لپاره (چې د حضرت علي په مشری د حضرت ابوبکر (رض) د مخالفینو د راټولېدو ځای و) ډېره هڅه وکړه[1].

په نظر رسي چې د حضرت عمر (رض) او حضرت علي (رض) تر منځ

[1] طبري تاریخ: ۳\۲۰۲ مخ، ۱\۵۹ مخ. ابن قتیبه، الامامه و السیاسه ۱\۱۹ مخ. ابی الفدأ تاریخ: ۱\۱۵٦ مخ. یعقوبي تاریخ: ۲\۱۲٦ مخ.

تاوتريخوالی ډېر شوی و. طبري روايتوي، چې حضرت علي (رض)، حضرت ابوبکر (رض) ته پيغام ولېږه، چې ماته ځان ته راشه او بل څوك درسره مه راوله.

حضرت عمر (رض)، حضرت ابوبکر (رض) ته وويل: پر خدای قسم نه ښايي چې ځان ته حضرت علي ته ورشې. حضرت ابوبکر (رض) وويل: څه به را سره وکړي؟ پر خدای قسم په يوه يوه تن پسې به يې ورشم، بيا حضرت ابوبکر (رض) بني هاشمو ته ورغی چې حضرت علي (رض) او حضرت عباس (رض) هم په کې وو او په درناوي يې ښه راغلاست ورته ووايه[1].

مسعودي روايتوي: چې په سقيفه کې له حضرت ابوبکر (رض) سره بيعت وشو او د سې شنبې پر ورځ ټولو خلکو ورسره بيا بيعت وکړ، حضرت علي ووت او ويې ويل: تا زموږ چارې خرابې کړې، مشوره دې هم ونه کړه او زموږ يو حق دې هم رعايت نه کړ. حضرت ابوبکر (رض)

۱ طبري تاريخ: ۲۰۸۱۳ مخ.

وويل: سمه ده، خو زه د فتنې له راولاړېدو وډار شوم.

د سقيفې پر ورځ د مشرتوب پر سر د انصارو او مهاجرينو ترمنځ اوږده شخړه تېره شوه. حضرت سعد بن عباده (رض) ووت او بيعت يې ونه کړ او شام ته روان شو. هلته پر ۱۵ س ووژل شو، دلته يې د وژنې په اړه بحث نه کوو او بني هاشمو هم د فاطمې بي بي تر ژونده ورسره بيعت ونه کړ[۱].

په تاريخي کتابونو کې حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض)، حضرت عمرو بن عاص او حضرت ابن عمر (رض) ته ډېر روايات منسوب شوي، چې د ځنکندن او احتضار په وخت کې يې ځينې خبرې کړې دي. دا روايات ښيي چې دوی پر هغو سياسي چارو پښېمانه او خپه وو، چې پرخپل ژوندونې يې کړي وو.

مسعودي د حضرت ابوبکر (رض) په اړه روايتوي: چې مړينه يې نژدې شوه ويې وويل: په درېيو کړو چارو پښېمانه يم، کاشکې چې بيخي مې

[۱] طبري تاريخ ۲۰۸|۳ مخ. مسعودی، مروج الذهب: ۳۰۹|۲ مخ.

کړي نه وای، درې چارې مې ونه کړې، کاشکې کړي مې وای او کاشکې درې چارې مې له پیغمبره صلی الله علیه و آله پوښتلې وای.

کاشکې هغه درې چارې چې مې نه وای کړې دا دي: د فاطمې (رض) کور مې لټولی نه وای، چې په اړه زیاتې خبرې شوي. «فجاءسلمي» مې سوځولی نه وای، یا مې خوشې کړی وای یا مې ساده وژلی وای.

کاشکې د سقیفې پر ورځ مې خلافت ابوعبیده (رض) یا عمر (رض) ته ور پرېښی وای چې هغه امیر او زه یې وزیر وم.

درې پرېښې چارې، چې مې کړې وای: پر هغه ورځ چې مې اشعث بن قیس ونیو، کاشکې وژلی مې وای، ومې ګڼله چې په هر شر کې یې لاس و. زړه مې غوښتل چې حکومت عمر بن خطاب ته وسپارم او خپله په لروبر کې د خدای په لار کې بوخت وسم.

او کاشکې پرهغه ورځ مې چې د (رده) ارتداد لښکر چمتو کړ، راستون شوی وای او پر خپل ځای کېناستم، نو که مسلمانان آرامېدل هغوی هم آرامېدل، که نه زه به یوازې یو مرستندوی وای.

او کاشکې له پیغمبره صلی الله علیه و آله مې درې څیزونه پوښتلی وای: چې خلافت د چا دی، چې څه شخړه پکې نه را دبره کېده د عمه (ترور) او وربرې د میراث په اړه او دا چې ایا انصار په خلافت کې څه برخه لري، چې ورکړی مو وای[1].

دا شخړه یوازې د انصارو او په مهاجرینو کې د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) د اړخ ترمنځ نه ده، بلکې نور اړخونه هم وو، چې له قریشو یې دستور اخسته، په سر کې یې سفیانیان وو، چې ابوسفیان بن حرب یې مشري کوله چې د مکې تر سوبې روسته یې خپل نفوذ او تسلط له لاسه ورکړی و.

ابوسفیان په مدینه له څه ځواکه برخمن نه و او یوازېنۍ چاره یې دا وه، چې حضرت علي د سقیفه والو پر ضد راوپاروي. طبري روایت کړی، چې ابوسفیان، حضرت علي ته وویل: ولې خلافت د قریشو له ټیټ او

[1] مسعودی، مروج الذهب: ۳۰۸\۲. طبري تاریخ: ۳\۴۳۰-۴۳۱ مخونه. یعقوبي تاریخ: ۱۳۷\۲ مخ.

ناڅيزو ټبرونو سره دی؟ پر خدای قسم که وغواړې، نو د حضرت ابوبکر پر ضد به بيديا له اسونو او سپورو ډکه کړم! حضرت علي ورته وويل: ته خو همېش د اسلام او مسلمينو دښمن يې، پر خدای قسم نه غواړم چې پر ضد يې بېديا له سپورو او پوځيانو ډکه کړې او په حقيقت کې که ابوبکر (رض) مې دې چار ته وړ ګاڼه، نو مخالفت مې ورسره نه کاوه. ابوسفيانه! مؤمنين د يو بل خيرخوا او سره ملګري دي که څه هم يو له بله لرې وي، خو منافقين ان له ځان سره هم دوکه کوي[1].

او همدغسې طبري روايتوي، چې حضرت علي په بيړه له حضرت ابوبکر سره بيعت وکړ او ملګری يې شو او په بل روايت کې يې تر شپږو مياشتو روسته بيعت وکړ او بيا يې لارويانو هم دا بيعت وکړ[2].

حضرت علي وايي: له بيعته مې ډډه وکړه، خو چې مې ولېدل، خلك له اسلام څخه اوړي او د حضرت محمد صلی الله عليه و آله د دين په

---

[1] طبري تاريخ: ٣|٢٠٩ مخ. ابن عبدالبر، استيعاب: ٤|١٦٧٩ مخ

[2] طبري تاريخ: ٣|٢٠٨ مخ.

منځه وړو پسې يې راخستې ده، نو وډار شوم که د اسلام او مسلیمنو مرسته ونه کړم، په اسلام کې به ماتې رادبره شي او یا به دښمنان یرغلونه پرې کوي، چې په دې حال کې به، پر تاسې د واکمنی تر نابودی، د اسلام مصیبت خورا سخت و، هغه واکمني چې د ډېرو لږو ورځو متاع ده او د سراب (شګي ګل) یا پسرلي وريځو په څېر له منځ ځي، نو په دې لانجو او شخړو کې راپاڅېدم، چې باطل له منځه ولاړ او پو پنا شو، دین تثبیت او ټینګ شو[1].

له حضرت ابوبکر (رض) سره د حضرت علي د بیعت روایات دا حقیقت را ښیي، چې که بیعت شپږ میاشتې مخکې و، یا روسته یا ان د رسول اکرم خاورو ته په ورسپارلو پسې و. حضرت علي د سقیفې په باب په تېره د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) په باب ځانګړی نظر درلود.

[1] نهج البلاغه: ٤٥١ مخ، ٦٢ لیك

بېشکه د بیعت په باب د حضرت علي چوپېدل، دا دلیل نه دی چې له خپل فکري او عقیدتي دریځ یې لاس اخستی، یا دا چې له تېر پال حکومت سره یې څه جوړ جاړی کړی وي. څرګنده ده چې دا د شته واقعیت پر ضد د حضرت علي (رض) سیاسي دریځ دی، نو حضرت علي له اصلي مسالی لاس اخستی نه دی، بلکې خپل شخصیت یې له خپل حقه ځار کړ، چې د اسلام حقیقي جوهر او زړنې پاتې شي.

حضرت علي اختیار من و، چې یا د اسلام د ساتنې لپاره له خپل امامته تېر شي یا دا چې له شته وضعیت سره لاس و ګرېوان شي او په پایله کې هم امامت له لاسه ووځي او هم اسلام، ځکه په ټولنه کې دننه، منافقین ځواکمن او د باندې د روم او فارس ځواکونه پر مسلمانانو برید ته چمتو وو.

د حضرت ابوبکر (رض) په پېر کې کړلېچ دومره ډېر و، چې حضرت علي یې اندېښمن کړی او خوب یې له سترګو الوتی و، خو د حضرت عثمان (رض) په زمانه کې ستر کړلېچ را ښکار شو، نو ځکه د حضرت

علي دريځ هم واوړېد.

حضرت علي له لومړي او دويم خليفه سره مسالمت اميز ژوند درلود، ځينو د حضرت علي پر دغسې چلن استدلال کړی، چې حضرت علي دوی تاييد کړي؛ ځکه حضرت علي ورسره پخلا شوی او شخړه يې ورسره نه کوله.

د دې وګړيو دې ته پام نه دی، چې د مسالمت اميز ژوند او رضايت تر منځ توپير شته او هم پوه شوي نه دي، چې له خلفاوو سره د حضرت علي مسالمت اميز ژوند يوه هدايتمندانه ژوند و، د هغه پوهاند ژوند چې پر حقايقو پوهېده، ځکه جناب رسول الله صلی الله عليه و آله تر ځان روسته پېښو خبر کړی و.

او بېشکه د هغه چا ترمنځ خورا توپير دی، چې له داسې چا کړنلېچ ويني، چې توقع ترې نه لري او د هغه ترمنځ چې له مخکې ترې خبر و او له دې پېښو د حضرت علي خبرتيا د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله د دې حديث له مخې وه «علي!همدغسې چې پر تنزيل يې

وجنګېدې پر تاويل به يې هم وجنګيږي[1]».

يعنې که رسول اکرم، له قرآن او نبوته يې، له منکرو مشرکانو سره جګړه وکړه، حضرت علي له هغوی سره جګړه کوي، چې په ظاهره په دې دين پورې تړاو لري، هغه منافقين او مارقين چې نصوص يې تاويل کړي او په خپل تاويل، فساد او بې لارېتوب ته مخونه ورکوي او په دين پورې يې تړي.

همدغسې جناب رسول الله صلی الله عليه و آله ويلي: پر خلکو به داسې زمانه راشي، چې ناپوهه ځوانان به د خدای د غوره مخلوق (پېغمبر) خبرې تکراروي او له دين څخه به داسې وځي لکه غشی چې له ليندۍ وځي. ايمان يې تر ستونو نه تېرېږي. نو که ومو موندل ويې وژنئ[2].

جناب رسول الله صلی الله عليه و آله ويلي: امت به مې د قريشو د

---

[1] امام احمد حنبل مسند: ۳ | ۸۲ مخ

[2] صحيح مسلم، د نووی شرح: ۱۶۹|۷ مخ

ځوانانو له لاسه نابود شي. حضرت ابوهريره (رض) وويل: که مې غوښتاى د هغوی نومونه مې اخستل او ويل مې بني پلانی او بني پلانی[1].

جناب رسول الله صلی الله عليه و آله ويلي: «تر ما روسته کافر نه شئ، داسې چې ځينې د ځينو څټونه پرې کړئ[2]».

جناب رسول الله صلی الله عليه و آله، حضرت عمار (رض) ته وويل: «عماره! ظالمه ډله به دې ووژني، ته به يې جنت ته بولې او هغوی به دې دوزخ ته بولي[3]».

او د «راز» حديث چې عايشې بي بي او حفصې بي بي په تحريم سورت کې رابرسېره کړ، هماغه «راز» چې د جناب رسول الله صلی الله

---

[1] صحيح صحيح بخاري : ٢٤٢١٤ مخ او ٦٠١٩ مخ کتاب الفتن.

پوښتنه دا ده، چې ولې يې حضرت ابوهريره نوم نه اخلي؟ البته دا روايت هغواصحابو ته په اشاره دی، چې تر رسول اکرم (ص) روسته مرتدان شوي دي په صحيح بخاري کې و «حوض» احاديث ولولئ.

[2] صحيح بخاري : ٦٣١٩-٦٤ مخونه.

[3] صحيح مسلم: ٢٢٣٦١٤، ٧٢ او ٧٣ گڼې احاديث. ابن کثير، البدايه و النهايه: ٢١٧١٣ مخ.

علیه و آله تر وفات روسته د حضرت ابوبکر صلی الله علیه و آله او حضرت عمر (رض) په دریځونو پورې اړوند و[1].

دا روایات ښيي چې جناب رسول الله صلی الله علیه و آله امت ته داسې مسایل ویلي، چې له اسلام څخه یې د کرېلېچ نښې ورښودلي او هم ښيي چې ډېری اصحاب لکه حضرت حذیفه (رض) له جناب رسول الله صلی الله علیه و آله روسته پېښو باخبر وو[2].

ټول پوهېږو، چې حضرت علي خو یوازې له مسلمانانو حضرت عایشې، زبیر (رض)، طحله (رض)، جناب امیر معاویه، حضرت عمروبن عاص او خوارجو سره جګړه وکړه او دا ټولې جګړې ښيي، چې له نوموړی سره ځانګړې پوهه وه، چې دغسې جګړې یې ورته روا بللې.

او ټول پوهېږي، چې ټولې عقیدې او په سر کې یې د اهل سنتو عقیده د

---

[1] زمخشري، الکشاف تفسیر: ٥٦٢١٤ مخ.

[2] په صحیح ال صحیح بخاري (٤٩١٥ مخ، کتاب الفتن، ٦٥١٩ مخ) او د دې کتاب په پینځم تمځي کې د رسول اکرم (ص) د راز ساتي حذیفه (رض) روایت ولولئ)

حضرت علي له ليکي سره مخالفې وې او پر تاويل ولاړې وې[1].

نو حضرت علي په يوه داسې پېر کې اوسېده، چې ورسره مخالف و؛ خو غاړه يې ورته ايښې نه وه او له وضعيته هم ناخوښ و او ترديې اوچت لا دا چې له خپل مقام سره وړ، يو ځانګړی وضعيت يې درلود او په دې توګه لومړي او دويم خليفه شرعي او سياسي مشاور کړی و.

امام علي وايي:

باخبر! پر خدای قسم! چې پلاني د خلافت جامې واغوستې، حال دا پوهېده، خلافت ته زما مقام د مېچنې تيرک، چې پرې ګرځي، علوم او معارف زما د علم او معرفت له سرچينې په څپو دي او (د پوهې او علم په ترخ کې) يو الوتونکی هم زما لوړی څوکې ته الوتای نشي.

(خير) خو بيا مې هم سترګې پټې کړې او له دې کاره (خلافته) مې مخ واړاوه، بيا مې سوچ وکړ، چې په تش لاس خپل حق اخستو ته راپاڅم؟

[1] د صالح الورداني [فريب (الخدعة) ٦٠ مخ. عقايد السنة و عقايد الشيعه] کتابونه او هم د دې کتاب پنځم تمځی ولولئ.

له زغمه کار واخلم؟چې پوخمنگی بوډاگانوي، ځوانان زړوي او مؤمنان به تر قیامته او له خپل پالونکي سره تر کتو پکې تکلیف گالي! نو تر سمې ارزونې روسته مې وکتل چې په دې حالاتو کې زغم عقلمني ده؛ نو صبر مې وکړ؛ حال دا د هغه چا په څېر وم، چې په سترگو کې یې ازغی او په ستوني کې یې هډوکی نښتی وي، په خپلو سترگو مې کتل، چې پاتوړی- میراث مې لوټوي! تردې چې هغه "لومړی" بلې نړۍ ته ولاړ او خلاف یې بل ته وروسپاره.

زما د جابر د رور "حیان" سره څه ورته والی دی؟ (ما به کرۍ - گرده ورځ یې په گرمۍ کې کار کاوه او هغه اسوده په کور کې و!"

څومره هېښنده خبره ده؛ هغه خو په خپل ژوند له خلکو ښښنه غوښته خو د مړینې پرمهال یې بل ته د خلافت وصیت وکړ؟

وگورئ، چې دواړو څرنگه د خلافت تیونه په خپلو کې په وېش ورودل او خلافت یې داسې چا ته وروسپاره، چې د تاوتریخوالي، سختچارۍ، تېروتنې او ښښنې غوښتنې ټولگه وه. چارواکی لکه پر سرکښ اوښ سپور

که قبضه يې راکاږي؛ نو سپېږمې يې څيرې کېږي او که ازاد يې پرېږدي؛ نو په ګړنګ کې لوېږي. قسم پر خدای چې خلک له حق لرې شوي، لارې يې بدلې کړي او بېلارې شوي او ما تر ډېرې مودې په دې کړمنو شرايطو کې له زغمه کار اخسته، تردې چې هغه هم له نړۍ سترګې پټې کړې. بيا هغه د خلافت پرېکړه يو "ټولي" ته وروسپارله، چې انګېرله يې زه يې سيال يم؟ خدايه! په دې شورا کې له تا مرسته غواړم! د لومړي په اړه مې خلک په اړه شکمن ول او خبره تردې راورسېده، چې د شورا له غړيو سره يې په يوه تول وتللم او د دوی په څير مې ګڼي؟او په يوه ليکه يې ورسره ودرولم؟ له ناچارۍ مې صبر وکړ او ورسره همغږی شوم، په شورا کې يو تن راسره د کينې له لامله، راځنې مخ واړاوه او بل خپل زوم پر حقيقت غوره کړ او د هغو دوو نورو نامې راوړل ناوړه دي.

تردې چې درېيمي خلافت ته ورسېد او پلرني خپلوان (امويان) ورسره يو لاس شول او بيت المال يې داسې په خپلو منګولو کې ونيو؛ لکه

وږی اوښ، چې د پسرلی واښه رانغاړي، تردې چې د رسۍ ولونه یې خلاص شي او د ډېر خوراکې له لامله پړمخ پرېوځي، کړنو یې خلک راپاڅول او له لامله یې ووژل شو.

د بیعت پر ورځ رانه دومره خلک راټول شول؛ لکه د کوږ د څټ وېښتان له هرې لوري یې را ایسار کړی وم، تردې چې د ډېر شور ځوږ له لامله نژدې ول حسن او حسین تر پښو لاندې شي او څادر مې وشلېد، خلک رانه لکه د پسونو د رمې راچاپېر شول؛ خو چې د خلافت په چارو لګیا شوم، یوې ډلې خپله ژمنه ماته کړه او بله زما له مننې سرغړانده شوه او له دینه ووته او یوه ډله د حق له لارې واوړېده لکه چې د خدای دا کلام یې اورېدلی نه و چې وایي: ((تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوًّا فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَادًا وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ[1]= (هو) دا د اخرت کور (یوازې) د هغوی لپاره دی، چې په ځمکه کې لویي او فساد نه غواړي او ښه پای یوازې د (ځان ساتیو) پرهېزګارانو ده. )) هو! پر خدای قسم

---

[1] قصص/۸۳.

چې ښه یې اورېدلي او زده کړي (هم) وه؛ خو د دنیا ناوې او سینګار یې ډېر خوښ دی (؛ نوځکه یې له حق مخ واړاو او سرغړاندي یې خپله کړه او نړۍ یې پر فتنه او فساد اخته کړه)

او بالکل خلکو! پر هغه خدای قسم، چې دانه یې وچوله او ساکښ یې پیدا کړ، که د پرېمانه بیعتګرو شتون نه وای او د یارانو د راغونډېدو غاړه خلاصول راباندې نه وای او که له عالمانو سره د خدای دا ژمنه نه وای، چې د ظالمانو د ډکې خېټې (ظلم) او د مظلمانو د لوږې (مظلومیت) پر وړاندې به چوپ نه وای؛ نو د خلافت د اوښې قیضه مې پرېښووله او په پای کې مې هماغه ورسره کول، چې په پیل کې مې کړي ول؛ نو هلته به درڅرګنده شوې وای، چې دا دنیا د وزې د پزې تر خړینګه هم راته سپکه او بې ارزښته ده.

[خبره چې تردې ځایه راورسېده، یو عراقی راپاڅېد او امام ته یې یو لیک ورکړ، د لیک تر لوستو روسته ابن عباس (رض) ورته وویل: امیرالمؤمنینه! که له هماغه ځایه پرې خبرې پیل کړې، امام ورته ویل:]د

عباس زویه! د زړه د سوز یوه لمبه و، چې ژبغړاندې شوه او کېناسته.

## د روایاتو څېړنه

په سقیفې پورې، د اړوند روایاتو له څېړنې، په ذهن کې ډېرې پوښتنې را ولاړېږي، نو څکه یې په اړه ځینې یادداښتونه څېړو:

لومړی یاددښت: انصارو ځانته خلافت غوښته، حال دا چې دوی د مسلمانانو یوه برخه وه، نه ټول!

پوښتنه داده، چې دا دریځ یې د کوم دلیل له مخې و؟

په دې دریځ کې یې، شرعي دلیل نه درلود او دا چې پېغمبر ته یې پنا او مرسته یې ورسره کړې وه او له دې حالته یې ناوړه ګټه پورته کوله؛ خو ایا دا یو کافي دلیل دی، چې خلافت پرې وغواړي؟

د دې پوښتنې څه ځواب نشته، خو یوازې دومره وایو، چې د ټبر پالنې روحیه پرې لاسبرې وه، چې په پایله کې خپاره واره شول، څکه د اوس ټبر د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) له ټولي سره یو

لاس شول، چې د خزرج ټبر خلافت تر لاسه نه کړي او له نا چارۍ

ددوی تر بیرغ لاندې را نشي! نو په دې چار کې، مخکې تر دې چې د

شرعي دلایلو له لارې مساله مطرح کړي، د نژاد پالنې دود ته یې مخه

کړه او په بله وینا: د ټبر مصلحت، د اسلام د مصلحت ځای ونیو.

او په دې ټبریزو مصلحتونو پسې، چې د اوس ټبر د مسلمانانو د یووالي

او اسلامي ټولنې ټینګښت ته کوم دریغ ونیو، نو د حضرت ابوبکر

(رض) په مشرۍ قریشي اړخ ترې استقبال وکړ او په خپله ګټه یې وګڼله.

دویم یادداښت: حضرت عمر (رض) د دې پېښو اصلي محرك و، تر دې

(چې په ظاهر کې) حضرت ابوبکر (رض) تر لاس لاندې او تابع ګڼل

کېده. پوښتنه ده چې ولې حضرت عمر (رض) دا کار وکړ او د

مهاجرینو مشران او اهل بیت یې پوره نالیدلي وګڼل؟

ځینې دې پوښتنې ته چمتو کړی ځواب لري او هغه دا: حضرت عمر

(رض) ځکه دا کار وکړ، چې د پیغمبر د بلنې راتلونکې وساتي او اسلام

وساتي!لکه چې د روایاتو له مخې سرور کاینات صلی الله علیه و آله ته

لوړ مقامی و؛ خو روایات دغسې انګېرنه نه مني او پکې شکمنېږي.

صحیح بخاري روایت کړی: د رسول اکرم تر وفات روسته حضرت عمر (رض) په ښار کې ګرځېده او چغې یې وهلې: پر خدای قسم، رسول الله صلی الله علیه و آله له نړۍ تللی نه دی! پر خدای قسم زړه ته مې نه لوېږي، چې پېغمبر مړ شوی! او په حقیقت کې، خدای یې راپاڅوي، چې د ډېرو نارینه و ښځې او لاسونه پرې کړي. حضرت ابوبکر (رض) راغی او ویې ویل: ای هغه چې قسم خورې! چوپ شه! نو حضرت عمر (رض) کېناست او خبره یې ونه کړه[1].

د دې روایت له مخې حضرت عمر (رض) د رسول اکرم پر وفات عقیده نه درلوده او د بل روایت له مخې، عقیده یې دا وه، چې د حضرت موسی علیه السلام په څېر د خپل پالونکي لیدو کتو ته تللی دی او راستون به شي! اوس د دې عقیدې پر سموالی نه ګړېږو.

---

۱ صحیح بخاري : ۸۱۵ مخ، کتاب فضایل الصحابه، باب فضل ابی بکر.

او څنګه د حضرت عمر (رض) په څېر، یو شخصیت په ذهن کې دا عقیده ځای نیسي؛ خو دومره وایم، چې له دې دریځه معلومېږي، چې په خلافت پورې نښتل، یو نوی فکر و، چې د رسول اکرم تر وفات روسته یې بیخي په فکر کې نه و، بلکې یوازینې څېز، چې اندېښمن کړی و، د رسول اکرم صلی الله علیه و آله مړینې او را ستنېدل یې و، تر دې چې حضرت ابوبکر (رض) راغی او د پېښې له حقیقته یې خبر کړ او د آل عمران ۱۴۴ آیت یې ورته ولوست: (وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ)

حضرت عمر (رض) وویل: لکه چې په لومړی ځل، دا آیت اورم. بیا چوپ شو او څو شېبې روسته له سقیفې خبر شو، نو په بېړه له حضرت ابوبکر (رض) او حضرت ابوعبیده جراح (رض) سره ورغلل.

پوښتنه ده: ایا حضرت عمر (رض) دومره هم د قرآن پر آیتونو خبر نه و چې ادعا وکړي، پیغمبر به تر مرګ روسته ژوندی او راستون به شي او

چې څوك ادعا وکړي، پیغمبر مړ شوی، وبه یې ګواښي؟

او که د حضرت عمر (رض) پوهه په دومره ټیټه کچه کې وه، نو بېشکه چې په اهل بیتو او حضرت علي پورې په اړوند آیتونو او د بلنې په راتلونکې هم نه پوهېده؟ او که حضرت عمر (رض) د حضرت ابوبکر (رض) د خلافت تیږه په ټېر وهله او په خوشحالۍ او ولولو یې حضرت ابوبکر (رض) ته د بیعت لپاره هرې لورې ته منډې وهلې، نو ولې حضرت ابوبکر (رض) چې حقیقي ګټندوی و، دومره شوق او ولوله نه درلوده، حال دا چې بایدتر حضرت عمر (رض) ډېر په دې فکر کې وای او ان په ځینو روایاتو کې راغلي، چې حضرت ابوبکر (رض) د جناب رسول الله صلی الله علیه و آله د مړینې پر مهال پر یو کار بوخت و، چې معلومه نه ده څه کار و؟! او حضرت عمر (رض) تل پرې ټینګار کاوه چې خلافت تر لاسه کړه، خو هغه ډډه ترې کوله، تر دې چې له سقیفې یې خبر کړ او ورسره ورغی.

په رښتیا حضرت ابوبکر (رض) پر څه بوخت و، چې د پیغمبر له غسل

او تکفینه یې بې پامه کړی و؟ چې ځواب هر څه وي، په ډاګه ده، چې هغه بې له خلافته پر یوه بل چار بوخت و، تر دې چې حضرت عمر (رض) ورغی او خلافت یې وریاد کړ!

نو حضرت ابوبکر (رض) ته هم د خلافت مفکوره یو نوی چار و، لکه چې حضرت عمر (رض) ته هم او لکه چې مطلب تر دې اوچت نه و، چې خلافت ته د انصاروا په بیړه د دوی د لاس ورغځونې پر وړاندې غبرګون وښیي او نه بل څه.

خو له دې پېښې معلومېږي، چې یوه درېیمنۍ ډله هم شته چې خلافت ته خورا وړ وه او انصارو او مهاجرینو له هر لوري هڅه کوله چې خلافت ترې واخلي.

د حضرت عمر (رض) دریځونه او له حضرت ابوبکر (رض) سره ملګرتوب یې د دې لپاره و، چې د حضرت ابوبکر (رض) له شخصیته یې ګټه پورته کوله، چې خپلې هیلې ته ورسي او د نورو پر وړاندې یې یو ټینګ ډال کړي، خو حضرت عمر (رض) دا جرات نه درلود، چې

ځان د پیغمبر ځایناستی ته ونوموي، ځکه اوضاع یې پر ګټه نه وه او خلافت په لاس نه ورتله؛ نو ځکه یې خلافت حضرت ابوبکر (رض) ته وسپاره، چې بیا یې ترې واخلي او د اهل سنتو د روایاتو له مخې که حضرت عمر (رض) د دومره مقام خاوند وای؛ نو تر حضرت ابوبکر (رض) خلافت ته ور و، ځکه غښتلی او توند مزاجی و او حضرت ابوبکر (رض) کمزوری او بېوسی.

او که په رښتیا حضرت عمر د دومره لوړ شخصیت خاوند وای، انصارو شخړه ورسره نه کوله او حضرت حباب (رض) نه ویل: د دې سړي خبرې ته غوږ مه بږدئ او چې حضرت عمر (رض) ورته وویل: خدای دې ووژنه، هغه به ورته نه ویل: بلکې تا دې خدای ووژني! او هیڅ وخت حضرت قیس بن سعد (رض) له بېرې نه نیوه او نه یې ګواښه.

نو دې قوم دوه حالته درلودل: یا دا چې د ټبر پالنې روحیه پرې بر لاس شوې وه او اسلامي خویونه یې هیر شوي او احکامو ته یې شا کړې وه، یا دا چې ټول د مقام له مخې یو شان وو او یو پر بل یې غوراوی نه

درلود.

حقیقت دا دی، چې دواړه حالات یې درلودل او که حضرت عمر (رض) انصارو ته دا دلیل ووایه: عربان بیخي دا نه مني چې «خلافت» هم، هغه قوم ته ورکړي، چې «نبوت» یې له قومه نه وي، نو که دا مجادله سهي وي، نو پرې لازم دي، چې په خپله اوملګری یې څنډې ته شي او د پیغمبر اهل بیتو ته لار پرېږدي، ځکه په قریشو کې خو اهل بیت لوړ مقامي او ستره کورنۍ ده، حال دا چې هغه او دواړو ملګرو یې داسې موقعیت نه درلود، نو ځکه همدې چار ابوسفیان اړ کړ، چې د حضرت علي په هځولو لاس پورې کړي او ورته و وایي! ولې خلافت د قریشو د ټیټې کورنۍ په لاس کې ولوېد!

اوس د ابن حجر هغه لمنلیك ولولئ چې د حضرت عمر (رض) په دې خبره یې کښلی، چې د حضرت سعد بن عباده (رض) په اړه یې وویل: ویې وژنئ، خدای دې یې و وژني!

ابن حجر وایي: هو! حضرت عمر (رض) نه غوښتل چې په واقعي مانا

دې حضرت سعد (رض) و وژني او دا چې ویلي یې دي، خدای دې یې ووژني، یوازې یوه ښېرا ده، نو ځکه حضرت عمر (رض) غوښتل چې ترې لرې شي. د مالك په حدیث کې حضرت عمر (رض) وویل: خدای دې سعد (رض) ووژني، چې د شر او فتنې خاوند دی[1].

ابن حجر په دې لمنلیك، د مخونې داسې یو گام ایښی، چې اهل سنت کله هم د شرعي نصوصو پر وړاندې گېر شي او دلیل ورسره نه وي، نو په مخونه لاس پورې کوي.

ابن حجر زیاتوي: په حقیقت کې هغوی د خلافت لپاره د پیغمبر د تجهیز او تکفین خورا مهمې چارې پرېښوولې، تر دې چې ترسره یې کړ او پیغمبر یې ډېره لږه موده چې څو ورځې نه کېدې د خلافت د چارو د بوختیا له امله پرېښود او د یوالي لپاره یې دا گناه ښنل کېدونکې ده[2]!

صحیح بخاري د حضرت عمر (رض) د سقیفې د چارو د مخونې لپاره

---

١ فتح الباري فی شرح ال صحیح بخاري : ٢٤١٧ مخ.

[2] فتح الباري فی شرح ال صحیح بخاري : ٢٤١٧ مخ.

روایتوي: حضرت عمر (رض) خلك گواښل او ډارول، تر دې چې نفاق وځنډي او منافقان له ډگره وباسي[1].

دا روایت د حضرت ابوبکر (رض) د لور عایشې بي بي له خولې روایت شوی او مفهوم یې دادی: د حضرت ابوبکر (رض) د بیعت نه ورکوونکیو پرووړاندې چې حضرت عمر (رض) کوم توند دریځ، گواښ او ډارونه خپله کړې وه، ښه طریقه، غوره چار او د خدای د خوشحالی لامل و!!

او په دې توگه عایشه بي بي ټول هغوی ته منافقین وایي چې د حضرت ابوبکر (رض) خلافت یې منلی نه دی، له بني هاشمو نیولې تر نورو خلکو او انصارو پورې.

ایا دا خبره د اصحابو عدالت تر پوښتنې لاندې نه راوړي؟ نو څنگه اهل سنت د گردو اصحابو پر عدالت عقیده لري او د دې لید لورې له مخې، د رسول اکرم تر وفات روسته له سقیفې نیولې تر صفین پورې ټولې

[1] صحیح بخاري ۵: ۹ مخ کتاب فضائل الصحابه، باب فضل ابی بکر.

پیښې تفسیروي[1]؟!

**درییم یاددښت:**

ولې د «اسلم» ټبر مدینې ته راغی، چا راوباله او ولې یې حضرت عمر (رض) په لیدو په بریا یقین وکړ؟

د دې پوښتنو ځوابونه مو اړ باسي، چې د سقیفې د پیښو مهمو برخو ته یو کتنه ولرو.

مدینې ته د « اسلم» د ټبر راتلل یوې پوځې کودتا ته ډېر ورته والی درلود او بېشکه چې راتګ یې له وړاندې حضرت عمر (رض) په پام کې نیولی و.

---

[1] ابوبکر بن عربي، کتاب العواصم، دا کتاب ګردسره اصحابو ته پر عدالت قایل دی او کوم نصوص یې چې په غندنـه کې راغلي، تاویلوي یې او ټولو ناوړو چارو ته یې داسې مخونه ورکوي، چې سپېڅلتیا یې پر ځای پاتې شي او د اموي سیاست لیکه تاییدوي.

وګورئ: ابن تیمیه، فتاوی، ۳۵ ټوک. ابن کثیر البدایه والنهایه. د همدې کتاب پینځم تمځی.

او په نظر رسي چې د حضرت عمر (رض) د اړخ او د انصارو ترمنځ لانجه يو خطر ناك پړاوته رسېدلې وه، چې د انصارو تله يې درنه کړې وه يا شونې ده چې انصارو حضرت علي ته مخه کړي وي او خپلمنځي اختلاف يې يوې خوا ته کړی وي. بلخوا حضرت عمر (رض) او ډله يې د مدينې په خلکو کې څه وزن نه درلود، ځکه حضرت عمر (رض) له مهاجرينو سره، مدينې ته له راغليو څنې و، په خپله او ډله يې د مهاجرينو يوه برخه وه، نه ټول مهاجرين، بيا هم يو شمېر مهاجرين له حضرت علي سره وو او ځينې قريش پايلې ته سترګې پر لار وو يا نه پوهېدل چې د باندې څه تېرېږي.

او لکه چې دا وضعيت، مدينې ته د «اسلم» ټبر د راتګ پر مهال په خپلې خبرې کې د حضرت عمر (رض) نيت ښه څرګندوي، چې ويې ويل: اوس مې په بريا يقين وکړ. دا خبره غير مستقيم راښيي، چې حضرت عمر (رض) او ډلې يې دا ځواکونه راغوښتي وو. ايا دغسې کړنه دليل کېدای نه شي، چې د حضرت عمر (رض) ډلې خپل شرعي

او اخلاقي ارزښت له لاسه ورکړی دی؟ بلخوا، له کومو متونو سره چې حضرت عمر (رض) انصار مخامخ کړل، د هغه پړاو له اختراعاتو څخه وو او که دا متون سهي او ټولو اعتراف پرې کاوه، نو چا لانجه ورسره نه کوله او له واره هواريده.

په نظر رسي چې خلافت ته د حضرت ابوبکر (رض) د وړتيا په باب مجادله، را روسته وختونو ته هم راغځيده، تر دې چې اړ شول د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله له خولې احاديث ورته وتوږي چې په څرگنده خلافت حضرت ابوبکر (رض) ته ځانگړی وبولي او ستر شخصيت يې وگڼي او په پايله کې له حضرت ابوبکر (رض) نه يو سپېڅلی شپول راتاو کړي، چې څوك يې په اړه څه ونه وايي يا يې شخصيت تر پوښتنې لاندې ونيسي، دا خو لا څه چې د سقيفې پېر له سره ولولي[1].

[1] صحيح بخاري : ۵۰۱۵ مخ. مسلم: ۱۸۵٦\٤ – ۱۸۷۵ مخونه، باب: فضل ابی بکر.

يو روايت يې دا دی چې يوه ښځه رسول اکرم (ص) ته راغله، حضرت ورته وويـل چې بيـا راشـه. ښـځې وويـل: کـه

او همدا چار د دویم خلیفه لپاره هم وشو، چې ډېر مناقب یې ورته جوړ کړل او مقام یې تر پیغمبره ورته اوچت فرض کړی او یا یې په یوه کتار کې ورسره ګڼلی دی[1].

او له دریم خلیفه سره همدا کار وشو، خو د کتاب الله او نبوي سنتو پر خلاف کړنو یې بې پته کړ.[2]

خو له حضرت علي سره یې اپوټه چار وکړ، د دې پر ځای چې د نورو په څېر مناقب ورته وتوړي په اړه یې راغلي فضایل دروغجن وګڼل او

---

راغلم او تاسې نه واست، څه وکړم؟ پیغمبر (ص) وویل: نو ابوبکر ته ورشه! او د حضرت علي له خولې یې روایت کړی، چې حضرت محمد بن حنفیه له خپل پلاره وپوښتل: تر رسول اکرم (ص) روسته څوك غوره دی؟

ویې ویل: ابوبکر. ویې پوښتل، بیا؟ ویې ویل: عمر ابن حنفیه وایي: وډارشوم که بیا هم وپوښتم، او و وایي: عثمان نو ومې ویل: ورپسې ته په خپله؟ ویې ویل: زه خو یو معمولي مسلمان یم!

١ صحیح بخاري : ١٣\٥، ١٤ او ١٥ مخونه. صحیح مسلم: ٤\١٨٦٤ مخ، ٢٢ ګڼه حدیث او ١٨٦٢ مخ، ١٩ او ٢٣ ګڼې احادیث. د حضرت عمر (رض) د فضل برخه. یو روایت یې، پیغمبر (ص) حضرت عمر (رض) ته وویل: شیطان چې دې ګوري نو خپله لار درنه بدلوي او هم: تر تاسې مخکې په بني اسراییلو کې داسې نارینه وو، چې پرښتو خبرې ورسره کولې، حال دا چې پیغمبران نه وو، او که په امت کې مې داسې څوك وي، نو حضرت عمر (رض) به وي! د همدې کتاب پینځم تمځی ولولئ.

[2] – په صحیح بخاري او مسلم کې د حضرت عثمان (رض) مناقبو، د فریب کتاب او د همدې کتاب څلورم تمځی ولولئ.

خوګانې يې پکې پيدا کړې او شخصيت يې ورته هومره راټيټ کړ، چې له حضرت جناب امير معاويه سره يې په يوه تيره وتله او پر ضد يې را پاڅېدلي خوارج مجتهدين وګڼل او معذور يې وشمېرل.[1]

## څلورم ياد ښت: حضرت علي چېرې و؟

پلټونکی چې د سقيفې پېښې پلټي، ډېری ستر اصحاب او په سر کې يې حضرت علي په سقيفه کې نه ويني، دوی چېرې وو او ولې له دې مهمې تاريخي پېښې لرې پاتې شول او ولې د خليفه ټاکنې ته ورنغلل؟

حضرت ابو ذر (رض) چېرې و؟ حضرت مقداد، حضرت زبير، حضرت جابر بن عبدالله، حضرت ابي بن کعب، حضرت بلال بن رباح، حضرت حذيفه بن اليمان، حضرت خزيمه ذوالشهادتين، حضرت عمار بن ياسر، حضرت ابو ايوب انصاري، حضرت ابوسعيد خدري، حضرت بر ابن مالك، حضرت خباب بن ارت، حضرت رفاعة بن مالك، حضرت

---

[1] طبري تاريخ: ۲۱۹|۳ مخ.

ابوالطفیل، حضرت عامر بن واتله او نور ډېر اصحاب کرام (رض) چېرې وو؟

دبني ساعده و په څېرگي کې يې نشتون، د حضرت عمر (رض) ډله، سخته اندېښمنه کړې وه، ځکه دوی په اصحابو کې دروند وزن درلود او شونې وه، چې په راتلونکی کې کومه ستونزه ورته پیدا کړي.

روایتونه وایي، چې حضرت علي او یو ډله له اصحاب، د سرور کاینات صلی الله علیه و آله په تجهیز، تکفین او تدفین بوخت وو، حال دا چې هغوی په سقیفه کې د خلافت پر سر، پر لانجه بوخت وو.

پوښتنه ده: ایا دا یو اسلامي خوی او دود دی چې خپل پېغمبر دې پر هغه حال پرېږدي او د واکمنۍ پر سر دې لانجه وکړي؟!

نو له جناب رسول الله صلی الله علیه و آله یې څه زده کړي وو؟!

هو! څو ځل یې سرور کاینات صلی الله علیه و آله خوشې کړی و.

یو ځل په «اُحُد» کې.

یو ځل یې په جومات کې، چې خطبه یې ورته ویله او خدای دا آیت

نازل کړ: (وتَرَكُوكَ قَائِمًا: او ته يې ځان ته پرېښووې.)[1]

او يو ځل يې د احتضار پر مهال يوازې پرېښووې، چې قلم او کاغذ دې ترې وغوښت، چې څه ورته وکښې، چې روسته ترې بې لارې نشي او تر وفات روسته يې هم، حضرت نبي صلی الله عليه و آله ځان ته پرېښود[2].

دا روايات ښيي چې دوی په دنيوي چارو کې راښکيل شوي وو او ښايي د آل عمران د ۵۲ آيت مطلب همدا وي: (مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ) ځينې مو دنيا غواړي، او ځينې مو آخرت.

پينځم ياددښت: د حضرت ابوبکر (رض) بيعت يوه ښويېدنه وه... ولې؟ د خدای شکر، چې دا د حضرت عمر (رض) د خولې خبره ده، هماغه چې پخپله يې د سقيفې پېښې تدبير کړې وې، هماغه چې په خپله يې د هغې مېوه و وانېله او که بل چا دا خبره کړې وای، نو مطلب بل رنګ

---

۱ - سورت جمعه، آيت، ۱۱

[2] الدرالمنثور تفسير: ۲۲۱۱۶ مخ او د تفسير او تاريخ په کتابونو کې د جمعې سورت تفسير ولولئ.

کېده.

حضرت عمر (رض) وویل: « هن! د ابوبکر بیعت یوه ښویېدنه وه، یو کوږ چار و، خدای دې یې امت له شره وساتي، نو که چا بیا دا چار وکړ، ویې وژنئ، که چا بې د مسلمانانو له مشورې له چا سره بیعت وکړ، روا ده چې دواړه و وژل شي[1] »

ایا دا د حضرت عمر (رض) اعتراف نه دی، چې د سقیفې پېښې، له شورا لرې څه چې، ان د اسلام له روحه لرې وې، داسې چې باید طراح یې ووژل شي، ځکه پر امت یې اغېز ډېر زیانمن او بده پایله ده.

د حضرت عمر (رض) دا خبره جوتوي، چې په حقیقت کې د حضرت خالدبن ولید (رض) په قومندانۍ د مرتدینو او د زکات د مانعینو پر ضد د حضرت ابوبکر (رض) جګړې، یوازې یې د واکمنۍ پرضد یو پاڅون و، البته شونې ده، چې ځینو به په یوه ډول ارتداد درلود، خو په ظاهر کې دې پوځي ټکر، ټبریزه انګېزه درلوده او لکه چې د پاڅون په ځېنه کې د

[1] صحیح بخاري : ۲۱۰|۸ مخ کتاب المحاربین. امام احمد مسند ۵۵|۱ مخ. فتح الباري: ۱۲۴|۱۲ مخ.

حضرت خالد (رض) تېرى، پر دې حقيقت يو ښكاره دليل دى[1].

د دې خبرې علت دا دى، چې حضرت عمر (رض) خبر شو، ځينو ويلي دي: كه حضرت عمر (رض) ومړ، نو پلانى خلافت نيسي! نو حضرت عمر (رض) د يوې وينا په ترڅ كې دا خبرې وكړې[2].

لكه چې حضرت عمر (رض) پوه شوى و، چې په مدينې كې خلكو شورا په خوله كې اخستې او د سقيفې پېښې تر پوښتنې گروېگنې لاندې نيسي او د لومړى خليفه د ټاكنې په دود كې خو گانې لټوي.

اوس مهمه نه ده، چې دا پوښتنه ځواب كړو، كه څه هم ځواب يې څرگند دى، خو مهمه ده، چې پوه شو، حضرت عمر (رض) اعتراف كوي، چې د حضرت ابوبكر (رض) بيعت يو نا سم چار او يوه ښويېدنه وه، چې وشوه او شونې وه، چې اسلامي امت ته خطرناكې اغېزې او دردناكې پايلې ولري، خو دا چې خداى پرې ولورېد؛ نو د حضرت عمر

[1] الكامل فى التاريخ: ٣٥٨\٢ – ٣٥٩ مخونه. طبري تاريخ: ١٣\ ٢٨٠ مخ، د حضرت ابوبكر (رض) په زمانه كې، دادې پېښې او له حضرت مالك بن نويره(رض) سره د حضرت خالد چلن ولولئ.

[2] صحيح بخاري : ٨\٢٠٨ مخ. فتح الباري: ١٢ \ ١٢١ مخ. ابن اثير الكامل فى التاريخ: ٣٢٦\٢- ٣٢٧ مخونه.

(رض) د خبرې یوازېنی موخه دا وه، چې جوته کړي، چې د حضرت ابوبکر (رض) بیعت یو بېړنی چار و، چې بې فکره وشو، چې د زیاتو خطراتو احتمال یې درلود.

دا څنګه چار دی، چې حضرت عمر (رض) د حضرت ابوبکر (رض) بیعت ښوییدنه بولي، خو هېر یې دي، چې خپله د حضرت ابوبکر (رض) په وصیت خلیفه شوی دی؟

صحیح بخاري روایتوي، چې حضرت عمر (رض) وویل: هیلمن یم، چې جناب رسول الله صلی الله علیه و آله په موږ کې ووسي او موږ اداره کړي، خو دا چې له نړۍ تللی، نو خدای ورته په څنګ یو رڼا ایښې، چې پرې لار مومئ، هماغه لارښوونه، چې خدای پر محمد صلی الله علیه و آله لورولې وه او په واقع کې حضرت ابوبکر (رض) د رسول الله صلی الله علیه و آله دغار یار دی او د خلکو چارو ته خورا وړ دی نو پاڅئ او بیعت ورسره وکړئ.

بیا حضرت عمر (رض)، حضرت ابوبکر (رض) ته وویل: پر منبر کېنه،

چې خلك بيعت درسره وکړي، حضرت ابوبکر (رض) (تر ډېر ټينګار روسته) پر منبر کېناست او ټولو خلکو بيعت ورسره وکړ[1].

د صحيح بخاري دا روايت ښيي، چې حضرت عمر (رض) د حضرت ابوبکر (رض) د ټاکنې اصلي کار ګرځی و او بلخوا معلومېږي، چې حضرت ابوبکر (رض) له نا چارۍ دا چار منلی او په خپله يې ورته څه لېوالتيا نه درلوده، بلکې د حضرت عمر (رض) ډېر ټينګار اړ کړ، چې پر منبر کېنې او خلك بيعت ورسره وکړي او دا په خپله يو دليل دی، چې د حضرت ابوبکر (رض) په باب هيڅ نص نه و، بلکې يوازې هغه هڅې وې، چې له لاس ته راغلي فرصته ګټه پورته شي.

ايا د حضرت ابوبکر (رض) وړانديز نه و چې: دا حضرت عمر (رض) دی او دا حضرت ابوعبيده (رض)، له هر يوه سره چې بيعت کوئ ويې کړئ؟! نو که حضرت ابوبکر (رض) له خپلې نوماندی څنډې ته کېږي او حضرت عمر (رض) او حضرت ابوعبيده (رض) پر ځان ړومبی بولي

---

[1] - صحيح بخاري: ۹\۱۰۰ – ۱۰۱ مخونه

دا پر دې دليل کېږي نه چې اصل پېښه د وګړني نظرياتو ښکاره کول وو او يوازې په بيړه د انصارو مقابلې ته ترسره شو؟

ووينئ چې حضرت عمر (رض) څه وايي: «پر خدای قسم، چې ابوبکر (رض) ته بيعت اخستل يو خورا ستونزمن او سخت چار و، وډار شوو، که قوم (انصار) خپاره واره شي او بيعت ونه شي او تر موږ روسته ځان ته بيعت وکړي، نو موږ به له ناچارۍ په ناخوښه څيز بيعت او يا مو مخالفت ورسره کاوه او په دواړو حالاتو کې مو ماته خوړه»

او همدغسې ووينئ سره له حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) سره، سقيفې ته پر لار له ځان سره وايي: «په لار کې مې په زړه کې يو مطلب وايه، چې سقيفې ته ورسېدو، خبره مې کوله، خو حضرت ابوبکر (رض) وويل: تره! چوپ وسه!... او چې څه مې په زړه کې تېرېدل ويې ويل، لکه چې له غيبو يې خبرې کولې»

له دې رواياتو ګټنه کېږي، چې د حضرت عمر (رض) په مشرۍ له وړاندې قضيه جوړه شوې وه او هيڅ شرعي بڼه يې نه درلوده، نو ځکه

حضرت عمر (رض) د خپلې مړینې پر وخت ویل: که د حذیفه مولا سالم ژوندی وای، خلافت مې ورسپاره، حال دا چې سالم، د حذیفه ازاد کړای شوی و او په دې خبره له هغه روایت سره په ډاګه مخالفت کوي، چې امامت یوازې په قریشو پورې اړوند ګڼي او ان له ځان سره هم مخالفت کوي، چې انصارو ته یې په دلیل کې وویل: ((د عربو دا ښه ایسي، چې «خلافت» هغه ټبر ته ور پرېږدي، چې «نبوت» هم په کې و))!

## درېيم تمځی

## عمر بن خطاب رضی الله عنه

## «او په دې توګه حضرت جناب امیر معاویه سر را پورته کړ»

### حضرت عمر بن خطاب (رض)

تل د شورا مېوه، شورا ده او د استبداد مېوه، استبداد دی او چې څه په سقیفه کې تېر شو، نو دا چې په شورا پورې یې هېڅ تړاو نه درلوده، نو طبیعي وه چې پایله او مېوه یې هم له شوار سره اړخ نه لګاوه.

او په دې توګه حضرت عمر (رض) راغی! په ښویېدنې پسې یوه بله ښویېدنه! خپل یار ته یې خنډونه هوار کړل او دادی په یوه وصیت یې کار ورته جوړ کړ.

د حضرت ابوبکر (رض) په وصیت کې راغلي: «دا د ابوبکر بن ابي قحافه تړون دی، چې په نړۍ کې یې روستی ژمنه او آخرت ته یې ړومبی هغه ده. ما پر تاسې عمر خپل خلیفه کړ، نو عادل مو وموند، چې

دا مې هیله وه او که د خدای په دین کې یې اړونې راوړې، نو ما خو یوازې خیر غوښت او له غیبو خبر نه یم» (وَسَیَعْلَمُ الَّذِیْنَ ظَلَمُوْا اَيَّ مُنْقَلَبٍ یَّنْقَلِبُوْنَ)[١]

پر حضرت ابوبکر (رض) لازم و، چې د حضرت عمر (رض) احسان ورپوره کړي، ځکه حضرت عمر (رض) په خپل چلونو خلیفه کړی و او دادی حضرت ابوبکر (رض) حکومت ور وسپاره په لومړي ځل یې په اسلام کې د حکومت ورسپارلو قانون عملي کړ، هماغه قانون چې څه موده روسته مخوونکیو فقهاوو د امویانو او عباسیانو په مخونه کې پرې استناد کاوه او دا دود د امویانو د راښکاره کېدو لپاره ړومبی گام و، چې د حضرت عمر (رض) په زمانه کې یې نښې راڅرگندې شوې.

او دا چې د حضرت ابوبکر (رض) دا نظر د شرع یا شورا له مخې نه و، نو ځکه مسلمانانو او ډېرى اصحابو ورسره مخالفت وکړ. ړومبي

---

[١] طبري تاریخ: ٤٢٩\٣ مخ. ابن سعد، طبقات: ٢٠٠\٣ مخ دینوري، الامامه والسیاسة: ٢٤\١ مخ.

مخالفین انصار وو.

بیا د حضرت علي په مشری اهل بیت.

په دریېمه درجه کې، حضرت طلحه (رض) او یاران يې، چې په بېړه حضرت ابوبکر (رض) ته راغی او ورته يې وویل: «خپل پالونکي ته به دې څه ځواب ورکوې چې یو توند بد خویه دې راباندې واکمن کړ، چې خلك ترې تښتي او زړونه ترې کرکجن دي[1]»

له دې ځایه معلومېږي، چې حضرت عمر (رض) د چا نه خوښېده او ځکه ترې خلکو کرکه کوله، چې د حضرت ابوبکر (رض) په زمانه کې له خلکو سره توند چلېده، نو څه چې د باطلو له مخې جوړ شوي وي، باطل دي او په دې توګه د حضرت عمر (رض) خلافت باطل دی، ځکه بنسټ يې باطل دی او په دواړو خلافتونو کې د مسلمانانو شورا په پام کې نه وه.

او لکه چې څنګه پر مسلمانانو د حضرت ابوبکر (رض) خلافت په توره

[1] ابن سعد، طبقات: ۱۹۹|۳ مخ. طبري تاریخ: ٤۳۳|۳ مخ

وتپل شو، د حضرت عمر (رض) خلافت هم په توره وتپل شو او په سخته يې د خپل مخالفين وځپل او ټول يې بيعت ته اړ کړل، لکه چې مخکې يې د حضرت ابوبکر (رض) لپاره دا کار کړی و، نن يې خپل ځان ته وکړ.

## حضرت عمر (رض) او حضرت علي

حضرت علي له حضرت عمر (رض) سره مسالمت اميز (نرم) چلن درلود، لکه چې له حضرت ابوبکر (رض) سره يې درلود. حضرت علي پر حق و، خو مغلوب شوی و او له نا چارۍ يې پېښو ته غاړه ايښې وه او نه يوازې دا چې مسالمت اميز چلن يې خپل کړی و، بلکې تل يې د مظلومينو د ملاتړ او اسلام او مسلمانانو ته د خدمت لپاره له يوې مشورې هم دريغ ونه کړ.

او که پر حضرت علي د حضرت ابوبکر (رض) په زمانه کې دباوونه ول، نو د حضرت عمر (رض) پر مهال خو زندۍ يتوب او فشارونه ډېر وو،

ځکه حضرت عمر (رض) د حضرت ابوبکر (رض) په خلافت کې دویم سړی و، خو نن ټول واك ورسره دی. البته په هغه زمانه کې هم حقیقي واکمن حضرت عمر (رض) و او حضرت ابوبکر (رض) یې سیوری ګڼل کېده!

اوس چې حضرت عمر (رض) ټولواك دی او طرحې یې بریالی شوي، نو ښېشکه چې د اهل بیتو په تېره د حضرت علي پر وړاندې یې سخت سیاستونه خپل کړي دي، ځکه پوهېږي چې حضرت علي خلافت ته وړ دی او لکه چې خپله هم عقیده لري، چې د مسلمانانو امامت یوازې په حضرت علي پورې ځانګړی دی نه په بل پورې! او د اهل بیتو پر وړاندې یې د سخت دریځی بل لامل دا و، چې خپله یې منلې وه، چې د حضرت علي پر وړاندې علمي او رهبری ځواك نلري!

له حضرت عمر (رض) ډېرې تېروتنې وشوې او په بېړه یې داسې احکام عملي کړل، چې په اسلام پورې یې هیڅ تړاو نه درلود. ویل یې: «ټول

خلك تر عمره خورا فقيه دي[١]»

او د حضرت علي پر وړاندې يې پر خپلې ناپوهۍ اعتراف کړی: «خدای مې دې پر هغه ستونزې کې نه پرېږدي، چې ته يا ابوالحسنه په څنگ کې مې نه وسې[٢]»

او دا چې حضرت علي د اسلام او مسلمينو د گټو لپاره ورسره ملگرتوب کوي، نو د دې وضعيت د مخونې لپاره وايي: «که علي نه وای نو عمر هلاکېده[٣]»

د احاديثو او تاريخ په کتابونو کې د حضرت عمر (رض) هغه کړنې او احکام راغلي، چې له کتاب او سنتو سره اړخ نه لگوي، چې دا يو دليل دی چې سختې علمي نيگمړتياوې يې درلودې او فقهي ملاتړ ته اړ و[٤].

---

[١] الدرالمنثور: ١٣٣\٢ مخ او همداراز په تفسيري کتابونو کې د « وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا » آيت تفسير ولولئ

[٢] الاستيعاب: ١١٠٢\٣ – ١١٠٣ مخونه، فضايل الصحابه، ٦٤٧\٢ مخ ١١٠٠ گڼه حديث. سيوطي، تاريخ الخلفا: ١٧١ مخ.

حاکم روايتوي: يوازې علي ويل: ومې پوښتئ.

[٣] الاستيعاب: ١١٠٣\٣ مخ. الرياض النضره: ٣ \ ١٦١ مخ.

[٤] شرف الدين، النص والاجتهاد. سيد مرتضى عسکري، معالم المدرستين دويم ټوک

د حج او ښځو متعې يې حرامې کړې[1].

په بائن طلاق کې يې، درې طلاقه په يوه ځای وشمېره (حال دا چې يوازې يو طلاق شمېرل کېږي) او اعلان يې کړه، چې همېش پرې ښځه حرامېږي، تر دې چې محلل ونيسي[2].

تراويح يې په جماعت کړې، حال دا چې نفل په جماعت نه کېږي[3].

د جنازې لمونځ يې څلور تکبيره کړ، حال دا چې پينځه تکبيره و[4].

---

[1] صحيح مسلم: ۱۰۲۳\۲ مخ، ۱۷گڼه حديث. امام احمد مسند ۳۲۵\۳ مخ.

معلومېږي چې متعه د رسول اکرم (ص) حضرت ابوبکر (رض) او د حضرت عمر (رض) د خلافت تر يو وخته وه، چې بيا حضرت عمر منع کړه او ويې ويل: «د پېغمبر (ص) په زمانه کې د حج او ښځو متعې حلالې وې، خو زه يې حراموم او کوونکي ته يې سزا ورکوم» همداراز وګورئ: بيهقي، سنن: ۲۰٦\۷ مخ. د تفسير کتابونه. صالح ورداني، ازواج المتعه حلال.

[2] صحيح مسلم: ۲: ۱۰۹۹ مخ. بيهقي سنن: ۳۳٦\۷ مخ. د امام احمد مسند. د تفسير کتابونه. د يادونې وړ ده، چې په مصر کې د الازهرپوهنتون او ګرد سره اهل سنت د حضرت عمر ( (رض) د دې حکم له مخې فتوا ورکوي او عملي کوي يې.

[3] صحيح بخاري : ۵۸\۳ مخ. مسلم: ۱ \ ۵۲۳ – ۵۲۵ مخونه کتاب الصوات. ابن الجوزي، تاريخ عمر بن خطاب: ۸ مخ. د رسول اکرم (ص) او حضرت ابوبکر (رض) په وختونو کې په کورونو کې (دوه رکعتي) تراويح لمونځ کېده، خو حضرت عمر (رض) له خلکو وغوښتل چې په جماعت يې وکړي او ويل يې: دا بدعت دی خو يو ښه بدعت دی!!

[4] سيوطي، تاريخ الخلفا: ۱۳۷ مخ.

په میراث کې یې د یو بل مخالفې فتواوې ورکړې[1].

یوازې په گومان یې خلك څارل، چې دا د قرآن یو مخالف چار دی [2].

پر حضرت مغیرة بن شعبه یې حد جاري نه کړ[3]!

عجم یې له میراثه بې برخې کړل[4]!

امیندواره (دوه ځانې) او پرېشانه ښځه یې رجم کړه[5].

په مسلمانانو کې یې طبقاتي اختلاف رادبره کړ او د کارگرانو په مالونو

---

[1] بیهقي سنن: ٦: ٢٤٥ مخ، عبیده وایي: د نیکه د میراث په باب د حضرت عمر (رض) له سلو پېښو خبریم، چې یو له بل سره په ټکر کې دي.

[2] پر کورونو د حضرت عمر (رض) څارنه، خورا مشهوره ده، حال دا چې دا چار خدای منع کړی دی. په تاریخي کتابونو کې د حضرت عمر سیرت ولولئ.

[3] یو شمېر اصحابو پر حضرت مغیرة بن شعبه گواهي ورکړه، چې له مړوښې مېرمنو سره یې محصنه زنا کړې ده، خو حضرت عمر (رض) نه یوازې دا چې حد یې پرې جاري نه کړ، بلکې پر شاهدانو یې قذف حد جاري کړ. د حضرت مغیره ژوند لیك وگورئ. (ابن حجر، الاصحابه.. ابن اثیر، اسدالغابه ٤: ٤٠٧ مخ)

[4] امام مالك، موطا: ٥٢٠|٢ مخ، ١٤ گڼه حدیث

[5] حضرت عمر (رض) غوښتل چې پر هغې ښځې حد جاري کړي، چې د اضطرار له امله یې زنا کړې وه، حال دا چې د هغې خو څه گناه نه وه او همداراز پر دوه ځانې لېونۍ ښځې یې حد جاري کاوه، خو حضرت علي مداخله وکړه او د دې حدودو اجرا کولو ته یې پرېنښود په دې اړه وگورئ. (د سننوکتابونه. فتح الباري: ٦٩|١٣ مخ. استیعاب: ١٤ ١٦٣٩ مخ.)

کې شریك شو[1]!

او ډېرې داسې چارې يې کړي، چې ټولې يې راوړای نشو او راښيي چې حضرت عمر (رض) د خلافت وړتیا او کفایت نه درلود او په زوره چارواکی شوی و.

حضرت علي له کړ لېچونو د حضرت عمر (رض) په مخنیوي کې مهمه برخه درلوده، تر دې چې لیکل شوي: یوې امیندوارې یا دوه ځانې ښځې له ډاره بچی وغورځاوه، چې خبره شوه حضرت عمر (رض) غوښتې ده او د اصحابو مشران يې راوغوښتل، چې د دې پېښې د حکم په اړه مشوره ورسره وکړي[2].

چې لنډ مهاله واده يې منع کړ؛ نو د ابن عباس په مشرۍ چې کومو اصحابو روا ګاڼه، ويې ګواښل، نو ځکه ابن عباس (رض) د حضرت

---

[1] حضرت عمر (رض) بدریان پر نورو ړومبي وګڼل، مهاجرين يې پر انصارو او پر نورو ښځو د پېغمبر مېرمنې يې ړومبی کړې د والیانو شتمني يې اخسته او وېشله يې. په دې باب وګورئ. (ابن الجوزي، د عمر بن خطاب تاريخ. فقهي کتابونه)

[2] تاريخ الخلفا. د سننو کتابونه. په الاصابه، اسدالغابه او الاستيعاب کې د حضرت عمر (رض) ژوند ليك

عمر (رض) تر ژونده خپل نظر ویلای نشو[1].

ان د سرور کاینات صلی الله علیه و آله په زمانه کې ډارونه او ګواښنه د حضرت عمر (رض) د سیاست څرګنده نښه وه، یوه ورځ یې وویل: یا رسول الله! پرېږده چې د دې منافق څټ پرې کړم! او د پېغمبر امر ته یې انتظار نه ایسته! او د سرور کاینات صلی الله علیه و آله تر وفات روسته یې هغوی وګواښل، چې ووایي سرور کاینات صلی الله علیه و آله له نړۍ تللی دی!!

په سقیفه کې یې انصار وګواښل چې له حضرت ابوبکر (رض) سره د بیعت نا خوښه وو.

نو حضرت عمر (رض) چې په فقهې احکامو او د رعیت په حدودو کې دغسې سیاست چلاوه، نو بېشکه چې د اهل بیتو په باب خو یې خورا سختي کوله، چې خپل واك ته یې خطر باله.

[1] حضرت عمر (رض) ویلي و، که څوك یې راوست چې متعه نکاح یې کړې، نو رجم کوم یې. وګورئ. (قرطبي تفسیر: ۱۳۲/۵ مخ. خازن تفسیر. آلوسي، روح المعاني: ٦/٥ مخ او تر فَمَا اسْتَمْتَعْتُم... آیت لاندې دابن کثیر تفسیر)

يو كينه كښې دريځ يې د اهل بيتو اقتصادي كلابندي وه، چې د حضرت ابوبكر (رض) په ملګرتوب يې فاطمه بي بي، حضرت علي او اولاده يې په كې را ايسار كړي وو.

په يوه روايت كې راغلي چې حضرت عثمان، حضرت عبدالرحمان بن عوف، حضرت سعد بن ابي وقاص او حضرت انس بن مالك (رض) حضرت عمر (رض) ته ورغلل، بيا حضرت عباس او حضرت علي (رض) د خپل حق غوښتنې ته ورغلل.

حضرت عمر (رض) ورته وويل: تاسې او خداى، ايا نه پوهېږئ چې جناب رسول الله صلى الله عليه و آله ويلي: موږ ميراث نه پرېږدو، چې څه رانه پاتې كيږي صدقه ده.

ويې ويل: هو! حضرت عمر (رض) وويل: چې رسول اكرم له نړۍ ولاړ، حضرت ابوبكر (رض) وويل: زه د جناب رسول الله صلى الله عليه و آله ولي يم. ته او دا سړى، حضرت ابوبكر (رض) ته ورغلى، چې تاسو ترې د خپل وراره ميراث غوښته او دې (علي) له پلاره يې د خپلې مېرمن.

حضرت ابوبکر (رض) وویل: رسول الله صلی الله علیه و آله ویلي: موږ میراث نه پرېږدو، چې څه مو پرېښي صدقه ده او خدای پوهېږي، چې هغه رښتین خیرخوا، هدایت شوی اود حق لاری و[1]!!

په بل روایت کې راغلي: حضرت عباس (رض) او حضرت علي (رض)، حضرت عمر (رض) ته د حق اخستو لپاره ورغلل. حضرت عباس (رض) وویل: عمره (رض) ! زما او د دې سړي ترمنځ قضاوت وکړه!! خلکو وویل: تر منځ یې پر حق قضاوت وکړه. حضرت عمر (رض) وویل: لازم نه دي چې قضاوت وکړم دوی پوهېږي چې جناب رسول الله صلی الله علیه و آله ویلي: موږ میراث نه پرېږدو، چې څه رانه پاتې کېږي صدقه ده[2].

---

[1] ابن الجوزي، د حضرت عمر بن خطاب تاریخ. صحیح صحیح بخاري : ١٤\ ٦٩-٩٧ مخونه. صحیح مسلم: ١٣٧٧\٣ ګڼه حدیث.

د حدیث جوړونکیو، د حضرت عمر (رض) په حضور کې په تصادف د څو تنو نومونه راوړي یا څه بل مطلب دی؟ حال دا چې دوی خو تېر پالي او د حضرت علي مخالفین وو او پر حضرت طلحه (رض) سر بېره لومړي څلور تنه د خلافت د شورا غړي وو، چې تر حضرت عمر (رض) روسته یې حضرت عثمان (رض) خلیفه کړ.

[2] صحیح بخاري ١٤\ ٩٦ او ٩٧ مخونه. مسلم: ١٣\ ١٣٧٧ مخ.. تر مذي، سنن: ١٥٨\٤ مخ، ١٦١٠ ګڼه حدیث.

له دې دوو روایاتو معلومېږي، چې د دوی مطلب یوازې د حضرت علي، حضرت عباس او په ټولیز ډول د اهلبیتو بد انځورنه ده، چې ګنې حضرت علي (رض) او حضرت عباس (رض) په پیسو لانجه لري او شخړه یې دومره اوږده ده چې خلك ترې خبر شول، چې د هواري لپاره حضرت عمر (رض) ته ورغلل، یعنې (العیاذ بالله) حضرت علي دومره دنیا پالی او حریص و، چې له خپل تره سره یې لانجه شوه!!

خو په هر حال دلته هم د اهل بیتو پر وړاندې د حضرت عمر (رض) کینه کښ درېغ معلومېږي، په تېره دا چې د حضرت انس، حضرت سعد، حضرت عثمان، حضرت زبیر او حضرت عبدالرحمان (رض) په څېر سخت دښمنان یې هم حاضر وو، چې په غونډه کې به یې شتون تصادفي او ناڅاپي نه و او دا چې د هیڅ مسلمان په ذهن کې تېر نه شي چې حضرت عمر (رض) له حضرت علي سره دښمني لري، د اموي

ليکي يارانو ټينګار درلود، چې په دې اړه هر ډول شکمني يوې خواته کړي.

د صحيح مسلم روايت ولولئ، چې له ابن عباس (رض) څخه روايتوي: حضرت عمر بن خطاب (رض) يې پر کټ ايښى و، خلك پرې راټول و دعا او لمونځونه يې ورته کول، زه هم وم، ناڅاپه، چا له شا، له مټه ونيوم، چې مې وليدل حضرت علي و. حضرت علي، حضرت عمر ته دعا وکړه او ويې ويل: څوك مې په کړنه کې ستا په څېر ونه ليدل، پرخداى قسم تل مې غوښتل چې خداى دې له خپلو دوو تنو يارانو (پېغمبر او ابوبکر) سره يوځاى کړي، ځکه ډېر مې له پېغمبره صلى الله عليه و آله اورېدلي: زه، ابوبکر او عمر راغلو، زه ابوبکر او عمر ورننوتوو، زه ابوبکر او عمر ووتو، نو ځکه مې له خدايه غوښتل او هيلمن وم، چې تا ورسره کړي[1].

---

[1] صحيح مسلم: ١٨٨٥|٤ مخ، ١٤ ګڼه حديث

صحیح بخاري د حضرت علي له خولې د خپل زوی حضرت محمد بن حنفیه د پوښتنې ځواب روایتوي: پلار مې وپوښت: څوك تر جناب رسول الله صلی الله علیه و آله روسته غوره دی؟ ویې ویل: ابوبکر. ومې ویل: بیا؟ ویې ویل: عمر. بیا وډارم شوم چې دا ځل د حضرت عثمان نوم واخلي، نو ځکه وار له مخه مې وویل: نو ته؟ ویې ویل: زه یو معمولي مسلمان یم!

له دوو روایاتو معلومېږي، چې نه یوازې دا چې جوت کړي چې حضرت علي له حضرت عمر څخه خوشحاله و او مینه یې ورسره وه، بلکې ثابتوي چې حضرت علي، د حضرت عمر له لارویانو څنې و! او په واقع کې د حضرت علي لارویان هم باید په حضرت عمر (رض) پسې ولاړ شي او مینه ورسره ولري ځکه تر منځ یې هیڅ اختلاف نشته!!

## حضرت عمر (رض) او جناب امیر معاویه بن ابوسفیان

څېړونکی چې د حضرت عمر (رض) سیرت څېړي، نو مومي: حضرت

عمر (رض) د امويانو او په سرکې يې له ابوسفيان او جناب امير معاويه سره مخالفت يا کينه کښ دريځ نه درلود؛ بلکې مساله بيخي اپوټه وه. په داسې حال کې چې حضرت جناب امير معاويه او پلار يې د نبي مکرم صلى الله عليه و آله او حضرت ابوبکر (رض) په وختونو کې د «مولفة قلوبهم» يوه برخه وه او د زکات برخه يې ورکوله، د حضرت عمر (رض) په زمانه کې دا برخه ترې واخستل شوه او دواړه د نورو مسلمانانو په څېر وشمېرل شو.

او نه يوازې حضرت عمر (رض)، جناب امير معاويه د «مولفة قلوبهم» له ډلې و ايست او د مسلمانانو درجې ته يې پورته کړ[1].

بلکې د خپل رور يزيد پر ځای يې د شام والي مقرر کړ[2].

پوښتنه کېږي: ولې حضرت عمر (رض) دا چار وکړ؟

دې چار ته په مسلمانانو کې تر جناب امير معاويه وړ بل څوك نه و؟

---

[1] الاستيعاب: ١٤١٦|٣ مخ. الاصابه، د معاويه ژوند ليك.

[2] الاصابه فی تمييز الصحابة: ٣|٤٣٣ مخ. الاستيعاب: ٣|١٤١٦ – ١٤١٧ مخونه.

ايا حضرت عمر (رض) د امويانو او ابوسفيان تاريخ هېر کړی و، چې هاغسې د سرور کاينات صلی الله عليه و آله پر وړاندې ولاړ وو او جګړې ورسره کړې وې؟

او بيا جناب امير معاويه څه ځانګړنې درلودې، چې د شام کونجي ور وسپاري؟

ايا معاوله له مهاجرينو څنې و؟

ايا جناب امير معاويه له مجاهدينو څنې و؟

ايا د سرور کاينات صلی الله عليه و آله له خپلوانو څنې و؟

ايا عالم و؟

بيخي دا يو هم نه و، بلکې له ازاد کړای شويو (طلقأ څنې) و[1] !

---

[1] معاويه او پلار يې ابوسفيان له طلقاوو (زاد کړای شويوو) څنې وو او پېغمبر (ص) د مکې تر فتح روسته دا اصطلاح د مکې مشرکينو ته وکاروله او ويې ويل: «ولاړ شئ ! ازاد کړای شويوو» همداراز طلقا په «مولفة قلوبهم» کې هم وو او د علم خاوندانو ته ثابته شوې چې معاويه هيڅ فضليت نه درلود او پېغمبر يې په اړه بيخي ښه ويلي نه دي په دې باب وګورئ. (فتح الباري ٨٣١٧ مخ کتاب فضايل اصحاب رسول الله، باب ذکر معاويه. نسايي سنن. نسايي خصايص الامام علي)

نو څنګه شونې ده، چې یو طلیق (ازاد کړای شوی) د طلیق زوی د مسلمانانو چارواکی شي، حال دا چې ډېری اصحابو او اهل بیتو شتون درلود؟ او څنګه حضرت عمر (رض) په هغه تقوا او ځان ساتنه یې او په حق کې یې په سختوالي حضرت جناب امیر معاویه ته ولایت ورسپاري؟

له جناب امیر معاویه سره د حضرت عمر (رض) د اړیکو له څېړنې څرګندېږي، چې دا اړیکې د یو پېچلي او مبهم چار له مخې وې، چې د تاریخ په کتابونو کې سم ویل شوی نه دی.

ښایي حضرت عمر (رض) د خپلو سیالانو پر وړاندې کمزوري احساس کړي وي، نو ځکه یې امویانو ته پناه وړه او ښایي تر ځان روسته د اهل بیتو پر وړاندې خنډونه واچوي! او ښایي په دې چار کې یو بل څیز را نغاړل شوی وي، خو لازمي خبره داده، چې جناب امیر معاویه ته د شام ورکړه یو تېروتنه ګڼلای شو.

اموي لیکې له حضرت عمر (رض) خپل خوځښت پیل کړ، ځکه

حضرت عمر (رض) و چې جناب امیر معاویه یې پرشام واکمن کړ او دا لیکه چمتو شوه، چې په خپل مخ کې پراته خنډونه له منځه یوسي او ان د دولت او خلافت د لاس ته راوړو لپاره ټولې ستونزې هوارې کړي!

د مطلب د ښه سپیناوي لپاره لازم دي، چې د جناب امیر معاویه په باب د حضرت عمر (رض) په دریځونو پورې اړوند روایات وڅېړو.

ابن حجر وايي: چې حضرت عمر (رض) به جناب امیر معاویه ته کتل، ویل یې: «دا د عربو پاچا دی[1]»

د خبرې په تړاو، ابن عبدالبر وايي: «چې حضرت عمر (رض) شام ته ورغی او جناب امیر معاویه یې ولید، ویې ویل: دا د عربو پاچا دی»

جناب امیر معاویه له سترې بدرگې سره د خلیفه ښه راغلاست ته راغلی و، چې ور نژدې شو، ورته یې وویل: ته د دې سترې بدرگې خاوند یې؟ ویې ویل: هو، یا امیر المؤمنیه! حضرت عمر (رض) وویل: اورېدلي مې دي چې اړین دې د کور مخې ته په لیکه ولاړ وي؟ ویې ویل: هو،

[1] الاستیعاب: ۳|۱٤۱۷ مخ. ابن خلدون، سریزه: ۱٦۰ مخ

همداسې ده. حضرت عمر (رض) وويل: ولې؟ ويې ويل: موږ په يوې داسې سيمې کې يو، چې د دښمن ځرې ډېر دي، نو بايد داسې يو قدرت وښيو چې يې وډار کړو! نوکه اجازه راکوې دغسې وکړم او که مې منع کوې چې يې ونه کړم. حضرت عمر (رض)، حضرت جناب امير معاويه ته وويل: که ويل دې حق وي، نو دا يو عقلمن نظر دی او که باطل وي، نو يوه ادبي دوکه ده. جناب امير معاويه وويل: امير المؤمينه! امر راته وکړه، حضرت عمر (رض) وويل: نه امر درته کوم او نه دې منع کوم[1].

په دې روايت کې څېړونکی، د جناب امير معاويه او حضرت عمر (رض) سخت ملگرتوب مومي اوويني چې حضرت عمر (رض) څنگه د جناب امير معاويه له خطرناکو کړلېچونو تېرېږي او ناليدلي يې گڼي اوس څنگه د حضرت عمر (رض) دا چلن له نورو چارواکو اصحابو

---

[1] الاستيعاب: ١٤١٧\٣ مخ ويل شوي چې د معاويه کلنی معاش له لسوزرو دينارو ډېرو او په بل روايت کې مياشتنی معاش يې يو زر دیناره و.

سره کوشښ کړو چې په خپلې لکړې يې وهل، شتمني يې ترې اخسته او له چارواکۍ يې لرې کول؟!

او د جناب امير معاويه پلمه [دښمن ډار وو] يوه بې مانا اوسسته پلمه ده او حضرت عمر (رض) د دوو چارو تر منځ دروي: يا دا چې ساده توب دی چې جناب امير معاويه دوکه کړی يا دا چې دواړه يوه نقشه لري او د حضرت عمر (رض) له خبرې [= نه درته امر کوم او نه دې منع کوم] را ولاړيږي چې دواړه يو لاس دي او يوه دسيسه لري.

عربان خو بې له څه دبدبې د روم او فارس جګړو ته تلل او پرې بريالي کېدل، نو د حضرت جناب امير معاويه دا دبدبه ولې؟

روايت شوی چې د حج په سفر کې جناب امير معاويه له حضرت عمر (رض) سره و او جناب امير معاويه په پاچاهي دبدبه کې و، حضرت عمر (رض) وويل: آفرين! موږ غوره خلك يو، چې يوځای مو د دنيا او آخرت ښېګنې زده کړي دي...

چې د جناب امير معاويه جامې يې راوړې، نو يوه چپن يې واغوسته،

چې پر حضرت عمر (رض) يې ډېر ښه بوی ولګېد. حضرت عمر (رض) نيوکه پرې وکړه، جناب امير معاويه وويل: تره! وا مې غوسته چې خپل ټبر ته ورشم[1]...

له دې روايته پوره څرګندېږي، چې د حضرت عمر (رض) او جناب امير معاويه اړيکه د خليفه او مامور تر اړيکې اوچته وه، ځکه جناب امير معاويه چې په خبرو اترو کې کوم ادبيات ورسره کاروي، راښيي چې جناب امير معاويه له حضرت عمر (رض) سره په يوه کتار کې دی.

روايت شوی، چې جناب امير معاويه شنه چپن اغوستې او حضرت عمر (رض) ته ورغی، نو اصحابو کرامو ورته په حېرانۍ کتل، چې حضرت عمر (رض) وليد، په خپله لکړه يې وواهه. جناب امير معاويه په حېرانتيا وويل: الله الله يا امير المؤمنينه! څه شوي؟ حضرت عمر (رض) څه ونه ويل، پر خپل ځای کېناست.

حضرت عمر (رض) ته وويل شول: ولې دې دا ځوان وواهه، په څېر يې

---

[1] الاصابه فی معرفة الصحابه: ۴۳۴۱۳ مخ، د حضرت معاويه ژوند ليك

ستا په قوم کې نشته؟ حضرت عمر (رض) وویل: بې له خیره مې بل څه ترې لېدلې یا اورېدلې نه دي، خو و ډار شوم چې غرور پیدا کړي او په دې پاچایي جامو مې یې غرور ور مات کړ[1].

حضرت عمر (رض) وایي: بې له خیره مې بل څه تر ې لیدلي او اورېدلي نه دي! یعنې حضرت عمر (رض) د جناب امیر معاویه له ټولو کړنو خوښ و، خو د حضرت جناب امیر معاویه پر غرور خپه و، نو راولاړ شو او په لکړه یې وواهه، چې غرور یې څه اندازه را ټیټ شي.

خو ایا حضرت عمر (رض) د جناب امیر معاویه غرور مات کړای شو او د ځانمنیو مخه یې ورونیوه؟ د پام وړ بل ټکی د حضرت عمر (رض) د ملگرو خبره ده، چې «ولې دې دا ځوان وواهه، چې په څېر یې ستا په قوم کې نشته؟» څرگنده ده چې دا خبره د اموي لیکې د یارانو له خولې شوې، که نه څنگه شونې ده، چې جناب امیر معاویه تر ټولو اصحابو لوړ وگڼي؟ او څنگه یې حضرت عمر (رض) دا خبره ومني؟

---

[1] الاصابه فی معرفة الصحابه: ۴۳۴۱۳ مخ، د حضرت معاویه ژوند لیک

د دې رواياتو تر څېړنې روسته، مبالغه نه کوم، که ووايم چې جناب امير معاويه د حضرت عمر (رض) د لاس نيالګی دی، ويې پاله او ملاتړی يې شو او په حقيقت کې حضرت عمر (رض) د جناب امير معاويه په خطر ښه پوهېده او له تمو او حرصو يې ښه خبر و او بېشکه چې د امويانو په باب د پېغمبر خبرتيا ورته ويل شوې ده[1].

يو دليل چې ثابتوي، چې حضرت عمر (رض) د جناب امير معاويه له خطره پوره خبر و؛ شورا ته د حضرت عمر (رض) دا خبره ده چې، «هسې نه چې تر ما روسته اختلاف وکړئ که داسې مو وکړل، نو په يقين چې په شام کې جناب امير معاويه دغسې فرصت ته سترګې پر لار دی، چې خلافت در نه وتښتوي[2]»

---

[1] د امويانو په غندنه کې له رسول اکرم (ص) څخه ډېر روايات راغلي: امت به مې د قريشو له ځوانانو هلاکېږي. حضرت ابوهريره (رض) وويل: که مې غوښتای چې نومونه يې واخلم، نوويل مې چې بني پلاني او بني پلاني. او همداراز د نبي کريم (ص) وينا: په واقع کې امويان، ملعونه ونه ده، چې په قرآن کې راغلې ده وګورئ (الدرالمنثور ١٩١\٤ مخ. صحيح صحيح بخاري ، کتاب الفتن. ).

[2] الاصابة فی معرفة الصحابة: ٤٣٤\٣ مخ، د معاويه ژوند ليك.

نو جناب امیر معاویه د واکمنۍ نیولو په درشل کې دی، حضرت عمر (رض) پردې مطلب پوه شوی، نو تر مړینې وړاندې اصحاب خبروي؛ خو چې اصحابو کرامو حضرت عمر (رض) ته پر ژوندونې د دې خطر په اړه خبرې کولې، نو څه اعتنایې ورته نه کوله!

د حضرت عمر (رض) خبره واورئ: دا قریشي ځوان ( جناب امیر معاویه) مه ربټئ، په غوسه کې خاندي او له خوشحالی یې څه لاس ته نه راځي. د جناب امیر معاویه د سر له پاسه څه اخستل کیږي نه، خو دا چې تر پښو لاندې یې واخستل شي[1].

د حضرت عمر (رض) دا خبرې بې دلیله نه دي. هرومرو په اصحابو کرامو کې ځینې کسان وو، چې جناب امیر معاویه یې غنده او حضرت عمر (رض) غوښتل چې له غندنې یې منع کړي، نو ایا حضرت عمر (رض) د ژوند په روستیو کې د حضرت جناب امیر معاویه د خطر د مخنیوي په لاره چاره کې شو؟!

---

[1] الاستیعاب: ۱۴۱۸|۳ مخ.

البته کوم روایات چې زموږ په لاس کې دي، دغسې پایلې ته مو نه رسوي.

## حضرت عمر (رض) او ځایناستی

چې حضرت عمر (رض) ټپي شو، د خلیفه ټاکنې ته یې شپږ تنیزه شورا جوړه کړه، چې په خپلو کې یو وټاکي او غړي یې دا دي: حضرت طلحه، حضرت زبیر، حضرت عبدالرحمن بن عوف، حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت عثمان او ورپسې حضرت علي (رض).

په دې کې پینځو تنو، حضرت علي نه مانه ځکه د ټبر پالې لیکې لارویان وو، هماغه لیکه چې حضرت عمر (رض) یې واکمن کړ.

نو څنګه حضرت عمر (رض) دا شپږ تنه ټاکني، حال دا یقین لري، چې دوی حضرت علي نه مني او یو یې هم د حضرت علي خلافت ته غاړه نږدي[1] ؟!

---

[1] د تراجمو او رجالو په کتابونو کې د دې پینځو تنو چلن ولولئ او بیا د دوی دریځونه او پر وړانـدې یـې د نبـي کـریم

او په واقع کې د شورا برنامه په ټوکو پرمخ ولاړه، چې خلافت يې د امويانو په غېږ کې وروغورځاوه او دا چار له مخې سنجول شوی و.

ووينئ چې کله قوم په سلا مشوره لګيا کېږي، نو حضرت زبير (رض)، حضرت علي (رض) ته رايه ورکوي، حضرت سعد (رض) يې حضرت عثمان (رض) او حضرت طلحه (رض) يې حضرت عبدالرحمان (رض) ته، بيا حضرت عبدالرحمان (رض) ځنډې ته کېږي او ځان نه نوماندوي، بلکې د حضرت عثمان (رض) پرګټه ځنډې ته کېږي او په پايله کې درې تنه له حضرت عثمان (رض) سره يوځای کېږي او يو تن له حضرت علي (رض) سره! ځکه حضرت عبدالرحمان چې حضرت عثمان (رض) ته ور واوړېد، نو حضرت طلحه (رض) ورسره ملګری شو[1].

په بل روايت کې راغلي، چې پايله سر پرسر شوه، هلته حضرت

(ص) پر دريځونو پوهېدای شئ او ووينئ، چې څومره ټېر پالي وو.

[1] فتح الباري، د صحيح صحيح بخاري شرح: ۵۹/۷ مخ.

عبدالرحمان حضرت علي ته وړانديز وکړ، چې په دې شرط بیعت ورسره کوي، چې پر کتاب سنت النبوي او د شیخینو پر سنتو عمل کوي، خو حضرت علي د شیخینو سنت ورسره ونه منل. بیا یې له حضرت عثمان څخه وغوښتل او موافقه یې ورسره وښووه، نو ځکه یې بیعت ورسره وکړ[1].

جالبه خو داده، چې حضرت عثمان (رض) خلیفه شو، نه یوازې د شیخینو له سنتو سره یې مخالفت وکړ، بلکې د کتاب او نبوي سنتو په مخالفت یې هم لاس پورې کړ او ان هغه قوم ترې هم لاس واخست، چې نومولی یې و. پوښتنه ده: ایا د حضرت عمر (رض) چلن د شورا له مخې او د اسلام له روحیې سره اړخ لګوي که نه؟

ځواب منفي دی! ځکه حضرت عمر (رض) په تېریزه روحیه د شورا غړي را ټول کړي وو او حضرت علي یې پر خپل نیت د برغولي ایښودلو لپاره راوستی و، چې ان ځینو له حضرت عمر (رض) غوښتي،

[1] – ابن اثیر، الکامل فی التاریخ: ۷۱\۳ مخ. طبري تاریخ ۲۳۳\٤ مخ.

چې خپل زوی عبدالله هم د شورا غړی کړي [1].

حضرت عمر (رض) د دې قانون په وضع کولو سره امویانو ته یو فرصت ورکړ، چې د حضرت عثمان (رض) له لارې رسمیت او مشروعیت ومومي او یو کال روسته یې، له همدې لارې د شورا اسلامي قانون تر پښو لاندې کړ او میراثي نظام یې رامنځ ته کړ.

په هر حال، په خپلو کې یو له بل سره مخالفو شپږو تنو ته د شورا ورسپارنه له قرآن سره اړخ نه لګوي، ځکه په قرآن کې وایي: (وَأَمْرُهُمْ شُوْرى بَيْنَـهُمْ: او چارې یې د خپلمنځي شورا له مخې دي؛ یعنې د مؤمنانو ترمنځ، نه د یوې ځانګړې ډلې ترمنځ. او همداراز دا چار د رسول اکرم له سنتو سره اړخ نه لګوي، چې قرآني نص یې په اصحابو کې وکاراوه او د نظر د ازادۍ ور یې پرانست، چې متاسفانه د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) په وختونو کې وتړل شو، تر دې

[1] فتح الباري: ٥٤١٧ مخ.

چې اموي دکتاتوری ته لار پرانځي.

او که حضرت عمر د احتضار پر مهال سرګردان و او څه چار یې کړای نه شو، چې ایا څوك خپل ځایناستی کړي یا نه او وایي: که خلیفه وټاکي، نو هغه چې تر ما غوره و (رسول الله صلی الله علیه و آله ځان ته یې خلیفه ونه ټاکه او که خلیفه وټاکم، نو حضرت ابوبکر (رض) خو ځان ته خلیفه وټاکه[1].

په هر حال یو تن یې له دې سرګردانۍ او شکمنۍ څخه ګټه پورته کړه او ورته یې وویل: عبدالله بن عمر خپل ځایناستی کړه! حضرت عمر (رض) ورته وویل: خدای دې تا ووهي! پر خدای چې په دې خبره دې خدای په پام کې نیولی نه دی، هغه خلیفه کړم چې ان خپله مېرمن هم طلاقولای نه شي[2]!

خو په هر حال، حضرت عمر (رض) خلافت یوې ټبر پالې ډلې ته

---

[1] صحیح بخاري ۱۰۰|۹ مخ. مسلم: ۱۴۵٤|۳ مخ، ۱۱ او ۱۲ ګڼې احادیث.

[2] – فتح الباري: ٥٤|۷ مخ. تاریخ الخلفا، ۱٤٥ مخ. طبري تاریخ: ۲۲|٤ مخ.

ورپرلاس کړ، چې یو تبر پالی یې د قدرت پر گدی کېناوه او له دې کړی ونه ووت او حضرت علي ته یې مخ نه کړ.

حضرت عمر (رض) د خپل زوی د دلاستوب لپاره هغه مشاور کړ.

حضرت عمر (رض) وویل: که درې تنه یوې خوا ته او درې تنه بل خوا ته شول، نو عبدالله بن عمر (رض) منځگړی کړئ او که دده منځگړتوب مو ونه مانه، نو لومړیت له هغې خوا سره دی، چې حضرت عبدالرحمان بن عوف (رض) پکې دی او که حضرت عثمان (رض) خلیفه شو، نو یو نرم خویه دی او که حضرت علي (رض) خلیفه شو، نو په اړه به یې خلك اختلاف وکړي، که حضرت سعد خلیفه شو، نو ښه ده، که نه د وخت خلیفه دې مرسته ترې وغواړي[1].

پوښتنه داده چې ولې حضرت عمر (رض) د خپل زوی پر ځای د حضرت ابوذر (رض) او حضرت عمار (رض) په څېر شخصیتونه ونه

[1] فتح الباري: ۵٤۱۷ مخ. تاریخ الخلفا، ۱٤۵ مخ. طبري تاریخ: ۲۲۱٤ مخ.

نومول[1]؟.

او په دې توګه څرګندېږي، چې پېښې د حضرت علي (رض) پر مخالف لورې پرمخ درومي، ځکه حضرت عبدالله بن عمر (رض) هيڅ سياسي درندوالی نه لري او حضرت عبدالرحمان (رض) هم د حضرت عثمان (رض) همژمنی دی.

په دې اړه حضرت علي وايي: «عثمان (رض) » يې را سره په يوې تېږي وتله... او ويې ويل: له اکثريت سره وسئ بيا يې وويل: له عبدالرحمان بن عوف سره وسئ او سعد هم د خپل تره زوی عبدالرحمن سره څه مخالفت نه لري. عبدالرحمان (رض) هم د عثمان (رض) زوم دی او يو له بل سره مخالفت نه کوي، نو يا دې عبدالرحمان (رض) عثمان (رض)

[1] د يادونې وړ ده، چې حضرت عبدالله بن عمر (رض) تر حضرت عثمان (رض) روسته، له حضرت علي (رض) سره بيعت مات کړ او پرځای يې له معاويه سره بيعت وکړ او بيا يې له يزيد سره او خدای يې عمر اوږد وکړ او له حجاج سره يو ځای شو او له حضرت انس بن مالك سره يې يو ځای ور پسې لمونځ کاوه. د رجالو په کتابونو کې د حضرت ابن عمر تاريخ ولولئ

ته خلافت ور وسپاري او يا يې عثمان (رض) عبدالرحمان (رض) ته[1]!

معلومه ده، چې حضرت علي د دې لوبې په ټولو رازونو خبر و او په زور شورا ته ننووت او پوهېده، چې پايله د حضرت عمر (رض) د ليکې پر برخه ده لکه چې حضرت عمر (رض) خجالت ايسته، چې د خلافت په اړه د خپل پخواني ملګري دود (چې د ده خلافت يې بې د مسلمانانو له مشورې رادبره کړ) پلي کړي او د خلافت کړۍ يې لږ څه پراخ کړه، نو ځکه يې دغسې برنامه راوايسته، خو په خپله ډاډمن و، چې په پای کې به هماغه خليفه کېږي، چې په خپله يې غواړي.

حضرت عمر (رض) له وړاندې پوهېده، چې د خلافت سيالي به د دوو تنو ترمنځ وي: حضرت علي (رض) او حضرت عثمان (رض) او دا چې حضرت علي (رض) به يې د ګټو ساتندوی نه وي، بلکې مخالفت به ورسره وکړي، نو ځکه خلافت حضرت عثمان ته رسي نه بل چاته، يعنې په حقيقت کې حضرت عمر (رض) خلافت حضرت عثمان (رض) ته

---

[1] طبري تاريخ: ۲۳۰|٤ مخ. نهج البلاغه.

وسپاره خو د شورا په پلمه يې خپل نيت پټ کړ!![1]

لکه چې په فتح الباري (۵۵/۷ مخ) کې راغلي، حضرت عمر (رض) وويل: که «اجلح[2]» خليفه شي خلکو ته به سمه لار ورښيي، زوی يې ورته وويل: نو ولې يې خپل خليفه نه ټاکې؟

حضرت عمر (رض) وويل: نه يې پر ژوندونې او نه به يې تر مرگ روسته ور پرېږدم!!

دا هماغه پايه ده، چې موږ ور رسېدلي يو ځکه له «اجلح» څنې مطلب حضرت علي (رض) دی.

---

[1] فتح الباري: ۱۷/ ۵٤، چې د دې مطلب د حضرت عمر (رض) پر ټينگار پوه شي.

[2] اجلح هغه ته وايي، چې د تندي دواړو خواوو ته يې وېښتان نه وي، يعنې د مخامخ کپرې وېښتان يې نه وي او «انزاع» هم ورته وايي، چې دا د حضرت علي يو «لقب» هم و.

# څلورم تمځی

## حضرت عثمان بن عفان (رض)

## «د اموي ليکې بنسټګر»

### حضرت عثمان (رض)

حضرت عثمان (رض) د هغو دوو تنو په څېر نه و، چې په خپلو چارو کې احتياط وکړي او ځان ته د خپلو دښمنانو خوله را پرانځي او ټبر وپالي. په مازې چې خليفه شو، د خپل اموي قوم خوا يې ونيوه او قوم پالی شو، نو خلك ورته غوسه شو او غير اموي يې هم پر ضد راپاڅېدل.

له ده وړاندې چې شيخينو (رض) ټبر پالې ليکه کښلې وه، نو حضرت عثمان (رض) ترې پښه ور واړوله او ځان يې يوازې په امويانو کې را ايسار کړ او په دې توګه يې له کتاب او سنتو سره مخالفت وکړ او د نورو نصيحتونو ته يې غوږ ونه ونيو.

ايا حضرت عثمان (رض) دومره زور درلود، چې په خپلو دريځونو کې، هماغسې مخ ته وړاندې ولاړ شي؟ يا دا چې پوه شوی و، په ټولنه کې

ټبر پالنه تثبیت شوې وه، چې سیاست کارۍ ته یې څه اړتیا قدرې نه وه؟ حضرت عثمان (رض) په خپل خلافت کې د اموي لیکې کرښه وایسته، ځکه د وخت په تېرېدو، ټبریزه لیکه کمزورېده، نو لازم وه، چې په غښتلې کورنۍ کې یې را ایساره کړي او په قریشو کې یوازې اموي کورنۍ وه، چې ټبریزه لیکه وساتي او له اهل بیتو سره سخت مخالفت وکړي، نو ځکه یوازې امویانو دا مهم چار پر مخ وړای شو او ان دوی خو تر اسلام وړاندې له بني هاشمو سره د اختلاف بیرغ اوچت کړی و[1].

### حضرت عثمان او اصحاب کرام رضی الله عنهم

حضرت عثمان (رض) د اصحابو په هکله دوه بېلا بېل دریځونه درلودل:

۱- تاییدوونکی او مرستندوی دریځ.

۲- د ښکاره دښمنۍ دریځ.

هغه اصحاب چې د حضرت عثمان (رض) له لوري تایید او مرسته یې

[1] مقریزي، النزاع و التخاصم بین بني امیه و بني هاشم، د قاهرې چاپ.

ورسره كوله، هغوی وو، چې بيعت يې ورسره وکړ او خلافت ته يې لار ورته هواره کړه، چې په سر کې يې حضرت سعد بن ابي وقاص، حضرت طلحه بن عبيدالله، حضرت زبير بن عوام او حضرت عبدالرحمان بن عوف رضی الله عنهم وو. حضرت عثمان (رض) هم ښه ورسره وچليد او د بيت المال کڅوړې يې ور ماتې کړې، چې ټول د سترو شتمنيو خاوندان او د سرو سپينو زېرمو خاوندان شول[1]. دوی په ظاهر کې پر همدې پانگوالۍ بسيا وکړه، د حکومت په غم کې نه شول او امويانو ته يې ور پرېښود.

خو هغوی چې حضرت عثمان (رض) ښکاره دښمني ورسره را واخسته هماغه اصحاب کرام ول، چې د حق او عدالت د تطبيق لپاره پر وړاندې

---

[1] چې حضرت زبير بن عوام (رض) ومړ، ځمکې، شتمنۍ او کورونه ترې پاتې شول په مدينه کې يې يولس کورونه، په بصره کې دوه په کوفه کې يو او په مصر کې هم يو کور! يوازې د «غابه» په نوم يوه ځمکه يې په يو لك او اويا زره دينارو پېرلې وه. څلور مېرمنې يې درلودې چې د هرې يوې ميراث يو مليون او دوه لکه ديناره و! خو د حضرت عبدالرحمان بن عوف (رض) شتمني تر دې خورا ډېره وه. ابن عساکر (٥٧٤\٨) روايتوي، د حضرت طلحه (رض) د مال او ملك د ميراث قيمت ډېرشو ميليونو درهمو ته رسېده او د اوبو د چينو قيمت يې يو ميليون او دوه لکه ديناره وو.

يې ودرېدل او له حضرت علي سره همژمني شول، چې په سر کې يې حضرت ابوذر غفاري، حضرت عمار بن ياسر او حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهم وو.

د حضرت ابوذر (رض) پر وړاندې د حضرت عثمان (رض) دريځ تر نورو سخت و، ځکه حضرت ابوذر (رض) هم په ټوليز ډول اموي ليکې او په تېره، تر حضرت عثمان (رض) څخه جناب امير معاويه ته خورا بدوين او بد کسی و.

دا به يوه ناسمه انګېرنه وي، چې حضرت ابوذر (رض) ځکه د حضرت عثمان (رض) او جناب امير معاويه پر وړاندې دريځ درلود، چې مېلې چړچې يې کولې، سره سپين يې زېرمول او د بېوزليو حقوق يې تر پښنولاندې کول، دا چارې خو ظاهري لامولونه وو، که نه واقعي نيت يې د اموي ليکې د بطلان او نه مشروعيت اعلانول و.

حضرت ا بوذر (رض) او حضرت عثمان (رض) ترمنځ ټکر له دې زمانې را ولاړ شوی نه و، بلکې د حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر

(رض) له وختونو يې سر چينه نيولې، چې د پيغمبر له ليکې کاږه شول، حضرت ابوذر (رض) هغه شخصيت دی، چې په مکه کې د مشرکينو پر وړاندې ودرېد، ډېرې سختۍ او کړاوونه يې وزغمل او په هغې زمانه کې د حق له ويلو پر شا نشو او د نبي مکرم صلی الله عليه و آله په باب يې ربښتين روايات روايت کړي دي[1].

له دې څرگندېږي، چې د حضرت ابوذر (رض) او حضرت عثمان (رض) تر منځ عقيدتي ټکر و؛ د اهل بيتو د يار او د امويانو د رمز ترمنځ، د اهل بيتو د ليکې او د اموي ليکې ترمنځ.

نو ځکه حضرت عثمان (رض) د حضرت ابوذر غفاري (رض) پر وړاندې سخت دريځ ونيو او له مدينې يې وشړه، لکه چې حضرت عثمان (رض) لومړی تن و، چې د ظالمانو د واکمنۍ په تاريخ کې يې د سمونپالو مشرانو شړل را دبره کړې وي. د حضرت عمار (رض) پر وړاندې يې هم همدغسې دريځ درلود، ځکه دواړه د حضرت علي

[1] پيغمبر اکرم (ص) د حضرت ابوذر د ټبر په اړه ويلي و: «خدای دې د غفار ټبر وبښي» وگورئ د سيرت کتابونه.

یاران وو او د امویانو پر ضد یې یو ډول نظر درلود، نو ځکه حضرت عثمان (رض) د حضرت ابوذر (رض) تر وفات روسته هماغه ځای (ربذي) ته شړه، خو حضرت علي مداخله وکړه: «له خدایه وډار شه! یو صالح دې وشړه او همالته ومړ، اوس یې بل ملګری هم شړې[1]».

په پایله کې حضرت عثمان (رض) حضرت علي هم په شړنې وګواښه او ویې ویل: تر هغه خو ته، د شړنې وړ یې!! حضرت علي ورته وویل: چې څه غواړې ویې کړه![2]

په هر حال، حضرت عثمان (رض) د دباوونو له امله له خپلې لیدلورې لاس پر سر شو، خو عمار (رض) یې پر وړاندې له خپل دریځه تېر نشو او هغه مهال چې حضرت عثمان (رض) له بیت الماله خپلو ځینو ښځو ته ګاڼې وپېرلې، نو حضرت عمار (رض) یې پر وړاندې ودرېد، او حضرت عثمان (رض) خپلو پولیسو ته د ده د وهلو امر وکړ او دومره یې

---

[1] بلا ذري، انساب الاشراف: ۵٤۱۵ – ۵۵ مخونه. یعقوبي تاریخ: ۱۷۳۱۲ مخ.

[2] بلاذري، انساب الاشراف: ۵۵۱۵ مخ.

وواهه، چې بې هوشه شو[1]!

روایت شوی، چې له حضرت عثمان (رض) سره تر بیعت کولو روسته حضرت عمار (رض) په نبوي جومات کې د وینا په ترڅ کې وویل: «قریشو! دا چې د پېغمبر له اهل بیتو مو خلافت واخست او دې او هغه ته مو وسپاره او ډاډمن نه یم، چې خدای به یې له دې ټولو وانخلي او بل ټبر ته به یې ور نه کړي، لکه چې تاسو یې له افضل او وړه واخست او نا اهله ته مو وسپاره[2]»

او حضرت مقداد (رض) پاڅېد او ویې وویل: «تر پېغمبر روسته، د پېغمبر د اهل بیتو په څېر مې ځورېدلي بل څوك موندلي نه دي» بیا حضرت عبدالرحمان عوف (رض) په غوسه پاڅېد او ویې ویل: مقداده! ستا یې څه؟

حضرت مقداد (رض) وویل: «پر خدای قسم، ښه مې ایسي لکه چې د

---

[1] بلاذري، انساب الاشراف: ٤٩١٥ مخ.

[2] بلاذري، انساب الاشراف ٤٩١٥ مخ. طبري تاریخ: ٢٣٣١٤ مخ. الکامل فی التاریخ: ٧١١٣ مخ.

پېغمبر ښه راتلل او په واقع کې حق ورسره دی. » عبدالرحمانه! له قریشو حیران یم چې د نبوي اهل بیتو په فضل، په خلکو کې پتمن شول او اوس راټول شوي، چې له لاسه یې د رسول الله صلی الله علیه و آله میراث وباسي، عبدالرحمانه! پر خدای قسم که یاران مې موندای؛ نو له قریشو سره مې هماغسې جګړه کوله چې په بدر کې ورسره جنګېدم[۱].

او همداراز حضرت عبدالله بن مسعود (رض) د حضرت عثمان (رض) پر ضد راپاڅېد او په کوفه کې یې، پردې سربېره چې خلکو ته یې وعظ کاوه او قرآن یې ورزده کاوه؛ نو خلک یې د حضرت عثمان پر ضد پاڅون ته رابلل، ځکه عثمان (رض) لرې کړ او پر ځای یې کوفې ته «ولید بن عقبه» ولېږه، چې له دې سره یې توندې خبرې وکړې، له کوفیانو سره یې خدای پاماني وکړه او مدینې ته راغی[۲].

او په مدینه کې یې له حضرت عثمان (رض) سره ټکر راغی او حضرت

[۱] بلاذري، انساب الاشراف ٤٩\٥ مخ. طبري تاریخ: ٢٣٣\٤ مخ. الکامل فی التاریخ: ٧١\٣ مخ.

[۲] بلاذري، انساب الاشراف: ٣٦\٥ مخ.

عثمان (رض) خپلو مامورينو ته وويل: چې دومره يې ووهئ چې هډوکي يې مات شي بيا يې له بيت الماله روزي ور پرې کړه، بيا حضرت علي پر حضرت عثمان (رض) غوسه شو او حضرت ابن مسعود (رض) يې خپل کور ته بوت او په لورونه ورسره وچلېد. حضرت عثمان (رض) پردې هم بسياينه ونه کړه او حضرت ابن مسعود (رض) يې له مدينې وتو ته پرېنښود تر دې چې ناروغ او مړ شو[1].

## حضرت عثمان (رض) او حضرت علي (رض)

له حضرت ابوبکر (رض) او حضرت عمر (رض) سره د حضرت علي (رض) اوسېدانه يوه دفاعي اوسېدانه وه، پر حضرت علي د دې له امله دباوونه راوړ کېده، چې د امت شرعي استازی او د اهل حديثو د ليکې مشر و، چې يو زيات شمېر اصحاب يې ملگري وو، حضرت علي د

[1] بلاذري، انساب الاشراف ۳۷/۵ مخ

امت د یووالي لپاره له خپلې وندې تېر شو، خو له خپلې مفکورې تېر نشو، چې له سرور کاینات صلی الله علیه و آله یې په میراث وړې وه، یعنې حضرت علي، له واکه څنډې ته شو، نه له مفکورې.

حضرت علي، له واکمنۍ لاس واخست نه له مفکورې.

حضرت علي، تبریزې لیکې ته لار پرانسته، چې واکمني وکړي، خو دا چې له اسلام سره لوبې وکړي.

لکه چې څرګندېږي په دې باب شیخینو رضی الله عنها څه مقابله نه درلوده، بلکې د حضرت علي علمي وس ته یې درناوی درلود او پر غوراوی یې اعتراف درلود.

البته مانا یې دا نه ده، چې د دواړو په زمانو کې اسلام پوره ښه چلېده، بلکې کږلېچ پکې و، خو دومره نه و، چې حضرت علي غوسه کړي او مقابلې ته یې اړ کړي، خو حضرت علي د دې کږلېچ له راتلونکې څخه تشویش درلود. چې حضرت عثمان (رض) خلیفه شو، کږلېچ یې د شیخینو له پولې واووښت او د اسلام جرړې ته ورسېد، نو ځکه د

حضرت علي او ملګرو دريغ يې بدلون وموند او پټ مقاومت راښکاره شو او ان هغوی چې په پيل کې د حضر عثمان (رض) او امويانو جنډه هسکه کړې وه دا ځل يې پر وړاندې ودرېدل او په واقع کې د حضرت عثمان (رض) په خلافت کې د امويانو را پنځېدنه جاهليت ته د يو بدلون پيلامه وه او د اهل بيتو له اسلام سره، د يو دښمن او مخالف اسلام رامخې ته کېدل و، چې دا دښمني يې په ډاګه کړه.

نو ځکه مطلب تر دې اوچت دی، چې يوه کو رنۍ دې له سره تر پښو په حکومت کې ډوبه وي، بلکې په حقيقت کې د خلفاوو له اسلامه جلا ديو نوي اسلام را دبره کېدو ته تينګې هڅې وي، که څه هم د شيخينو اسلام هم سم بنسټ نه درلود؛ خو دومره بې لارې نه ول، چې هغوی جاهليت ته ور ستانه کړي.

امويانو د حضرت عثمان (رض) خلافت غنيمت وګاڼه او ټول ترې راټول شول او پر بني هاشمو په تېره د حضرت علي په مشرۍ، پر اهل بيتو يې يرغل ته چمتو شول.

حضرت علي له ناچاره باید د دې چلن پر وړاندې په ښکاره مقابلې لاس پورې کړي، نه دا چې د شیخینو د زمانې په څېر مسالمت امیز وسي، چې څه وویل شول، د حضرت علي او عثمان (رض) د اړیکو څرنګوالی یې څرګندېږي او همدا راز د حضرت عثمان (رض) د چلن پر وړاندې د حضرت علي دریځ څرنګوالی.

شیخینو چې به له نصوصو او شرعي متونو پښه اړوله، نو حضرت علي یې پر وړاندې شرعي مخوونکی دریځ درلود، خو د حضرت عثمان (رض) پر وړاندې یې دریځ شرعي او سیاسي و او له نظري پولو اوښتی او عملي پولو ته رسېدلی و.

حضرت علي د حضرت عثمان (رض) په هکله وایي:

تردې چې درېیمي خلافت ته ورسېد او پلرني خپلوان (امویان) ورسره یو لاس شول او بیت المال یې داسې په خپلو منګولو کې ونیو؛ لکه وږی اوښ، چې د پسرلي واښه رانغاړي، تردې چې د رسۍ ولونه یې خلاص شي او د ډېر خوراکي له امله پړمخ پرېوځي، کړنو یې خلک

راپاڅول او له امله يې ووژل شو[1].

حضرت علي دلته پر حضرت عثمان (رض) سختې نيوکې کوي او په غرور، ځانمنی، اموي دسيسي او د مسلمانانو د شتمنيو په منځه وړو يې تورنوي، چې په واقع کې د بيت المال شتمني يې پر خپل قوم وويشله او د بيت المال ورونه يې ورته پرانستل چې خپلې کڅوړې ډکې کړي او پر هيڅا ونه رحمېږي او دوی يې له اوښانو سره ورته کړل، چې په پسرلي کې پر پسرلني بوټو لګيا کېږي او په خورا حرص يې خوري.

د دې تشبه په څېر هډو بله تشبه نشته، چې له امويانو سره د حضرت عثمان (رض) حال او له مسلمانانو سره د دوی حال انځور کړي.

د شيخينو حال داسې نه و، د متونو او اهل بيتو پر وړاندې يې له دريځونو سره سره، زاهدان وو او بيت المال يې ساته او په پام کې يې نه وه، چې ځان او قوم ته يې پام وي او نور خوشې کړي، لکه چې حضرت عثمان (رض) کول.

---

[1] نهج البلاغه (۳) مه خطبه.

په دې باب پر شيخينو د حضرت علي له خولې هيڅ نيوکه رارسېدلې نه ده او که څه نيوکه هم وه، نو د نصوصو او عملي کولو په اړه يې وه، خو که مطلب د مسلمانانو په چارو پورې اړونديږي، نو چوپه خوله نه پاتې کېده او شته وضعيت ته يې غاړه نه اېښووه.

چې حضرت عثمان (رض) خليفه شو؛ نو حضرت علي وويل: « په رښتيا پوه شوئ، چې زه تر ټولو خلکو خلافت ته وړيم، پر خدای قسم تر هغې چې د مسلمانانو چارې روغې رمتې وي، غاړه به مې ايښې وي که څه هم په خپله را باندې ظلم وشي، چې په دې حال کې د خدای ثواب ته هيلمن يم، او د نړۍ په ښکلاوو کې چې سيالي لرئ ځان ترې بچوم[1] »

دا وينا د خلفاوو پر وړاندې د حضرت علي دريځ راښيي او هغه دا چې ځان د اسلام او مسلمينو له ګټو ځاروي، نو که د اسلام او مسلمينو پر ګټو بريد وشي، نو حضرت علي چوپ کېږي نه، بلکې د حضرت

[1] نهج البلاغه (٧٤) مه خطبه

عثمان (رض) پر وړاندې يې دريځ، چې حضرت عثمان (رض) د حضرت ابوذر (رض) د شړلو حکم وکړ او خلکو ته يې اعلان کړه، چې څوك حق نه لري، له حضرت ابوذر (رض) سره خبرې وکړي يا يې بدرگه کړي، خو حضرت علي د حضرت عثمان (رض) دې امر ته پام ونه کړ او حضرت ابوذر (رض) يې له خپل رور حضرت عقيل، زامنو امام حسن او امام حسين او حضرت عمار بن ياسر سره تر «ربذې» بدرگه کړ.

حضرت علي په خدای پامانۍ کې حضرت ابوذر (رض) ته وويل:

ابوذره! سکه، ته د خدای لپاره راپاڅېدې او غوسه شوی؛ نو يوازې هماغه ته هيلمن وسه، چې ورته راپاڅېدلی يې. دوی د خپلې دنيا له امله درنه وډار شول او ته د خپل دين له امله ترې ووېرېدې؛ نو دنيا ور پرېږده، چې له امله يې له تا وډار شول او د هغه دين له امله ترې وتښته، چې په اړه يې له تا ډار شوي ول. دنيا پالي څومره هغه څه ته اړين دي، چې تا ترې منع کړل او ته څومره هغه څه ته بې پروا يې، چې ترې منع

کول دي. سبا به پوه شې، چې چا ګټه کړې او چا ډېر تاوان؟ که پر کوم بنده د اسمان او ځمکې ورونه بند شي؛ خو دا بنده متقي وي؛ نو خدای به د ژغورنې لار ورپرانزي؛ نو ابوذره! یوازې د حق ملګری وسه او یوازې له باطلو ډارېږه. که تا ددې خلکوینا منله؛ نو ښه یې ایسېدې او که څه برخه دې ترې اخسته؛ نو لاس یې درنه اخسته او امین یې ګڼلې[1].

د حضرت عثمان (رض) په زمانه کې تیري او کړبېچونه دومره ډېر شول، تر دې چې مسلمانان ترې راتاو شول او انقلاب ته یې اړ کړل.

د یادونې وړ ده، چې تاریخپوهان هڅه کوي، چې حضرت عثمان (رض) له دې فساداتو خوندي وښیي او مسوولیت پر نورو ورتر غاړې کړي[2].

پوښتنه دا ده چې، د مسلمانانو او حضرت عثمان (رض) ترمنځ په ټکر کې د حضرت علي ونډه څه ده؟

---

[1] نهج البلاغه ۱۳۰ مه خطبه

[2] العواصم من القواصم، ۷۷ مخ. قاضي عبدالجبار، مغنی ۲۰ ټوك. تاریخي کتابونه

**ایا حضرت علي له انقلابیانو سره و؟ یا یې د انقلاب مخه نیوه؟**

تاریخپوهان هغه کوي، چې د حضرت عثمان (رض) پت وساتي او حضرت علي یې زړسواندی او مؤید وښیي، تر دې چې وایي خپل زامن یې حسنین توره په لاس د انقلابیانو پر وړاندې د حضرت عثمان (رض) د دفاع لپاره د کور پر وره یې ورته درولي وو او د خلیفه تر وژنې روسته یې ټپسوري کړل، چې ولې لنډون درنه شوی[1]!!!

خو چې څوك دا پېښې څېړي، دې پایلې ته رسي، چې حضرت علي ډېره هڅه وکړه چې حضرت عثمان (رض) له خپلو ناوړو چارو واړوي او ډېر نصیحت یې ورته وکړ، چې د امویانو له منګلو یې وژغوري، خو څه اغېزې ونه کړې او خلیفه پر اموي خپلوانو ټینګ ولاړ و[2].

د خلیفه د دې سخت دریځ پر وړاندې، حضرت علي څنډې ته شو،

[1] طبري تاریخ. ابن اثیر، البدایه والنهایه. الکامل فی التاریخ.

[2] مروج الذهب. الامامه والسیاسه. طبري تاریخ. البدایه و النهایه.

چې انقلابیانو ته لار پرانستل شي، چې له خپلو حقوقو دفاع وکړي او پر خلیفه بریدمن شي.

او د انقلاب ډېری برخوال او ان مشران یې د حضرت علي لارویان او شاگردان وو، نو څرگندېږي، چې حضرت علي په خپله د انقلاب اصلي محرك و، هماغه انقلاب چې د امویانو پر وړاندې یې د رښتوني اسلام بیرغ اوچت کړی و یا په بله وینا:

د تبریزي لیکې پر وړاندې یې د اهل بیتو بیرغ اوچت کړ، هماغه کرغېړنه لیکه چې حضرت عثمان (رض) راښکاره کړې وه. لکه چې ځینې یې انگیري، جگړه د ظالم او مظلوم ترمنځ نه؛ بلکې د حق او باطل ترمنځ جگړه وه. هغه حق چې د انقلابیانو په څیره کې وځلېد او هغه باطل چې د حضرت عثمان (رض) او امویانو په څیرو کې راښکاره شو.

دلته نو حضرت علي اختیارمنېدای نشي، چې له دې دوو څنې، له یوه سره یوځای شي، بلکې حضرت علي ځان په حق پورې مقید بولي او دا

حق دی چې همېش ترې گردچاپیره چورلي.

او بېشکه چې د دوی ترمنځ خو حق او باطل بیخي څرگند دی او ښایي د حضرت علي همدا دریځ و، چې روسته جناب امیر معاویه ترې گټنه وکړه، چې له حضرت علي سره د جگړې لمبې بلې کړې او د خپلو باطلو موخو لپاره پر مسلمانانو بر لاسی شي. البته حضرت جناب امیر معاویه له خلیفه سره د مرستې رسولو وس درلود، خو دا یې غوره وگڼله چې حضرت عثمان (رض) له منځه ولاړ او دده موخوته لار هواره شي. [1]

## حضرت عثمان (رض) او امویان:

چې حضرت عثمان (رض) خلیفه شو، ابوسفیان امویانو ته وویل: «امویانو! خلافت د غونډوسکې په څېر یو بل ته ورکړئ، پر هماغه چې

---

[1] په طبري تاریخ (١٤/ ٣٦٨ مخ) کې هغه لیك ولولئ چې حضرت عثمان (رض) له معاویه څخه مرسته غوښتې وه. په لیك کې راغلي: اما بعد، مدینه وال کافر شول او خپل بیعت یې مات کړ، نو ژر تر ژره او چې څنگه وي، شامیان مې مرستې ته راولېږه. وگورئ (ابن کثیر تاریخ ١٨٥/٧ مخ)

ابوسفیان پرې قسم خوري، زه تل د همدې ورځې په هیله وم او باید ځوځات ته مو میراث شي[1]»

ډېرې تاریخپوهان د ابوسفیان له دې خبرې منکرېږي او حضرت عثمان (رض) یې ملاتړی نه بولي، خو په عمل کې د حضرت عثمان (رض) سیاستونه او کړنې یې دا خبره تاییدوي او د ابوسفیان لرلید مني.

اروابناد سید ابوالاعلي مودودي وایي: چې کله حضرت عمر (رض) حضرت عثمان (رض) ته خلافت ورپرېښود، نو په ورو ورو یې د هغه له سیاسته لاس واخست او ستر دولتي مقامونه یې خپلوانو ته ورکړل او له فوق العاده امتیازاتو یې برخمن کړل، تر دې چې ټولو مسلمانانو نیوکه پرې وکړه، د دې کړنو غبرگون نه یوازې دا چې عام ولس یې زیانمن کړ، بلکې ستر اصحاب کرام یې هم غبرگون ته اړ کړل د بېلگې په ډول: ولید بن عقبه د حضرت عثمان (رض) له لورې د کوفې والي شو او حضرت سعد بن ابي وقاص (رض) ته ورغی، نو حضرت سعد (رض)

---

[1] طبري تاریخ ۱۱۰|۵۸ مخ. مسعودی، مروج الذهب: ۳۵۱|۲ -۳۵۲ مخونه

ورته وویل: پر خدای نه پوهېږم، چې ته له موږه ګټه وړې یا موږ تر تا روسته ناپوهه کېږو!

ولید ورته وویل: ابوسحاقه! مه خپه کېږه دا دولتي مقام دی چې څادر یې څینې ماسپښین او څینې ماښام اغوندي. حضرت سعد (رض) وویل: پر خدای قسم چې وینم پاچایې ترې جوړوئ[1].

حضرت عثمان (رض) چې پر دولتي چارو، اموي کورنۍ ګومارلې وه، نو نه یوازې له شرعي او سیاسي وړتیا برخمن وو، بلکې ټکنی شرعي مقام یې درلود، څکه جناب رسول الله صلی الله علیه و آله د معتبرو احادیثو په ترڅ کې غندلي او خلك یې د هغوی له شتونه خبر کړي وو، خو حضرت عثمان (رض) دا ټولې خبرتیاوې نالېدلې وګڼلې او له اهل بیتو سره یې خپله دښمني په ډاګه کړه[2].

مودودي وایي: د حضرت عثمان (رض) پر مهال چې کومو وګړیو ته

---

[1] ابن عبدالبر، الاستیعاب ۶۳۳/۳ مخ. اسدالغابه: ۹۱/۵ مخ، مودودي خلافت او ملوکیت.

[2] صحیح صحیح بخاري : ۵۸/۹ مخ، کتاب الفتن

دولتي مقامونه ورکړای شول، ټول ازاد کړای شوي (طلقا) وو او له «طلقا وو» مطلب هغه مکي کورنۍ دي، چې تر روستۍ شېبې یې له اسلام او سرور کاینات صلی الله علیه و آله سره دښمني وکړه او سرور کاینات صلی الله علیه و آله د مکې تر فتح روسته وبښل او په اسلام کې راننوتل. جناب امیر معاویه، ولید بن عقبه، او مروان بن حکم له هماغوی کورنیو څنې وو، چې امان یې واخیست او وبښل شول.

خو عبدالله بن ابي سرح، تر اسلام راوړو روسته، مرتد شو او له هغو وګړیو څنې و، چې د مکې په فتح کې پیغمبر امر وکړ، چې و یې وژنئ که څه هم د کعبې پر پرده یې منګولې ښخې کړې وې.

حضرت عثمان (رض) په شام کې، د جناب امیر معاویه نفوذ او قدرت پراخ کړ او نه یوازې د شام ولایت، بلکې حمص، قنسرین، فلسطین او اردون یې هم ور پرېښوول، تر دې چې پر ټولو شاماتو واکمن شو او په غښتلیو او شتمنو والیانو کې وشمېرل شو او همدا چار لامل شو، چې له حضرت علي سره وجنګېږي او په هر حال شام د عراق په څېر نه و، چې

د ډېرى اصحابو هېواد وي، بلکې د امويانو تر واکمنى لاندې و او په هر حال څوك نه و، چې په شام کې له جناب امير معاويه سره سيالي وکړي او ده هم له خلکو سره ښه جوړ جاړى کړى و او خلکو هم له جناب امير معاويه او امويانو سره ارام ژوند درلود او دا چې جناب امير معاويه خلکو ته د دنيا مخه ورپرانستې وه، نو ځکه له اسلام وړاندې او روسته ژوند ترمنځ يې څه توپير نه لېده، نو ځکه ټول يې په نزد د يوې تېرې توري په څېر و، چې دنيا يې ترې اخسته او په دې توگه د جناب امير معاويه په مشرۍ په يوه ليکه کې د حضرت علي پر وړاندې وجنگېدل.

شاميانو اموي اسلام ومانه او د اهل بيتو اسلام يې رد کړ، ځکه اموي اسلام يې دنيا او گټې خوندي ساتي، خو د اهل بيتو اسلام يې دنيا اخلي او بې ځايه گټې يې له منځه وړي او شاميانو جناب امير معاويه ومانه، ځکه هغه د روم د قيصر او دنيا پالو د ليکې ادامه وه او حضرت علي يې رد کړ، ځکه هغه د نبوت اسلام او آخرت د ليکې ادامه وه.

حضرت عثمان (رض) وايي: « که د جنت کونجيگانې مې په لاس کې

وای، نو امویانو ته مې ورکولې، چې ټول جنت ته ورننوځي[1]!!!»

سره له دې چې حضرت عثمان (رض) له خپلوانو سره دغسې مینه درلوده او د مسلمانانو له بیت الماله یې پرې لوروني کولې، دولتي مقامونه او ډېرې پیسې یې ورکړې، خو په دې حال کې په خپله همدوی وو، چې د راپرځولو هڅه یې وکړه او وژنې ته یې دسیسه جوړه کړه، نو حضرت عثمان (رض) د خپل قوم د بدۍ ځار شو.

په پایله کې د حضرت عثمان (رض) کاږه سیاستونه، ناسمې چارې، له خپلوانو سره یې افراطي مینه، د سترو اصحابو کرامو ګوښه کونه او د والیانو فسادونه یې د دې لامل شول، چې مسلمانان په تېره مدینوال، هیڅ خوا خوږي ورسره ونه لري او پر دې مهال ان یو تن یې هم ملاتړ ته را پانځي او خوشې یې کړ، چې پر خپل برخلیك اخته شي او خپل کرلي وربېي او چې قوم یې (چې دومره لورنې یې پرې کړې وې او ګټې یې پرې خوندي وې) ملاتړ ته یې هیڅ راونه خوځېد، نو پردیو به یې څرنګه

[1] ابن کثیر البدایه و انهایه: ۱۷۸۱۷ مخونه. د امام احمد حنبل مسند.

ملاتړ کړی وای؟!

ابن کثیر د حضرت عثمان (رض) پر وړاندې د اصحابو کرامو او مدینوالو منفي دریځ ته داسې مخونه ورکوي:

۱- ډېری یې، بلکې ټولو یې باور نه کاوه، چې پېښه به د خلیفه پر وژنې پای ته ورسي.

۲- اصحابو ترې سخته دفاع کوله، خو چې زور زیات شو خلیفه له خلکو وغوښتل چې خپله وسله کېدي، نو ځکه هغوی خپل چار وکړای شو او په هر حال چا نه باوروله، چې مساله به وژنې ته ورسي.

۳- دې خوارجو د حج له ورځو، له ښاره د مدینوالو له لرېوالي او له لویو ښارونو د مرستندوی ځواکونو، د نه راتلو له فرصته، ناوړه ګټه پورته کړه او هغه ناوړه چار یې وکړ.

٤- دوی خو دوه زره تنه غښتلي جنګيالي وو، چې ښايي په ټوله مدینه کې دومره غښتلي جنګيالي نه وو، ځکه جنګيالي خو ډېری په پولو کې پراته وو.

نو ځکه ډېری اصحاب په خپلو کورونو کې پاتې شول او ځانونه یې له فتنې بچ کړل او که کوم یو یې جومات ته راتله، نو توره به ورسره وه او ښایي که غوښتل یې چې یرغلگران له مدینې وباسي، وس یې نه درلود خو دا چې ځینو ویلي، چې حضرت عثمان (رض) ځینو اصحابو کرامو یرغلگرو ته تسلیم کړی او پر وژنه یې راضي او خوښ وو، نو دا خبره یوه صحابي ته هم اعتبار نه لري، ځکه ټولو پر قاتل بد ویلي، خو ځینې (لکه حضرت عمار یاسر، حضرت محمد بن ابوبکر، حضرت عمروبن حمق رضی الله عنهم او نور) لېوال وو چې حضرت عثمان (رض) دې ځان له خلافته گوښه کړي[1].

ابن کثیر چې د اموي لیکې یو فقیه دی، دا خبره یې له تناقصو او گډ وډیو ډکه ده، ځکه څنگه شونې ده، چې اصحاب او مدینوال دومره پراخ انقلاب ویني او د خلیفه د وژنې احتمال ور نه کړي؟ او بیا یې څرنگه ملاتړ ته نه راپاڅي، چې دوه زره جنگیالي ترې را تاو دی؟

---

[1] ابن کثیر البدایه والنهایه: ۱۸٦/۷ او ۱۷۸ مخونه

د ابن کثیر دا خبره له هغې بلې سره څرنګه سر خوري چې وايي: ډېری اصحاب په خپلو کورونو کې کېناستل او ځانونه یې له فتنې بچ کړل؟ او څنګه ابن کثیر نه مني، چې یو صحابي هم د خلیفه پر وژنې راضي نه و، حال دا چې د ډېرو روایاتو له مخې ځینې اصحاب د انقلاب مشران وو او مسلمانان یې د خلیفه پر ضد راپاڅول؟

او له کومه ټینګار کوي، چې حضرت عمار، حضرت محمد بن ابوبکر او حضرت عمرو بن حمق رضی الله عنهم له خپل دښمنیز دریځه لاس اخستی دی؟ او بیا حضرت جناب امیر معاویه او پوځ یې چېرې وو؟

ابن کثیر په زوره له خلیفه دفاع کوي او منکراتو ته یې مخونه ورکوي او شرعي رنګ پرې وهي او له خپلې لیکې او فقهې دفاع کوي، چې له اموي لیکې راولاړه شوې ده، نو ځکه د ابن کثیر، ذهبي، نووي، ابن تیمیه، ابن عساکر او نورو شامي فقهاوو دغسې تفکر د تعجب وړ نه دي، ځکه دوی هغه ناصبیین وو، چې په ډاګه یې د اهل بیتو له لیکې

سره دښمني کوله[1].

ابن کثیر وایي: (چې حضرت عثمان (رض) ته وویل شول: ولې دې هغه لیك وکښه؟ ترې منکر شو او مروان یې تورن کړ، چې دا ټګي یې کړې، نو ځکه یرغلګر او انقلابیان د حضرت عثمان (رض) د کور محاصرې ته راستانه شول، انقلابیانو وویل: او که تا لیکلي نه وي او ستا له خولې یې لیکلي وي او خبر ترې نه یې دا نو ستا د بېوسۍ دلیل دی، چې دغسې یو تن د خیانت یا ناوسۍ لا امله د خلافت وړ نه دی.

ابن کثیر په لمنلیك کې کښي: په هر حال دا خبره ناسمه ده؛ ځکه فرض دا چې دغسې لیك یې کښلی وي (حال دا چې په رښتیا یې لیکلی نه دی) بې ځایه چار یې کړی نه دی، ځکه په لیك کې یې د اسلامي امت مصلحت په پام کې نیولی او د دې ظالمو خارجیانو ځواك یې له منځه وړ، چې د زمانې د امام پر ضد راپاڅېدلي وو او که ترې خبر نه وه، د

[1] – ذهبي، تاریخ الاسلام. ابن تیمیه فتاوی ۱۵۲\۳ -۱۵۹ مخونه.

ناوسۍ دلیل یې نه دی، ځکه هغه خو معصوم او پاکلمنی نه و، بلکې تېروتنه او غفلت ورته روا دی، خو دا جاهلان، ظالمان دي، خیانت او تورونه تپي[1]!

ابن کثیر دومره په خپله مخونه کې وړاندې ځي، چې له نبوي احادیثو په گټنې د خلیفه بې لاریتوب سهي انځوروي. ابن کثیر پر دې باور دی چې واکمن د امت د مصلحت لپاره هر چار کړای شي او پر امت لازم ده، چې اطاعت یې وکړي، ځکه دا د پېغمبر لارښوونه ده. مانا یې داده، خلیفه چې والیانو ته د انقلابیانو د ټولوژنې امر کوي، سهي چار دی؟

او بیا په هغو توکمېزو اصطلاحاتو کې غور وکړئ، چې نه غواړي پېښه په انصاف او د واقعیت په پامنیوي کې وڅېړي؛ نو د انقلابیانو پر وړاندې ناوړه عبارات کار وي، نو ځکه یې ځان هم قاضي کړی او هم جلاد[2]!

ابن تیمیه، ذهبي، نووي، ابن خلدون، ابن حزم او نور په ټبریزې او اموي

---

[1] ابن کثیر ١٦٨|٧ -١٨٧ مخونه.

[2] ابن کثیر یو شامي فقیه دی، چې د هغوی پرپله روان دی، په تېره د ابن تیمیه.

ليکې پورې اړوند، د تاريخي پېښو په تفسير کې همدا لار نېولې ده[1].

او لکه چې له حضرت عثمان (رض) څخه يې دفاع کړې؛ نو له حضرت جناب امير معاويه، مروان او نورو امويانو يې هم دفاع کړې او چارې يې مشروع ښوولي؛ خو په عين حال کې يې د حضرت علي پر وړاندې ناوړه او کينه کښ دريځ درلود[2].

او په دې توګه د حضرت عثمان (رض) وژنه د اموي ليکې او اهل بيتو د ليکې ترمنځ د پوځي جګړې پيل و، هماغه جګړه چې د اموي ليکې پر واکمنۍ پای ته ورسېده.

ابن اثير وايي: «عبدالله بن سعد بن ابی سرح، مدينې ته د افريقا خمس (پينځه) راووړ، مروان بن حکم ترې په پينځه لکه ديناره وپېره او حضرت عثمان (رض) ورته تېر شو، چې دا پرخليفه يوه نيوکه وه. د

---

[1] ذهبي، تاريخ السلام. ابن تيميه فتاوی. نووی د صحيح مسلم شرح. ابن خلدون، تاريخ. ابن حزم، ملل او نحل.

[2] وګورئ: تېر کتابونه. ابن تيميه د حضرت علي په باب په راغليو رواياتو کې شکمني کوي. فتواوی يې وګورئ. ابن حزم په خپل کتاب المحلي ١٠\٤٨٤ مخ کې روايتوي، چې امت اجماع لري، چې ابن ملجم، حضرت علي د خپل اجتهاد له مخې وژلی دی نو څه ګناه نه لري!!!

افریقا د خمس په باب دا یو غوره څیز دی، چې ویل کېږي څکه ځینې وایي، چې دا یې عبدالله بن سعد او ځینې وایي، مروان بن حکم ته یې ورکړ، خو معلومېږي، چې د لومړی جګړې خمس یې عبدالله ته ورکړی او د دویمې یې (چې ټوله افریقا فتح شوه) مروان ته ورکړې دی[1]»

ابن سعد روایت کړی، چې خلیفه د ده خمس مروان ته ور ډالی کړ[2].

ابن کثیر او طبري ویلي: مېرمن یې نایلې ورته نصحیت کړی: «چې د مروان منې، نو د مرګ خولې ته به دې ورکړي او مروان خو د خدای پر وړاندې هیڅ ارزښت نه لري[3]».

حضرت عثمان (رض) یې نصحیت ونه مانه او مروان یې خپل منشي او استازی کړ او ده هم د خلیفه له اعتماده ناوره ګټنه وکړه او د اسلام او

---

[1] ابن اثیر، الکامل فی التاریخ: ۹۱|۳ مخ.

[2] ابن سعد، طبقات: ٦٤|۳مخ.

[3] - طبري تاریخ: ۳٦۲|٤ مخ. ابن کثیر تاریخ ۱۷۳|۷ مخ.

مسلمانانو پرخلاف يې دسيسه جوړه کړه[1].

ابوبکر بن العربي د حضرت جناب امير معاويه په باب د حضرت عثمان (رض) له دريځه داسې دفاع کوي: « حضرت جناب امير معاويه ته خو حضرت عمر (رض) ولايت ورکړ او د شاماتو واك يې ورسپاره او حضرت عثمان (رض) هم ورسره ومنله، بلکې حضرت ابوبکر (رض) دا ولايت ورکړی و، ځکه د هغه رور يزيد ته يې ولايت ورکړی و او يزيد، جناب امير معاويه خپل ځايناستی کړ، نو حضرت عمر ورسره ومنله، نو د منلو له دې کړی څرگندېږي، چې جناب امير معاويه څومره اعتبار لري او په نړی کې به ددې په څېر اعتبار نه وي[2]!!»

وليد بن عقبه ته د ولايت ورکولو په هکله وايي: «دا چې خلك نيت بدي وو، تر نېکيو وړاندې يې بديو ته مخه کړه او چې ځينې مروان او وليد فاسقان گڼي، نو دا يې پر ځان د فسق دليل دی!! مروان د اصحابو،

---

[1] طبري تاريخ: ٣٦٢|٤-٣٦٥ مخونه.

[2] العواصم من القواصم: ٩٦: مخ.

تابعینو او د مسلمانانو د فقهاوو له نظره، عادل، منصف او د امت له مشرانو دی[1]»!!!

[1] -العواصم من القواصم: ۹۹او ۱۰۲ مخونه.

## پينځم تمځی

## امام علي کرم الله وجهه

## «د انديزې جګړې پای او د پوځي جګړې پيل»

### حضرت علي (ک)

د عثمان (رض) تر وژنې روسته، خلک په بيړه په علي (ک)پسې ورغلل او ترې يې وغوښتل، چې خلافت ومني او ويې ويل: ((د خلکو چارې يوازې په حکومت سمېږي او بايد خلک يو مشر ولري او نن تر تا وړ بل څوک نه وينو، تر ټولو په دين کې وړاندې او تر ټولو رسول الله صلی الله عليه و آله ته نژدې يې))

امام د ولس پر ټينګار په دې شرط موافقه وکړه، چې بيعت به ورسره په ډاګه وي او مسلمانان دې خپله خوښي اعلان کړي او په دې توګه په نبوي جومات کې بيعت ورسره وشو[1].

---

[1] طبری تاريخ ٤/٤٢٧مخ. البداية والنهايه ٧/٢٢٥/٢٢٦مخونه. الکامل فی التاريخ ٣/١٩٠مخ.

او روايت شوی په مازې، چې امام علي خليفه شو؛ نو يو شمېر اصحاب لـه مـدينې څنـې شـام تـه وتښـتېدل، چې لـه

د امام بيعت د اسلام په تاريخ کې ړومبی ولسي ربنتونې ټاکنه وه او په دې توګه د امام دولت د امت پر اوږو ټینګ شو، چې ګټې يې خوندي او د ((محمدي اسلام)) بيرغ اوچت کړي.

دلته د قبيلوي ليکې لارويان، ګټه پالي، منافقين او امويان ورته يو لاس شول او له منځه وړو ته يې ملا وتړله او د امام دولت يې پرېښبود، چې خپل طبيعي بهير ته دوام ورکړي او ټينګښت ومومي.

د امام پر وړاندې چې کوم ځواکونه ولاړ، ول، مشري يې د اصحابو پر غاړه وه، چې د رسول اکرم صلی الله عليه و آله له وفات مخکې يې د محمدي اسلام او اهلبيتو په باب مشخص دريځ درلود او له وفات روسته يې دا دريځ، پوره څرګند شو او همداسې پر وړاندې روان و،

---

علي(ک) سره بيعت ونه کړي او په نه بيعت کوونکيو کې ((قدامة بن مظعون، عبدالله بن سلام او مغيره بن شعبه)) وو ابن کثير (البدية والنهايه ۲۲۶/۷مخ ) وايي: مروان بن حکم، وليد بن عقبه او نور شام تـه ولاړل او ګـردو انصـارو بيعـت وکړ؛ خو بې له دې اوو تنو (عبدالله بن عمر، سعد بن ابی وقاص، صهيب، زيد بن ثابت، محمد بـن ابی سـلمه، مسـلمة بن سلامة اواسامه بن زيد رضي الله عنهم ).

تردې چې د امام په زمانه کې لوړې څوکې ته ورسېد او امام يې پر وړاندې ودرېد.

له محمدي اسلام سره مخالفو ځواکونو، د رسول اکرم تر وفات روسته، ددې اسلام د نښو د منځه وړو، د اهل بيتو د محاصرې او له ولسي پرګنيو څخه د امام علي د لرې ساتلو لپاره پرله پسې هڅې وکړې او چې څنګه علي (ک) خليفه شو، نو په واقع کې پر دوی سخت ګوذار او د نقشو يې درې وړې کېدل و.

نو د امام د واکمنۍ د ځپلو لپاره يې، بې له پوځي مقابلې بله څه چاره نه درلوده !

او په دې توګه امام علي پوځي پړاو ته ورننووت او له لاندې درې ډلو سره پر جګړې لګيا شو:

لومړی د اصحابو د مشرانو او د پيغمبر د مېرمنې په قومندانۍ له ځواکونو (ناکثينو) سره،

بيا د امويانو په قومندانۍ له ځواکونو (قاسطينو) سره

او په پای کې د خوارجو په قومندانۍ، له جنګیالیو (مارقینو) سره.

په حقیقت کې دا درې څواکونه په امت کې روزل شوې لیکې وې او له دوی نه د محمدي اسلام او د اهلبیتو د لیکې مخالفې ټلوالې وزیږېدې، چې په پایله کې یې اموي اسلام پیاوړی کړ.

البته له دې څواکونو سره د امام جګړه، د حکومت د ټینګښت او ساتنې لپاره نه وه، دا علت، د جګړې حقیقت نه منعکسوي؛ بلکې یو ظاهري سبب دی، او چې څوک د محمدي اسلام او اموي اسلام پر حقیقت ونه پوهېږي؛ نو دا د امام د جګړې پایله بولي.

بېشکه پرمحمدي اسلام پوهېدنه، موږ د اموي اسلام پوهېدو ته ورنژدې کوي او په پایله کې ددی جګړې پر حقیقت مو پوهوي او د محمدي اسلام حقیقت هله شونې دی، چې موږ د امام علي شخصیت، ونډه او مقام وپېژنو.

## د امام شخصيت

### د امام علي د شخصيت لپاره څو آريزې نښې شته

### لومړی نښه: امام يو رباني شخصيت و

امام علي، دا ستر شخصيت، رسول اکرم صلی الله عليه و آله روزلی و. د امام له روزنې څخه نيولې تر زومتوبه يې، دده د غوره ګڼلو پر مانا دی؛ نو څرنګه چې خدای، خپل پيغمبرغوره کړ، سکه چې امام علي يې هم غوره کړ.

او د خدای او رسول الله له لوري، دا غوره کېدنه خوشې نه وه؛ بلکې په راتلونکې کې يې اړخونه درلودل، لکه چې له رسول الله صلی الله عليه و آله څخه په راغليو رواياتو کې، دې مسالی ته اشاره شوې ده:

((أنت منّي بمنزلة هارون من موسی إلاّ إنّه لا نبيّ بعدي. علي ! ته راته داسې يې لکه هارون (ع)، چې موسی (ع) ته وه؛ خو بې له دې، چې ترما روسته بل پيغمبر نشته[1]))

---

[1] صحيح بخاري ٢٤/٥مخ فضائل الصحابه، باب فضائل علي. ترمذي ٦٤١/٥ مخ ٣٧٣٠-او٣٧٣١ګڼې احاديث. صحيح

((علي له ما ځنې دی او زه له ده نه یم [1]))

((مَنْ كُنْتُ مَوْلاهُ، فَهذا عَلِيٌّ مَوْلاهُ - د چا چې زه سرور او مولا یم؛ نو علي یې مولا دی[2]))

((لا يُحِبُّكَ إلاّ مؤمنٌ، و لا يُبغِضُكَ إلاّ منافقٌ: علي ! یوازې د مؤمن به ښه ایسې او د منافق به بد[3]))

((بې دعلي له وره؛ نور د جومات ټول وروته وتړئ[4]))

او په ځېر یې ډېر احادیث دي، چې دا یې د راوړو ځای نه دی او د خپلې خبرې د استدلال لپاره پر همدې بسیایینه کوو.

د امام علي د رباني شخصیت لپاره همدا بس دی، چې خدای تعالی وایي:

---

مسلم۱۸۷۰/٤مخ، ۳۰-او ۳۱ ګڼې احادیث.

[1] صحیح بخاري ۲۲/۵مخ، باب فضایل علي

[2] امام محمد حنبل ۸٤/۱مخ

[3] صحیح مسلم۸٦/۱مخ، ۱۳۱ ګڼه حدیث، کتاب الایمان

[4] ترمذي٦٤۱/۵مخ، ۳۷۳۲ ګڼه حدیث، کتاب المناقب. امام احمد حنبل مسند۳٦۹/٤مخ. فتح الباري ۱۲/۷مخ

احزاب: ۳۳آیت: ((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً: بېشکه الله يوازې غواړي چې له تاسې نبوي کورنۍ پليتي او گناه لرې کړي او بشپړ مو سپېڅلي کړي)) [1]

دويمه نښه: چې څوک رسول الله صلی الله عليه و آله روزلی وي؛ نو بايد له پوهې يې برخمن وي، اوس چې پېغمبر دا ځانگړنه ورکړې؛ نو بېشکه، چې د پوهې په وسله يې سمبالوي، چې خپله ونډه ښه ترسره کړای شي.

او په حقيقت کې امام علي په خپلې پوهې او فقهې پر ټولو اصحابو اوچت او غوره و او يو هم ورته رسېدای نشو او ان حضرت عمر (رض)، يې پر پوهې گواهي ورکوي او په بېلابېلو ځايونو کې يې د حضرت علي پرعلمي اوچتوالي اعتراف کړی دی. [2]

په دې باب له رسول الله صلی الله عليه و آله احاديث روايت شوي دي:

---

[1] صحيح مسلم ۱۸۸۳/۷مخ، ٦١ گڼه حديث، کتاب فضائل العمابه، مناقب علي وآل البيت.

[2] ابن سعد طبقات ۳۳۷/۲- ۳٤٠ مخونه. ابوداود طيالسي، مسند.

((أَنَا مَدِينَةُ الْعِلْمِ وَ عَلِيٌّ بَابُهَا؛ زه دپوهې ښار او علي يې ور دی[1]))

((علي د خدای پر کتاب خورا پوه دی[2]))

((چې څوک په پوهې کې آدم ته گوري؛ نو علي ته دې وگوري[3]))

((تر ما روسته، علي مې د امت خورا پوه دی[4]))

((علي، ستاسې خورا غوره قاضي دی[5]))

اصحابو د حضرت علي د پوهې گواهي ورکړې، چې یو یې حضرت عمر (رض) دی، چې وايي: ((په هغه ستونزه کې خدای ته پناه وړم، چې ابوالحسن نه وي (چې گټنه ترې وکړم [6]))

امام علي د ځان په هکله وايي: ((د خدای د کتاب په اړه راځخه پوښتنه

---

[1] په ترمذي کې راغلي: ((زه د حکمت کور یم او علي یې وردی)). حاکم، متدرک ۱۲۷/۳مخ. خوارزمي مناقب ۸۲مخ، ٦۹ گڼه حدیث. اسد الغابه ۲۲/٤مخ. بغداد تاريخ ۱۷۳/۷مخ. البداية و النهايه ۳٥۸/۷مخ.

[2] خوارزمي مناقب، ۹۱ مخ، ۸٤ گڼه حديث.

[3] البدايه والنهايه ۳٥٦/۷مخ. خوارزمي مناقب ۸۳ مخ، ۷۰ گڼه حديث.

[4] خوارزمي مناقب ۸۲مخ، ٦۷گڼه حديث. صحيح مسلم.

[5] خوارزمي مناقب ۸۱مخ، ٦٦ گڼه حديث. الا ستيعاب ۱۱۰۲/۳مخ.

[6] ابن سعد طبقات ۳۳۹/۲مخ. الاصابه فی تمییزالصحابه ٥۰۹/۲مخ خوارزمي مناقب ۹٦، ۹۷ گڼه حديث. اسد الغابه ۲۳/٤مخ. صواعق المحرقه ۱۲۷مخ

وکړئ، پرخدای پر هر آیت پوهېږم، چې د شپې نازل شوی یا د ورځې، په بېدیا کې یا په غره کې... پرخدای هر آیت چې نازل شوی، پوهېږم، چې ولې نازل شوی او چېرې نازل شوی او پر چا نازل شوی دی، سکه چې خدای راته پوه زړه او ځواکمنه ژبه راکړې ده[1]))

داروایات ښیي، چې امام ځانګړې پوه لري، چې له رسول الله صلی الله علیه و آله یې په میراث وړې او له مخې یې له پېښو سره مخامخېده؛ نو امام نه یوازېنی داسې مشر و، چې په سخته زمانه کې راپیدا او په خپله پوهه یې شته ستونزې هوارې کړې او بس. اوحضرت علي نه یوازې داسې یو واکمن و، چې د ولس د یوې سرغړاندې ډلې پر وړاندې ودرېد او ویې ځپله، او هغه د نورو اصحابو کرامو په څېر، یو صحابي نه دی، چې اهل سنت یې انځوروي.

امام یوه ځانګړې بېلګه وه، چې ځانګړې روزنه یې درلوده او ډېره پوهه ورکړای شوې او ځانګړې ونده ورسپارل شوې وه.

[1] مناقب خوارزمي ۹٤ مخ، ۹۲ ګڼه حدیث او ۹۰ مخ، ۸۱-او۸۲ ګڼې احادیث

او ښايي د حضرت علي په باب د رسول الله صلی الله علیه و آله دا خبره [((ځينې مو د قرآن د تاويل لپاره جنګېږي، لکه چې ما يې د تنزيل لپاره جګړه وکړه[1])) اوهغه علی دی، چې د روايت له مخې خپله څپلی ګنډي] ټينګار کوي، چې حضرت علي ځانګړې پوهه

لري؛ نو لکه چې څنګه رسول الله صلی الله علیه و آله له مشرکانو سره د پوهې له مخې جنګېده، حضرت علي هم له مسلمانانو سره د پوهې له مخې جګړه کوله؛ بلکې له مسلمانانو سره جګړه، له مشرکينو سره تر جګړې خورا پوهې ته اړتيا لري.

نو دا چې حضرت علي د رسول الله صلی الله علیه و آله له مېرمنې ام المؤمنين عايشې (رض) سره جنګېږي، ښکاره ده، چې د ځانګړې پوهې له مخې جنګېږي.

او له جناب امير معاويه، عمر وبن عاص، مغيره او نورو سره يې جګړه، هرومرو د همدې پوهې له مخې ده او د خوراجو (چې يو وخت يې

---

[1] امام احمد حنبل مسند۳/۳۱/۳۳/او ۸۲ مخونه

لارویان وو) پر وړاندې یې دربدل هرومرو د همدې ځانګړې پوهې له امله و.

امام علي د رسول اکرم صلی الله علیه و آله تر وفات روسته، د مشرکانو پر وړاندې توره راپورته نه کړه؛ بلکې یوازې د اهل قبله وو پر وړاندې وجنګېد او دا چار یو مهمې نښې ته اشاره کوي، چې حضرت علي ته ددغسې یوې پوهې امتیاز ورکړی شوی دی.

او په حقیقت کې، سرور کاینات صلی الله علیه و آله د عایشې (رض) له پاڅونه او له حضرت علي سره له جګړې یې خبر کړی و[1].

او د بني امیه وو له راڅرګندېدو او له حضرت علي سره یې له جګړې

---

[1] رسول اکرم خبر ورکړی و، چې علي د خدای په لار کې له قریشوسره جګړه کوي.

وګورئ: ترمذي ٦٣٤/٥ مخ، ٣٧١٥ګڼه حدیث. فضایل احمد ١١٠٥/٢٦٤٩ګڼه حدیث.

روایت شوی، چې رسول اکرم (ص) عایشه بي بي خبره کړې وه، چې هسې نه د علي پر ضد راپاڅې. وګورئ: ابن حجرهیثمي، الصواعق المحرقه، ١١٩مخ. ابن سعد طبقات او پیغمبر(ص) ویلي، چې عمار به د باغي ډلې له لاسه وژل کیږي (یعنې د معاویه د ډلې لخوا).

وګورئ: صحیح مسلم ٢٢٣٦/٤مخ، ٧٢-او ٧٣ ګڼې احادیث. ابن سعد طبقات ٢٤٨/٣-او٢٥٣مخونه. حاکم مستدرک ١٤٨/٢ مخ.

خبر ورکړی و[1].

او (همداراز) د خوارجو له راښکاره کېدو او له حضرت علي سره يې د جنګېدو خبر ورکړی و [2].

او دا غيبي خبر، چې يوازې په امام علي پورې اړوند دی، نه په نورو اصحابو پورې، راښيي، چې يوازې حضرت علي له ځانګړې پوهې برخمن و.

دريېمه نښه: دې ځانګړنو امام، پېغمبر ډوله مشرکړی و، هغه په تاريخ کې د نورو راپيدا شويو مشرانو په څېر نه دی، پېغمبر ډوله مشري د امام علي ځانګړنه ده، چې تر پېغمبر روسته، راغلې تشه ډکه کړي.

له امام سره د پېغمبرصلی الله عليه و آله له چلن او د اړيکو له څېړنې يې دا ځانګړنه پوره څرګندېږي.

ابن عباس (رض) روايتوي: ((علي لا تر شل کلنی اوختی نه و، چې

[1] صحيح بخاري ، کتاب الفتن ۹: ٦۰مخ.

[2] صحيح مسلم، ۷٤٥/۲، ۱٥۰ –او ۱٥۲ ګڼې احاديث، کتاب الزکاة، باب ذکرالخوارج.

پیغمبرصلی الله علیه و آله ببرغ ورکړ[1]))

رسول اکرم صلی الله علیه و آله د خیبر پر ورځ وویل: ((سبا بیرغ داسې سړي ته ورکوم، چې خدای به یې له لاسه بریا پر برخه کړي، خدای او رسول یې ښه ایسي او دا هم د خدای او رسول یې ښه ایسي))

پر سبا یې پیغمبرصلی الله علیه و آله علي راوغوښت او بیرغ یې ورکړ.[2]

اصحابو کرامو رضی الله عنهم په تکرار سره ویل: ((توره خو یوازې ذوالفقار ده او ځوانمرد خو یوازې علي دی))، هغه و، چې د خندق پر ورځ یې د عربو مشهور او نامي پهلوان وواژه او مشرکان یې خړ سترګي کړل[3].

البته د امام علي مړانه استدلال ته اړتیا نه لري؛ ځکه سیرت یې د سرور کاینات صلی الله علیه و آله په زمانه کې پرې ګواهي ورکوي.

پیغمبر صلی الله علیه و آله پکې مړانه او شهامت کوت، چې د هجرت

---

[1] المعجم الکبیر ۶۴/۱مخ، ۱۷۴ګڼه حدیث

[2] صحیح بخاري ۶۵/۴مخ باب فضائل علي. مسلم ۱۸۷۲/۴مخ، ۳۵ګڼه حدیث

[3] امام احمد مسند ۵: ۳۵۸ مخ

پر شپه يې پرخپل ځايه ويده کړی او داسې يې روزلی و، چې پياوړی بولندوی او نه ستړی کېدونی مشر وي او تر پيغمبرصلی الله عليه و آله روسته، داسلام وياړلی بيرغ اوچت کړي. د تاريخ کتابونو روايت کړی، چې حضرت علي د بدر پر ورځ او په ټولو غزاګانو کې د پيغمبرصلی الله عليه و آله بيرغچي و [1].

په حجة الوداع کې، د مسلمانانو په ستره غونډه کې، د رسول اکرم شاهدي دا ځانګړنه ثبت کړې ده او د حضرت علي ونډه را پر ډاګه کوي.

او بيا جوتوي، چې د امام ونډه مشروعيت لري او راتلونکې ګامونه او دريځونه يې پوره د شرعي کچو او محمدي اسلام له مخې دي.

روايت شوی چې امام علي، خلک ګواهۍ ته راغوښتي وو او ورته يې وويل: ((چا چې دغدير ورځ د رسول اکرم صلی الله عليه و آله هغه خبره اورېدلي وي؛ نو راولاړ دې شي او ګواهي دې ورکړي. دولسو تنو

[1] ابن سعد طبقات ۱۰۶/۲مخ. طبري تاريخ ۴۳۱/۲مخ. رياض النضره ۱۵۶/۳مخ

بدريانو شاهدي ورکړه، چې د غدير پر ورځ يې اورېدلي، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله خلکو ته وويل: ايا خدای او رسول يې پر مؤمنانو تر ځانونو خورا وړ نه دي؟ وويل شول: بلې ! ويې ويل: خدايه ! شاهد اوسه، د چا، چې زه مولا يم؛ نو علي يې مولا دی. خدايه ! د دوست يې دوست او د دښمن يې دښمن اوسه[1])).

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وويل: هن، خلکو ! زه بشر يم، زما د پالونکي پيغام رسان راځي او د خدای بلنه منم، سکه چې په تاسې کې دوه گرانبيه ځېزونه پرېږدم: لومړی د خدای کتاب، چې هدايت او رڼا پکې ده؛ نو زده يې کړئ او منگولې پرې ښخې کړئ او همداراز پيغمبر خلک د خدای کتاب ته هڅول، بيايې وويل: او اهل بيت مې[2]))

د خم غدير د مکې او مدينې ترمنځ په يو ناو کې د يو ځای نوم دی، چې اوبه لري. پيغمبرصلی الله علیه و آله له حجة الوداع څخه په را

[1] احمد، مسند ١/١١٨مخ.

[2] مسلم، ٤/١٨٧٣مخ، ٣٦گڼه حديث.

ستنېدا کې پکې تم شو او اوږده وینا یې وکړه، چې یوه برخه یې په امام علي او اهل بیتو پورې اړوند ده او اهل بیت دا دي: علي، فاطمه، حسن او حسین (علیهم السلام).

او دا چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله په حجة الوداع کې د حضرت علي او اهل بیتو سپارښتنه کوي، امت پوهوي، چې لازم دي محمدي اسلام ته ژمن اوسي او په رښتیا تر پېغمبرصلی الله علیه و آله روسته، حضرت علي به ددې اسلام بېلګه وي او خلک خبروي، چې له دې اسلامه لرې نشي او له علي او اهل بیتو جلا نشي.

پېغمبرصلی الله علیه و آله په امت کې قرآن پرېښود؛ خو په اهل بیتو پورې یې اړوندو ګاڼه؛ نو چې څوک کتاب الله ته ژمن وي، باید اهل بیتو ته هم ژمن وي او څوک چې له قرآنه لرې شي له اهل بیتو لرې شوی دی.

له امام سره د کتاب الله تړاو ورکونه، د امام ټولو ګامونو ته مشروعیت وربښي او څرګندېږي، چې امام د خدای له لوري غوره شوی، چې د

کتاب الله مفسر او ویاند وي.

له دې معلومېږي، چې د امام شخصیت او مقام له نورو سره د پرتلنې وړ نه دی.

او چې څوک له دې لیده هاخوا، د امام د حرکت په پوهېدو کې هڅه کوي، دهغه ټکر پرحقیقت پوهېدای نشي، چې د ده اوقبیلوي لیکې ترمنځ راغی، هغه قبیلوي لیکه، چې مشران یې حضرات ابوبکر، عمر او عثمان (رضی الله عنهم) وو، چې روسته دا ټکر له عایشې ام المؤمنین، طلحه او زبیر (رضی الله عنهم)، خوارجو او په پای کې د جناب امیر معاویه په مشرۍ له امویانو سره وشو.

البته د امویانو د ستر ښوونې او د امام د سپکاوۍ او له جناب امیر معاویه سره دهغه د یو شان ګڼلو هڅې، نه یوازې دا چې د امام او دښمنانو ترمنځ یې د ټکر د حقیقت د نالیدلو لامل کیږي، بلکې د نبوي اسلام حقیقت هم پټوي! هماغه اسلام، چې تر رسول الله صلی الله علیه و آله په خپله په امام علي کې انځور شوی. او ددې هڅو پایله داده، چې

قبيلوي اسلام؛ يعنې اموي اسلام ځای ونيسي پرمخ ولاړ شي او محمدي اسلام ته شا شي[1].

هو، دا هماغه پايله وه چې امت، د صفين تر پېښې او د محمدي اسلام تر ځنډه ته کېدنې او د امويانو په لاس د قبيلوي اسلام تر ټينګښت روسته، پرې اخته شو.

او متاسفانه دا هماغه اسلام دی، چې اهل سنت پرې عقيده لري او ورو ورو دغالب دين په بڼه شوی؛ ځکه حکومتونه يې د امويانو له وخت څخه نيولې تر نن پورې تبليغوي او ملاتړ يې کوي.

---

[1] روايت شوی، چې عبدالله بن حنبل (ره) وويل: پلار مې وپوښت: دعلي او معاويه په باب څه وايې؟ سر يې ښکته واچو او ويې ويل: پوه شه، چې علي ډېر دښمنان درلودل؛ خو چې ځومره يې هڅه وکړه، څه خو يې په علي کې ونه مونده په پايله کې يې د خپلې کينې له امله هغه ته مخ کړه، چې له علی سره جنګېدلی و؛ نو ويې ستايه.

ابن حجر په دې هکله وايي: ابن حنبل(رح) د معاويه په باب جوړ کړای شويو فضايلو ته اشاره لري، چې هيڅ اصل او بنسټ نه لري (فتح الباري ۸۳/۷مخ)

## د امام لارويان

پلټونکی چې د پیغمبرصلی الله علیه و آله سیرت څېړي؛ نو مومي، چې څو تنه اصحاب کرام، د امام علي ځانګړي لارويان وو، او لکه چې څنګه رسول الله صلی الله علیه و آله حضرت علي تزکیه کړی و او پرځانګړتیا ورته قایل و، دا شمېراصحاب کرام یې هم تزکیه کړي وو.

او دا چې د امام په باب یې د رسول اکرم صلی الله علیه و آله له خولې ډېر روایات اورېدلي وو، دې مؤمنانو په اخلاص یې لاروی ته ملا تړلې وه؛ ځکه لاروي یې د رسول الله صلی الله علیه و آله لاروي ده او له حضرت علي سره دوستي، د ایمان او دښمني ورسره د نفاق نښه ده او قرآن همېش له حضرت علي سره او حضرت علي له قرآن سره دی؛ نو ځکه د امام علي ولایت، یوه شرعي مساله، یو عقیدتي او ایماني فرض ګڼل کیږي[1].

[1] ((علي مع القرآن)) حدیث وګورئ: حاکم، مستدرک ۱۲٤/۳مخ. معجم الا وسط ٤٥٥/٥مخ، ٤۸۷۷ګڼه حدیث.

هغه شمېر اصحاب کرام (رضی الله عنهم) چې د رسول الله صلی الله علیه و آله پرمهال او روسته ترې د امام ملگري وو دا دي.

(۱) حضرت ابوذر غفاري (رض).

(۲) حضرت عمار بن یاسر (رض).

(۳) حضرت بلال بن ابی رباح (رض).

(٤) حضرت مقداد بن اسود کندي (رض).

(۵) حضرت حذیفه بن یمان (رض).

(٦) حضرت جابر بن عبدالله انصاري (رض).

(۷) حضرت خبان بن ارت (رض).

(۸) حضرت سلمان فارسي (رض).

(۹) حضرت حجر بن عدی (رض).

(۱۰) حضرت حسان بن ثابت (رض).

---

سیوطي تاریخ الخلفاء۱۷۳مخ.

(١١) حضرت ابوسعيد خدري (رض).

(١٢) حضرت عبدالله بن عباس (رض).

(١٣) حضرت عباس بن عبدالمطلب (رض).

(١٤) حضرت ابو ايواب انصاري (رض).

(١٥) حضرت خزيمه ذی الشهادتين (رض).

(١٦) حضرت ابن بن كعب (رض).

(١٧) حضرت سهل بن حنيف (رض).

(١٨) حضرت قيس بن سعد بن عباده (رض).

(١٩) حضرت برا بن مالک (رض).

(٢٠) حضرت عثمان بن الاحنف (رض).

(٢١) حضرت خالد بن سعيد بن عاص (رض).

(٢٢) حضرت هند بن ابی هاله (رض).

(٢٣) حضرت ابوالطفيل عامر بن وائله (رض).

(٢٤) حضرت انس بن حدث بن نبيه (رض).

(۲۵) حضرت جعده بن هبیره مخزومي (رض).

(۲٦) حضرت ابو التیهان (رض).

(۲۷) حضرت رفاعة بن مالک النصاري (رض)[1]

د اصحابوکرامو دا بېلګې، ځانګړې مقام لري، چې که د جناب امیر معاویه له لارویانو سره یې پرتله کړئ؛ نو له ځمکې تر اسمانه یې توپیر دی.

له حضرت علي سره دا ژمن او متعهد اصحاب کرام د رسول اکرم صلی الله علیه و آله نږه اصحاب دي، چې پیغمبر ترې راضي له نړۍ ولاړ.

دوی نه یوازې له جناب امیر معاویه سره د امام علي په جګړه کې د امام ملګري وو؛ بلکې د رسول اکرم صلی الله علیه و آله تر وفات روسته هم د قبیلوي لیکې پر وړاندې له امام سره ودرېدل، همداراز د حضرت عثمان (رض)، ام المؤمنین عایشې (رض) او خوارجو پر وړاندې یې مقاومت وکړ.

---

[1] ژوند لیک یې وګورئ: ابن حجر، الاصابه. ابن اثیر، اسد الغابه.

خو کوم اصحاب، چې په جناب امیر معاویه پسې ولاړل، په اړه یې خورا پوښتنیزې نښې دي او په تاریخ کې داسې څه نه لیدل کیږي، چې ډاډ پرې وشي.

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وایي: خدای امر راته کړی، چې څلور تنه دوستان وګڼم او خبر کړی یې یم، چې هغوی هم هغه دوست ګڼي. وویل شول: رسول الله ! نومونه یې واخلئ، ویې ویل: یو یې علي دی. دا جمله یې درې ځل وویله. او همداراز: ابوذر، مقداد او سلمان (رضی الله عنهم )[1]

هو! دا ټول د رسول اکرم صلی الله علیه و آله، خواص، خپلوان او غوره کړای شوي وو، چې په تاریخ کې ځانګړی مقام لري؛ ځکه:

حضرت بلال (رض): د پیغمبرصلی الله علیه و آله مؤذن

حضرت حذیفه (رض): راز ساتی یا یې د امنیت رئیس،

---

[1] ترمذي ٦٣٦/٥مخ، ٣٧١٨مخ ګڼه حدیث کتاب المناقب. ابن ماجه، سنن ١٤٩/٥٣/١١ګڼه حدیث. امام احمد مسند٣٥١/٥مخ.

حضرت ابي بن کعب (رض): د قرآن له قاریانو څخه،

حضرت عبدالله بن عباس (رض): د امت پوه،

حضرت عمار بن یاسر (رض): د دوو شهیدانو زوی،

حضرت خزیمه (رض): ذوالشهادتین

حضرت حسان بن ثابت (رض): د رسول الله شاعر و؛ خو په قبلیوي یا اموي لیکه کې، څوک د دوې مقام ته نه رسي.

## د جناب امیر معاویه بن ابوسفیان شخصیت

جناب امیر معاویه له طلقا یا ازاد کړای شویوڅنې و، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله د مکې تر فتحې روسته ازاد کړل، دا او پلار یې د حضرت عمر(رض) تر زمانې د ((مولفة قلوبهم)) برخه وه، چې حضرت عمر(رض) دا برخه ترې لرې کړه او دا او پلار یې د مسلمانانو درجې ته پورته کړل.

خو تاریخي او نبوي نصوص بیخي څه ټینګار نه لري، چې دا دواړه دې داسلام کړی ته ننووتي وي او داسې کړه وړه ترې شوي نه دي، چې د کفر اشتباه ترې لرې کړي؛ خو د اهل سنتو فقها ددې پرځای چې په دې اړه بحث وکړي، د جناب امیر معاویه په مشری یې د امویانو د ملاتړ لپاره بډې راوهلي او مشروعیت یې ورکړی او ان یو یې هم چمتو نه شو، چې په هغو روایاتو کې شکمن شي، چې د جناب امیر معاویه بن ابوسفیان د تاریخ له څېړنې معلومېږي، چې په اسلامي چاپېریال کې

داسې څه نه موندل کیږي، چې دده د پت لامل شي.

نه یې مېړانه درلوده اونه تورن و.

نه یې پوهه درلوده اونه څه ځانګړنه.

او نه د پیغمبر ملګرى و او نه د اصحابو کرامو له ډلې څخه.

نو له کومه یې دا دومره فضایل ورته تو ږلي؟!

څرنګه اهل سنت یې له امام علي سره، مساوي بولي ؟!

د جناب امیر معاویه د شخصیت مهمې نښې:

په جناب امیر معاویه کې د دنیا پالو مهمې نښې، لکه چل ول، ټګي برګي، دوکه او خیانت و او که د عمروبن عاص او حضرت ابوهریره په څیر ملګري یې نه درلودل؛ نو واکمن کېداى نه شو اوڅه نوم ترې نه پاتې کېده !

عمرو بن عاص نقشې او دسیسې ورته جوړولې او حضرت ابوهریره ورته د سرور کاینات صلی الله علیه و آله له خوله روایات جوړول او په پایله کې پیښې یې پر ګټه شوې او لار یې ورته پرانسته، چې پر

مسلمانانو برلاس شي، که نه پوتی هومره ارزښت يې نه درلود.

بې توپيرو يې ملاتړ وکړ.

د امام علي دښمنان يې په خدمت کې وو.

د امام علي له قاتلانو سره يې مرسته وکړه.

د امام حسن څنډې ته کوونکي يې مرستندويان شول.

اوهغې ښځې، چې امام حسن يې شهيد کړ، لاسنيوی يې وکړ.

ابن حجر وايي: جناب امير معاويه په ((منی)) کې وړوکی و، چې له خپلې مور سره روان و، ناڅاپه يې پښه وښويېده. مور يې وويل: پاڅه ! خدای دې مه پاڅوه ! هلته يو بېدياني ورته وويل: ولې دغسې ورته وايې. پر خدای قسم وينم، چې پرخپل قوم به مشري او سيادت کوي. مور يې وويل: خدای دې يې نه پاڅوي که يوازې پرخپل قوم مشري کوي[1]))

[1] ترمذي ٦٣٦/٥مخ، ٣٧١٨مخ گڼه حديث کتاب المناقب. ابن ماجه، سنن ١٤٩/٥٣/١١گڼه حديث. امام احمد مسند٣٥١/٥مخ

ابن عباس (رض) روایتوي: ((د جناب امیر معاویه په څېر مې بل څوک پاچاهۍ ته وړ لیدلی نه دی[1]))

او د رسول اکرم له خولې یې روایت کړي، چې جناب امیر معاویه ته یې ویلي: ((جناب امیر معاویه ! که کوم چار دروسپارل شو؛ نوالهي تقوا ولره او پرعدالت وچلېږه.)) جناب امیر معاویه وایي: له دې خبرې همداسې په فکرکې وم، چې هرومرو ریاست رارسي.[2]

## د جناب امیر معاویه لارویان

جناب امیر معاویه ته په اسلام کې هیڅ ارزښت او شخصیت نه و، نه د علم سړی و او نه د دین؛ بلکې ځانمنی او ریاست غوښتونکی و او ملګري یې هم دنیاپال وو، نه دین غوښتونکي.

---

[1] ابن حجر، الاصابه، ۴۳۳/۳مخ. داسې روایات اهل سنت هم چندان نه مني او په هرحال دمعاویه پکې د فضیلت څه یادونه شوې نه ده؛ لکه چې د صحیح بخاري استاد؛ اسحاق بن راهویه (ره) ویلي دي؛ خو دې قوم دا روایات د معاویه د کړنو د مخونې لپاره جوړکړي دي، چې واکمني یې مشروع وښيي!!

[2] تېره سرچینه

خلک يې ځان ته په مال، مقام او تبليغاتو راجذبول، او دې خلکو به په بېلاري کوونکيو تبليغاتو او ډنډورو دده باطل پټول اوفضايل يې ور ته تورل.

خپل ملګري يې په پيسو او مقام جذب کړل او په تبليغاتو يې تابعين او نا اشنايان. او دواړو ډلو له جناب امير معاويه سره يو برخليکېزه اړيکه ده؛ ځکه پوهېدل، که جناب امير معاويه پرېږدي؛ نو مقابل لورى (چې حضرت علي و) څه نه ورکوي.

د جناب امير معاويه بن ابوسفيان خورامهم ملګري دا وو:

١- عمروبن عاص.

٢- مغيره بن شعبه.

٣- ابوموسى اشعري.

٤- مروان بن حکم.

٥ـ ابوهريره.

دې وګړيو ننګين تاريخ درلود او په اسلام کې يې څه ارزښت او مقام نه

درلود او د رسول الله صلی الله علیه و آله په زمانه کې ټولو ترې کرکه درلوده[1].

خو د ځان ښه ښودلو لپاره یې د رسول الله صلی الله علیه و آله له خولې ډېر روایات جوړ کړل او په مسلمانانو کې یې پراخ تبلیغات وکړل. دې ساختګي روایاتو، دوی ښه اوایمانوال ښودل او مقابل لوری یې دوکه کاوه او په دې توګه یې ډېری تابعین خپل ملګري کړل.

نو ځکه جناب امیر معاویه د عمروبن عاص او ابوهریره په ملګرتوب، په خپله ګټه پراخ ایتلاف او ټلواله جوړه کړه او مسلمانان یې په چل د اهل بیتو له لیکې لرې کړل.

البته هغه شمېراصحاب، چې بې توپیره او د حضرت علي او جناب امیر معاویه په ټکر کې بې پرې وو، جناب امیر معاویه ته ښه ملاتړي او پر امام سخت ګوذار وشمېرل شو؛ ځکه په دې جګړه کې یې ډېری مسلمانان شکمنول، چې بېشکه دا چار د جناب امیر معاویه پر ګټه و.

---

[1] صالح الوردانی، الخدعه یا یې فارسي ژباړه: ((فریب))

بې طرفه یا ناپېیلي مشران دا وو: عبدالله بن عمر، سعد بن ابی وقاص، محمد بن مسلمه (رضی الله عنهم).

سمه نه ده، چې وګڼو، ابن عمر (رض) او نور ناپېیلي، د چار پرحقیقت نه پوهېدل او که ویې منو؛ نو دا خو بیخي نه منو، چې د ابوهریره او ابن العاص او جناب امیر معاویه له دنڼني نیته ناخبره وو!

## مقابله (رویارویي )

## د ایمان توره د شیطان د تورې پر وړاندې

### مقابله

ځینې وګړي، چې تاریخي پېښې، له دین څخه هاخوا، یوازې په سیاسي کچو څېړي، داسې ګڼي، چې د امام علي او مقابل لوریو (عایشه ام المؤمنین، جناب امیر معاویه اوخوارج) ترمنځ مقابله د واکمنۍ تر لاسه کول و او بس.

امام د ((جماعت)) پر وړاندې راپاڅېدلی نه و؛ ځکه له آره خو دوی ډلې او ګوندونه وو، نه یو جماعت !

قوم، تورې د امام پر وړاندې را ایستلې وې؛ خو زړونه یې له نورو سره وو، نو ځکه یې له ناچارۍ خپله پلازمېنه له مدینې څنې کوفې ته ولېږدوله؛ ځکه هلته یې ډېری خلک، لارویان وو.

له دې درېیو ټلوالو سره د امام جګړه، د دین له مخې یوه عقیدتي جګړه وه؛ نه یوه سیاسي او درې بېرغونه یې درلودل:

ام المؤمنین عایشې د قبیلوي لیکې بیرغ اوچت کړی و

جناب امیر معاویه د امویانو،

او خوارجو د تکفیر بیرغ.

خو امام یې پر وړاندې د ((محمدي اسلام)) بیرغ هسک کړی و. د ویلو وړ ده، چې عایشه ام المؤمنین یا جناب امیر معاویه یا خوارج، دهغو لیکو بېلګې وې، چې اصلي موخه یې په مسلمانانو کې د ګډوډۍ او فتنې راولاړول و، او په واقع کې هغوی پردې مطلب ښه پوهېږي، چې په دې باب رارسېدلي روایات وځېړي.

له دوی سره د امام مقابله، د رسول اکرم د وفات له شېبې څخه پیل شوه او د درې ګونو خلفاوو په زمانو کې یې له فکري پلوه دوام درلود؛ خو د حضرت عثمان (رض) تر وژنې روسته یې پوځي بڼه خپله کړه؛ ځکه درې وانو ټلوالو خطر احساس کړ، چې هیڅ راتلونکې نه لري.

د حضرت عثمان (رض) واکمنۍ، ام المؤمنین عایشې یا جناب امیر معاویه ته څه زیان نه اړاوه؛ خو د امام شتون ورته سخت ګواښ و؛ ځکه

هغه د بل اسلام بیرغ اوچت کړی و، چې دهغوی اسلام یې رسوا کاوه. د حضرت عثمان (رض) واکمنۍ، جناب امیر معاویه ته هیڅ زیان نه درلود او د حضرت عثمان (رض) په شتون کې یې خپل بیرغ اوچتولای شو! یوازې فرصت ته منتظر و، چې د امام واکمنېدو دا وخت ګړندی کړ.

له خوارجو سره د اسلام مقابله، په حقیقت کې د دوی له طرز فکر (اندود) سره مبارزه وه او باید همېشه له دغسې طرزفکر سره مبارزه وشي او که امام خوارج چاڼ او له منځه بوتلل؛ نو بېشکه چې نن ورځ هم دغسې طرزتفکر یوازې د امام د لیکې په لاروۍ له منځه وړل کېدای شي.

په دې مقابله کې د امام علي موخه، په خپله د حضرت عایشې (رض) یا جناب امیر معاویه یا خوارجوله منځه وړل نه و؛ بلکې غاړه یې پرانسته، حق یې وایه او باطل یې رابرسېره کاوه او د محمدي اسلام بیرغ یې اوچت کړ.

دا د امام د وندې حقیقت و: د حق ښکاره کول. که څه هم ونکړای شي،

چې عملي يې کړي، د باطلو رابرسېرول، که څه هم و نه کړای شي، چې

را ويې پرځوي.

## د جمل جګړه

روایت شوی، چې حضرت ابوبکر(رض)، سرور کاینات صلی الله علیه و آله ته د ورننووتو اجازه وغوښته، چې دعایشې بي بي غږ یې واورېد: ((پر خدای قسم، پوه شوم، چې تر پلاره مې علي درته ګران دی[1]))

له عایشې ام المؤمنین څخه پوښتنه وشوه: ایا رسول الله صلی الله علیه و آله، څوک خپل خلیفه کړی و؟ ویې ویل: ابوبکر! وویل شو: بیا: ویې ویل: عمر، وویل شو: ورپسې؟ ویې ویل: ابوعبیده جراح[2]؟

له ړومبي روایت څخه معلومېږي، چې عایشې بي بي له امام سره کینه درلوده، علت یې دا و چې پېغمبر د عایشې بي بي د پلار پر پرتله، حضرت علي غوره ګاڼه.

دویم روایت ښیي، چې عایشې بي بي نه د حضرت عثمان (رض) خلافت مانه او نه یې د حضرت علي او د حضرت عثمان (رض) پرځای

---

[1] احمد، مسند٤/٢٧٥. ابوداود. نسایي. فتح الباري ٧/١٨مخ

[2] فتح الباري ٧/٢٤مخ. مسلم ٤/١٨٥٦مخ، ٩ ګڼه حدیث

يې د ابوعبيده (رض) نوم واخيست سره له دې، چې يو راوي يا صحابي يې نوم اخستی نه دی.

له دې دوو رواياتو معلومېږي، چې د حضرت علي پر وړاندې د عايشې ام المؤمنين دريځ څه سرسري دريځ نه و؛ لکه چې د اهل سنتو تاريخ پوهان او فقها يې، چې د ((افک)) په پېښې پورې اړوند بولي[1].

د عايشې بي بي د تېرو رواياتو په تېره د رسول الله صلی الله عليه و آله د وفات د رواياتو څېړنه، ددې دريځ جرړه راباسي[2].

د رسول اکرم صلی الله عليه و آله پر مهال دا دريځ راښکاره شو؛ څکه د حضرت علي مقام تر نورو اصحابو، ان د عايشې بي بي تر پلاره اوچت

---

[1] د اهل سنتوتاريخ پوهان له امام علي سره د ام المؤمنين عايشې دښمنی په ((افک)) پېښې پورې پـه تـړاو بـولي، چې امام، پېغمبر ته وويل: ((يا رسول الله ! ښځې خو ډېرې دي له بلې سره نکاح وکړه)) عايشـې بي بي لـه دې ورڅـې لـه امام علي سره کينه پيدا کړه. څرګند نه ده، چې پـه ((افـک)) پېښـه کـې د امـام مطلـب عايشـه بي بي وه لکـه چـې پـه تاريخي کتابونو کې روايت شوی دی.

[2] ددې کتاب لومړی باب ولولئ. په تفاسيرو کې د تحريم سورت او دحفصې بي بي اوعايشې بي بي په هکلـه د قـرآن نظر ولولئ.

و[1].

د رسول اکرم تر وفات روسته یې دا دریځ ښه پیاوړی شو؛ ځکه د خپل پلار ملاتړ ورسره و او په خپلې هیلې کې بریالی شوې وه او د حضرت علي پر ځای یې پلار خلیفه شوی و.

د خپل پلار او حضرت عمر(رض) په زمانو کې یې مقام راټیټ نشو، حال دا چې امام علي پکې یو تن عادی وګړی و! د حضرت عثمان (رض) په خلیفه کېدو سره، امویان واکمن شول او وضع واوړېده.

دوی نه یوازې له امام، ان له عایشې بي بي او نورو سره هم مخالفت کاوه، تردې، چې عایشه بي بي اړ شوه، د حضرت عثمان(رض) پر وړاندې راپاڅي او مقابله ورسره وکړي.

او چې کله مسلمانان پر حضرت عثمان (رض) راپاڅېدل او ویې واژه او له امام علي سره یې بیعت وکړ؛ نوعایشې ام المؤمنین ته دوه لارې وې: یا به حضرت علي ته غاړه ږدي، چې مانا یې د مقام له منځه تلل و، یا به

[1] د پیغمبر(ص) په زمانه کې عایشه بي بي دهغه ګوند غړې وه، چې له امام سره یې پوره دښمني کوله.

يې مقابله کوي.

عايشې بي بي دويمه لار ونيوه، د امام پر ضد راپاڅېده او د جمل جګړه يې ونښلوله، چې په پايله کې له لسو زرو ډېر مسلمانان ځار شول او عايشې بي بي هم ماته وکړه.

صحيح بخاري روايتوي، چې علي (رض)، عمار (رض) او حسن (رض) کوفې ته ولېږل، چې کوفيان يې د جمل په جګړه کې ملاتړ وکړي، عمار (رض) د وينا په ترڅ کې وويل: ((په رښتيا پوهېږو، چې عايشه په دنيا او آخرت کې د رسول اکرم مېرمن ده؛ خو خدای مو ازمېيي، چې په عايشې پسې ځئ يا په هغه پسې)) ابن حجر په دې باب وايي: له ((هغه)) د عمار مطلب، حضرت علي دی؛ ځکه بې له حضرت علي يې بل څوک په پام کې نه و، که څه هم شونې ده، چې مطلب يې ((خدای)) وي، چې وايي، خدای مو ازمېيي، چې په عايشې بي بي پسې ځئ يا په ((هغه)) پسې؛ يعنې په ((خدای)) پسې او مراد ترې په شرعي حکم پسې تلل دي، چې شرعي حکم؛ د امام اطاعت او پر ضد يې نه

راپاڅېدل دي او ښايي د خدای (ج) دې خبرې ته اشاره وي، چې: احزاب: **۳۳** آيت: ((وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ؛ يعنې (ای د پېغمبر مېرمنو) له خپلو خونو مه وځی او په خپلو کورونو کې پاتې شئ))؛ نوله همدې امله ام المؤمنين ام سلمه ويل: ((د سرور کاينات صلى الله عليه و آله د ملاقات تر ورځې (د مړينې له ورځې) به پر اوښ سپره نشم. )) او د عايشې ام المؤمنين پلمه دا وه، چې، طلحه (رض) او زبير (رض) مخوونکي (مجتهدين) وو او نيت يې سمونه او د عثمان (رض) له قاتلينو کسات اخستل و او ان د حضرت علي نظر هم دا و، چې غونډه وکړي او پر چا چې وژنه جوته شي، د وژل شوي اوليا دې، کسات ترې واخلي! [1]

د ابن حجر له دې اوږدې خبرې څرگندېږي، چې اعتراف يې کړی، چې عايشې بي بي له قرآن سره مخالفت کړی؛ ځکه له کوره وتلې؛ نو ام المؤمنين ام سلمې پر قرآني نص عمل کړی دی؛ خو ولې ابن حجر

---

[1] فتح الباري ۸۶/۷مخ.

اعتراف نه کوي، چې د ام المؤمنين عايشې پاڅېدل څومره ستر فساد راولاړ کړ او څومره خلک او د مسلمانانو شتمني يې ضايع کړه؟ څرنگه ابن حجر دا ستره تباهي ناليدلي گڼي او د يوې مخونې په پلمه يې بې گناه بولي، لکه د قوم نور مخوونکي فقها، چې د ځينو سترو اصحابو پټ ټکنی کېږي؛ نو سمدستي په ((مخونه)) او ((تاويل)) لاس پورې کوي!! ١

البته عايشې بي بي څه چاره نه درلوده، په پلمې پسې گرځېده، چې خلک د امام علي پر ضد راپاڅوي او جگړې ته يې راوبولي؛ نو ځکه يې د عثمان (رض) کسات اخېستل پلمه کړ! دا هماغه خبره وه، چې جناب امير معاويه د حضرت علي پر ضد راپورته کړې وه.

طلحه (رض) او زبير (رض) هم له امام سره بيعت مات کړ او له عايشې بي بي سره يوځای شول او ډېره يې هڅوله او ځواکونه يې ورته پياوړي کول او جناب امير معاويه هم، چې عمروبن عاص او مغيرة بن شعبه

---

١ العواصم من القواحم: ١٤٧-١٥٧مخونه. الخدعه.

ورسره یوځای شول همدا برنامه پرمخ وړه.

عایشې بي بي او جناب امیر معاویه، چې د امام علي پر ضد د عثمان (رض) د کسات اخستنې خبره پورته کړې وه؛ نو دا یو څرګند دلیل دی، چې له هغه سره یې د مقابلې لپاره هیڅ شرعي پلمه نه درلوده او بلخوا د دریځ د کمزورۍ نښه یې ده او معلومه ده، چې یوازې د فرصت په لټه کې وو، چې ناوړه ګټه ترې پورته کړي.

امام علي، د عایشې بي بي بصره مېشتو ملاتړو ته وایي: ((ای د ښځې پوځیانو او ای د څاروي (د عایشې بي بي اوښ) لارویانو!

د اوښ په غړ راپاڅېدئ او چې ووژل شو، ټول وتښتېدئ، خوی مو رینجاړه او سست ژمني یاست، دین مو دوه مخی او د ښار اوبه مو تروې، او چې څوک درکې مېشت شو؛ نو په خپله ګناه کې به راښکېل وي او چې څوک درنه راووځي، د خپل پالونکې لورونه به پرې شوي وي، لکه چې جومات مو وینم، چې په اوبو کې د بېړۍ په څېر ډوب شوی او خدای پرې له پاسه او لاندې عذاب ورلېږي او چې څوک

پکې وي ډوبېږي، د خدای په ښارونو کې ستاسې د ښار خاوره بدتره او خورا بدبويه ده، اوبو ته نژدې ده او (د رحمت) له اسمانه ډېره لرې ده او له لسو د شر نهې برخې پکې دي[1]))

## د صفين جګړه

چې امام خليفه شو، د جناب امير معاويه د لرې کېدو امر يې وکړ؛ خو جناب امير معاويه يې حکم ونه مانه او د دمشق د جومات پر منبر يې د عثمان (رض) د کميس په پورته کولو د زمانې د امام پر وړاندې خپله سرغړونه اعلان کړه او خلک يې د عثمان (رض) کسات اخستو ته راوبلل او امام علي او لارويان يې د عثمان (رض) پر وژنې تورن کړل.

تاريخپوهان، امام ملامتوي، چې ولې يې مازې په خليفه کېدو جناب امير معاويه لرې کړ، ورته ښه وه چې د شام والي يې پرېښی وای، چې ورو ورو چارې سمې شوې وای !

[1] نهج البلاغه ۱۳ خطبه

دا ډول انګېرنه د شخړې د حقیقت له ساده کتنې یا سرسري لیده راولاړه شوې. دا ډول لید، مساله یوازې د واکمن او یو والي ترمنځ داخلي ټکر بولي او بیا جناب امیر معاویه یو خیرخوا ګڼي.

او که تاریخپوهانو په رښتیا د امام علي شخصیت او مقام پېژندلی وای؛ نو پوهېدل، چې د جناب امیر معاویه پر وړاندې د حضرت علي دریځ د اسلام له مخې دی او بڅرې هومره له عقیدې جلا نه دی.

که دوی په رښتیا د جناب امیر معاویه تاریخ او ټیټ مقام پېژندلی وای؛ نو دغسې لید یې نه درلود.

دا تاریخپوهان، د فقهاوو په څېر، د سیاست قرباني شوي اوهغو طرحو او روایاتو ته یې غاړه ایښودې، چې ځان یې پرې پوه کړی نه دی او یوازې یې له دې امله منلي، چې د عادلینو او ډاډمنو له لوري ورته رسېدلي دي![1]

جناب امیر معاویه اولس کاله پر شام واکمني کوله او په شام کې یې

---

[1] صالح الورداني، ((فقه الهزیمه)): فصل الحدیث.

دومره جرړې ځغلولې وې او خپل برخلیک یې ورسره غوټه کړی و، چې یو ولایت نه؛ بلکې یو دولت ورته شمېرل کېده او دا چې امام علي د جناب امیر معاویه له حقیقته خبر و؛ نو ځکه باید پر وړاندې یې هغه دریځ نیولی وای.

د جناب امیر معاویه حقیقت دادی، چې ددې امت شیطان دی.

د جناب امیر معاویه لیکه، د باطلو لیکه ده او موخه یې د محمدي اسلام ځپنه ده.

بېشکه له یوه دغسې کس سره جوړجاری، بې مانا دی؛ ځکه حق تر پوښتنې لاندې نیسي او باطل پیاوړی کوي؛ نو بې له تورې بله چاره نه لري، او جناب امیر معاویه هم بې له تورې بله لار نه درلوده؛ ځکه نه یې مشروعیت درلود، نه پوهه او نه یې تاریخي پانگه.

چې جگړه پیل شوه له امام علي سره اتیا تنه بدریان او تر ونې لاندې یو سل او پنځوس تنه بیعت کوونکي وو؛ خو د جناب امیر معاویه تر څنگ عمرو بن عاص او مغیرة بن شعبه وو؛ خو ابوهریره په جگړه مارانو

کې نه و او د جناب امیر معاویه د تبلیغاتو وزیر و. امام خپلو پوځیانو ته وویل: ترهغې چې جگړه یې پیل کړې نه وي، پیلوونکي یې مه وسئ. تاسې ((بحمدالله)) حجت لرئ او ورسره د جگړې پرېښوول یو بل حجت دی؛ نو که ماته مو ورکړه، تښتېدلي مه وژنئ، پر ټپیانو یرغل مه کوئ، د چا عورت مه څیروئ، د وژل شوي غړي مه پرې کوئ، او که پرنارینه و یې برلاس شوئ، مه یې بې پته کوئ، کورونو ته یې مه ورننووځئ مالونه یې مه لوټئ، ښځې یې مه راپاروئ، ان که نوامیس، نېکان او امیران مو وکنځي[1]))

دا د امام پېغمبر ډوله خوی و، چې په دې توگه جگړې ته ننوت؛ خو مقابل لوري، معاویه بې له دوکې او ټگی برگۍ بل څه نه درلودل پرتېره، چې کله یې د امام با وفا یار حضرت عمار یاسر (چې پېغمبر ویلي و: باغي ډله به یې وژني ) وواژه او ماتې یې نژدې لیده[2]. د عمار (رض)

---

[1] طبري تاریخ ۱۱/۵-۱۲ مخونه. ابن اثیر کامل ۲۹۳/۳مخ.

[2] صحیح مسلم ۲۲۳٦/٤مخ، ۷۲-او۷۳ مخونه کتاب الفتن. ابن کثیر، البدایه وانهایه ۲٦٦/۷مخ. الا ستیعاب ۱۱٤۰/۳ مخ.

شهادت د جناب امير معاويه په لښکر کې ستر لړزان رامنځ ته کړ او پر جناب امير معاويه اوعمروبن عاص ستر گوذار و؛

ځکه په لښکر کې د عمار (رض) په باب، د پېغمبرغيبي خبر خپور شو.

ابوبکر جصاص په احکام القرآن کتاب کې وايي: ((علي په توره او د ستر مقامو اصحابو او بدريانو په ملتيا له متجاوزې ډلې (لفِئةُ الباغِيَةُ) سره جگړه وکړه او په خپلې جگړې کې پرحق و، او مخالفين يې، چې ورسره جنگېدل؛ بېشکه چې متجاوزه ډله وه او عمار (رض) ته د رسول اکرم صلى الله عليه و آله دا خبره [تَقتُلُ عَمّارَ الفِئةُ الباغِيَةُ: متجاوزه ډله به دې وژني] يو متواتر اومنل شوی روايت دی، تر دې چې ان جناب امير معاويه هم ترې منکر نشو، چې کله عبدالله بن عمر (رض) ورته هغه روايت ولوست؛ خو مخونې ته يې وويل: ((موږ وژلی نه دی، هغوی وژلې، چې زموږ جگړې ته يې راوستی!!! دا خبره، کوفيانو، بصريانو، حجازيانو او شاميانو کړې ده [1]))

---

[1] جصاص، احکام القرآن٣/٤٠٠مخ. طبری تاريخ. ابن کثيرتاريخ.

ابن عبدالبر وايي: له پېغبره صلی الله علیه و آله په متواتر روايت کې راغلي، چې: ((الفِئةُ الباغِيَةُ، به عمار وژني)) او دا غيبي خبر د پېغمبرصلی الله علیه و آله د نبوت له نښو او له خورا سمو احاديثو څخه دی[1]))

ابن حجر وايي: ((د عمار وژنې جوته کړه، چې حق له علي سره دی او ټول اهل سنت پرې يوه خوله دي، که څه هم مخکې څه اختلاف و. [2]))

مسلم روايت کړی، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله ويلي: ((يا عمار تقتلك فئة الباغيه عماره! متجاوزه ډله به دې وژني[3]))

د حېرانتيا ځای دی، سره له دې، چې فقها اعتراف کوي، چې حق له حضرت علي سره دی؛ خو بياهم نه مني، چې جناب امير معاويه پر باطلو دی!! بلکې جناب امير معاويه يو مجتهد بولي، چې په خپل چار

---

[1] الاستيعاب ۱۱٤۰/۳مخ، د عمار ياسر (رض) د حالاتو شرح

[2] الاصابه ۵۰۸/۲ مخ.

[3] صحيح مسلم ۲۲۳٦/٤مخ، ۷۲-او۷۳گڼې احاديث. ابن کثير، البدايه والنهايه ۲۱۷/۳مخ. الا ستيعاب ۱۱٤۰/۳ مخ. حاكم مستدرک ۱٤۹/۲مخ.

کې بې گناه دی؛ ځکه په ښه نیت یې له حضرت علي سره جګړه کوله!!![1]

نووي وایي: دا حدیث، په ډاګه جوتوي، چې حضرت علي پر حق و او مقابلې متجاوزې ډلې، چې اجتهاد کړی؛ نو ځکه څه گناه نه لري !!! [2]

اهل سنت د مخونې دا چار، دهغو نصوصو پر وړاندې کوي، چې امام علي، د اهل بیتو لیکه او لارویان یې تاییدوي او مقابل لوری یې بېلارې او مخالف بولي په تېره د حضرت عثمان (رض)، حضرت عایشې ام المؤمنین او جناب امیر معاویه په هکله [3].

تاریخپوهان روایتوي، : حضرت علي د صفین په جګړه کې مبارزه وکړه او زیات شمېر یې ووژل. د جناب امیر معاویه یو پوځي د امام څلور تنه وژلي و، بیا یې غږ کړ: آیا کوم شته؟ امام ورمخې ته شو او تر څه وخت

[1] العواحم من القواحم، ١٦٥ مخ. البداية والنهاية ٢٧٩/٧مخ. ابن يتمه فتواى. صحيح مسلم دنووى شرح ١١/١٨مخ. ابن حزم الملل والنحل.

[2] شرح النووى ١٨ ٤٠ مخ.

[3] ابن تيميه، منهاج السنه. العوام من القواصم.

روسته یې وواژه او درې یې ورپسې ووژل، بیا یې دا آیت ولوست: ((والمحرمات قصاص)) بیا امام غږ کړ: جناب امیر معاویه ! پر تا افسوس! په خپله د جګړې ډګر ته راشه او عرب له منځه مه وړه.

عمرو بن عاص، جناب امیر معاویه ته وویل: ((ښه مناسب وخت دی، ځلور تنه یې وژلي او دومره زور نلري، ورشه او ورسره وجنګېږه))

جناب امیر معاویه وویل: پر خدای قسم، پوهېږې، چې علي بیخې ماته نه خوري اومطلب دې دادی، چې زه ووژل شم، چې ته خلیفه شې ! ورشه او پوه شه، چې زما په څېر نه دوکه کېږي[1]))

امام د جناب امیر معاویه پر لښکر برید وکړ او عمروبن عاص ته ورغی، په نیزه یې وواهه او پر ځمکه یې راوپرځاوه، بیا یې ستر ښکاره شو، امام پرېښود او راستون شو، یارانو یې وویل: امیرالمؤمنینه ! ولې دې ونه واژه ؟ ویې ویل: پوهېږئ چې څوک و؟ وویل شول: نه ! ویې ویل: ((هغه، عمروبن عاص دی، چې خپل عورت یې راوښود چې یې پرېږدم)) ما

---

[1] بخاری، مسلم، د امام احمد مسند۲ټوک، البدایه والنهایه ۲۶۳/۷مخ

هم پرېښود.

په هرحال د امام لښکر پر مقابل لوري داسې گوذارونه وکړل، چې د ماتې تر برېده يې ورسول، عمروبن عاص يو چل وکړ، چې قرآن يې پاڼې پاڼې او پر نېزو يې کړ او د امام د لښکر پر وړاندې ودرېد او منځگړتوب يې وغوښت. د عمروبن عاص په دې چار کې د دين او تقوا څه نښه نه وه؛ بلکې ښېلاري، کفر او دوکه ماري يې گڼل کېږي.

عمروعاص د خپلې دوکې په مخونه کې وايي: ((که څينې يې ونه مني؛ خو څينې به يې ومني او په دې توگه په منځ کې يې درز لوېږي او که سمدستي يې ومانه؛ نو تر يوه وخته جگړه بس کېږي او په راحت کې کېږو[1]))

دا چلن يو څرگند دليل دی، چې جناب امير معاويه او عمروبن عاص د خدای کتاب کوچنی بولي؛ ځکه موخه يې د خدای د کتاب قضاوت نه و؛ بلکې د امام لښکر يې ځان ته رااړاوه او ترمنځ يې اختلاف اچاوه.

---

[1] ابن سعد، طبقات ٢٥٥/٤ مخ. البدايه والنهايه ٢٧٢/٧مخ. الکامل فی التاريخ ٣١٦/٣مخ.

امام د دې دوکې پر وړاندې پوره ودرېد او د جګړې پر دوام يې ټينګار وکړ؛ خو په لښکر کې يې ځانمنيو او ساده فکرو منځګرتوب ومانه او اوربند يې وکړ، او امام هم په غوسه او خپګان ومانه. جناب امير معاويه له خپل لوري عمروبن عاص منځګړی کړ؛ خو د امام لښکر (د امام له خوا د ټاکل شوي عبدالله بن عباس پرځای) ابوموسی اشعري وټاکه[1].

د ابن العاص او ابوموسی اشعري ترمنځ دا خبرې وې:

عمرو: د هواري کومه لار ده؟

اشعري: دواړه (علي او معاويه) لرې کړو او چار شوری ته وسپارو؛ نو د مسلمانانو چې څوک خوښ شو، وبه يې ټاکي.

عمرو: دا خو ښه نظر دی !

راووتل، چې دواړه لرې کړي.

عمرو وويل: ابوموسی! خلک پوه کړه، چې موږ يوه خوله يو.

اشعري وويل: موږ د امت چار ته چې وکتل؛ نو ومو ليدل، چې غوره

[1] البداية والنهايه ۲۸۳/۷مخ. مروج الزهب ۴۰۹/۲- ۴۱۰ مخونه.

حل لار دا ده، چې علي او جناب امير معاويه دواړه لرې کړو او خلک ازاد پرېږدو، چې په خپله خوښه يو تن وټاکي او دا دی ماعلي او جناب امير معاويه دواړه لرې کړل؛ نو په خپله غور وکړئ او يو وټاکئ.

ابن العاص وويل: وامو ورېدل، چې اشعري څه وويل: خو ما يې دوست (يعنې علي) لرې کړ، لکه چې هغه لرې کړ؛ خو خپل ملگرى (جناب امير معاويه) مې تثبيتوم؛ ځکه د عثمان ولي او کسات اخستونکی دی او خلافت ته ډېر وړ دی! اشعري په غوسه وويل: خدای دې مه ښښه! دوکه دې وکړه.

او فساد دې راولاړ کړ[1].

د قوم فقهاوو، د ابن العاص دې ستر خيانت ته هم مخونه ورکړې ده.

ابن کثير وايي: عمرو بن عاص وليدل، که خلک بې امامه پرېښوول شي نو ستر فساد راولاړيږي، چې د خلکو تر اختلافه خورا خطرناک او سخت دی؛ نو ځکه يې جناب امير معاويه تثبيت کړ؛ ځکه د امت

[1] البداية والنهايه ٢٨٣/٧مخ. مروج الزهب ٤٠٩/٢- ٤١٠ مخونه

مصلحت يې پکې ليده او په هر حال اجتهاد کله صواب او کله خطا وي[1] !!!

دا مسخره مخونه جوتوي، چې څومره د اهل سنتو فقها له اموي ليکې سره غوټه شوي او طرحو ته يې تسليم شوي دي او تل ترې دفاع کوي او تېروتنو او خيانتونو ته يې مخونه ورکوي.

امام علي، ددې دوکې پر وړاندې وويل: ((هن! دا دوه تنه چې مو منځګړي ټاکلي وو، د قرآن حکم ته يې شا کړه او څه چې قرآن له منځه وړي و، بېرته يې راژوندي کړل او يو يې الهي احکامو ته پر شا کولو په خپلو ځاني غوښتنې پسې ولاړ او دواړو بې له څرګند دليله يا د تېرو سنتو له مخې قضاوت وکړ او په خپل قضاوت کې يې اختلاف وکړ او دواړو د خطا لار ونيوه [2]))

---

[1] البداية والنهايه ۲۸۳/۷مخ

[2] ابن اثير، الکامل فی التاريخ ۳۳۸/۳مخ.

## د جناب امیر معاویه بن ابوسفیان کارنامې

جناب امیر معاویه، اسلامي اخلاق او آداب نه درلودل او نه له څه علم او پوهې برخمن و، بیرغ یې د دنیا بیرغ و، او له دین څخه یې څه برخه نه درلوده؛ نو ځکه ولیدل شو، چې ښایي جناب امیر معاویه لومړی تن وي، چې دا قانون یې اختراع کړ: ((موخه، وزلې ته مخونه ورکوي)) او له دې مخې یې ټول ارزښتونه او قوانین تر پښو لاندې کړل؛ بې ګناه وینې یې وبهولې، ژمنې یې ماتې کړې، د دین احکام یې واړول او له مسلمانانو سره یې خیانت وکړ. جناب امیر معاویه د خپلو دښمنانو، د حضرت علي د لارویانو او د حضرت علي د مبارک نوم د منځه وړو لپاره، له خورا بدترنیو او بې رحمه وګړیو څخه ګټه پورته کړه، چې یو یې ((بسربن ارطاة)) دی، چې ان په بوډاګانو، ښځو او کوچنیانو یې هم رحم ونه کړ او داسې ستر جنایتونه یې وکړل، چې زړونه پرې بوړنېږي.

تاریخي کتابونو روایت کړی، چې جناب امیر معاویه یو تن په ((بسربن ارطاة)) پسې ولېږه، چې حجاز او یمن، له امام علي څخه ونیسي، چې

مدينې ته ورغی؛ نو پر منبر يې وويل: مشر مې چېرې دی، چې پرون دلته و [يعني عثمان (رض)] ؟

بيا يې وويل: مدينوالو! له جناب امير معاويه سره به بيعت کوئ. بيا يې په بني مسلمه وو پسې يو تن ولېږه او هغوی ته يې وويل: (چې د امام علي لاروی) جابر بن عبدالله مو راوستی نه وي رانه په پاتې نه شئ او بيعت مو نه منم.

بيا يې د مدينې کورونه ويجاړ کړل او مکې ته ولاړ. ابوموسی اشعري يې له ډاره وتښتېد او چې بسر ترې خبر شو ويې ويل: هغه خو مې نه واژه؛ ځکه علي يې لرې کړی و.

يمن ته ورغی، د يمن والي او زوی يې وواژه، د عبيدالله بن عباس دوه کوچنيان، چې کوفې ته تښتېدلي وو هم ووژل. د بني کنانه د ټبر يوې ښځې ورته وويل: ((نامرده ! نارينه دې ووژل، ولې دا دوه کوچنيان وژنې، پر خدای قسم، چې نه يې په جاهليت کې او نه يې په اسلام کې کوچنيان وژل، د ابي ارطاة زويه ! پرخدای قسم کوم، واکمن چې بې

زړه سوي د کوچنيانو او بوډاګانو په وژنې واکمني چلوي؛ نو بده واکمني ده[1].))

جنايات يې تردې هم ډېر دي، داسې ګناه يې کړې، چې تر ده وړاندې چا په اسلام کې کړې نه وه او هغه د مسلمانو ښځو بنديانول وو.

ابن عبدالبر وايي: بسر بن ارطاة پرهمدان يرغل وکړ (چې د امام علي تر واکمنۍ لاندې و) او د همدان ښځې يې بنديانې کړې او دوی لومړی ښځې وې، چې په اسلام کې بنديانېږي او د بنې سعد ډېر وګړي يې ووژل[2].))

روايت شوی، چې بسر بن ارطاة يو ظالم اتل و، د صفين په جګړه کې د حضرت علي سيالۍ ته راغی، حضرت علي په يوه ګوذار پر ځمکه راوپرځاوه او سمدستي يې خپل عورت راښکاره کړ! حضرت علي ترې

---

[1] ابن عبدالبر، الا ستيعاب ۱۶۲/۱مخ، د بسر بنابی ارطاة وحالاتو شرح. الاصابه ۱٤۷/۱مخ. اسد الغابه ۱۷۹/۱- ۱۸۰ مخونه.

[2] الاستيعاب ۱٦۱/۱مخ.

تېر شو؛ لکه چې له عمروبن عاص هم تېر شوی و [1].

د بسر او عمرو په اړه ویل شوي: دا چې امام له دې دوو تنو او په ځېر یې له راپرځېدو یا ماتې خوړوونکیو تېرېده، علت یې دادی، چې په اسلام کې د حضرت علي جګړیز دود دا و، چې څوک په وتښتېد او یا به ټپي شو؛ نو ورپسې نه تله او بندیان یې نه وژل. [2]

جنایتکار بسر د جناب امیر معاویه لپاره ډېر ناوړه جنایات کړي؛ خو دا قوم یې یو صحابي بولي؛ ځکه د رسول اکرمصلی الله علیه و آله په زمانه کې نړۍ ته راغلی او پیغمبرصلی الله علیه و آله یې په وړوکتوب کې لیدلی دی ! نو د ټولو اصحابو د عدالت د قانون له مخې، په عادلو اصحابو کې شمېرل کیږي؛ نو ځکه ټولو جرایمو ته یې مخونه ورکول کیږي؛ ځکه اجتهاد یې کړی او نه یوازې دا چې ګناه نه لري؛ بلکې ماجور به هم وي !!! د جناب امیر معاویه ګردسره ملګري د بسر په ځېر

---

[1] الاستیعاب ۱/۱۶۵مخ.

[2] الا ستیعاب ۱/۱۶۶مخ.

اصحاب دي، چې اهل سنتو د شرعې جامې ور پر تن کړي دي.

نو ځکه وينو، چې د سننو په کتابونو کې يې د رسول اکرم صلی الله عليه و آله له خولې روايات هم ترې راوړي دي. دا بی داود په سننو کې د پېغمبرصلی الله عليه و آله له خولې روايتوي چې: ((په سفر کې دغله لاسونه نه پرې کېږي))

ابن حبان ترې روايتوي، چې پېغمبروويل: ((خدايه ! ته و لې چارې موپه خير پای ته ورسوه)).

ابن حبان د بسر په هکله وايي: په غيابو کې يې د جناب امير معاويه چارې کولې او معمولاً دعا يې قبلېده !! د فتنو يې ډېر روايات شته[1]...

په اسلام کې جناب امير معاويه ړومبی تن و، چې سرونه يې پرې کړل. د عمار بن ياسر (رض) اوعمرو بن حمق (رض) سرونه يې غوڅ کړل. عمرو بن حمق (رض) د حضرت عثمان (رض) پر ضد د راپاڅېدليو انقلابيانو يو مشر و. له محمد بن ابوبکر(رض) سره يې همدغسې وکړل،

---

[1] الاصابه، ۱/ ۱٤۸مخ، د بسر د حالاتو شرح

هغه مهال، چې عمروبن عاص مصر ته ورغی، دهغه تنه یې په مړه خره کې کېښوده او ویې سوځوله.

د سرونو غوځول یو دود او سنت شو، چې ورپسې واکمنو هم دا لار خپله کړه !! د جناب امیر معاویه له جنایانو یو هم، پر منبرونو د حضرت علي کنځل و، چې دا چار یې له حضرت علي سره د دښمنۍ له امله نه وه؛ بلکې له ((محمدي اسلام)) سره یې دښمني وه، چې انځور یې ((حضرت علي)) و. ډارېده که مسلمانان د محمدي اسلام پر لوړو مفاهېمو پوه شي؛ نو بې لارېتوب به یې رابرسېره شي.

د امام علي او امام حسن تر شهادت روسته، لارویان یې د جناب امیر معاویه ددې شیطاني تبلیغاتو پر وړاندې ودرېدل، چې مشر یې ستر صحابي حجر بن عدی (رض) و. حجر (رض) په عراق کې و، چې د جناب امیر معاویه والي، زیاد بن ابیه له څو تنو ملگرو سره یې ونیو او جناب امیر معاویه ته یې ولېږل! او جناب امیر معاویه ته یې په لیک کې، له حضرت علي نه په دفاع او له دښمنانو یې په برائت تورن کړي وو. له

حجر او ملگرو یې وغوښتل، چې له حضرت علي برائت اعلان کړي او ویې کنځي؛ خو هغوی ونه منل.

حجروویل: ((پرځه مې چې خدای خپه کیږي، پر خوله به یې رانه وړم)) د جناب امیر معاویه په امر، حجر او ملگري یې پر۵۱ س په ((مرج عذرا)) کې شهیدان شول[1].

د جناب امیر معاویه له جنایاتو ځنې د امام حسن (رض) پر ضد دسیسه او په زهرو یې وژل و او همداراز د خپل زوی یزید خلیفه کول او په دې توگه یې په اسلام کې پاچایي پیل کړه، چې امت یې له زوی (یزید) او مرواني شاهانو له لاسه ډول ډول ربړونې، ظلم، استبداد او زندیتوب وځکي.

حسن بصرې (رح) وایي: ((په جناب امیر معاویه کې څلور خویونه وو، چې هر یو یې ځان ته ستره گناه ده:

۱- بې له دې، چې له چا سره یې مشوره کړې وي، د تورې په زور، پر

[1] طبري تاریخ ۲۷۶/۵مخ. الاصابه ۳۱٤/۱-۳۱۵ مخونه. الاستیعاب مخونه ۳۲ – ۳۲۹.

امت برلاس شو، حال داچې په خلکو کې با فضیلته اصحاب وو.

۲ـ خلافت یې خپل زوی یزید ته ورکړ، چې شراب یې څښل، نشه و، وربښمینې جامې یې اغوستې او موسیقي یې غږوله.

۳- له زیاد سره یې د روری ادعا (سره له دې، چې د زیاد پلار نامعلومه و!).

٤- د حجربن عدی (رض) او ملگرو یې وژل، پرهغه دې د حجر له امله افسوس وي، پرهغه دې د حجر او ملگرو له امله افسوس وي[1]. ))

یزید بن جناب امیر معاویه دوه ستر جنایتونه کړي:

(۱) په کربلا کې د امام حسین او اهل بیتو یې وژل.

(۲) د رسول الله د مدینې ټولوژنه او ښځو ته یې بې ناموسي وراړول.

تاریخي کتابونو کښلي، مدینوال د امام حسین (رض) تر شهادت روسته د یزید پر ضد راپاڅېدل، ده هم یو لښکر ورولېږه او مدینه یې درې ورځې خپلو پوځیانو ته ازاده پرېښووه، په زرگونو تنه اشراف ووژل

---

[1] الکامل ۳/٤۸۷مخ. البدایه وانهایه۸/۱۳۰مخ.

شول، ښځو ته بې ناموسي ورواوړېده. ویل شوي: په هغو ورځو کې تر زرو ډېرې ښځې د زناله امله امیندواره شوې وې.[١]

یزید پر دې دوو سترو جنایاتو سربېره په سلګونو نور منکرات هم کړي دي؛ خو بیا هم د اهل سنتو فقهاوو یې په اړه اختلاف کړی، ډېر لږ شمېر لعنت پرې روا بولي؛ خو ډېری یې نه بولي؛ ځکه شونې ده، چې پر پلار او نورو اصحابو د لعنت ور پرانستل شي[٢] !!

حسن بصري د شامیانو په هکله وایي: ((تورمخې دې وي! دوی د رسول الله حرم، ازاد پرېښود، درې شواروزه یې مدینوال ووژل، ازادې مؤمنې ښځې د زنا له امله دوه ځانې شوې او له یوې بې پتۍ یې هم لاس وانخست، بیا یې د خدای کور ته مخه کړه، کعبه یې ویجاړه کړه او پردو

---

[١] طبري تاریخ ٤٩١/٥نه. الکامل ١١٧/٤مخ. البدایه وانهایه ٢٢٠/٨- ٢٢٤ مخونه.

[٢] البدایه وانهایه ٢٢٣/٨مخ. امام احمد بن حنبل په خپل مسند کې پر یزید لعنت ویل جایز ګڼلي او پر دې آیت استدلال کوي: ((فَهَلْ عَسَيْتُمْ إِن تَوَلَّيْتُمْ أَن تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَتُقَطِّعُوا أَرْحَامَكُمْ سورت محمد/٢٢ آیت)). ژباړه: نو که (له دې لارښوونو) مخ واړوئ، نو لرې نه ده که واک په لاس درشي، پر ځمکه به فساد پیل کړئ او د خپلې خپلولۍ مزي به پرې کړئ؟!

ته یې اور ورواچاره، خدای دې پرې لعنت ووروي او دوزخیان دې شي[1])).

وګورئ، چې حسن بصري بې له څه استثنا ګرد شامیان لعنتوي او په دې توګه د اهل سنتو پر لیکه روان دی، چې پر یو ټاکلي تن لعنت نه وایي. دا د عباسي پیر دریځ دی.

ابن تیمیه، له یزید څخه دفاع کوي او ټولې نیوکې ترې لرې کوي او وایي: ((یزید یو مسلمان ځوان و، او کله هم کافر یا زندیق نه و، تر خپل پلار روسته یې د امت ولایت ترلاسه کړ، چې ځینې مسلمانان ترې راضي او ځینې ترې ناراضي وو، مېړه او سخي و او فاسد نه وه، لکه چې دښمنانو یې ویلي دی او د حسین د وژنې امر یې کړی نه دی او نه یې پر وژنه خوشحال شوی دی؛ خو امر یې کړی و، چې حسین له خلافته لرې کړي که څه هم پر وژنه یې پای ته ورسي[2] !!!))

---

[1] الکامل ٤/١٧٠مخ

[2] ) د ابن تیمیه فتاوای ٣: ٤١٠مخ.

د جناب امير معاويه او يزيد دا ډول جنايات جوتوي، چې د دوی او اهل بيتو ترمنځ نښته، د دوو مخالفو عقيدو نښته ده، چې بيخي يو له بل سره څه اړيکه نه لري او چې څوک مسلمان وي دغسې جنايات نه کوي.

هغوی، چې دا تاوتريخوالی اسلامي ګڼلی او جناب امير معاويه مجتهد بولي او زوی ته يې هم برائت ورکوي؛ نو ښېښکه، چې د اسلام او مسلمانانو په حق کې به يې ستر جنايت کړی وي او ډېره خطرناکه لاس ته راوړنه يې داده، چې امت ته د جناب امير معاويه دروغجن اسلام ښه

---

دابن تيميه عذر منل کېږي؛ ځکه داهل سنتوله نظره، د اصحابو ستر فقيه عبدالله بن عمر (رض) له يزيد سره بيعت کړی او مدينه والو، چې يزيد خلع کړی و، ويې ګواښل او ورته يې وويل: ګومان نه کوم، چې تردې به څه اوچت عذر وي، چې له يوه تن (يزيد) سره بيعت وشي، بيا يې پرضد راپاڅي اوهغه په يزيد خلع کوي، چې زما او ترمنځ يې واټن پيدا شوی وي.

د امام حسين تر وژنې روسته، چې د يزيد لښکر پرمدينې يرغل وکړ؛ نو خورا ناوړه جنايات يې وکړل، ابن عمر او ډله يې په امان کې وه او هيڅ تعرض پرې ونشو. په هرحال د يزيد لښکر، چې پر مدينه والوڅه نادودې تېرې کړې، د ابن تيميه له نظره نه جنايت و او نه فساد.

وګورئ: صحيح بخاري ، کتاب الفتن، همداراز په البدايه والنهايه او نورو تاريخي کتابونو کې ددې دردناکې پېښې لپاره داهل سنتووفقها وو مخونې ولولئ.

وروښيي.

## خوارج

امام، ترمنځګرتوب روسته کوفې ته ستون شو او په دې لټه کې و، چې له جناب امير معاويه سره د جګړې لپاره ځواکونه راټول کړي؛ خو خوارجو چې له منځګړتوب روسته پر ضد يې راپاڅېدلي وو، د امام د موخې خنډېدل او لارويان يې ورته ګواښل، تردې چې د مسلمانانو ليکې ته د بېرته راګرځېدو او له خپلو ناسمو افکارو د لاس پر سر کېدو او قانع کولو لپاره يې ټولې سوله ييزې هڅې ناکامې شوې.

او دا چې پر مسلمانانو يې تيري زيات شول؛ نو امام له ناچارۍ ورسره جګړه وکړه، چې ګڼ شمېر يې ووژل شول او جګړه د امام پر ګټه پای ته ورسېده، دې ته د ((نهروان)) پېښه وايي[1].

امام په پوره پوهه له خوارجو سره جګړه وکړه، له حالاتو او جناياتو يې

[1] پر ۳۸س، د صفرې پر (۱۹) مه د نهروان پېښه راپېښه شوه.

خبر و، لکه چې تر دوی وړاندې یې له ام المؤ منین عایشې او جناب امیر معاویه سره هم اګاهانه جګړه کړې وه. پیغمبرصلی الله علیه و آله د خوارجو له ډلې خبر کړی و؛ لکه چې له هغوی سره په مبارزه کې یې د امام د ونډې خبره هم کړې وه.

مسلم روایتوي، چې امام علي له یمن څخه یو مقدار سره، په مدینه کې پیغمبر ته ورولېږل، چې پیغمبر پر څلورو تنو وویشل. قریش خپه شول. پیغمبرصلی الله علیه و آله وویل: دا چار مې ددوی راجذبولو لپاره وکړ؛ نو یو ګڼ ږیری، کړوپ سترګی، تندی راوتلی او سرکلی راغی او ویې ویل: محمد ه ! تقوا لره !!

پیغمبرصلی الله علیه و آله وویل: که ګناه وکړم؛ نو څوک به د خدای امر ومني. بیا دا سړی ولاړ. پیغمبرصلی الله علیه و آله وویل: ((د دې له ځوځاته به یو قوم راپاځي، چې قرآن به لولي؛ خو له ستونې به یې نه تېرېږي ! مسلمانان به وژني او... له اسلامه وځي لکه غشی چې له لیندۍ

وځی، که یې ووموم، په رښتیا د عاد قوم په څېر به یې ووژنم[1]))

امام علي وايي: وامې ورېدل، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وویل: ((په آخرالزمان کې یو قوم راپاڅي، چې غاښونه به یې نوي، عقلونه یې کم... قرآن لولي؛ خو له ستونو یې نه تېرېږي، له دینه وځي لکه غشی، چې له لیندۍ وځي؛ نو که مو ولیدل، ویې وژنئ؛ ځکه چا چې ووژل، خدای د قیامت پر ورځ ثواب ورکوي[2].))

زیاتوي: وامې ورېدل، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله ویل: ((له امته مې یو قوم راپاڅي، چې قرآن لولي... لمونځ یې ستاسې د لمانځه په څېر نه دی، روژه یې ستاسې د روژې په څېر نه ده. قرآن په دې گومان لولي، چې پرگټه یې دی؛ خو قرآن یې پرضد دی (قرآن ورسره دښمن دی) لمونځ یې د سینو له هډوکو ځنې نه کوزېږي، له اسلامه وځي لکه غشی له لیندۍ)).

---

[1] صحیح مسلم ۷٤/۲مخ، ۱٤۳گڼه حدیث، کتاب الزکاة، باب ذکر الخوارج

[2] فتح الباري ۵٦/۱۳مخ.

((پوځیان که پوهېدای، چې پېغمبرله دوی سره د مقابلې په هکله څه ویلي؛ نو له کاره پښه نیولي کېدل نه، نښه یې داده، چې یو تن پکې دی، چې مټ لري؛ خو څنګل نه لري، د مټ سر یې د تي د خولې په څېر وي، چې څو سپین ویښتان پرې راختلي. تاسې له جناب امیر معاویه او شامیانو سره جګړې ته ورروان یاست؛ خو له خوارجو غفلت کوئ. دوی ستاسې له شتمنیواو اولادونو سره پاتې کېږي ! سکه، چې حرامې وینې یې وبهولې، د خلکو مالونه یې لوټ تالان کړل؛ نو ورسره د جګړې لپاره د خدای په نامه وخوځېږئ[۱]))

روایت شوی، چې د امام پر ضد د خوارجو شعار دا و: ((حکم، یوازې د خدای حکم دی)) امام وویل: ((په باطل نیت، حق وایي، په رښتیا رسول الله راپېژندلي دي او زه یې هماغه بولم، چې پېغمبر ترې خبر کړی یم. [۲]))

---

[۱] صحیح مسلم ۷٤٨/٢مخ، ١٥٦ ګڼه حدیث کتاب الزکات، باب ذکرالخوارج

[۲] صحیح مسلم ۷٤٩/٢مخ، ١٥٧ ګڼه حدیث.

دا روايات، اسلام او مسلمینو ته د خوارجو ستر خطر جوتوي او بېشکه خطر يې تر امويانو کم نه دی او له دواړو ليکو سره د امام جګړه راښيي، چې موخه يې يوه او په يوې پايلې پای مومي.

له دواړو ليکو سره د امام جګړه؛ يعنې تل او (د زمانې په اوږدو کې) له محمدي اسلام سره په مخالفت کې، د دې دوو ليکو مبارزه.

ځکه امام تل (او د زمانې په اوږدو کې ) د محمدي اسلام او حق بېلګه ده.

همېشه اموي ليکه او د خوارجو ليکه د تقلبي اسلام او د باطلو بېلګې دي او د خوارجو کړلار همداسې پاتې ده، که څۀ هم پوځي ګوذار يې خوړلی او له محمدي اسلام او اهل بيتو سره په مبارزه کې يوې څنډې ته شو او مسلمانان يې هله يو مخې يې له منځه وړای شي، چې داهل بيتو ليکه او د امام علي خوځښت وپېژني؛ نو چې څوک له دې ليکې واوړي، د خوارجو قرباني به وي او چې څوک د امام ليکې ته مخ کړي؛ نو ځان به يې د هغې ليکې له خطره (واکسين، وقايه او) ژغورلی وي.

امام علي آګاهانه له دې پېښو سره مبارزه کوله او ان له پایلو یې هم خبر و او د رسول اکرم د خبر له مخې پوهېده، چې څنګه له نړۍ ځي[1].

نوځکه له درې ګونو ټلوالوسره د امام د جګړې لاس ته راوړنه، موږ د اسلام حقیقت ته د ور پېژندنې لپاره ورسیخوي او هم دهغو کسانو حقیقت رابرسېروي، چې د اسلام دین بد انځوروي او مفاهیم یې په جعلي روایاتو او بېلارې کوونکیو اجتهاداتو کاږه کړي دی اوخلک یې د خدای له لارې لرې کړي دي.

له عایشې ام المومنین، جناب امیر معاویه او خوارجو سره د امام جګړه، یو ناڅاپي او تصادفي چار نه و؛ بلکې امت ته یو تشریعي عمل و، چې همېش یې بېلګه وي او هدایت شي.

---

[1] امام احمد، فضایل ۵٦٦/۲مخ، ۹۵۳ ګڼه حدیث. بغداد تاریخ ۱۳۵/۱مخ. البدایة وانهایه ۳۲۵/۷مخ. ابن سعد طبقات ۳۵/۳مخ.

حضرت پیغمبر(ص) ویلي و، هغه به خورا بدمرغه وي، چې علي وژني. امام علي ویلي: پیغمبر(ص) راته ویلي، چې ترهغې له نړۍ نه ځم، چې امیر شم اوږېره مې د ککرۍ په وینو ولړل شي.

او دغسې يو چار ته د امام ټاکنه، الهي ټاکنه ده؛ ځکه په اصحابو کې بې له دې بل څوک نه و، چې د دغسې پاڅون ذمه واري وکړي، ځکه امت ته خورا ستر زيان واوړېد؛ ځکه د امام مټ نشو او د ليکي په اړه يې لنډون اوکوتاهي وکړه.

پايله يې، اختلاف اوخپاره واره کېدل وو.

پايله يې، قرباني او د بې ګناه وينو بهول وو.

پايله يې، د پرېمانې پوهې له لاسه وته و.

## جناب امير معاويه او امام حسن (رضی الله عنه)

امام علي؛ خوارجو ته تر ماتې ورکولو روسته له شاميانو سره جګړې ته چمتو شو؛ خو د عراقيانو د اختلاف له امله يې بريد وځنډوه.

امام له عراقيانو پرېمانه وکړېد؛ ځکه لامل شول، چې امام له ناچارۍ پر شا ولاړ شي او خپل حرکت وځنډوي او ځواک يې د جناب امير معاويه او خوارجو پر وړاندې کمزورې شي.

امام د عرقيانوپه هکله وايي:

د څښتن تر ستاينې روسته! عراقيانو! تاسې د هغې دوه ځانې ښځې په څېر ياست، چې د زوکړې په نژدې ورځو کې مړ ماشوم وزيږوي او مېړه يې هم ومري، کنډتوب يې اوږد شي او ميراث يې لرې خپلوان يوسي[1]. باخبر! په خپله خوښه درته راغلی نه يم؛ بلکې د روزګار پېښو راښکودلی يم[2]، خبر شوی يم، چې تاسې ويلي: علي دروغ وايي، خدای مو ووهه، پر چا دروغ وايم؟ پر خدای دروغ وايم؟ حال دا چې د رسول اکرم صلی الله عليه و آله په امت کې لومړی تن وم، چې هغه مې تصديق کړ[3]! قسم پر خدای داسې نه ده، څه مې چې ويلي، يو واقعيت

---

[1] محمد جواد مغنيه: د صفين جګړې زور واخست او چې د امام په ګټه د بريا نښې راڅرګندې شوې؛ نو معاويه بن ابي سفيان په چل قرآنونه په نېزو پورته کړل او د امام په لښکر کې يې درز وغورځاوه او په دې توګه معاويه بن ابي سفيان خپلې موخې ته ورسېد او امام خورا خپه شو؛ نو ځکه امام يې په اړه پورته څرګندونې وکړې.

[2] محمد جواد مغنيه: امام تر بيعت روسته څلور مياشتې په مدينه کې پاتې شو او د جمل له اصحابو سره د جنګ جګړې لپاره له مدينې راووت او په روستيو کې له شاميانو سره د مقابلې لپاره له ناچارۍ په عراق کې پاتې شو؛ نو ځکه په مدينه او عراق کې د امام اوسېدل په خپل اختيار کې نه وه؛ بلکې د شرايطو له مخې او له فتنو سره د مقابلې په نيت له يوه ځايه بل ته د تلو لپاره وه.

[3] محمد دشتي: علامه اميني (۳/ ۲۱۹ – ۲٤۷) د اهلسنتو په سلو احاديثو دا حقيقت جوت کړی، چې علي لومړی تن وه، چې پر خدای يې ايمان راووړ. له حضرت بريده اسلمي روايت دی: د دوشنبې پر ورځ پر پيغمبر اکرم وحې رانازله

دی، چې پر مانا يې نه پوهېږئ[1] ځکه د اورېدو وړ يې نه ياست. مورگانې مو دربندې بورې شه، چې وژاړي، د علم او حکمت پيمانې مې دربندې وړيا ووېشلې[2]؛ خو که لوښی يې لرئ. " وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ[3]- او ډېر ژر به پوه شئ.

او لکه چې څنگه عراقيان له امام علي سره بې وفا وو، له امام حسن سره هم بې وفا وو؛ له جناب امير معاويه سره يې سولې ته را کاږه، بيا يې پرې نيوکه ونيوه او دده وينه يې مباح گڼله[4] !

---

شوه او د سې شنېې پر ورځ علي نمونځ وکړ" وگورئ: صحيح ترمذي: ۲/ ۲۱٤. حاکم، مستدرک: ۳/ ۱۱۲.

[1] محمد جواد مغنيه: شيخ محمد عبده(شرح نهج البلاغه: ۱/ ۱۱۹) وايي: "ډېر وخت داسې ول، چې امام خپل ياران له داسې چارو خبرول، چې پرې نه پوهېدل. منافقانو ويل: علي دروغ وايي؛ لکه چې پر پيغمبر اکرم (ص) يې هم دا تور ورتپه. [وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ (ص/ ٤) او وايي دا دروغجن کودگر دی.]

[2] محمد جواد مغنيه: عبدالکريم خطيب )علی بن ابيطالب، بقية النبوة و خاتم الخلافة: ۸۵ او ۸۷ مخونه) وايي: " هيڅوک له علي هومره له پيغمبراکرم (ص) سره نه وه، څه له پاسه دېرش کاله ورسره وه، په ټولو سختيو او خوشحاليو کې يې ملگری وه، غوږونه يې د پيغمبر اوامرو ته نيولي ول، زړه يې تل له غفلته لرې وه، پوهه او حکمت پرې ورېده او د پاک او روڼ روح خاوند، د اسلام بې سياله اتل وه، په مسلمانانو کې د هيڅا تورې دومره د کفر د مشرانو سرونه غوڅ کړي نه دي؛ لکه د علي. علي د اسلام فقيه، عالم او حکيم وه او په چارو کې يې سيال نه وه"

[3] ص/۸۸ آيت.

[4] الا صابه ۳۳۰/۱مخ، ح ټکی.

ابن حجر له طبري روايتوي: علي (رض)، قيس بن سعد بن عباده (رض) د عراق بولندوی کړ، څلوېښتو زرو تنو تر مرګه ورسره بيعت وکړ. علي ووژل شو.

له حسن بن علي سره يې د خليفه په نوم بيعت وکړ، د حسن جګړه ښه نه راتله اوغوښتل يې، چې له جناب امير معاويه سره شرط وکړي، چې روسته به ترې خليفه وي !

پوه شو، چې د سولي په اړه قيس بن عباده ترې اطاعت نه کوي، وايې لرې کړ او پر ځای يې عبيدالله بن عباس بولندوی کړ، ده هم له جناب امير معاويه سره د حسن شرط وکړ[1] !

ابن حجر وايي: حسن، خلافت جناب امير معاويه ته ورپرېښود او بيعت يې ورسره وکړ، چې د خدای کتاب او نبوي سنت به عملي کوي. جناب امير معاويه کوفې ته راغی او خلکو ورسره بيعت وکړ. هغه کال يې ((جماعت)) ونوماوه؛ ځکه خلکو غونډه وکړه او جګړه پای ته ورسېده

---

[1] فتح الباري ۵۳/۱۳ مخ.

او همداراز هغوی هم، چې ځانونه له جګړې ګوښه کړي وو لکه ابن عمر، سعد بن ابی وقاص اومحمد بن سلمه (رضی الله عنهم ) له جناب امیر معاویه سره بیعت وکړ.

جناب امیر معاویه، امام حسن ته درې لکه جوړې جامې، دېرش مریان او سل اوښان ورکړل او مدینې ته ولاړ. جناب امیر معاویه، مغیرة بن شعبه د کوفې او عبدالله بن عامر د بصرې والي کړ او بیا دمشق ته ستون شو.[1]

صحیح بخاري روایتوی، چې پېغمبرصلی الله علیه و آله د حسن په باب ویلي: ((دا زوی مې ښاغلی او سرور دی او ښايي خدای یې له لارې د مسلمانانو د دوو ستر ډلو ترمنځ سوله راوړي[2]))

تاریخپوهان هڅه کوي، چې په خپله جناب امیر معاویه له امام حسن سره د سولې لېوال و او په دې لار کې یې خورا هڅې وکړې او ډېر

[1] فتح الباري ۵۳/۱۳ مخ.

[2] صحیح بخاري ۷۱/۹مخ کتاب لفتن. امام احمد حنبل مسند۴۴/۵مخ. ترمذي ۶۵۸/۵مخ، ۳۷۷۳ ګڼه حدیث، کتاب المناقب.

مالونو يې ورکړل ! او سولې ته يې هڅاوه او ورته يې ويل، چې نيکه يې په اړه يې ويلي دي ((هغه ښاغلی دی او د خلکو ترمنځ سوله کوي !)) نو حسن ومنله او سوله يې وکړه[1].

ډېری تاريخپوهان ټينګار کوي، چې امام حسن له جناب امير معاويه سره شرط وکړ، چې په جناب امير معاويه پسې به خلافت، د حسن وي اوجناب امير معاويه هم دا شرط ومانه[2] !

په ډاګه ده، چې له دې رواياتو د سياست بوی راخېژي او موخه يې د امام حسن د حرکت ناوړه برېښول او د نښو او اثارو يې اړول دي. د طبري له روايته معلومېږي، چې امام حسن د خپل پلار امام علي پر لار

---

[1] فتح الباري ۵٤/۱۳مخ. الاصابه ۳۳۰/۱مخ. الاستيعاب ۳۸۵/۱- ۳۸۹ مخونه.

[2] ابن حجر په فتح الباري او الاصابه کې وايي: چې علي ووژل شو، حسن بن علي، عراقيان جګړې ته هڅول او معاويه شاميان. بيا يې يوله بل سره ملاقات وکړ او د حسن جګړه ښه نه راتله اوله معاويه سره يې بيعت وکړ، په دې شرط، چې ترمعاويه روسته به حسن خليفه وي. ابن عبدالبر په استيعاب کې وايي: د علماوو ترمنځ هيڅ اختلاف نشته، چې حسن په دې شرط له معاويه سره بيعت وکړ، چې تر ده روسته به خليفه وي او حسن په دې دريځ د وينو د بهېدو مخه ونيوه، که څه هم ځان يې، خلافت ته، تر معاويه وړ ګاڼه او هم يې روايت کړی: داشعث بن قيس لور، چې د امام حسن مېرمن وه، امام يې په زهرو مسموم او وواژه، يوې ډلې ويلي: معاويه په تطميع دې چار ته اړ کړې وه.

گام اخستی نشو، چې د جناب امیر معاویه پر ضد جګړه وغځوي؛ نو په مازې، چې خلیفه شو، جناب امیر معاویه ته یې غاړه کېښووه اوسوله یې ورسره وکړه !!

څرنګه شونې ده، چې یو امام ځلوېښت زره تنه جنګیالي لري، په اسانۍ سولې ته غاړه کېدي ؟! او څرنګه شونې ده، چې دغسې یو شخصیت د خلافت د وعدې لپاره له خپلې ګروهې لاس واخلي؟!

دغسې روایات هم امام علي تر پوښتنې لاندې راوړي او هم امام حسن. لکه چې وایي امام علي په خپل پاځون کې ماتې وکړه او پر ځای کمزوری خلیفه پرېښود او له هغه یې څه زده کړي نه دي او یوازې د خپلې سلامتۍ او دنیا په فکر کې دی او له آره د آخرت او اسلام په فکر کې نه دی !!

د ابن حجر روایت هم، د طبري روایت تاییدوي او پرهمه لار تېرېږي.

یوازېنی عرض یې دادی، چې امام حسن بد وبرېښووي او له جناب امیر معاویه سره د جګړې حقیقت واړوي. او وایي چې امام حسن له جناب

امیر معاویه سره بیعت وکړ او په مقابل کې یې درې لکه جوړې جامې،

دېرش مریان اوسل اوښان واخستل (یعنې: معامله یې وکړه) تردې خو

بدتر د امام حسن سپکاوی کېدای نشي ! او تر دې خو د جګړې

حقیقت ناوړه انځورېدای نشي !

د صحیح بخاري روایت، هم څه منځپانګه نه لري او له آره مانا یې د

پېښې له طبیعت سره اړخ نه لګوی، لکه چې حدیث سازانو دا حقایق

هېر کړي چې:

نور روایات ښیي، چې امام حسن له جناب امیر معاویه څخه پر شا شو،

نه دا چې سوله یې ورسره وکړه.

مصلح خو غالباً د جګړې لوری نه وي.

دا روایت، نه وایي، چې سوله وشوه او نه پرې څه ټینګار لري.

دا چې ویل شوي: د مسلمینو دوه ډلې، مانا یې داده، چې دواړه لوري

یوه شخړه لري؛ خو په ډاګه ده، چې د امام حسن اړخ د جناب امیر

معاویه له اړخ سره بېلا بېلې موخې او نیتونه لري.

امام حسن په زهرو ومړ، خو جناب امیر معاویه خپل زوی یزید خلیفه کړ، دا په خپله یو دلیل دی، چې د شهادت تر شېبې پورې د امام حسن او جناب امیر معاویه شخړه روانه وه.

جناب امیر معاویه چې خپل زوی یزید خلیفه کړ؛ نو دا یې نه یوازې له امام حسن سره خیانت وکړ؛ بلکې له ټول امت سره یې وکړ او دا هم یو ښرگند دلیل دی، چی د دواړو ترمنځ ښه جوړجاړی نه و؛ ځکه که سوله وای؛ نو جناب امیر معاویه دغسې خیانت نه کاوه.

ښه، چې د امام حسن او جناب امیر معاویه ترمنځ تېر شول، ډېری هغه منځگړتوب ته ورته دی، چې امام حسن منلی نه دی، لکه چې امام علي هم دهغه منځگړتوب له پایلې راضي نه و او په دې توگه جناب امیر معاویه د دې لپاره، چې ځان له امام حسن ښخه بې غمه کړي؛ نو په دسیسې، دوکې او خیانت یې لاس پورې کړ.

فقها او تاریخپوهان، چې د امام حسن د سولې روایت ته اهمیت ورکوي موخه یې دا ده، چې د جناب امیر معاویه کړنو ته مخونه ورکړي، په تېره

دا چې روایت د رسول الله (ص) له خولې روایت شوی، چې مسلمانان پکې شکمن نشي او سمدستي يې ومني او په دې توگه ويلای شو، چې دا فقها او تاريخپوهان په هغه دام کې راښکېل شوي، چې د رواياتو مخترعينو ورته ايښی دی.

ابن حجرو ايي: د سولې په حديث کې د خلکو د پخلاينې غوره توب او اهميت راغلې، په تېره د مسلمانانو ترمنځ د وينې د تويېدو مخنيوی.

او همداراز پر ملت د جناب امير معاويه زړه سوی او په چاروکې يې ځيرکتوب!

په ترخ کې ځرگندېږي، که څه هم غوره او ((افضل)) موجود وي؛ خو کېدای شي، چې ((مفضول)) او ټيټ هم خليفه شي؛ ځکه امام حسن او جناب امير معاويه هر يو خلافت ته ورسېدل حال داچې په امت کې بدري اصحاب لکه سعد بن ابی وقاص (رض) اوسعيد بن زيد (رض) موجود وو!!

له حديثه معلومېږي، چې که د مسلمانانو صلاح وي؛ نو روا ده، چې

خلیفه ځان لرې کړي او دپیسو په اخستو له خپلو دیني او دنیوي دندو

څنډې ته کېدای شي !! په ترڅ کې څرګندېږي هغوی هم سم او پر

ځای کار کړی، چې ځانونه یې د علي او جناب امیر معاویه له جګړې

ګوښه کړي وو.[1] !!!

د سولې د روایت له مخې، فقهاوو داسې احکام وضع کړل، لکه چې د

ابن حجر له خبرې معلومېږي، چې دومره په خپل استنباط او راسپړنه

کې مخکې تللی، چې د پیسو اخستو په بدل کې له دیني دندې تېرېدل

ثابتوي !!!

معلومېږي، چې د ښاغلیو فقه، دیني دندو ته په ملنډو ویني او پر څه

ارزښت ورته قایل نه دي ! همدا لیدلوری له واکمنو سره د فقهاوو

جوړجاړی هم تاویلوي او د ظالمو واکمنو په چوپړ کې کوي یې.

اوس چې امام حسن له جناب امیر معاویه سره د سولې لپاره پیسې اخلي

او دا چې پیغمبر امر کوي، چې دواړه لوري له مسلمانانو څنې دي او دا

[1] فتح الباري ۵۶/۱۳مخ.

چې سعد (رض) یا سعید (رض) دواړه تر امام حسن غوره دي؛ نو څه خبره ده، چې انسان د پیسو لپاره له خپلې گروهې او دندې تېر شي او څه کیږي، چې د حق له ملاتړه لاس واخلي؛ ځکه جگړه خو د دوو مسلمانو لوریو ترمنځ ده.

او څه کیږي، چې یو ټیټ انسان واکمن شي، که څه هم غوره مجود وي.

هو! د همدې ناسمو مخونو او اجتهاداتو له مخې عقیدې جوړې شوې او د قوم په فقه کې داسې مفاهیم رامنځ ته شول، چې د دولت او حکومت د نظریې، د واکمن او ولس د اړیکې او له واکمن سره د فقیه د رابطې بنودوونکي وو.

## کربلا

د کربلا پیښه، د محمدي اسلام او اموي اسلام ترمنځ وروستۍ وسلواله نښته وه، چې تردې روسته ((محمدي اسلام)) پټ او ((اموي اسلام)) خپور شو.

د اهل بیتو امامانو او لارویانو یې، په خوله او قلم د محمدي اسلام د حقیقت څرگندولو لپاره، په کار لاس پورې کړ او امت یې راباله، چې ددې لیکې پر وړاندې ژمن شي او اموي واکمنو هم د اموي اسلام د دفاع او د محمدي اسلام د اړولو لپاره د خپلو برنامو (کړلار) په عملي کولو لاس پورې کړ.

امام حسین په خپلو مبارکو وینو، له اموي اسلام او هر نامحمدي اسلام سره د مبارزې برنامه وکښله.

دامام حسین انقلاب امت ولړزاوه او شهادت یې، امت خوځښت ته اړ کړ، په خپل سپېڅلي انقلاب یې جناب امیر معاویه او اموي لیکې ته دومره سخت گوذار ورکړ، چې امت یې د غفلت له خوبه راویښ کړ او

د مقاومت او مبارزې روحیه یې پکې وپوکله.

دا انقلاب د امام حسن د مبارزې طبیعي پایله او د امویانو خیانت او شومو دسیسو ته نیغ په نیغ ځواب و او امت یې وپوهاوه، چې نښته همداسې روانه ده او د محمدی اسلام او اموی اسلام ترمنځ جګړه پای ته رسېدلی نه ده او بلخوا د امام حسن د خوځښت په اړه یې ګرد سره شکمنی له منځه یووړې.

لکه چې څنګه د قوم فقهاوو او تاریخپوهانو، د امام علي او جناب امیر معاویه ترمنځ او د امام حسن او جناب امیر معاویه ترمنځ د تاوتریخوالي هویت اپوته ښوولی؛ نو په دې هڅه کې وو، چې د امام حسین او یزید بن جناب امیر معاویه ترمنځ شخړې ته هم ناسمه مخونه ورکړي، نښې یې پټې، د یزید تورمخ، سپین او اموي اسلام تایید کړي.

ابن عبدالبر وایي: پر۶۰س جناب امیر معاویه ومړ او یزید خلیفه شو، په مدینه کې یې له خپل والي ولید بن عقبه وغوښتل، چې له خلکو بیعت واخلي. د شپې یې په حسین بن علي اوعبدالله بن زبیر پسې څوک

ولېږل: دواړه یې راوستل. ورته یې وویل: دواړه بیعت وکړئ. ویې ویل: زموږ په څېر خو د شپې بیعت نه کوي، ګهیځ به د خلکو په مخ کې خپل بیعت اعلان کړو. د شپې کور ته ستانه شول او پر نیمه شپه له مدینې ووتل اومکې ته یې مخه کړه.

امام حسین له شعبان میاشتې څخه تر ذی قعدې میاشتې پورې په مکه کې و او له دې ځایه کوفې ته روان شو اوهمدا یې د مرګ لامل شو، چې ((طف)) ته نژدې د کربلا په سیمه کې پر ٦١س د محرم پر لسمه (عاشورا) شهید شو[1] !

له دې روایته پایله اخلو، چې:

امام حسین، ولید بن عقبه ته دروغ وویل او وډارشو، چې بیعت به ترې واخلي.

امام حسین، د ولید له ډاره د شپې له مدینې څخه ووت.

د امام حسین انقلاب، یو بې موخې حرکت و، چې د مرګ لامل یې

[1] الاستیعاب ٣٩٦/١مخ.

شو.

ابن حجر له ابن عمره (رض) روایتوي، امام حسین یې د راتلو پر مهال ولید، ویې ویل: نن دا سړی اسمانوالو ته، تر ځمکوالو خورا ګران تن دی. امام حسین په مدینه کې اوسېده، تردې چې له خپل پلار سره کوفې ته ولاړ او د جمل، صفین او نهروان په جګړو کې ورسره و، او د پلار تر وژنې ورسره و. بیا له خپل رورسره و او چې رور یې خلافت جناب امیر معاویه ته وسپاره، مدینې ته ورسره راغی او د جناب امیر معاویه تر مړینې په مدینه کې و.

بیا مکې ته روان شو اوعراقیانو ورته لیکونه ولېږل، چې ترجناب امیر معاویه روسته، بیعت درسره کوو. د خپل تره وزی مسلم بن عقیل بن ابی طالب یې ورولېږه، له هغوی یې بیعت واخست او له حسین یې وغوښتل، چې کوفی ته راشي او په دې توګه ورغی او ووژل شو[1] !

دا روایت له تېر روایته توپیر نلري او موخه یې دا ده، چې جوته کړي،

---

[1] الاصابه ۳۳۳/۱مخ.

چې امام حسین، جناب امیر معاویه ته د خلافت په ورسپارلو کې له خپل زور امام حسن سره شریک و او همدا دریځ یې خوځښت تر پوښتنې لاندې راوړای شي؛ نو هغه مهال یې، چې د یو مقدار پیسو په بدل کې خلافت ورپرېښود؛ نو لرې نه ده، چې د یزید پر وړاندې پاڅون یې هم مادي او دنیوي موخې ولري.

روایت شوی، چې امام حسین یې دمسلم بن عقیل له وژنې خبر کړ؛ نو بېرته ستنېده، ځینو وویل: پر خدای قسم، نه ګرځو، د مسلم کسات اخلو یا وژل کېږو؛ نو خپله لار یې ونیوه. عبیدالله بن زیاد یو لښکر چمتو کړی و، چې په کربلا کې د حسین له لښکر سره مخامخ شول، حال دا چې له امام حسین سره ٤٥ تن سپاره او سلو ته نژدې پلي نه وو، حسین د عبیدالله له بولندوی، عمر بن سعد بن ابی وقاص سره ملاقات وکړ. حسین ورته وویل: په دې درېیو وړاندېزونو کې یو یې ومنه: یا دا چې زه یو سرحد ته ولاړ شم، یا مدینې ته ستون شم یا دا چې له یزید سره لاس پرلاس بیعت وکړم !!!

عمر ومنله اوعبيدالله ته يې دا جريان وليکه. عبيدالله وويل: په دې شرط يې منم، چې لومړی دې راسره بيعت وکړي؛ خو حسين ونه منله، جګړه يې ورسره وکړه له خپلو ملګرو سره، چې اولس تنه يې اهل بيت وو، ووژل شول. د امام حسين سر يې له پاتې ژونديو اهلبيتو سره عبيدالله ته ولېږه، چې په دوی کې علي بن الحسين او ترور (عمه) يې زينب هم وه. پرهغه مهال علي بن الحسين ناروغ و. چې يزيد ته ورغلل، په خپل کور کې يې مېشت کړل، بيا يې مدينې ته ولېږل[1] !!!

دا د امام حسين او يزيد د نښتې په اړه خورا ناوړه روايت دی؛ ځکه امام يې خورا ټيټ او يزيد يې سپين کړی دی.

روايت، لومړی دا څيز ثابتوي، چې امام په مازې، چې د مسلم له وژنې خبر شو، ځان يې وبايلود او هېواد ته ستنېدا يې وغوښته او دا راښيي، چې امام کومه انقلابي موخه نه درلوده او د يوې منظمې نقشې له مخې يې را دانګلي نه و.

---

[1] الاصابه ۱/۳۳٤مخ.

دویم، دا جوتوي، چې د امام یارانو ورسره مخالفت وکړ او پر کسات اخستو یې ټینګار وکړ؛ یعنې: دریغ یې یوازې د مسلم د وژنې پر وړاندې یو غبرګون و، نه دا چې پر محمدي اسلام له ایمانه یې راولاړ شوی و او له خپل مشر امام حسین سره یې هیڅ اړیکه نه درلوده.

دا روایت، امام حسین، امام علي، امام حسن او د اهل بیتو او محمدي اسلام لیکې ته یو ستر سپکاوی دی؛ ځکه دهمدې اسلام د استازي امام حسین له خولې د ذلت دریغ بیانوي، چې شخصیت یې مات شوی او کمزوری وښیي، چې سمدستي له جګړې وړاندې له خپلو حقوقو تېرېدو ته چمتو دی، لکه چې له آره امام حسین مبارزې ته چمتووالی نه درلود او د امویانو له لوري یې هم د دغسې نښتې تمه نه درلوده.

او سرحد ته د لېږدلو غوښتنه یې راښيي، لکه چې امام غواړي په اموي لښکر کې یې د یو پوځي په توګه ومني د امام په دغسې مفکورې کې خو له امویانو سره څه دښمني نه لېدل کېږي؛ نو ولې راپاڅېد؟!

او د مدینې ته د ستنېدا په غوښتنه کې، په حقیقت کې د ټولو ارزښتونو

او گروهو لتاړل دي او د ځان ژغورنې لپاره ټول ملګري خوشې کوي !

او خورا ناوړه خبره خو دا چې امام لاس پرلاس له یزید سره بیعت کول غواړي. دلته یې نو محمدي اسلام قرباني کړی او د خپل پلار او رور جهادونه یې تر پښولاندې کړي او جوته کړې یې ده، چې د حق او باطل ترمنځ د جګړې هیڅ نښه نشته، هغه حق، چې استازې یې امام حسین اوهغه باطل، چې استازی یې یزید دی.

امام حسین، چې ځان دومره سپک کړي، چې له یزید سره بیعت وکړي نو څه توپیر لري، چې له عبیدالله بن زیاد سره هم لاس پرلاس شي؟

امام، چې له خپلو حقوقو سترګې پټوي نو دغسې یو چار خو ورته ستونزمن نه دی.

امام چې دومره پر شا ځي، چې له جګړې وتښتی؛ نو اوس خو د یو کوچني کار لپاره لازمه نه ده، چې جګړې ته ورودانګي.

دا ډول روایات، سیاست جوړ کړي دي او د امویانو د چوپړ لپاره اختراع شوي، چې د اهل بیتو لیکه وغندي او ناوړه یې وبرېښوي.

تاریخي کتابونه روایتوي: عبیدالله بن زیاد، د کربلا تر پېښې روسته د کوفې په جامع جومات کې پر منبر وویل: د خدای شکر، چې حق او حقوال یې راښکاره کړي او له امیرالمؤمنین یزید او ګوند سره یې مرسته وکړه او د دروغجن زوی (والعیاذبالله) حسین بن علي اولارویان یې ووژل[1] !

درباري فقها او تاریخپوهان، د یزید په دفاع کې هڅه کوي، چې د امام حسین د وژنې تور ترې لرې کړي او پر بې مانا او بې منځپانګې روایاتو (چې عقل یې نه مني او هیڅوک پرې باور نه کوي) هڅه کوي، چې د امت پرعقل ملنډې ووهي.

یو روایت یې راوړی، چې یزید د امام حسین او یارانو یې، سرونه ولیدل ویې ژړل اوویې ویل: زه خو بې د امام حسین له وژنې هم ستاسې له اطاعته خوښ وم (ولې مو دا چار وکړ) د سمیه پر زوی (عبید الله بن زیاد) دې د خدای لعنت وي. پر خدای قسم، که زه یې لوری وای؛

---

[1] طبري تاریخ ٤٥٨/٥مخ. ابن اثیر کامل ٨٢/٤-٨٣ مخونه.

نوبیخي مې پرېښود او ترې تېرېدم[1] !!!

په هرحال، د دربای فقهاوو په روایاتو کې داسې څه نه لیدل کېږي، چې یزید به ابن زیاد محاکمه، تادیب او ان ټپسوری کړی وي.

او دا چار خورا غوره دلیل دی، چې امام حسین، اهل بیت او یاران یې په خپله یزید، د یزید په امر او دسیسه؛ بلکې ټینگار وژل شوي دي.

او دا چلن بیخي د یزید له شخصیت سره اړخ لگوي.

دا له اهل بیتو سره په مبارزه کې د امویانو همېشنی دود دی. عبدالملک بن مروان پر۵۷ س په مدینه کې د رسول الله صلی الله علیه و آله پرمنبر وویل: زه یوازې په توره ددې امت ناروغي رغوم، پرخدای قسم، چې تردې روسته مې څوک د الهي تقوا مراعاتولو ته راوبولي؛ نو څټ به یې پرې کړم.[2]

---

[1] طبري تاریخ ٤٦٠/٥مخ. الکامل ٨٤/٤مخ. البدایه والنهایه ١٩١/٨مخ

[2] سیوطي، تاریخ الخلفاً ٢١٨-او ٢١٩ مخونه.

## د محمدي اسلام ستنې؛ قرآن او اهل بیت

رسول اکرم صلی الله علیه و آله امت ته په ډېرو سپارښتنو د محمدي اسلام محورونه او ستنې ورښوولې؛ خو تر وفات روسته یې قبیلوي اسلام او بیا اموی اسلام دا محورونه پټ او مسلمانان یې ترې لرې کړل، چې محمدي اسلام وځپي او له منځه یې یوسي.

د امام علي په باب چې درسول اکرم صلی الله علیه و آله له خولې کوم روایات روایت شوي، ښیي چې تر سرور کاینات صلی الله علیه و آله روسته امام علي د اسلام محور دی. او (همداراز) پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله، چې په خپلو اصحابو کې د علي د لارویانو په اړه روایتونه کړي، غوڅ دلیل دی، چې دوی هم د اسلام ستنې او یاران یې دي.

او همداراز هغه روایات، چې د قرآن په اړه راغلي او پېغمبرصلی الله علیه و آله امت ته پر میراث پرېښي؛ یو دلیل دی، چې قرآن هم د اسلام له آریزو محورونو څنې دی. نو ځکه اموي لیکې هڅه وکړه چې قرآن، امام علي، اهل بیت او په اصحابو او تابعینو کې یې لارویان بد انځور

شي او د دوی پرځای یې نورې څېرې رامنځ ته کړي.

د امام او اهل بیتو پرځای یې عایشه ام المؤمنین، جناب امیر معاویه، ابن عمر (رض)، ابوهریره (رض) او عمرو بن عاص او نور رادبره کړل.

اوهغه روایات، چې امام، اهل بیت او لارویان یې پکې ستایل شوي وو، پر ضد یې روایات جوړ کړل، چې خپله لیکه یې پکې تایید شوې او ځان ته یې فضایل پکې توږلي دي.

محمدي اسلام پر دوو مهمو ستنو ولاړ دی:

## قرآن او اهل بیت

### قرآن

سرور کاینات صلی الله علیه و آله، امت ته د قرآن سپارښتنه کړې او ورته یې هڅولی دی. په دې باب ډېر روایات راغلي، چې روستی یې د حجة الوداع سپارښتنه ده، چې پر قرآن اوعترت (اهل بیت) د منګولو لګولو ټینګار شوی دی.

صحیح بخاري له طلحه روایتوي: له عبدالله بن ابی اوفي (رض) مې وپوښتل: ایا پېغمبر وصیت کړی و؟

ویې ویل: نه ! ومې ویل: نو څنګه خلکو ته وصیت کوي او په خپله وصیت نه کوي؟

ویې ویل: د خدای د کتاب وصیت یې وکړ. [1]

روایت شوی، چې پېغمبر ویلي: ((غوره مو هغه دی، چې قرآن یې زده کړ او خلکو ته یې وروښود[2]))

روایت شوی: ((غوره موهغه دی، چې قرآن یې یاد کړ او خلکو ته یې وریاد کړ[3]))

روایت شوی: ((له قرآن سره همژمني شئ [4]...))

روایت شوی: قرآن ولولئ، چې زړونه مو ورسره ډېره مینه پیدا کړي[1].))

---

[1] صحیح بخاري ٢٣٥/٦مخ، کتاب فضائل القرآن.

[2] صحیح بخاري ٢٣٦/٦مخ.

[3] صحیح بخاري ٢٣٦/٦مخ.

[4] صحیح بخاري ٢٣٨/٦مخ.

مسلم له سرور کاینات صلی الله علیه و آله روایتوي، چې د حجةالوداع په خطبه کې یې وویل: ((... د خدای کتاب، چې پکې هدایت او رڼا ده؛ نو منګولې پرې ولګوئ)) او همدارانګه د خدای کتاب ته یې هڅونه وکړه[2]...

دا روایات ښيي، چې قرآن د نبي کریم صلی الله علیه و آله په زمانه کې شته و او اصحابو (رضی الله عنهم ) له رسول الله صلی الله علیه و آله زده کاوه او په دوی کې داسې کسان راپیدا شول، چې پر قرآن وپوهېدل او په اړه یې ژمن شول، چې په سر کې یې امام علي، ابن مسعود، ابی بن کعب اومعاذ بن جبل (رضی الله عنهم) وو.

صحیح بخاري له نبي کریم صلی الله علیه و آله روایتوي: ((قرآن له څلورو تنو زده کړئ: ((عبدالله بن مسعود، سالم، معاذ او ابی بن

[1] صحیح بخاري ٢٤٤/٦مخ.

[2] صحیح مسلم ١٨٧٣/٤ /٣٦ګڼه حدیث، کتاب فضائل الصحابه باب من فضائل علي.

کعب[1] رضی الله عنهم))

داسې ښکاري، چې دا روایت د اموي لیکې ښه راغلی نه دی، سره له دې چې د امام لي نوم پکې نشته؛ خو دا چې دا څلور وانه د امام یاران وو او له امویانو سره مخالف وو؛ نو پر وړاندې یې بل روایت جوړ کړ او د درې تنو پرځای یې نور درې تنه پکې راوړل:

صحیح بخاري له انس (رض) څخه روایتوي: ((پیغمبرصلی الله علیه و آله له نړی ولاړ او قرآن یې راټول نکړ؛ خو دې څلورو تنو: ابوالدرداء، معاذ بن جبل، زید بن ثابت او ابو زید[2]))

له ابن مسعوده روایت دی، چې: ((پرهغه الله قسم، چې بل معبود ترې نشته، پوهېږم، چې د قرآن هر سورت چېرې او پر چا نازل شوی دی.[3]))

خو چې کله حضرت ابوبکر (رض) د قرآن راټولولو ته لګیا شو؛ نو

[1] صحیح بخاري ۲۲۹/٦مخ، کتاب فضائل القرآن، ۸باب

[2] صحیح بخاري ۲۳۰/٦ مخ. د یادونې وړ ده، چې د حدیث راوي (انس) د معاویه او اموي لیکې ملګری دی.

[3] صحیح بخاري ۲۳۰/٦مخ. وګورئ، چې په همدې منځپانګې د امام علي له خولې یو روایت هم روایت شوی دی. (ابن سعد، طبقات ۳۳۸/۲مخ)

یوازې یې له زید بن ثابت (رض) څخه مرسته وغوښته او چې کله حضرت عثمان (رض) امت اړ کړ، چې یوازې له یو مصحف سره به سروکار لرئ؛ نو ابوبکر (رض)، چې د حفصې (رض) مصحف راټول کړی و، همدا یې وټاکه او د امام علي، ابن مسعود، ابی بن کعب یا ابن عباس له مصحفونو یې ګټنه ونه کړه او نه له دوی څخه چا د ابوبکر (رض) یا عثمان (رض) په وختونو کې مرسته وغوښته او ان کوم مصحف، چې له ام المؤمنین عایشې (رض) سره و، ګټنه ترې ونه شوه.[1]

دا قرآن، چې پیغمبرصلی الله علیه و آله په میراث پریښې او امام علي، ابن مسعود، ابن عباس، ابن ابي کعب (رضی الله عنهم) او نورو ترې زده کړ، د محمدي اسلام چورلیز دی، چې پیغمبرصلی الله علیه و آله پرې تاکید لري او سپارښتنه یې کړې ده او څه چې امام علي د آیتونو د تفسیر په اړه له سرور کاینات صلی الله علیه و آله زده کړي وو او لارویانو یې له ده زده کړي وو؛ نو یوه انګېزه شوه، چې تېرېزې لیکې او

---

[1] صحیح بخاري ۲۲۵/۶-۲۲۶مخونه. صالح الوردانی الخدعه، دقرآن برخه.

وریپسې اموي لیکې دا مصحف څنډې ته کړ او ددې تفسیر پرځای یې نور تفاسیر رامنځ ته کړل[1]، چې لیکه یې تایید کړي.

خدای وایي:

إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ (قیامت/۱۷): [ځکه] چې راټولول او لوستل یې زموږ پر غاړه دي

فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ (قیامت/۱۸): نو لکه چې موږ ولوست؛ همداسې یې ولوله.

ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ (قیامت/ ۱۹) بیا یې په ربنتینه کې سپړنه او څرګندونه یې هم یوازې زموږ کار دی.

دا آیتونه څرګند دلیل دی، چې قرآن د نبي کریم په زمان کې راټول

---

[1] تېره سره چینه. سیوطي، الاتقان فی علوم القرآن.

ژباړن: د یادونې وړ ده، چې شته قرآن، هماغه قرآن دی، چې پر پېغمبر نازل شوی بې له څه کمې او زیاتي او باطل پکې بیخي ننوتی نه شي ((لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ)) اومحترم لیکوال، چې د اموي اسلام پر یارانو نیوکه کوي، مطلب یې دادی، چې دوی د معصومینو او د اهل بیتو د امامانو تفسیر ته شا کړې، نه د قرآن اصل آیتونو ته (إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ).

شوی و او پیغمبراکرم یې توضیح له جبرئیل څخه موندلې وه. پوښتنه داده، چې د قرآن، بیان، څرګند نه او توضیح چېرې ده ؟ او ولې په راتلونه کې پیدا نشو؟

ددې پوښتنې ځواب، تر رسول اکرم روسته د دسیسې حقیقت رابربنډوي؛ ځکه د محمدي قرآن بیان، څرګندنه، توضیح او تفسیر له قبیلوي او اموي لیکو سره اړخ نه لګوي؛ نو لازم و چې قرآن له خپل بیان او تفسیره جلا کړي، چې له لیکې سره یې سازش وکړي.

اهل بیت

رسول اکرم صلی الله علیه و آله په ډېرو روایاتو کې د اهل بیتو سپارښتنه کړې او په حجة الوداع کې یې هم وویل: ((تاسې او خدای مو، چې اهل بیت مې هېر نکړئ[1] (دا جمله له یې درې ځل وویله)))

او ویې ویل: ((په تاسې کې دوه ګرانبیه څېزونه پرېږدم او ځم: کتاب الله

[1] صحیح مسلم ٣٦/١٨٧/٤ ګڼه حدیث.

اواهل بیت مې[1]))

مسلم روايتوي، چې د آل عمران ٦١ آيت [فَمَنْ حَآجَّكَ فِيهِ مِن بَعْدِ مَا جَاءكَ مِنَ الْعِلْمِ فَقُلْ تَعَالَوْاْ نَدْعُ أَبْنَاءنَا وَأَبْنَاءكُمْ وَنِسَاءنَا وَنِسَاءكُمْ وَأَنفُسَنَا وأَنفُسَكُمْ ثُمَّ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَل لَّعْنَةَ اللّهِ عَلَى الْكَاذِبِينَ: (د مسيح په باب) چې [په وحې] وپوهېدې؛ نو بيا هم که څوك په دې اړه ناندرۍ درسره کوي؛ نو ورته ووايه: ((راځئ، چې موږ به هم خپل زامن راوبلو او تاسې هم خپل زامن، موږ به هم خپلې ښځې راوبلو او تاسې هم خپلې ښځې، موږ به پخپله راشو او تاسې هم پخپله راشئ؛ بيا به ښېرا وکړو (په موږ کې چې څوک دروغ وايي) نو د الله لعنت دې پرې وي.))] نازل شو؛ نو رسول اکرم علي، فاطمه، حسن او حسين راوغوښتل او ويې ويل: خدايه! دوی مې اهل دي[2]))

روايت شوی، يوه ورځ رسول اکرم توره نخچي وړينه چپن اغوستی وه،

---

[1] صحيح مسلم ٣٦/١٨٧/٤ گڼه حديث.

[2] صحيح مسلم. دې آيت ته د مباهلې آيت وايي، او په اړه يې د تفسير کتابونه ولولئ اوهم: ترمـذي ٣٧٢٤/٦٣٨/٥گڼـه حديث. امام احمد حنبل ١٨٥/١مخ. الحاکم، مستدرک ١٥٠/٣مخ بيهقي، سنن ٦٣/٧مخ.

او راووت. حسن بن علي راغی، تر چینې یې لاندې کړ، حسین راغی او دا یې هم له حسن سره کېناوه، فاطمه راغله، تر چپنې یې لاندې کړه، روسته علي راغی او دا یې هم له دوی سره کېناوه، بیا یې دا آیت [إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً] )احزاب/۳۳) ولوست[۱].

دا چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله، قرآن له اهلبیتو سره په تړاو کې کړ، دلیل یې د دوی ملگرتوب دی او مانا یې دا ده چې بې د اهل بیتوله لارې پر قرآن پوهېدنه او ورسره ژمنه ناشونې ده.

او بل دا پېغمبرصلی الله علیه و آله، چې له جبراییل څخه د قرآن بیان او تفسیر زده کړی و، دوی ته یې وروسپاره او ورته یې میراث کړ. نو ځکه امویانو د اهل بیتو پر ضد کور ورانې جگړه پیل کړه، چې له امام علي پیل او په امام حسین پای ته ورسېده او په پایله کې درې وانه امامان

[۱] مسلم ۱۸۸۳/٤ مخ، ٦١گڼه حدیث باب فضائل اهل البیت النبي.

شهیدان شول، یاران او لارویان يې هم خپاره واره شول.

بیا عباسیانو دا جګړه وغځوله او د اهل بیتو نور امامان يې ووژل او یاران يې تارومار کړل[1].

دا جګړې په حقیقت کې د دوه متضادو اسلامونو ترمنځ وې، چې د یو پایښته د بل په ناپایښتۍ او نابودۍ کې وه؛ نو ځکه ترمنځ يې جوړجاړی نه کېده، او دا چې واکمني د اهل بیتوله دښمنانوسره وه؛ نو لازم و، چې اهل بیت له منځ یوسي؛ ځکه دوی د محمدي اسلام نړه بیلګې او ویاندان وو، هماغه اسلام، چې د دوی اسلام ته يې ستر خطر رامنځ ته کړی و او راتلونکی او برخلیک يې ورپورې تړلی و.

خو د واکمنو له زندیتوب سره سره، تل مسلمانو پرګنیو له اهل بیتو سره اړیکې درلودې؛ ځکه د خلکو په زړونو کې يې ځای درلود او زرورو

[1] عباسیان د امام باقر (پینځم امام) له وخته تر امام حسن عسکري (یولسم امام) پورې وو، بیا يې په پېر کې مهدي راښکاره شو اوغیبت يې وکړ، او دا ټول امامان عباسي واکمنو ووژل. د یادونې وړ ده، چې عباسیانو د امویانو پر ضد په خپل انقلاب کې له محمدي اسلامه مرسته وغوښته، پر اهل بیتو په ظاهري منګولو لګولو سره، خلک يې تېر ایستل، که نه ناشوني وه، چې بریالي شي.

واکمنو له ناوړو تبلیغاتو سره سره، د دوی مقام راکښته نشو کړای[1].

د واکمنو پر دسیسو او ټګیو برګیو سربېره همېشه د اهل بیتو لیکه غځېدلې، چې دا یې پر حقانیت غوره دلیل او د اسلام یې رښتینتوب راښیي او بېشکه له دې نړه اسلام سره د مسلمانو پرګنیو تنګې اړیکې د دې لیکې څرګند دلیل دی؛ نو که دا لیکه یوه معمولي مفکوره وای باید له وخته له منځه تللې وای؛ لکه چې په سل ګونو مذاهب، ډلې او فرقې ولاړې؛ نوم او نښې یې پاتې نه دي؛ خو د دې لیکې پایښت او غځېدنه، یو څرګند دلیل دی، چې محمدي اسلام د قیامت تر ورځې پاتې دی او همېش د مارقینو اومخالفینو پرضد یو حجت دی.

اهلبیت، هماغه دولس ګوني امامان دي، چې رسول اکرم یې په بې شمېره روایاتو کې زېری راکړی او د اهل سنتو په کتابونو کې راغلي هم دي او د روایاتود تواتر له امله یې د خپرېدو مخه نیوای نشوه؛ نو په

[1] داهل بیتو سیرت په دې کتابونو کې ولولئ: هاشم معروف الحسن، حیاة ائمه آل البیت. قادتنا کیف نعرضهم. سیدمحسن معروف اعیان الشیعه. نسایي، خصائص الامام علي. شبلنجي نور الا بصار. صالح الورد اني، حرکة آل البیت.

مخونه يې لاس پورې کړ، چې ښايي د پېغمبر له اهل بيتو يې لرې کړي او د وخت واکمنو ته يې څه خدمت کړی وي.

مسلم له رسول اکرم روايتوي: ((دا امر (دين) تر هغې نه تماميږي، چې دولس خلفا راشي او ولاړ شي [1].))

روايتوي: ((همدغسې د خلکو چار په خير دی، تر هغې چې دولس تنه نارينه پرې ولايت لري[2]))

روايتوي: ((تر دولسو تنو خلفاوو پورې به اسلام عزتمن وي [3].))

روايتوی: ((دا دين تر دولسو خلفاوو پورې همدغسې په عزت او قدرت مخې ته ځي [4].))

د دې ټولو رواياتو سر، د راوي خبرې ته رسي، چې وايي: بيا پېغمبر يو مطلب ووايه، چې پوه نه شوم! يا يې يو څه وويل، چې راڅرگند نشو !...

---

[1] مسلم ۱٤٥۲/۳مخ، ٥ گڼه حديث.

[2] مسلم ۱٤٥۲/۳مخ، ٦ گڼه حديث.

[3] مسلم ۱٤٥۳/۳مخ، ۷ گڼه حديث.

[4] مسلم ۱٤٥۳/۳مخ، ۹ گڼه حديث.

بيا خپله راوي، د پېغمبرله خولې وايي: ټول يې له قريشو دي [1].

پوښتنه ده: ايا سمه وه، چې پېغمبر په پټه ويلي: ټول يې له قريشو دي؟ ولې پېغمبردا کلمه ښکاره نه وايي؟

ايا شونې ده، چې پېغمبر له مسلمانانو کومه کلمه پټ کړي ؟

ددې روايت پر وړاندې دوه چارې شته:

يا دا چې پېغمبر يو مطلب ويلی او محترم راوي، پټ کړی دی او پر ځای يې د ((کلهم من قريش)) جمله راوړې ده او يا دا چې په رښتيا يې ويلي: ((کلهم من قريش))، چې د پټولو څه درک يې نشته؛ ځکه له شته ليکې سره به څه ټکرونه لري.

که پېغمبرصلی الله عليه و آله ويلي وای: ((ټول يې له اهل بيتو دي)) ځای يې و، چې راوي يې پټ کړي؛ ځکه امام علي يې مشر و او دې قوم همېش هڅه کوله، چې امام له خلکو جلا کړي؛ خو که له پټولو

[1] مسلم ۱٤۵۲/۳مخ، ۵ او٦گڼه حديث. نووی شرح ۲۰۳/۱۱۹/۱۲مخونه. فتح الباري (۱۷۹/۱۳-۱۸۳مخونه ) دصحيح صحيح بخاري شرح.

مطلب قریش وي، نوعقل دا نه مني.

دا حدیث د نورو ډېرو احادیثو په څېر، د سیاست قرباني شوی، او دلیل یې دادی، چې د قوم فقهاوو شرحې پرې ورزیاتې کړي، چې له اموي لیکې سره یې ساز کړي.

د قوم فقها یوه خوله دي، چې دولس گوني خلفا دا دي: حضرات [ابوبکر، عمر، عثمان اوعلي]، جناب امیر معاویه، یزید بن جناب امیر معاویه، عبدالملک بن مروان [او څلور زامن یې: ] ولید، سلیمان، یزید، هشام او بیا عمربن عبدالعزیز (رح)![1]

تفسیر ته یې د فقهاوو مخونه داده، چې امت په دې څو تنو اجماع کړې او پر نورو یې اختلاف کړی دی !! او له اجماع نه مطلب دا دی، چې له دوی سره یې بیعت کړی؛ خو تر دوی روسته فتنې زیاتې شوې او

[1] شرح العقیده الطحاویة. ٤٩٠ مخ. فتح الباري ١٨٢/١٣مخ باب الا ستخلاف. صالح الورداني عقاید السنه وعقاید الشیعه.

حالات واوړېدل[1].

ښکاره ده، چې دې فقهاوو هیر کړي، چې ګرد امت خو پرعلي راټول شوی نه و؛ نو باید دا لرې شي، لکه چې نور د نه اجماع پر پلمه حذف او لرې شوي دي [2].

دوی، ددې حدیث په تفسیر کې دومره سرګردانه شوي، چې څه خبره نه لري، چې د رسول اکرم هغه دولس ګوني امامان وشمېري، چې د اسلام عزت ورپورې تړلی دی [3].

ابن حجر له یوه فقیه روایتوي: ((هیڅوک مې ونه موندل، چې ددې روایت په باب غوڅ او یقیني څه ووایي[4]. ))

دا چې ددې قوم فقها، د دولس ګونو امامانو د شخصیت په ټاکنه کې

---

[1] الطحاویه، شرح العقیده ٤٩٠مخ.

[2] الطحاویه، شرح العقیده ٤٨٨ مخ.

[3] د اثناعشرحدیث په شرح کې د دوی بېوسی ته وګورئ: سیوطي، تاریخ الخلفا(١٣-٩) مخونه. ابن الجوزي، کشف المشکل.

[4] فتح الباري ١٨١/١٣مخ. ابن الجوزي وايي: په دې حدیث کې مې ډېره مطالعه او څېړنه وکړه او د ډېر ځایونه مې ولټول او پوښتنې مې وکړې خو پایلې ته ونه رسېدم

ناوسي دي، دليل يې دادی، چې د څېړنې کړی يې له اموي اسلامه دباندې نه ووځي؛ نو ځکه په دې اړه د اموي اسلام په سرچينو کوم مطلب موندلی نشي، چې د پېغمبر د مطلب حقيقت ترې وپوهېدل شي او بېشکه دولس گوني امامان پېژندای نه شي.

که دا فقها، د اهل بيتو پر ليکه پوه وای او له محمدي اسلام يې څه پوهېدنه درلودای او له ځان يې سياسي خنډونه لرې کړي وای؛ نو هرومرو يې د دولس گونو امامانو هويت پېژانده.

هو!

په واکمنو پورې د اسلام راتلونکی، بيخي د پېغمبرمطلب نه دی؛ ځکه ددې واکمنو په سيرت او چلن کې د تقوا، ځان ساتنې او ان د دين څه اغېز او نښه نه ليدل کېږي، چې د اسلام برخليک ورپورې وتړو او دا چې فقهاوو د دولس گونو امامانو حديث په واکمنو پورې اړوند کړی؛ نو بېشکه چې سياست ته يې غاړه ايښې او حديث يې د واکمنو د ځانې غوښتنو له مخې اړولی دی.

خو محمدي اسلام، دولس گوني امام راته څرگند کړي دي:

۱-- امام علي بن ابی طالب.

۲-- امام حسن بن علي.

۳-- امام حسین بن عي.

٤-- اما علي بن حسین.

٥-- امام محمد بن علي.

٦ــــامام بن موسی بن جعفر.

۷ــــامام جعفر بن محمد.

۸-- امام علي بن موسی.

۹-- امام محمد بن علي.

۱۰-- امام علي بن محمد.

۱۱ــــ امام حسن بن علي.

۱۲-- اما مهدي منتظر بن الحسن.

ددی امامانو[1] د حالاتو، ژوند لیک او سیرته څرګندېږي، چې دوی تل د واقعي او محمدي اسلام استازي او ویاندان وو او سیرت یې د انبیاوو او صالحینو سیرت دی او خوی یې د قرآن مجید خوی دی؛ خو د زمانې واکمنو تعقیب کړل او ویې وژل، چې خلک یې له حالاتو خبر نشي او په دې خطرناکه دسیسه کې فقها هم ورسره شریک شول، چې ډېر مسلمان نسلونه، ددې امامانو د نه پېژندنې له امله د ناپوهۍ او سیاست قرباني شول[2].

---

[1] د دولس ګونو امامانو سیرت وګورئ: اعیان الشیعه. نورتاریخي کتابونه.

[2] صالح الورداني، الخدعه ( ۱۱۱-۱۱٤) مخونه.

## داموي اسلام ستنې؛

## د حضرت عثمان (رض) مصحف

**اصحاب**

**روايات**

**د اموي اسلام ستنې:**

((صفين)) د تاريخي کړلېچ يو ټکی و، چې اموي اسلام ترې رامنځ ته شو او مسلمانان يې تر ولکې لاندې راوستل. د محمدي اسلام د ليکې غندنه د مسلمانانو له ژونده، د سمې انګېرنې دپټېدو پيلامه وشمېرل شوه. له هماغې ورځې جناب امير معاويه او امويانو، نوی اسلام رادبره کړ، چې پر ټبرېزې ليکې او ورسره د همژمنو وګړيو پر شخصياتو ودرېد.

دا هماغه شرعي اسلام و، چې واکمنو، له عباسيانو نيولې تر نورو منلی؛ ځکه دا د محمدي اسلام د ځپنې لپاره يو ټينګ سنګر و، چې ربښتوني انقلابيان له منځه يوسي. او په دې توګه اموي اسلام دود، شو د امام علي ليکه تردې بريده منع شوه، چې پرلارويانو يې ربړونې او زنديتوب

تېرېده.

او دغسې محمدي اسلام، هغه اسلام شمېرل کېده، چې خلک يې دوزخ ته راکاږل او اموي اسلام جنت ته !

او په واقع کې اموي اسلام د استبدادي او زورورو حکومتونو په ملاتړ خپل ژوند ته دوام ورکړ او له خطرونو بچ شو؛ خو پر محمدي اسلام پرله پسې برېدونه کېدل، مشران يې ووژل شول؛ نو له چارې تر پردو لاندې پټ شول.

پوښتنه داده، چې د اموي اسلام ستنې کومې دي؟

ځواب دادي، چې دا اسلام پردرې ستونو ولاړدی:

لومړی ستن: دحضرت عثمان (رض) مصحف.

عثمان (رض) نور مصحفونه وسوځول او يو مصحف يې (چې د امويانو په چوپړ کې او د اهل بيتو د ليکې پر ضد و) پرېښود، چې دا يوه ستره فتنه وه [1].

---

[1] صالح الورداني، الخدعه ۱۹۲ مخ.

عثمان (رض) په دې چلن، اموي اسلام نندارە کړ او خپله طرح یې عملي کړه؛ ځکه نور مصاحف (چې د قرآن تفسیرونه او څرګندونې پکې وي) د محمدي اسلام له ژمنو اصحابو سره وو:

د ابن مسعود (رض) مصحف.

دابی بن کعب (رض) مصحف.

د ابن عباس (رض) مصحف.

د امام علي مصحف.

دې څلورو تنو قرآن نیغ په نیغ له رسول الله (رض) زده کړی وو؛ نوځکه یې د عثمان (رض) له قانون سره مخالفت وکړ او عثمان (رض) هم دوی په ځینو وختونو کې وګواښل. د عثمان (رض) مصحف له نورو مصاحفو (د امام علي او نورو... ) سره په دوو ټکیو کې رالنډېږي:

١. ځانګړې ترتیب پکې کارول شوی.

٢. نور مصاحف، چې لمنلیکونه او تفسیر لري، دا یې نه لري.

د قرآن په ترتیب کې، عثمان (رض) له داسې اصحابو مرسته وغوښته،

چې د قرآن په لیکلو یا یادولو (حفظ) کې یې بیخي مخینه نه درلوده[1].

بلخوا اعتماد یې یوازې د حفصې بي بي پر مصحف و، نه پر شتو نورو مصاحفو.

او د حفصې بي بي مصحف هماغه و، چې ابوبکر (رض) او عمر (رض) راټول کړی و؛ یعنې عثمان (رض)، مسلمانان د ابوبکر (رض) د راټول کړای شوي صحیفې له کړۍ څخه نه وباسي او (همداراز) مسلمانان نه پرېږدي، چې د نورو [امام علي، ابن مسعود ابی کعب او ابن عباس (رضي الله عنم)] مصاحفو ته مخه کړي؛ ځکه د دوی مصاحف دتبریزې لیکې یا د اموي لیکې په چوپړکې نه دي.[2]

عثمان (رض)، چې خلک د حفصې بي بي مصحف منلو او لاروۍ ته اړ کول، موخه یې تبرېزې لیکې ته اړ کول و، چې نورو لیکو ته ور ونه ښکودل شي او دا چې نور مصاصف په اصحابو کې شته وو؛ نو عثمان

---

[1] صحیح بخاري ٢٢٦/٦مخ، کتاب فضائل القرآن. فتح الباري ١٥/٩مخ. د لیکوال کتاب الخدعه

[2] فتح الباری ١٥/٩مخ.

(رض) په دې چار محمدي اسلام وځېږه.

که په رښتیا د عثمان (رض) موخه، دا وای، چې د بېلابېلو قرائتونو مخه ونیسي (لکه چې ځېنې تاریخپوهان وایي)؛ نو امت یې یو قرائت ته اړ ایستای شو او د نورو مصاحفو سوځېدو ته څه اړتیا نه وه [1].

که مسله، یوازې د قرائتونه وای، اصحابو ورسره ټکر نه کاوه او ابن مسعود (رض) یې په ډاگه مخالفت ته نه راولاړېده. له تاریخي پلوه، مشهوره ده، چې د امام علي مصحف زماني ترتیب درلود (یعنې آیات، د زماني د نزول له مخې ترتیب شوي وو) او بېشکه په دې ترتیب قرآني آیتونه ښه پوهېدل کېدای شي.

او که مثلاً مدني آیات په مکي سورت کې یا مکي آیات په مدني سورت کې شته وي، د سورت مضمون گډوډېږي. او د عثماني ترتیب

[1] د تفسیر د کتابونو سرېزې ولولئ. البته له قرآئتومطلب، ((احرف سبعه)) نه دي بلکې هغه تفسیرونه دي، چې له پیغمبر(ص) څخه روایت شوي لکه د ابن عباس قرائت، چې دا آیت یې داسې لوست: ((فما استمتعتم به منهن -الی اجل مسمی -فاتوهن اجورهن)) او د قوم فقهاوو له دې تفسیرونو سره مخالفت کړی او له ټبریزې لیکې سره یې اړخ لگوونکی لیدلی نه دی.

موخه داوه، هغه قرآني نصوص، چې په اهل بيتو پورې اړوند وو او ځانګړې مانا يې درلوده او د اموي ليکې په چوپړ کې نه وو، د نورو آيتونو په ترڅ کې يې ايښوول، چې ذهن ته يې حقيقي مانا رانشي او خلک په فکري ګډوډۍ اخته کړي. د بېلګې په توګه، په احزاب سورت (۳۳ آيت) کې لولو: ((إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيراً)) دا آيت، د پېغمبر د مېرمنو په اړوند آيتونو کې ږدي، چې سمدسي د انسان ذهن ته راشي، چې د پېغمبر ښځې هم په اهل بيتو کې دي او په پايله کې داهل بيتو حقيقي مفهوم (چې يوازې په امام علي، فاطمې او ځوځات پورې يې ځانګړی دی) ترې تم شي او د پېغمبر د ميرمنو او د علي په اولادونو کې ګډوډ شي[1].

[1] - ابن مسعود (رض) د عثمان (رض) له مصحف سره مخالفت وکړ او تر مړينې يې ورسره ونه مانه، له دې څرګنديږي، چې مساله، د قرآئتونو مساله نه وه؛ نو چې دا د امام علي د شاګرد دريځ وي؛ نو په خپله د امام دريځ به څه وي؟ دا ټکي تاريخي کتابونو پټ کړي دي (فتح البارى ۳٤/۹مخ) –

(**) د تفسير په کتابونو کې د احزاب سورت تفسير ولولئ. په دې ترڅ کې دې معلومه وي، چې په تحريم سورت کې، د پېغمبر ځينې مېرمنې غندل شوي، چې څرګنده شي، چې دوی په تطهير آيت کې د خدای مطلب نه دی، (تفسيرونه ولولئ).

دويم ټکی: عثماني مصحف له هغو څرګندونو، بيانونو او تفسيرونو څخه تش دی، چې اصحابو کرامو له رسول الله صلی الله عليه و آله څخه اخستي وو او مانا يې دا ده، چې مسلمانان يې، پر قرآن د پوهېدو، له يوازېنۍ شرعي وزلي بې برخې کړل، چې تفسيري اختلافات څنډې ته کوي او په دې توګه اختلاف رامنځ شو.

او بلخوا، نه پرېږدي، چې خلک پر قرآن د رسول الله صلی الله عليه و آله د برنامې او ليکې له مخې پوه شي؛ بلکې قرآن بايد، د زمانې د واکمن د نظر له مخې تفسير او بيان شي.

بېشکه چې دغسې يو مصحف به د اموي ليکې په چوپړ کې وي او د هماغه اسلام يوه بېلګه به وي، چې خلکو ته يې وړاندې کوي؛ ځکه مخونه او تاويل پکې کېدای او په خپله ګټه يې کارولای شي[1].

---

[1] ژباړن: يو ځل بيا وايو، چې په شته قرآن کې، دهغه قرآن په پرتله، چې پرپېغمبر(ص) نازل شوی هيڅ کمی او زياتی نشته، که څه هم شونې ده، چې ترتيب يې بدل شوی وي، خو ټول آيتونه پکی شته او د ليکوال نيوکه داده، چې ولې د شته قرآن له لمنليکه د امام علي او اصحابو تفسيرونه يې لري شوي، چې دا يو سم او پر ځای مطلب دی.

**دويمه ستن: اصحاب**

کوم اصحاب، چې له جناب امير معاويه سره همژمني شول، په حقيقت کې د اموي ليکې بنسټيزې ستنې دي او اموي اسلام يې د محمدي اسلام پر وړاندې راوړاندې کړ، چې دا دي:

عمرو بن عاص، عايشه ام المؤمنين، مغيرة بن شعبه، ابوهريره، ابن عمر، سمرة بن جندب، انس بن مالک، زيد بن ارقم، اشعث بن قيس او جرير بن عبدالله.

دا ټول هغه اصحاب وو، چې له پيغمبرصلی الله عليه و آله سره يې ليده کاته درلودل؛ خو جناب امير معاويه د خپلو ګټو د ليکې په چوکاټ کې کړي وو. روايت شوی، چې امام علي به د ګهيځ او ماښام په لمونځونو په قنوت کې دوی (جناب امير معاويه، عمرو، مغيرة، وليد بن عقبه، ابوالاعور، ضحاک بن قيس، بسربن ارطاة، حبيب بن مسلمه، ابوموسی

اشعري او مروان بن حکم) ته ښېراکولې او دوی به علي ته کولې[1].

امام علي، د عمرو بن عاص په هکله وايي: ((په خبرو کې دروغ وايي، وعده خلافي کوي، ډېرې پوښتنې کوي، اوچې په خپله وپوښتل شي، کنجوسي کوي. په ژمنه کې بدچاری او له خپلوانو لرې دی، له جناب امير معاويه سره يې د ورکړې په بدل کې بيعت وکړ او له دينه يې د لاس وينځلو لپاره، ډېرې لږې بډې ورکړې[2]))

او د مروان بن حکم په باب وايي: ((ايا د عثمان (رض) تر وژنې روسته يې، بيعت راسره ونکړ او زه خو يې بيخي بيعت ته اړتيا نلرم، که په لاس بيعت وکړي؛ نو په پټه يې ماتوي. هن ! واکمني به يې د سپي د څټولو په څېر وي، د څلورو ښکرورو پسونو پلار دی (وليد، سليمان، يزيد اوهشام)، چې خلک به له ده او زامنو يې (خونړی) ورځ ويني[3]. ))

---

[1] ابن ابی الحديد، دنهج البلاغې شرح ٧٩/٤مخ.

[2] نهج البلاغه، ( ٨٤) مه خطبه.

[3] نهج البلاغه ( ٧٣ )مه خطبه

**درېیمه ستن: روایات**

له جناب امیر معاویه سره د دې اصحابو ملګرتوب او له اموي لیکې یې ملاتړ، د تورې او ژبې له مرستې ورواوخوت او د رسول الله صلی الله علیه و آله له خولې یې د روایاتو په اختراع لاس پورې کړ، چې جناب امیر معاویه یې پرې تاییداوه او امام علي یې تر پوښتنې لاندې نیوه او په دې توګه یې اموي اسلام ته د مشروعیت جامې وراغوستې. دا روایات په دوه ډوله دي:

۱-- هغه روایات، چې محمدي اسلام پرې ځپې او د امام علي په اړه شکمني راپیدا کوي.

۲-- هغه روایات، چې مسلمانان پرې اموي اسلام ته ورجذبوي.

اوله هغې ورځې، په حدیثي کتابونو کې راغلي روایات، په دوو برخو وویشل شول:

یوه برخه روایات د جناب امیر معاویه په یارانو او اموي اسلام پورې اړوند دي.

يوه برخه روايات د امام علي په يارانو او محمدي اسلام پورې اړوند دي.

سياست د لومړۍ برخې د راوياتو ملاتړ وکړ او کوم روايات يې، چې د پيغمبر له خولې جوړ کړي وو، ښه پراخ يې خپاره کړل او د دويمې برخې راويان يې، له ډگره وايستل او په روايتونو کې يې ټکې او شک ورواچاوه؛ نو ځکه (( صحيح بخاري )) پر نورو کتابونو غوراوى وموند؛ ځکه د اموي اسلام د يارانوله روايتونو ډک دى او له هغو رواياتو تش دى، چې د محمدي اسلام ملاتړ کوي.

البته هغه روايات ډېردي، چې محمدي اسلام تر پوښتنې لاندې نيسي او په ټول کې امام علي د شک په کړۍ کې رانغاړي او لکه چې په دې يې هم بسيا ونه کړه، تر دې چې د امام په اړه يې د پيغمبر له خولې داسې روايات جوړ کړل، چې مسلمانان يې ټيټ وبولي لکه:

((خلک د قريشولاروي دي او دا چار (حکومت) همداسې په قريشو

کې پاتې کېږي، که څه هم دوه تنه يې ژوندي وي [1]))

((په تاسې کې دوه څيزونه پرېږدم، که منګولې پرې ولګوئ؛ بيخي به بېلاري نشئ: کتاب الله او سنت مې [2]))

((پرتاسې لازم ده، چې زما د سنتو او د لارښوونکيو راشدينو خلفاوو پر سنتو ولاړ شئ او تر ما روسته ترې بېل نشئ[3]))

((پر دې د پېغمبر ګواهي، چې ابوبکر، عمر او عثمان جنتيان دي[4]))

((احده ! ټينګ وسه ! په واقع کې يو پېغمبر، يو صديق او دوه شهيدان درباندې ولاړ دي[5] (يعنې ابوبکر، عمر او عثمان)) !

د پېغمبر د خپه کولو لپاره د ابوجهل پر لور د امام علي مارکه، سره له دې، چې فاطمه يې مېرمن وه[6])) !!

---

[1] صحيح بخاري ٢١٨/٤مخ. مسلم ١٤٥٢/٣مخ، ٤ ګڼه حديث. دسننوکتابونه.

[2] امام مالک، موطا ٨٩٩/٢مخ، ٣ګڼه حديث. حاکم، مستدرک ١٤٨/٣مخ.

[3] احمد، مسند١٢٧/٤مخ. ترمذي سنن ٤٤/٥مخ، ٢٦٧٦ګڼه حديث.

[4] صحيح صحيح بخاري ١٠/٥-١١مخونه. صحيح مسلم ١٨٦٨/٤مخ، ٢٩ ګڼه حديث.

[5] صحيح بخاري ١١/٥مخ.

[6] صحيح بخاري ٢٨/٥ مخ.

((له عباس سره دعلي د دښمنۍ روایت او د پیسو پر سر یو د بل کنځل[1] !))

((غوره تن لومړی ابوبکر، بیا عمر او ورپسې عثمان دی[2]))

ددې روایاتو په څېر، موخه یې د تبریز اسلام او عناصرو یې ملاتړ دی او هم د اموي اسلام ملاتړ دی، چې له تبریز اسلام راټوکېدلی دی. او بله موخه یې په محمدي اسلام کې خوګانې لټول دي، چې بیرغ یې امام علي اوچت کړی، د امام علي پکې سپکاوی دی او نور پرې ړومبي ګڼي.

خو بې شمېره روایات یې د پیغمبر له خولې اموي اسلام ته د مسلمانانو د ورجذبولو لپاره جوړ کړي لکه: ((چا چې د زمانې د امیر ومنل؛ نو زما یې منلي او چې سرغړاندی یې وکړه؛ نو زما سرغړونه یې کړې ده[3])) !

((په سختۍ اوسوکالۍ کې به اطاعت کوې، که ښه دې راځي اوکه بدې

[1] صحیح بخاري ٩٧/٤-٩٨ مخونه آو ١٢١/٩-١٢٢مخونه.

[2] صحیح بخاري ٥/٥-او ٩ مخونه.

[3] صحیح بخاري ٦٠/٤مخ کتاب فضائل الصحابه.

دې ایسي[1])) !

((مسلمان به په خوښۍ او خپګان کې اطاعت کوي[2]))

((واورئ او ومنئ، هغوی د خپلو کړنو مسوول دي او تاسې د خپلو[3]))

((باید واورې او له هغه امیره اطاعت وکړې، چې په کوړو دې پر ملا وهي، پیسې دې اخلي (خو) بیا هم واوره او طاعت یې وکړه[4]))

د جناب امیر معاویه له خولې روایت شوی، چې پیغمبرصلی الله علیه و آله وویل: ((همداسې زما دامت یوه ډله به د خدای په امر راپاځي، که څه هم ملاتړ یې ونشي یا یې مخالفت وشي، څه زیان به ور ونه رسي، څو د خدای امر راښکاره شي او هغه ډله په خلکو کې ښکاره ده[5]))

((چې څوک له اطاعته سرغړونه وکړي اوله جماعته لرې شي او بیا

[1] صحیح مسلم ۱٤٦۷/۳مخ، ۳۵ ګڼه حدیث، کتاب الامارة.

[2] صحیح مسلم ۱٤٦۹/۳مخ، ۳۸ ګڼه حدیث، کتاب الامار ه _ صحیح بخاري ۷۸/۹مخ

[3] صحیح مسلم ۱٤۷۵/۳مخ، ۵۰ ګڼه حدیث کتاب الامارة

[4] صحیح مسلم ۱٤۷٦/۳مخ ۵۲ګڼه حدیث، کتاب الامارة.

[5] صحیح مسلم ۱۵۲٤/۳مخ ۱۷٤ګڼه حدیث، کتاب الامارة.

ومري؛ نو مړینه یې د جاهلي پېرمړینه ده[1]))

((چې چا له خپل امېره څۀ خپګان ولید؛ نو باید صبر وکړي؛ ځکه څوک چې له جماعته سرغړونه وکړي او ومري؛ نو مرګ یې د جاهلیت مرګ دی[2]))

((چې څوک په امت کې درز اچوي، ویې وژنئ [3]))

((که په یوه خوله مو څوک ټاکلی و؛ خو که بل درکې درز اچوي ویې وژنئ[4]))

او داسې روایات راغلي ترهغې، چې واکمن لمونځونه کوي، وژنه یې حرامه ده [5].

---

[1] صحیح مسلم ۱٤۷٦/۳ مخ، ۵۳ ګڼه حدیث، کتاب الامارة.

[2] صحیح مسلم ۱٤۷۷/۳مخ، ۵۵ګڼه حدیث.

[3] صحیح مسلم ۱٤۷۹/۳مخ، ۵۹ ګڼه حدیث.

[4] صحیح مسلم۱۳۸۰/۳مخ، ٦۰ ګڼه حدیث.

[5] صحیح مسلم ۱٤۸۰/۳مخ /٦۳/۱٦۲ګڼې احادیث. او څه ښه اسانه، چې واکمن یو لمونځ وکړي او خپل سیاست ته دوام ورکړي اوخلک مازې اطاعت ته اړکړي !

ثرگنده ده، چې دا روايات د سياست لاس ته راوړنه ده؛ ځکه معقول اومنطقي نه ده، چې پیغمبر به له بدیو او ظلمه ملاتړ کوي او دهغو واکمنو د اطاعت حکم به کوي، چې د خلکو شتمنئ لوټوي، فساد راولاړوي او خلک ربړوي، ايا اسلام د ظلم او فساد د رامنځ ته کولو لپاره راغلی ؟!!

که واکمن په زور د خلکو شتمني واخلي، خلک په کوړو ووهي نوهغه خو يو ظالم يا غل دی ! حال دا چې د واکمنو دنده دا ده، چې امنيت ټينګ کړي، د خلکو حقوق وساتي، عدالت وچلوي او ظلمونه لرې کړي.

ددغسې رواياتو موخه، دا موي اسلام د حقيقې څېرې رابربنډول دي، چې تر ننه حکومت راباندې کوي.

دا د استسلام اسلام دی، چې له واکمنو سره جوړجاړی کوي او ظلم او فساد ته مخونه ورکوي.

او دا هغه اسلام دی، چې واکمن پر ولسونو برلاسوي اوشتمن پر نېستمنو

غوره بولي.

دا هغه اسلام دی، چې فروعات (څانګې) پر اصول (آرونو) اوچت بولي.

دا هغه اسلام دی، چې په امت کې د کینې او نفاق تخم شیندي.

او دا هغه اسلام دی، چې پېغمبرصلی الله علیه و آله او اهل بیت سپکوي.

دا د اموي اسلام څېره ده او مهمې نښې یې دي او لکه چې څرګنده ده، له محمدي اسلام سره پوره مخالف دی؛ هماغه اسلام، چې امام علي بې بیرغچي دی؛ هغه اسلام، چې له ولسونو سره ارتباط لري او د ظالمو واکمنو پرضد ودرېد، د نیستمنو او بېوزلیو ملګری شو او پر آرونو یې ډډه ووهله، پېغمبر یې درناوی وکړ او تقدیر یې کړ او پر شرعي مقام یې ورکېناوه، لکه چې اهل بیت په خپل اوچت مقام کې وساتل.

## د اموي اسلام غبرګون

**اسلامي دولت**

**اسلامي تفکر**

**اسلامي خوځښتونه**

د رسول اکرم صلی الله علیه و آله تر وفات روسته څلور لیکې راښکاره شوې:

د امام علي په مشرۍ د اهل بیتو لیکه، د محمدي اسلام بیلګه.

د ابوبکر (رض) اوعمر (رض) لیکه، د تبریز اسلام بېلګه.

د عثمان (رض) او جناب امیر معاویه لیکه، د اموي اسلام بېلګه.

د خوارجو لیکه، د سرسري اسلام بېلګه.

د حضرت عمر (رض) په وژنې، تبریز اسلام پای ته ورسېد؛ خو درې نورې لیکې پاتې شوې د اهلبیتو لیکه (له حضرت علي روسته ) د امام علي په زامنو او بیا یې په لارویانو کې رانغاړل شوې وه.

د اموي اسلام لیکه تر نه پورې د حکومتونو په ملاتړ دوام لري.

د سرسري اسلام ليکه، د ټولو بده راتله او ډېر لږ شمېر يې لارويان وو، تر دې چې وهابيت بېرته رامېدان ته کړه. د عربستان دولت په مسلمانانو کې خپره کړه او ان په اسلامي ډلو کې يې پراخه تبليغات ورته وکړل.

او په واقع کې اموي اسلام، د زمانې په اوږدو کې له اسلامي تفکر سره واغږل شو، چې خپل رنګ ورکړي، ورپسې سرسري اسلام راغی، چې په نوي تيلي پېر کې يې خپل سيوری پرې وغورځاوه؛ خو داسې مقدره وه، چې محمدي اسلام به په لږه کي مستضعفينو او بېوزله کړای شويو (شيعيان) کې را ايسار پاتې شي، تردې چې خدای يې کله کله بېرغ اوچتاوه، ځواکمناوه يې او په ځينو سيمو کې يې پر پښو دراوه، چې مهم شيعي دولتونه، په مصرکې فاطمي دولت او په ايران کې صفوي دولت و.

خو پر( ۲۲/۱۱/۱۳۵۷) په نني ايران کې داسلامي انقلاب بريالیتوب، محمدي اسلام راښکاره کړ، چې پر اسلامي تاريخ يې ښه غېز اچولې؛ ځکه سياست، چې پېړيو پېړيو د اسلام رڼا مړه کړې وه، دې انقلاب پکې نوې سا پو کړه.

نو ځکه موږ نن درې معاصرې اسلامي څېرې لرو:

( ۱) حکومتي اسلام، چې له اموي اسلام راټوکېدلی دی.

(۲) سعودي اسلام، چې د خوارجو له اسلامه راټوکېدلی دی.

( ۳) او شیعي اسلام، چې د محمدي اسلام بېلګه ده.

او د کتاب په دې برخه کې، په لاندې عنوانونو کې ددې درې وانو څېرو اغېز څېړو: اسلامي دولت اسلامي تفکر اسلامي خوځښتونه.

**اسلامي دولت:**

په اسلام کې لومړی ځل امویانو پاچایي نظام رادبره کړ او تر دوی روستو حکومتونو، همدا لار خپله کړه او له همدې مخې اسلامي مفکوره جوړه شوه او د اسلامي دولت بنسټ کېښوول شو او په تاریخ کې د اسلامي حکومت مهمې نښې داوې:

استبداد سرغړاندي پاچاهي د نظر د ازادۍ نشتوالی او د انسان بې ارزښتوب.

په اسلامي تاريخ کې څرک نه ليدل کيږي، چې فقهاوو به له دې نښو سره مبارزه کړې وي؛ بلکې جوخت ورسره اوسېدل او سل په سلو کې يې منل، لکه او سني فقها هم، له معاصرو حکومتونو سره همدغسې دي.

په هغه زمانه کې، واکمن و، چې قاضيان يې ټاکل او په ټولو احکامو او قوانينو کې يې نيغ په نيغ لاسوهنه کوله. او هماغه تر ځان روسته خليفه ټاکه او خبره يې خبره وه او بس او سره له دې، چې مسلمانو پرگنيو په کړاوونو کې ژوند کاوه؛ خو واکمن به سوکاله و او مېلې چرچې به يې کولې.

د افسوس وړ ده، چې فقهاوو به دا وضع تاييدوله او مخونې ته يې روايات او فتواوې جوړولې، چې مسلمانان، واکمنو ته غاړه کېدي[1].

هغوی وو، چې د حضرت عثمان (رض) له کړېڅونو يې دفاع وکړه او مخونه يې ورکړه.

---

[1] حديثي کتابونه، له داسې رواياتو ډک دي، چې د واکمنو لاروي واجب بولي، لکه چې مخکې مو ځينو ته اشاره وکړه. درباري فقهاوو، دا روايات د اسلامي حکومت په باب خپل فکري بنسټ گڼلی او دا روايات يې ډاډمن اسلامي عقايد بللي دي

هغوی وو، چې له امویانو اوعباسیانو یې ملاتړ او دفاع وکړه.

او بیا هغوی وو، چې له ایوبیيونو، ممالیکو اوعثمانیانو یې هم دفاع وکړه.

عجیبه ده، چې نن هم دعثماني دولت په ویر کې ژاړي او د عثماني خلافت د راتګ خوبونهویني، لکه هېر شوي یې دي، یا ځان یې په هېرو کې وهلی، چې دې واکمنو خلفاوو د خپلې واکمنۍ ټینګښت ته څومره پاکې وینې بهولي او څومره جنایتونه یې کړي.

لکه چې د واکمنو وحشي کړنې، پر درباري فقهاوو څه اغېز نلري؛ ځکه په وینا یې، دا کړنې دین ته څه زیان نه رسوي ! نو د مسلمانانو ګټو ته هم څه زیان نه رسوي !!

څرګنده ده، چې دا ظالم واکمن د خلکو په دین کې لاس نه وهي؛ ځکه اصلي موخه یې خپل ژوند او د راتلونکې تامین دی ! او همداراز فقهاوو ته هم هیڅ زیان نه رسوي؛ ځکه دی هم د خلکو په زبېښلو او استبداد کې ورسره یولاس دي.

دا نظریات، د دوی له خپلسري مفکورې راولاړ شوي، چې که څه یې د

خپلې خوښې اسلام له کړی وتلي وي؛ نو باطل يې بولي؛ نو ځکه د واکمن مخه پرانستې او لاس يې ازاد دی، چې ووژني، لوټ او بې ناموسي وکړي، خلک بې پته کړي او د خپلو مخالفينو پر ضد هر ډول تېری روا ګڼي.

د دولت پر تفکر، څرنګوالي او د منځ ته راتګ پر وزلو يې، د اموي ليکې مهمې اغېزې په دې کې رانغاړل کېږي، چې فقهاوو، په اسلام کې د حکومت پر درې ګونو څرنګوالي اعتماد کړی، چې دا څرنګوالی يې د درې ګونو خلفاوو (ابوبکر، عمر، عثمان رضی الله عنهم) له «حکومت دوده» اخستی دی.

لومړی څرنګوالی: شورا: شورا له اهل حل وعقد او د قوم له مشرانو جوړېږي؛ دا ځکه چې د حضرت ابوبکر(رض) خلافت له سقيفې راولاړ شوی او هم شپږتنيزې شورا ته د حضرت عمر (رض) وصيت.

دويم څرنګوالی: وصيت: دا چې حضرت ابوبکر (رض)، حضرت عمر (رض) په وصيت خپل ځايناستی کړ او په واقع کې په راتلونکي کې يې

سلطنت ته لار پرانسته.

درېیم څرنګوالی: ولایتعهدي: دا هم د جناب امیر معاویه، اموي او عباسي واکمنو له چلن څخه اخستل شوی، چې د ولایتعهدۍ رژیم، شرعي بڼه ونیوه او اوږد وخت یې پر مسلمانانو واکمني وکړه.

قاضي ابویعلی د واکمن په اړه وایي: دا کفایي فرض دی، چې دوه ډله خلک یې مخاطب دي:

( ۱) مجتهدین اختیار لري، چې یو وټاکي.

( ۲) چې څوک د امامت شرایط ولري او پرې وټاکل شي.

خو ټاکونکي باید درې شرطه ولري:

( ۱) عدالت. ( ۲) پوهه، چې مستحق ته یې ورسوي. ( ۳) د تدبیرخاوند وي، چې غوره امامت ته وټاکي.

خو امامت ته څلور شرطه دي:

(۱) قریش وي، احمد روایت کړی، چې غیر قریش، د خلافت لایق او وړ نه دي.

( ۲) باید د قاضي صفات او شرایط ولري، چې دا دي: ازادي، بلوغ، عقل، علم اوعدالت.

( ۳) دا وس ولري، چې د خلکو چارې اداره کړي، جنګ او سیاست پرمخ بوځي او حدود تطبیق کړي او د امت په دفاع کې سستوب ونه کړي.

( ٤) له علمي او دیني پلوه، غوره تن وي. البته له احمد بن حنبل (ره) څخه روایت شوی، چې نوموړی دعدالت، علم او فضیلت شرایط لازم نه بولي!!

امام احمد حنبل ویلي: که څوک په زور پر خلکو برلاس او واکمن یې شي، ورپسې خلیفه او د مؤمنانو امیر شي؛ نو څوک چې پر خدای او د قیامت پر ورځ ایمان لري باید تر هغې ویده نشي، چې دا یې خپل امام کړی نه وي، که مؤمن وي یا فاسق او فاجر؛ ځکه امیرالمؤمنین دی !!

روایت ترې شوی: او که امیر د شرابو په څښلو او د غنیمتونو په غلا مشهور وي؛ خو جګړې ته تله؛ نو تلل ورسره لازم دي او هغه د واکمن د

خپل ځان نیمګړتیاوې دي (او ورسره تلونکي ته څه زیان نه رسوي[1] )!

ابن تیمیه د اهل سنت او جماعت په باب وایي: اهل سنت اړین بولي، چې خلک دې له مؤمن یا فاجر امیر سره حج، جهاد، د جمعې ورځې او د اختر لمونځونه وکړي[2] !

بېجوري وایي: که د ټاکلي تن په باب د خدای یا رسول له لوري نص نه وي یا تېر امام په ځایناستی ټاکلی نه وي؛ نو پر امت واجب دي، چې ځان ته عادل امام وټاکي؛ خو چې دا پینځه شرایط ولري: اسلام، بلوغ، ازاد، عقل او فاسق نه وي. البته دا شرایط د کار د پیلامې لپاره دي؛ خو دوام ته یې شرط نه دی (یعنې کافي ده، چې په لومړي سر کې دغسې شرایط ولري؛ خو که روسته فاسق شو، څه زیان نه لري !!) او که امت، څوک امامت ته اړ کړ، باید و یې مني که څه هم وړتیا یې نه لري؛ خو

[1] ابویعلي، الاحکام السطانیه د قاهرې چاپ. ماوردي، الاحکام السطانیه.

[2] ابن تیمیه، العقیدة الواسطیة، ۲۵۷مخ، دعربستان چاپ.

بيا هم امامت رامنځ ته کېداى شي[1].

څرګنده ده، چې د قوم فقهاوو، دا ليدلورى له ټبرېزې ليکې او اموي ليکې اخستى دى. دا ليدلورى د درې ګونو خلفاوو، جناب امير معاويه او د نورو پر زور ناستو خلفاوو پر چلن ولاړ دى، چې حکومت يې غصب کړى، که څه هم وړتيا يې نه درلوده، کوچني يا ان مريان وو.

دا ډول سياسي طرحې په دين پورې هيڅ تړاو نه لري او درباري فقهاوو، په جعلي رواياتو او ساختګي اجتهاداتو، واکمنو ته رادبره کړي او د شرعې جامې يې وراغوستي او خلک يې اطاعت ته اړ کړي، چې امت ته دا حالت په ګرانه بيه تمام شوى دى.

امام مالک، منصور عباسي ته وايي: که ته د خلافت وړ نه واى؛ نو بېشکه چې خداى نه درکاوه[2] !!

---

[1] شرح البيجوزي على متن الجوهرة المسمى تحفة المريد على جوهرة التوحيد. (د قاهرې چاپ) د يادونې وړ ده، چې دا کتاب د الازهر پوهنتون يو درسي کتاب هم دى.

[2] د امام ابوحنيفه مناقب وګورئ. د امام مالک د ((الموطا)) د کتاب سريزه ولولئ. د يادونې ده، چې امام مالک د منصورعباسي په امر ((الموطا)) وليکه!

دا خبره، دهغه فقیه د خبرې په غبرگون کې ده، چې د منصور عباسي په څېر پرغصبي خلافتونو یې نیوکې درلودې.

ابویوسف وایي: امیرالمؤمنین هارون راڅخه وغوښتل، چې د مالونو د لاس ته راوړو لپاره یو هر اړخیز کتاب ولیکه، چې عملي یې کړو[1].

ابویوسف، د واکمن دندې داسې ښیي:

١. د الهي حدودو عملي کول

٢. وگړیو ته یې حقوق ورکول

٣. د ښو واکمنو ددودونو راژوندي کول

٤. د ظلم مخنیوی او پر خلکو یو رنگ د شرعي احکامو عملي کول

٥. پر الهي چارو امر کول او له بدیو منع کول

٦. بې د حق له لارې، به له ولس څخه څه نه اخلي او یوازې په حق کې به یې لگوي[2]

---

[1] ابویوسف، کتاب الخراج، سریزه ٩٦مخ.

[2] ابویوسف، کتاب الخراج، سریزه ٩٩- ١٠٠ مخونه.

۷. د واکمنو پر وړاندې دمسلمانانو دندې دادي:

— سرغړونه او جګړه ورسره و نه کړي

— ويې نه کنځي او خيانت ورسره ونه کړي

— پر تېريو يې زغم وکړي ! او په نصيحت کې يې لنډون ونه کړي

— له بديو يې منع او په ښو چارو کې يې مرستندوی شي[۱]

فقها وو، چې واکمنو ته دا شرايط را ايستلي، د رسول اکرم صلی الله عليه و آله د وفات له وخته تر ننه په يوه چارواکي کې هم ليدل شوي نه دي. همداراز هغه دندې يې چې بايد د خلکو پر وړاندې عملي کړې وای، پر يوې هم عمل کړی نه دی، بلخوا فقهاوو پردې وضع نيوکه کړې نه ده او نه يې له دې وضع سره څه مخالفت درلودلی؛ بلکې جوړجاړی يې ورسره کړی او امت ته يې د زغم سپارښتنه کوله[۲].

فقهاوو د اسلامي دولت منځپانګه او قوام يې او (همداراز) د واکمن

[۱] ابويوسف، کتاب الخراج، سريزه ۱۰٤-او ۱۰٦ مخونه.

[۲] پرصحيح مسلم، د نوی شرح. پرصحيح صحيح بخاري د ابن حجرشرح، کتاب الاماره

ځانګړنې، د درې ګونو خلفاوو(رضی الله عنهم)، اموي او عباسي خلفاوو له نظرياتو او چلن څخه په ګټنې په نښه کړي او په دې باب يې امام علي، نظريات او د دولت بېلګه يې ناليدلې ګڼلې؛ ځکه د حضرت علي طرح او بېلګه له واکمن بهير سره په ټکر کې ده، چې فقها يې ملاتړي دي.

په حکومتي چارو کې د امام علي کړنې او چلن د اسلام رښتونې څېره رابربنډوي؛ هماغه اسلام، چې اموي ليکې يې د پټولو لپاره هڅې کولې، چې خلکو ته د اموي حکومت حقيقت او له واقعي اسلام سره يې ټکر رابرسېره نشي.

پوښتنه ده، چې د امام علي د دولت نښې کومې دي؟

امام علي، لکه چې څنګه په دنيا کې زاهد و، په خپل حکومت کې هم زاهد و او يوازېنۍ موخه يې دا وه، چې امت د محمدي اسلام پر ليکه ټينګ او د حضرت علي په پوهې (چې له پېغمبره ورته ميراث شوې) هدايت شي.

نوځکه چې کله ( د حضرت عثمان (رض) تر وژنې روسته ) خلک ترې د بیعت لپاره راټول شول، ویې ویل: ((ما پرېږدئ، په بل پسې ولاړشئ، پوه شئ که پر تاسې خلافت ومنم، چې څنګه په خپله پوهېږم، هماغسې حکومت درباندې کوم، نه د چا خبرې ته غوږ ږدم او نه یې ټپسورې منم... نوکه زه درته وزیر وسم غوره ده، چې امیر درباندې وسم[1]))

او چې امام واک ترلاسه کړ، خپله حکومتي برنامه یې په ښه کړه: ((له ما سره ستاسې بیعت بې فکره نه و او زما او ستاسې چار یو رنګ نه دی، زه تاسې د خدای لپاره غواړم او تاسې ما د ځان لپاره غواړئ. خلکو ! پر خپلو نفسونو (او ځاني غوښتو) مو پر برلاسی، زما ملاتړي شی. پر خدای قسم، چې د مظلوم حق به له ظالمه واخلم او ظالم به له پېزوانه نیولی د حق پر اخور وتړم، که څه هم خوښه یې نه وي[2]))

امام په دې وینا کې ډېرو حقایقو ته اشاره کوي او د حکومت څېره

---

[1] نهج البلاغه ۹۲ خطبه.

[2] نهج البلاغه ۱۳۶ خطبه.

رابربنده‌وي. نیغ په نیغ د حضرت ابوبکر (رض) واکمنۍ ته د رسېدو پر دود نیوکه کوي.

اشاره کوي، چې له ده سره د خلکو بیعت، د مسلمینو په خوښه، غوښتنه، بې له څه دباو او په پوره ازادۍ وشو، نه د سقیفې په څېر. بیا یې په ډاګه کړه، چې هغوی به لتاړ شي، چې له تېرې وضع یې د ځان لپاره ګټنه کوله. امام د یو واکمن په توګه، مسلمانانو ته خپل لید څرګندوي:

((څوک هم د حق، زړه سوي، احسان او کرم بلنې ته، تر ما ړومبی شوی نه دی؛ نو خبره مې واورئ او پر وینا مې ځان پوه کړئ، ژر به د خلافت چار وګورئ، چې تورې به پکې راوایستل شي او ژمنې ماتېږي، تر دې چې ځینو مو (طلحه او زبیر رضی الله عنهما) د بېلاریو مشران او د ناپوهو لاروي کېږي[1]))

امام، په دې وینا، امت ته هغه ګواښونه بې پردې کړل، چې د امت یوالی ګواښي، چې دا د امانت خورا ښکلې بېلګه ده.

---

[1] نهج البلاغه ۱۳۹ خطبه

او په واقع کې، امام د حکومت غصبول رد کړي او وايي:

((خلکو! خلافت ته هغه وړ دی، چې پر حکومت کولو کې غښتلی او د خدای پر احکامو ښه پوه وي؛ نو که فتنه مار فتنه اچوي، ترې وغوښتل شي، چې له فتنې دې لاس واخله، که ویې نه منله، باید ووژل شي. پر ځان مې قسم، که د امام د ټاکنې شرط، د ټولو خلکو شتون وي؛ نو بیخي به دا چار ونشي؛ بلکې باصلاحیته وګړي (اهل حل وعقد) دي، چې خلیفه ټاکي، چې عمل یې پر نورو مسلمانانو نافذ دی. بیا نه شته بیعت کوونکي د بیا کتنې حق لري او نه هغوی د بل ټاکنې حق لري، ، چې په ټاکنو کې حاضر نه وو[1]))

امام په دې وینا، د واکمنو هغه بیعت ردوي، چې د ولسونو په غیابو کې وشي لکه چې تر ده وړاندې له درې ګونوخلفاوو سره وشو او هم، چې تر ده روسته له نورو وشو.

امام د ظالمانواو د مسلمانانو د حقوقو د غاصبانو په مخ کې دعدالت غږ

[1] نهج البلاغه ۱۷۳ خطبه.

اوچتوي؛ هماغوی، چې د مسلمانانو شتمنۍ یې خپلوانو ته ورکړې او د بېوزلیو او مسلمانانو د حقوقو په لتاړ یې خپل خپلوان د خلکو د جایدادونو خاوندان کړل.

حضرت عثمان (رض)، چې کومې ځمکې نورو ته ورکړې وي، امام یې په باب وایي: ((پر خدای، که لوټ شوی بیت المال هر چېرې وموم؛ نو اصلي خاوند ته به یې ورستون کړم که څۀ هم واده یې پرې کړی وي یا یې مینزې پېرلې وي؛ ځکه په عدالت کې ټولو ته پراخي ده او پر چا چې عدالت گران پرېوځي؛ نو د ظلم زغم خو پرې ډېر سخت وي[1]))

امام له خپلو مخالفینو سره د خبرو اترو ور پرانستی و، چې دا چلن د تېرېدنې او جوړجاړي روحیه راښیي، چې خپل دلایل ووایي امام د ((جمل)) له اصحابو، په ((صفین)) کې له جناب امیر معاویه، او ((خوارجو))سره دا لار نېولې وه امام، تر ((جمل)) جگړې وړاندې ابن عباس (رض)، زبیر (رض) ته ولېږه او ورته یې وویل:

[1] نهج البلاغه ۱۵ خطبه

((له [حضرت] طلحه [رض] سره مه گوره؛ ځکه که و دې ليده؛ نو پوه به شي، چې د سرکښ غويي په څېر يې خپل ښکرونه کاږه کړي، روږد دی، چې سختې چارې اسانې گڼي؛ خو له [حضرت] زبير بن عوام [رض] سره وگوره، چې نرم خويه دی[1] ورته ووايه، چې د ماما زوی دې وايي: په حجاز کې دې وپېژندم؛ خو په عراق کې رانه منکر شوې[2]؟! څه وشول، چې له خپلې ژمنې پر شا شوې؟!))

په صفين جگړه کې خپل ياران له کنځلو منع کوي او د مقابل لوري په هکله وايي:

((دا مې ښه نه ايسي، چې کنځونکي[3] ياست؛ خو که کړنې يې ووايئ او حالات يې ورياد کړئ؛ نو د خبرو کولو به مو سمه لار خپله کړې وي او عذر مو منل کېده، د کنځلو پر ځای دا دعا وکړئ: څښتنه! زموږ او د

[1] (د حضرت علي خبره رښتيا شوه، چې د رسول اکرم (ص) حديث يې ورياد کړ؛ نو توره يې وغورځوله)

[2] په حجاز کې دې بيعت راسره وکړ او پر حق خليفه دې وگڼلم او پر ټينگار دې خلافت منولو ته اړ کړم؛ نو اوس ولې په عراق کې جگړه راسره کوې؟

[3] دشتي: کنځل مار؛ حجر بن عدی او عمرو بن حمق ول (وگ: د خويي شرح: ۱۳ / ۸۳او ۸۴ مخونه)

هغوی وینه له تویېدو وساتې او موږ سره پخلا کړې او له بېلارۍ یې، سمې لارې ته ورسیخ کړه، چې ناپوهان یې، حق وپېژني او هغوی چې له حق سره جګړه کوي، لیپخوره - پښېمانه شي او غاړه ورته کېږدي. ))

امام، جناب امیر معاویه ته په یوه لیک کې کښلي و ( نهج البلاغه۷۳۶مخ ): ((جناب امیر معاویه ! پرځان مې قسم، که له عقله کار واخلې او ځاني غوښتنې شا ته کړې؛ نو د [حضرت] عثمان د وینې په باب به مې بې ګناه وبولې او پوه به شې، چې ما ترې ځان ګوښه کړی و؛ خو دا چې په تور دا وژنه راپورې وتړې او چې څه ښکاره (او د لمر په څېر ځلېږي) دي، په لوی لاس پټ کړې))

او په بل لیک کې ورته کښي:

(جناب امیر معاویه!) څه به وکړې، که د دنیا دا ښکلې رنګینې اغوستې جامې دې وایستل شي؟ دنیا په خپلو خوښیو تېر ایستی یې، ځان ته یې رابللی یې او دا بلنه دې منلې؛ د هغې امر ته دې غاړه کېښووله، په رښتیا ژر به دې یو خطرناک ډګر ته راوباسي، چې یو ډال به دې یې هم له

زيانه ونه ژغوري. جناب امير معاويه! له دې چار لاس واخله او حساب ته چمتو وسه او هغې پېښې ته تيار وسه، چې درپسې راځي، د ورکلارو خبرو ته غوږ مه ږده! او که داسې دې و نه کړل؛ نو خبروم دې چې غافل يې. داسې سړی يې چې په مېلو چړچو کې ډوب يې، شيطان درلاسبری دی او په مټ دې خپلو هيلو ته رسي او د ساه او وينې په څېر دې په گرد بدن کې چلېږي. جناب امير معاويه! له څه وخته د امت مشر او د ملت بولندی يې؟ نه په دين کې ځلانده مخينه لرې او نه په کورنۍ کې لوړ شرافت. پر ريښه دارې دښمنۍ له اخته کېدو، خدای ته پناه وړم! او وېروم دې چې د خپلو هيلو په عملي کولو کې هڅاند يې او دننه او دباندې دې يو رنگ نه وي.

جناب امير معاويه! جگړې ته دې رابللی يم، که رښتيا وايې؛ نو خلک پرېږده او دوه په دوه به وجنگېږو او دواړه لښکرې له وژنې وساته، چې پوه شې، د کوم يوه پر زړه د گناه تکه توره پرده خپره ده او غفلت د چا سترگې پټې کړې دي؟

زه ابوالحسن په بدر کې ستا د نیکه، ماما او رور وژونکی یم[1]، چې د دوی سرونه مې پرې کړل، نن هماغه توره راسره ده او په هماغه زړه له دښمنانو سره مخامخېږم، نه مې په دین کې بدعت ایښی او نه مې نوی پیغمبر غوره کړی، زه پر هماغه سمه الهي لار یم، چې په خپله خوښه دې پرېښې وه او په ناخوښۍ او اکراه دې ومنله!

انګېرې چې د حضرت عثمان (رض) د وینې بدل واخلې، حال داچې پوهېږې، هغه چا وژلی دی!؟ که رښتیا وایې له هغوی غچ واخله! سکه، زه دې په جګړې کې داسې وینم؛ لکه اوښان چې له درانه باره څورېږي او ګورم، چې سرتېري دې د تورو په پرله پسې ګوزارونو پر ځمکه لوېدلي او په بې صبرۍ مې د خدای کتاب ته رابولي، حال دا لښکر دې کافر او ژمنماتی بیعت کوونکی دی!

---

[1] ژباړن: عتبه بن ربیعه د معاویه مورنی نیکه و او ولید بن عتبه یې ماما وه او حنظله بن ابوسفیان یې رور وه، چې په بدر کې د جګړې پیل ته راووتل، علي (ک)، ولید وواژه او بیا د حضرت عبیده بن حارث (رض) مرستې ته ورغی، چې له عتبه سره په سخته جګړه کې ښتی وه، چې دا یې هم وواژه او د غزا په ترڅ کې یې حنظله هم وواژه.

بیا ورته کښي:

د خدای تر یاد او درود روسته! لکه چې ویلي دې دي، چې موږ یو له بل سره دوستان او خپلوان وو؛ خو پرون زموږ او ستاسې ترمنځ ځکه بېلتون راغی، چې موږ ایمان راووړ او تاسې کافر شوئ او نن موږ په اسلام کې ټینګ پاتې شو او تاسې وازمېیل شوئ. ستاسې اسلام راوړونکیو هله اسلام ته مخه کړه، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله ته د عربو مشران تسلیم او په ډله کې یې شول[1].

په لیک کې دې کښلي، چې حضرت طلحه (رض) او حضرت زبېر (رض) دې وژلي[2] او حضرت عایشه بي بي دې شړلې او د کوفې او بصرې ترمنځ پروت یې. دا چارې په تا پورې اړه نه لري او لازم نه دي، چې ښښنه درنه وغوښتل شي او کښلي دې دي، چې د مهاجرینو او انصارو په ملاتړ به دې جګړې ته درشم. هجرت له هغې ورځې پای ته

[1] مراد ابوسفیان دی، چې د مکې د سوبې پر ورځ تسلیم شو.

[2] حضرت طلحه (رض) د جمل په ډګر کې مروان بن حکم په غشي وایشت او حضرت زبیر(رض)، چې له جګړې لاس پر سر شو، په لار کې عمرو بن جرموز وواژه.

ورسېد، چې رور دې "یزید" د مکې په سوبه کې اسیر شو[۱]؛ نو که له ما سره په لیدو کاتو کې بېړه کوې؛ نو ژر کوه؛ ځکه که لیدو ته دې درشم، دا وړ ده، چې خدای ستا لورې ته درلېږلی یم، چې غچ درنه واخلم که نه راسره مخ شوې، داسې به وي؛ لکه اسدي شاعر چې ویلي: " دوبنۍ سیلۍ سخته لګي او له شګو سره یې په دوړو او ډبرو کې سخت ځپي"

(۲) په برياوو کې د پوځي مخينو يادونه:

هماغه توره راسره ده، چې د بدر په جګړه کې مې پرې ستا نیکه، ماما او رور ووژل. پر خدای قسم ته ناپوهه او تور زړې یې؛ غوره ده، چې په اړه دې وویل شي، له خپلې بړستنې دې پښې ایستلي او د خطرناک پاڼ پر سر ولاړ یې او نه یوازې دا چې ګټه دې پکې نشته؛ بلکې خورا زیانمن دی؛ ځکه داسې واک لټوې، چې ستا نه وي او داسې رمه څروې، چې د بل ده، داسې منصب او مقام غواړې، چې وړ دې نه دی

---

[۱] یزید د معاویه بن ابي سفیان رور د مکې د سوبې پر ورځ له یوې ډلې قریشو سره په "باب الخندمة" کې سنګر نیولی وه، چې مکې ته د مسلمانانو د ننوتو مخه ونیسي؛ خو حضرت خالد بن ولید (رض) ونیوه، بیا ابوسفیان رسول اکرم(ص) ته ورغی، چې خوشې یې کړي. رسول اکرم (ص) وویل: د مکې تر سوبې روسته هجرت نشته. "

او له شان سره دې نه ښايي. څومره دې خبرې له کړنو لرې دي! څومره له خپلو کافرو ترونو او ماماګانو سره ورته يې! شقاوت او باطل چل ول، د محمد صلی الله عليه و آله د نبوت نټې - انکار ته اړ کړل او لکه چې پوهېږې، د هلاکت په کنده کې ولوېدل، ځان يې له سترې پېښې بچ نشو کړای او نه يې د خپل حريم دفاع وکړای شوه؛ ځکه پر وړاندې يې ډګر له تورزنو ډک وو، چې په جګړه کې يې ناغېړي نه کوله.

د حضرت عثمان (رض) د وژنې په اړه دې ډېرې خبرې کړي! لومړی د نورو مسلمانانو په څېر بيعت راسره وکړه، بيا يې په اړه پرېکړه رانه وغواړه، چې تا او مسلمانان، د قرآن لارښوونو ته اړ باسم؛ خو څه چې غواړې، داسې ده؛ لکه ماشوم چې له تي غوڅوي؛ نو تېرباسي يې.....

خوارجو چې د ((لاحکم الاالله)) غږ پورته کړی و، په اړه يې وايي:

دا حق جمله ده؛ خو مطلب ترې باطل دی. هو! حکم يوازې د خدای دی (لا حکم الا الله)؛ خو دوی وايي، چې امارت بې له خدايه د بل چا لپاره نشته، حال دا چې خلک نېک يا بد چارواکي ته اړين دي، چې

مؤمنان د حکومت تر سیوري لاندې پر چارو لګیا وي او کافران هم له خپل ژونده ګټه واخلي. خلک په حکومت او پېبنه - نظم کې ژوند وکړي او په حکومت، بیت المال راټولیږي او له دښمنانو سره جنګ جګړه هم کیږي[1]. د لارو امن و امان خوندي وي او له زورمټو د مظلومینو حق اخستل کیږي، نیکان سوکاله او له بدچارو خوندي وي.

په یوه بل روایت کې راغلي، چې د منځګړتوب په اړه یې د خوارجو خبره واورېده؛ نو ویې ویل: ستاسې په باب د خدای حکم ته سترګې پر لار یم او همداراز ویې ویل: د پاکانو په حکومت کې د پرهیزګارانو ښه قدر وي او خپلې دندې ښه ترسره کوي؛ خو د بدچارو په حکومت کې بدچاري د ژوند تر پایه مزې چړچې کوي.

هغه شمېر خوارجو، چې امام یې په منځګړتوب کې تېروتی ګاڼه او په دې شرط یې خپل اطاعت غځاوه، چې اعتراف وکړي، چې کافرشوی دی، بیا یې ایمان راوړی دی!!؛ نو پر وړاندې یې امام وویل:

[1] دلته انارشېزم (دا نظریه وایي، چې ټولنه دې بې حکومته اداره شي) نفې شوی دی.

((د پېښو کاږي دې دروورېږي، چې څوک هم درکې پاتې نشي. ایا پر خدای له ایمان راوړو او له رسول اکرم صلی الله علیه و آله سره تر جهاد کولو روسته پر خپل کفر لېینه ورکړم؟ که داسې مې وکړل، بېلارې شوی به یم او له لار موندوونکیو به نه یم. له دې باطلې لارې مخ واړوئ او د تېرو لارې ته وروګرځئ. باخبر! تر ما روسته ډېر ژر پر خوارۍ اخته کېږئ او په تېرو تورو به ووهل شئ او پر استبداد به اخته شئ، چې نورو ظالمانو ته به یو حکومتي دود شي.))

امام علي، ابن عباس له خوارجو سره خبرو ته لېږلی و، ابن عباس هم داسې پاخه دلایل ورته وویل، چې څه پلمه ورته پاتې نشوه؛ نو څکه درې زره تنه هم راستانه شول[1].

په هر حال امام ناچار شو، چې له خوارجو سره تر خبرو اترو روسته جګړه وکړي او ښايي جګړه یې یوازې دهغوی د غلطو او ناسمو افکارو او یا دا چې د امام پر ضد راپاڅېدلي وو، لپاره نه وه؛ بلکې پرمسلمانانو

[1] جامع بیان العلم ۱۰٤ مخ (د قاهرې چاپ) له خوارجو سره د ابن عباس خبرې.

يې تېرى کړى و، د دوى وينه او مال يې مباح ګڼلى و، بې پتي او بې ناموسي يې وراړولې وه؛ نو ځکه دوى په ((مفسدين فى الارض او محاربين)) کې راځي، چې امام يې بايد جرړې راوباسي.

((شورا، عدالت، مساوات او خبرې اتري)) د امام له برنامو څنې وسو، چې ډېرى مريان، ناعرب، مواليان په تېره فارسيانو امام ته مخه کړه، ځکه د امام په طرح کې يې خپل آرمانونه وموندل، چې ورپسې ګرځېدل او په اموي طرح کې يې موندلاى نشول، چې پر نژاد پالنې ولاړ وه.

له تېرو څرګندېږي، چې د امام علي د دولت او د اموي دولت ترمنځ ډېر اختلاف او پراخ توپير شته، چې په څو جملو کې يې لنډيز دادى:

١- د امام علي دولت، يو متغيير دولت دى، چې د ولسونو د ګټو او زماني واقعيتونو له مخې حرکت کوي، حال دا چې اموي دولت مشخص او ټاکلى چوکاټ لري.

٢- د امام على دولت، د ولسونو دولت دى؛ خو د جناب امير معاويه دولت د واکمنو دولت دى.

٣- د امام دولت د ((عدل))، ((مساوات)) او ((شورا)) دولت دی؛ خو نور دولتونه دا ځانګړنې نه لري.

٤- د امام دولت د خبرو اترو او مذاکرې دولت دی؛ خو نور دولتونه د خبرو اترو دښمنان دي او مخالفت ورسره کوي.

په ((سني)) طرح کې ((دولت)) له استبداد سره مل او د فقهاوو د سلطې او د حکامو د سلطې ترمنځ بېلتون دی، چې فقها د واکمنو په چارو کې مداخله نه کوي او مطلق به ورته تسليم وي او دا د اموي اسلام خورا خطرناک اغېز دی، چې پايله يې د مسلمانانو له ژونده د شورا، عدالت او مساوات له منځ تلل دي

خو د ((اهل بيتو)) په طرح کې، شورا مله او دواړه سلطې سره همغږی دي او دلته لازم دي، چې واکمن، فقيه هم وي، چې بايد له عدالت، مساوات او ولس سره هم پيوند ولري.

سنی طرح، امت يو ثابت تفکر او له اسلامي دولته ثابتې بېلګې ته اړ باسي، چې دا پوهېدنه له ټبرېزې او اموي ليکې راټوکېدلې او د واکمنو

او فقهاوو پر سلطې ولاړه ده او په پایله کې فقها همېش د سیاست په دام کې ښکېل او د واکمنو لوبځي شوي دي.

اهل سنت د دولت دښو په ټاکنه کې په څرګنده حیران شوي دي؛ دا ځکه، چې د واکمنو دریځونه، نظریات او کړه وړه یو له بل سره اختلاف لري او همداراز د یو دولت بیخ له بله سره توپیر لري؛ نو ځکه:

د حضرت ابوبکر (رض) دولت، بې د حضرت عمر (رض) له دولته دی.

د حضرت عثمان (رض) دولت، د حضرت عمر (رض) له دولته جلا دی.

او د جناب امیر معاویه دولت، له درې واړو دولتونو سره توپیر لري.

خو د امام علي دولت، بې له دې بېلګې، یوه بېلګه ده او دا چې فقهاوو، دا بېلګه سمه ونه پېژنده، دلیل یې دا و، چې دوی له اموي اوعباسي چارواکیو سره غاړه غړی وو.

د اهل بیتو په لیدلوري کې اسلامي دولت، ځانګړې بڼه نه لري او ثابتې نښې هم نه لري؛ ځکه دا چارې د مجتهد په اجتهاد پورې اړه لري او

ښايي د امام خميني (رح) له لوري د فقيه د ولايت طرح او په ايران کې يې عملي کول پر همدې مانا وي.

**اسلامي تفکر**

د صفين تر پړاو روسته، اموي ليکې پر اسلامي مفکورې اغېز درلود، لکه چې د اهل بيتو ليکه همداسې وه؛ خو د اهل بيتو ليکې وکړای نشو، چې سمه ښکاره شي، يوازې د عباسيانو په پېر کې، د منصورعباسي په خلافت کې، امام جعفر صادق خورا ښه وځلېده؛ خو اموي ليکه هماغسې واکمنه وه او په ظاهري بڼه يې مشروعيت درلود؛ نو ځکه اسلامي تفکر د اهلبيتو له ليکې گټنه و نه کړای شوه؛ ځکه د شته سياست تر دباو لاندې، څنډې ته کېښوول شوه او پر ځای يې يوازې اموي ليکه د اسلامي فکر يوازېنی سرچينه شمېرل کېده؛ نو ځکه اسلامي فکر د اموي اسلام پر چورلېزونو اعتماد وکړ او په ټوليز ډول يې د هغه پر مفاهيمو او طرحو وده وکړه.

بېلابېل روايتونه، ددې مفکورې اغېز دی.

يوازې خپله رايه کارول او د بل نه منلو تيوري، ددې مفکورې اغېز دی.

بدترين اغېز يې، بېلابېل روايات دي، چې له مخې يې اموي اسلام جوړ شوی او د همدې رواياتو پر بنسټ اموي او ورپسې واکمنان د مشروعيت په شپول کې رانغاړل شوي او د همدې راوياتو له مخې، فقهي احکام استنباط شوي، چې امت يې نن هم لاروي کوي او اسلامي ټولنې ترې ډېرې ستونزې ليدلي دي او دا روايات د مخالفانو او د نظر د خاوندانو پر وړاندې د يوې وسلې په توګه کارول کېږي، چې ويې ډاروي او د شته ليکې په بهير کې يې حرکت ته اړ کړي[1].

د اسلامي مفکورې ستونزه په همدې رواياتو کې رالنډېږي، چې يې پرېښنوه، چې د زمانې په تېرېدو سره وړاندې ولاړه شي او له زمانې جلا

[1] دا د واکمنو د ځانګړو رواياتو په خبر دي او اشاره مو ورته کړې او هغه روايات، چې د معاويـه، ابـن العـاص، مغـيره، ابوهريره، عايشې ام المؤمنين ابن عمر او نورو په ستاينه کې جوړ کړای شوي او فقهاوو منلي او لـه مخـې يـې احکـامو رادبره کړي دي. نور روايات يې هم جوړ کړي، چې له مقابل لوري سره مبارزه مباح بولي او د مخالفينو وينه بهـول روا ګڼي.

نشي.

او دا چې دا مفکوره په استبدادي چاپېریال او له سیالو حرکتونو لرې وپالل شوه؛ نو ځان یې غښ وګاڼه او ارماني حالت یې ونیو او حق یوازې په خپله کړۍ کې ویني؛ هماغه مفکوره، چې ژغورنده ډله یا اهل حق (چې ځان اهل سنت او جماعت نوموي) ترې راټوکېدلې ده.[1]

په تاریخ کې لیدل شوي نه دي، چې اهل سنت یا د اموي اسلام استازیو به له نورو ډلو سره خبرې اترې کړې وي او په اصل کې حکومتونو ددې چار مخه نیوه، له دې ځایه ویلای شو: سني فکر، ازمېښت شوی نه دی، چې څرګند شي، څومره له شته وضعیت او واقعیتونو سره اړخ لګوي؛ نو ځکه پکې د تعصب، وچ کلکوالي او استبداد روحیې جرړې ځغلولې

[1] اهل سنت ځان حقوال او ژغورنده ډله بولي او نورې فرقې هلاک شوې ګڼي، دا مفکوره ددې روایت لـه مخـې ده: ((امت مې ۷۳ډلې کېږي، یوه ډله ژغورندویه او نورې دوزخـي دي)) او انګـیري، چـې ګنـې اهلسـنت اغلـب دي؛ نـو ژغورندوی هم دي !

ترمذی ۲٦/۵مخ، ۲٦٤۱ ګڼه حدیث.

دي او دا یوه مهمه نښه ده، چې له اموي لیکې ورته په میراث کې پاتې ده.

د الهي حکومت مفکوره هم، دهمدې روایاتو له مخې رادبره شوه او ښرګندې ستنې یې وګڼل شوې، چې ددې روایاتو له مخې واکمن سپیڅلي ګڼل کېږي، اطاعت یې واجب بولي، امت یې د هغو لاروی، ورپسې لمونځ کولو، ورسره حج او جهاد کولو ته اړاوه، که څه هم واکمن جنایتکاران وي، تردې چې دا طرحه په اهلسنتو کې یو عقیدتي اصل شو.

دا مفکوره په حکومت کې مشارکت او ګډونوالي نه مني؛ نو ځکه دین او دولت پکې جلا دي او دا یې یوه ښرګند نښه ده او په دې توګه واکمنو سیاسي قدرت نیولی او دین یې فقهاوو ته ورپرېښی، چې واکمنو ته لاس په نامه ولاړ وو او له امرونو یې سرغړونه کړې نه ده او ددې اطاعت له مخې یې د خپلو اجتهاداتو بنسټ کېښود.

د واکمنو د بې لاریتوب پر وړاندې یو ډله پیدا شوه او ګروهنه شو، چې

که څوک په سترو ګناهونو یا پر ګناه ټینګار وکړي؛ نو کافر دی او د ظالم واکمن پر ضد په راڅېدو يې عقیده درلوده.

فقها ددې ډلو پر وړاندې ودرېدل او ويې وويل: د کبیره ګناهونو کوونکی یا پر ګناه ټینګار کوونکی، کافر نه دی او بیخي د واکمن پر ضد پاڅون نه کېږي او مخالفت يې نه کېږي. په ورو ورو دې خبرو په اسلامي مفکورې کې د يوې عقیدې بڼه خپله کړه، حال دا چې، دا خو د واکمنو د انحرافي چارو د دفاع لپاره فتواوی وې.

فقهاوو به هغه ته زندیق او ملحد وایه، چې ددې عقیدو او فتواوو مخالفت به يې کاوه، په بدعتیانو کې به يې شمېره، چې باید مبارزه ورسره وشي او له منځه ولاړ شي او په دې توګه يې واکمنو ته شین څراغ بل کړ، چې خپل مخالفین له منځه یوسي[1].

او په واقع کې فقهاوو د اسلام لومړیو درېیو پېړیو (چې اسلامي فکر پکې راوټوکېد او قانونیت يې وموند) ته مشروعیت او سپېڅلتوب ورکړ؛

---

[1] امام حنبل وايي: د بدعتیانو خبره دا ده، : نه ښايي په مخکښنیو پسې ولاړ شو.

ځکه په دې روایت یې دده ووهله: ((غوره پېړۍ، زما پېړۍ ده، بیا ورپسې پېړۍ او هماغه، چې په دویمې پېړۍ پسې راځي[1])) !!

او په دې توګه ټولو جنایاتو، تېریو، بېلاریو، وژنو، زندیتوب، حق لتاړېدو او بې ناموسۍ اوړېدو ته یې د مشروعیت جامې واغوستی او په دې توګه د خلفاوو، امویانو اوعباسیانو زمانې په مبارکو زرینو وختونو کې وګڼل شوې !

نو که سني اسلامي مفکوره د حکومتونو په سیوري کې راوټوکېده؛ بېشکه، چې شیعي اسلامي مفکوره، د حکومتونو د ترهګرۍ او زندیتوب په سیوري کې وپالل شو.

سني فکر په ډاګه وده وکړه؛

او شیعي فکر، په پټه.

نو ځکه سني فکر، حکومت ته په غاړه ایښودو ټینګ شو او شیعي فکر

---

[1] صحیح بخاري ۲۲۳/۳مخ. مسلم ۱۹٦۳/٤مخ / ۲۱۱ ګڼه حدیث.

له شته وضع سره د مبارزې له مخې پرمخ ولاړ.

او په پایله کې سني فکر، د واکمنو اطاعت کاوه او سپېڅلي یې ګڼل او شیعي فکر مخالفت ورسره کاوه او بد یې ورته ویل.

سني فکر، هغه روایات راټول کړل، چې د اسلام په لومړیو درېیو پېړیو کې روایت شوي وو او د همدې روایاتو له مخې یې خپله مفکوره رادبره کړه؛ حال دا چې شیعي فکر دا روایات رد کړل؛ ځکه ناډاډمنو وګړیو روایت کړي وو. سني فکر، د راوي ډاډمنتوب، د اخلاقو له مخې، د رښتیا او امانت په کړۍ کې را ایسار باله او د راوي نورې کړنې، سیاسي، ټولنیز او فکري دریځونه یې په پام کې نه نیول؛ خو شیعي فکر، د حدیث د راوي په باب لازم وګڼل، چې پر رښتیا او امانت سربېره یې دهغه سمه مخینه، په تقوا متناسب دریځونه او ټول نظریات یې په پام کې ونیول.

نو ځکه، سني فکر ټول هغه حدیثي روایات ومنل، چې خوارجو؛ نواصبو (د اهل بیتو دښمنانو)ځان پالو، بدعتکارانو او ان هغوی روایت

کړي وو، چې له رسول اکرم صلی الله علیه و آله سره یې صحبت او ناسته شکمنه وه؛ خو شیعي فکر د حدیث د راوي د رد مهم عامل دا وبلل: له واکمنو لاروي، له اهل بیتو سره دښمني او د اهلبیتو د دښمنانو ملګرتوب. سني فکر، ډېر روایات، چې په ډاګه له قرآن اوعقل سره مخالف وو، ومنل او سم یې وګڼل؛ ځکه راویان یې عادل بلل؛ خو شیعي فکر د روایت سموالی، په دې ګاڼه، چې له قرآن او عقل سره اړخ ولګوي.

په سني فکر کې د حدیث را اخستو سرچینې؛ اصحاب، تابعین او لارویان یې دي؛ خو په شیعي فکر کې اهل بیت دي او بس.

دا چې سني فکر، سیاست او اموي فکر ته غاړه ایښې؛ نو د اجتهاد ور یې تړلی! خو په شیعي فکر کې پرانستی دی او بیخي نه بندېږي.

د اهلسنتو دیني سازمان، د حکومتونو په ښکېل کې دی، چې راتلونکی او برخلیک یې ورسره تړلی دی؛ خو شیعي دیني سازمان، د حکومتونو له منګولو ازاد دی او برخلیک یې په خپل لاس کې دی.

سني فکر، پر درې گونو خلفاوو او همژمنو یې (لکه سعدبن ابی وقاص، طلحه، زبیر اوعبدالرحمان بن عوف رضی الله عنهم ) سربېره پرعایشې ام المؤمنین، ابن عمر، ابوهریره، جناب امیر معاویه، عمرو بن عاص او مغیرة بن شعبه اعتماد کړی، حال دا چې شیعي فکر دوی نه مني او د حدیث اخستنه ترې غلطه بولي او یوازې پر امام علي او یولس گوني ځوځات (اثنا عشر امامان) یې باور دی او پر دوی سربېره هغه اصحاب، چې له اهل بیتو سره ټینګ ملګرتوب لري او د امام علي پر لیکه ولاړ وو لکه ابوذر، عمار، سلمان، بلال، حذیفه، مقداد او... رضي الله عنهم.

په سني فکر کې، پرهغو اصحابو، تابعینو او لارویانو یې ډاډ وو، چې په اموي او عباسي بهیر کې خوځېدل؛ حال دا چې په شیعي فکر کې، پر هغو کسانو بیخي اعتماد نه کېږي، چې له اهل بیتو سره یې مخالفت کړی وي او یا د اموي اوعباسي واکمنو لارویان وو، که تابعین وو یا ناتابعین.

په پایله کې، دا چې سني فکر، اموي لیکې ته ژمن و؛ نو ځکه یې ډېری

هغه ادعاګانې او خيالي پېښې منلي، چې امويانو د امام علي د ليکې د ناوړه ښونې او د شيعه و د شکمنولو لپاره رادبره کولې، چې مهمې يې دادي:

د جناب امير معاويه او اموي کورنۍ تجليل (او نمانځنه).

ابوهريره د پېغمبر د احاديثو مهم او بنسټيز راوي ګڼل.

د ابن سبا د موضوع رادبره کول او په شيعه وو پورې يې ورتړل.

تشيع په ايران پورې ورتړل.

د اصحابوغټ ښوونه او دبدبه ورکونه.

د امام علي د اوچت مقام راټيټول او سپکول.

په اصحابو کې د حضرت علي دملګرو بې ارزښتنه ښوول.

دوه حديثي کتابونو؛ صحيح بخاري او مسلم ته ارزښت ورکول اوسپېڅلي يې ګڼل.

د اصحابو پرعدالت عقيده او سپېڅلي يې ګڼل.

په ترتيب څلور ګوني خلفا منل: لومړی ابوبکر (رض)، بيا عمر (رض)، بيا

عثمان (رض) او تر دوی روسته علي (رض).

((اجماع))، دتشریع یوه سرچینه ګڼل.

د اهل بیتو د ستر مقام راټیټول.

د جناب امیر معاویه او اموي کورنۍ نمانځنه، پر کومې شرعې کچې ولاړه نه ده او په باب یې کوم معتبر روایت نشته، د اهل سنتو د فقهاوو او حدیثپوهانو په تېره د صحیح بخاري د استاد اسحاق بن راهویه په وینا؛ د جناب امیر معاویه په ستاینه کې یو روایت هم سهي نه دی او ابن حجر هم د صحیح بخاري په شرح کې دغسې ویلي دي [1].

د ابوهریره موضوع هم د اهلسنتو له سیاسي پوهېدنو څنې ده څکه بیخي معقول نه ده، چې ابوهریره د خیبر پر ورځ ایمان راوړي او څرګنده نه ده، چې څه کاره و؛ خو بیا هم د رسول اکرم صلی الله علیه و آله له خولې دومره ډېر روایات وکړي [2].

---

[1] فتح الباری ۷ټوک، د معاویه د ذکر باب.

[2] فقها او تاریخپوهانو د ابوهریره او نوم په اړه یې له شلو ډېر روایت راوړي او معتبره وینا داده، چې نوم یې:

د ابن سبا پېښه هم، يوه خيالي مساله ده، چې امويانو رادبره کړې ده؛ ځکه د ابن سبا په تاريخي پيدايښت کې شکمني ده او طبري يوازېنی تاريخپوه دی، چې ددې نوم يې اخستی او نورو لکه ذهبي، ابن کثير او ابن خلدون د طبري په استناد پرې بحث کړی، په هرحال د ا بن سبا د روايت راوي، سيف بن عمر دی، چې د اهلسنتو د فقهاوو په نزد، دروغجن دی[1].

تشيع په فارس پورې تړل، موخه يې دا ده، چې هويت يې شکمن او په مجوسيانو پورې يې وتړي ! لکه چې ددې موضوع بدونکيو هېر کړي،

---

عبدالرحمان بن صخر دی

لکه چې په روايت کې راغلي ابوهريره د خيبر پر ورځ اسلام راوړی دی؛ نو له کومه يې د رسول اکرم (ص) لـه خـولې دومره پوهه او له پينځو زرو ډېر احاديث روايت کړي او پـر گـردو اصـحابو ان ابـوبکر (رض) او عمـر (رض) غـوراوی مومي؛ نو که د ابوهريره دا حال وي؛ نو ولې يې له شيخينو لوړ نه بولي ؟ د يادونې وړ ده، چـې عمـر (رض)، عايشـې ام المؤمنين او ډېرو اصحابو، ابوهريره د همدې ډېرو احاديثو له امله غنـدلی. وگـورئ: عسـاکرتاريخ. هـدی السـاری والا صابه في تمييز الصحابه. والاستيعاب. اسد الغابه

[1] د سيف بن عمر د حالاتو شرح د رجالو په کتابونو کې ولولئ.. سيد مرتضی عسکري، عبدالله بن سبا. عبدالله بن سـبا د راسته تاريخيه (د کويت چاپ ). د يادونې ده، چې د ابن سبا نوم د مسعودي په تاريخ، د ابن اثير پـه کامـل او د ابـن اعثم کوفي په فتوح کې نشته.

چې فارسیان تورنوي، چې په پټه یې خلک تشیع ته بلل او مطلب یې د اسلام ځپنه وه؛ خو همدې فارسیانو اسلام ورته هندوستان او اسیا ته ولېږه، اسلامي علوم یې تدوین او نبوي احادیث یې راټول کړل، چې د قوم د درناوي وړ دي [1].

دا چې ځینې اصحاب غټ ښیي، موخه یې دا ده، چې حضرت علي او صحابي ملګري یې ټیټ وښیي. او هم اهل بیت ناڅیزه کړي؛ نو په کوم ځای کې، چې د امت غوره په ترتیب ابوبکر(رض)، عمر(رض) او عثمان (رض) وي، مانا یې دا ده، چې امام علي او اهل بیت هاغسې مقام ته رسیدلي نه دي او شیعه، چې کومې لوړې درجې ورته انګېري، سمې نه دي ! او اوس چې تر دوی اوچت وګڼي شته؛ نو باید امت ورته مخه کړي او خپلې بېلګې یې کړي او که امت ابوبکر، عمر او عثمان (رضی الله عنهم ) ته مخه کړه؛ نو په خپله امویانو ته ورښکودل کېږي؛ ځکه

[1] د اهلسنتو ډېر مشهور فقها او د احادیثو راټولوونکي فارسي ژبي وو لکه: امام ابوحنیفه د افغانستان د پروان. امام غزالي. امام جویني. صحیح بخاري. مسلم. ابوداود. ترمذی. ابن ماجه. نسائي اونور.

اموي ليکه د درې ګونو خلفاوو د ليکې غځونه ده او په دې توګه د اصحابو د غټ ښونې موخه څرګندېږي[1].

سياست، فقها اړکړل، چې تر قرآن روسته، صحيح صحيح بخاري او بيا صحيح مسلم خورا معتبر کتابونه دي؛ خو نور کتابونه په شک کې دي؛ خو د حديثپوهنې د کچو له مخې او د فقهاوو په ګواهي دا استثنا سمه نه ده او هره پرېکړه، چې د نورو کتابونو په باب کېږي؛ بايد پردې دوو هم پلې شي.

ولې صحيح بخاري او مسلم ته دومره فوق العاده اهميت ورکړای شوی دی؟ ځکه په دې کتابونو کې د حضرت علي د بې ارزښته ښوولو لپاره ډېر روايات راغلي او د اهل بيتو په باب د يادونې وړ روايات نشته.

د ټولو اصحابو د عدالت له نظريې مطلب دادی، چې ګرد سره اصحاب

[1] په دې اړه مو په خپل کتاب ((الخدعة)) ( ۱۹۰ مخ ) کې بحث کړی. همداراز په نسايي، د احمد په مسند، ترمذي او طبراني کې د اهل بيتو او امام علي په ملاتړ روايات راغلي، چې د قوم فقهاوو، په دې کتابو کې شک کړی او دا روايات يې کمزوري يا دروغ ګڼلي! او يوازې صحيح بخاري او مسلم يې سلو په سلو کې منلي دي، ځکه د اهل بيتو په اړه پکې ډېر لږ روايات ليدل کېږي.

سپېڅلي، پرهيزګار، پاکلمني او بېلګې وښيي، چې خود په خوده جناب امير معاويه او لارويان يې د اصحابو د عدالت په کړۍ کې راشي، بلخوا، څوک کوچنی شانته سپکاوی ورته ونه کړای شي او په دې توګه، پر اسلامي نړۍ، اموي اسلام برلاس او محمدي اسلام له ډګره ووځي[1].

دعدالت مساله، له اصحابو پربنتې جوړوي، چې دا له قرآني او ان نبوي متونو سره اړخ نه لګوي؛ ځکه په هرځای کې د پېغمبر په شاوخوا کې د منافقينو د شتون بحث راغلی او پردې سربېره دا خبره بيخي عقل نه مني.

د اهل سنتو فقهاوو، د عدالت نظريه غوره کړه او له مخې يې د حديثوعلم رامنځ ته کړ، چې د ټولو راويانو په هکله يې خوګانې منلې وي؛ خو د پېغمبر د صحابي په باب نه، او دا چې څوک ثابت شي، چې په يوه ډول يې پېغمبر ليدلی او يا دا پېغمبر ليدلی؛ نو عادل به وي.[2]

---

[1] اهل سنت ټول اصحاب عادل بولي، که له پېغمبر سره يې هحرت کړی وي، جهاد يې کړې وي، که د پېغمبر (ص) په زمانه کې نړۍ ته راغلی وي يا يوازې يوه دقيقه پرې دپېغمبر سترګې لګېدلې وي !! څرګنده ده، چې ددې قانون د توږلو تر شا څه موخې وې.

[2] تدريب الراوي. مقدمة ابن اصلاح ومعرفة الرجال.

(د فضیلت اوغوراوۍ له پلوه) د څلور ګونو خلفاوو د ترتیب مساله، څرګنده ده، چې په سني فکر کې څه اغېز لري او دا نظریه له کتاب او سنتو سره اړخ نه لګوي.

موخه یې داده، چې امت د خلفا د لیکې لاروۍ ته اړ کړي، چې اموي لیکه ترې هم راټوکېدلې ده.

((اجماع)) د سني فکر مهمه ډډه ده او هدف یې دا دی، چې دهغو ادله وو او متونو خوګانې جبران کړي، چې د اهل سنتو د عقیدو او مفاهېمو ملاتړ کوي؛ نو ځکه د اصحابو غټ ښودنه په تېره د جناب امیر معاویه، د عدالت نظریه، د ابن سبا مساله، د صحیح بخاري او مسلم اوچت ښودل او د څلورګوني ترتیب د نظر یې اسناد یوازې او یوازې ((اجماع)) ده اوبس ! اوهمداراز، ټول هغه روایات، چې د امام علي، د یارانو او اهل بیتو یې ارزښت راټیټوي، اهل سنتو ته په ((اجماع)) جوت شوي دي [1].

[1] د اهل سنتو په کتابونو په تېره په صحیح بخاري او مسلم کې ډېر روایات راغلي، چې امام علي او اهل بیت تر پوښتنې

شيعي فکر، دا اوهام او خيال پلو نه مني؛ ځکه عقل، تر کتاب او سنتو روسته تشريعي سرچينه بولي او که امام علي او اهل بيتو ته اهميت ورکوي د کتاب او سنتو لاروي يې کړې، نه دا چې له ځانه يې څه ورپسې جوړ کړي وي، نه په بېلابېلو رواياتو پسې تللي او نه د دروغو په اجماع پسې. د شيعی فکر، اعتماد يوازې پر نص (قرآن يا سنتو) دی؛ خو د سني فکر اعتماد پر ((رجالو)) دی.

چې دا د سني او شيعه فکر بنستيز اختلاف دی او راښيي، چې شيعي فکر له محمدي اسلام سره اړوند او سني فکر له سياست او واکمنو سره اړوند دی.

---

لاندې نيسي او مقام يې راټيټوي، لکه: د فاطمې پر ژوندونې، د ابوجهل پر لور د حضرت علي مارکه او د پېغمبر پرې غوسه کېدل !! د شپې د لمانځه په باب له پيغمبره د حضرت علي بې اعتنايي، د مزي په حکم د حضرت علي نه پوهېدنه او... او ټول هغه روايات، چې ام المؤمنين عايشه، ابوبکر (رض)، عمر (رض) او عثمان (رض) ستايي، موخه يې د اهلبيتو بې ارزښته کول دي.

وگورئ: بخاری. مسلم. الخدعة.

**اسلامي خوځښتونه**

اسلامي خوځښتونو د سني فکر لار نیولې او په دې یې له زمانې سره جګړه پیل کړې، چې په پایله کې د خپلو موخو له عملي کولو نهیلي شوي او د خپلې خوښې اسلامي حکومت یې نه دی جوړ کړی.

هو! اسلامي خوځښتونو، چې له محمدي اسلام خپله لار بېله کړه؛ نو له اموي اسلام ځار شول او د دې اسلام ډالۍ ورته فکري جمود، بې تحرکي پر ټپه ولاړ حالت او اختلاف دی.

اموي اسلام، حکومتونو ته، خوځښتونه، خوندوره مړی کړه، د ولسونو ډاډ یې ترې واخست او له حقایقو او واقعیاتو یې لرې کړل.

هو! سني اسلامي ډلې، هله پرمختګ کړای شي، چې ځانونه له ((محمدي اسلام)) سره ونښلوي.

فهرست

د ليکوال خبرې ........................................... ٤

لومړی تم ځای ........................................... ٨

د جناب رسول الله صلی الله عليه و آله وفات ........................... ٨

د وداع خطبه: ........................................... ١٢

دويم فصل ........................................... ٨٨

سقيفه ........................................... ٨٨

د رواياتو څېړنه ........................................... ١١٩

درېيم تمځی ........................................... ١٤٢

عمر بن خطاب رضی الله عنه ........................... ١٤٢

«او په دې توګه حضرت جناب امير معاويه سر را پورته کړ» ............... ١٤٢

حضرت عمر بن خطاب (رض) ........................... ١٤٢

حضرت عمر (رض) او حضرت علي ........................... ١٤٥

څلورم تمځی ........................................... ١٧٦

حضرت عثمان بن عفان (رض) ..................................................176
«د اموي ليکې بنستګر» ....................................................176
حضرت عثمان (رض) ........................................................176
حضرت عثمان او اصحاب کرام رضی الله عنهم ..........................177
حضرت عثمان (رض) او حضرت علي (رض) ..............................184
حضرت عثمان (رض) او امويان: ..........................................194
پينځم تمځی ..................................................................209
امام علي کرم الله وجهه ....................................................209
« د انديزې جګړې پای او د پوځي جګړې پيل» ...........................209
حضرت علي (ک) ..............................................................209
د امام شخصيت ..............................................................213
د امام علي د شخصيت لپاره څو آريزې نښې شته .......................213
لومړی نښه: امام يو رباني شخصيت و .................................213
د امام لارويان ...............................................................227

د جناب امیر معاویه بن ابوسفیان شخصیت ........................................۲۳۳
د جناب امیر معاویه لارویان ......................................................۲۳٦
مقابله (رویارویي ) ................................................................ ۲٤۰
د ایمان توره د شیطان د تورې پر وړاندې ........................................ ۲٤۰
مقابله ................................................................................. ۲٤۰
د جمل جګړه .......................................................................۲٤٤
د صفین جګړه ......................................................................۲٥۱
د جناب امیر معاویه بن ابوسفیان کارنامې ........................................۲٦۳
خوارج ...............................................................................۲۷٤
جناب امیر معاویه او امام حسن (رضی الله عنه) ...................................۲۸۰
کربلا.................................................................................۲۹۲
د محمدي اسلام ستنې؛ قرآن او اهل بیت .........................................۳۰۲
قرآن او اهل بیت ...................................................................۳۰۳
قرآن ................................................................................۳۰۳

د اموي اسلام ستنې؛ .................. .............................. ۳۲۱

د حضرت عثمان (رض) مصحف ........................................ ۳۲۱

دويمه ستن: اصحاب ............................ ................... ۳۲۸

د اموي اسلام غبرگون ....................... ....................... ۳۳۸

اسلامي دولت: ....................... ........................ ۳٤۰

اسلامي تفکر ......................... ............................. ۳٦۷